A

د صدر خان خټک

# مثنوي

# آدم درخانۍ

تحقیق و حواشي

پروفیسر محمّد نواز طائر

○

پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي

د صدر خان خټک

# مثنوي

# آدم درخانۍ

تحقیق و حواشي

پروفیسر محمّد نواز طائر

PROPERTY OF ARIC Established 1989

○

پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00012949 3

د پښتو اکېډيمۍ د مطبوعاتو سلسله نمبر دويم ځل ۲۷۶
" سلسله نمبر دريم ځل ۴۳۸

---

ناشر — ډائرکټر پښتو اکېډيمي

طباعت — جدون پريس پېښور

تعداد — يو زر

کال د دويم ځل ټيټه — جولائی سنه ۱۹۸۱ع

کال د دريم ځل ټيټه — سنه ۱۹۸۹ع

قيمت — ۴۰ روپئ

---

په اهتمام د محمد جاويد خليل په جدون پريس پېښور کښې چاپ شو
او پښتو اکېډيمۍ نه خور شو ۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# پیش لفظ

نحمدهٗ ونصلّی علیٰ رسوله الکریم امّا بعد

پښتو اکیډیمی د څهٔ مودے راسے د فوکلوری ادب خصوصًا د داسے کتابونو چه نهٔ یواځے د هغے فوکلوری اهمیت ډیر زیات وی بلکه یو علمی پس منظر او متصوفانه میلان هم ورسره وی، د چاپ کولو کار ته لاس اچولے دے. په دے کښې څنے کتابونه داسې او علمی دوا په دحیثیتونو له مخه د اکیډیمی په ورومبنو کلونو کښې شائع کړی شوی وو او د پښتو په نصابی درس و تدریس کښې هم ورله ځائے ورکړے شوے وو ـ ددے نه پښتنو طالب علمانو ته څهٔ فائده رسیدلے ده؟ دا د لوستونکو او طالبعلمانو په خپل ذهنی میلان او استنباط منحصره ده ـ خو زمونږ دا رائے ده چه که چا هم د دغه داستانونه یا مثنویانے په دغه نقطه نظر لوستی وی او ددے نه ئے د څهٔ اخذاؤ د زده کړے کوشش کړے وی نو یقینًا چه ډیر څهٔ به ئے ترے حاصل کړی وی ـ ځکه چه دا مثنویانے نهٔ یوازے دا چه خپل متصوفانه او فلسفیانه مباحث ډیر په ښکلی انداز کښې لری ـ بلکه په دیکښې

د ادبي صنائعو بدائعو هم ډېره لويه فراواني ده. د دې سره سره دغه افسانې د پښتون د معاشرتي ژوند کلتوري خصائصو او د مقامي يا قومي کردار او واقعاتو په لور هم زموږ رهنمائي کوي. د دې څخه مباحث د خپل عصري تاريخ او ژوند ترجماني هم کوي او د غه شان په فني لحاظ هم دغه مثنويانې د پښتو ادب هغه بلند پايه ادبي شاهکارونه دي چه د دينه پس د مثنوي معيار د غه مقام ډېر کم موندے دے.

په دغه مثنويانو کښې د ډېره اهم او قابلِ ذکر مثنويانې د خان عليين مکان خوشحال خان خټک يو زوی صدر خان خټک چه ځان ته صدر خوشحال نسبت کوي. هم ليکلې دي. دا د داره مثنويانې ډېره زمانه ناپيد وې او که چا به د صدر خوشحال د شاعرانه حيثيت څه ذکر کولو نو هغه به ئې محض د هغه د يو غزل نيم په حواله کولو. حالانکه صدر خوشحال نه يواځې دا چه د دغې کورنۍ يو ډېر باکماله شاعر وو بلکه هغه يو ډېر لوئې عالم فاضل او فيلسوف هم وو. هغه وائي چه زما تربيت پخپله زما پلار خان عليين مکان خوشحال خان خټک کړے دے ـه

تربيت ئې ډېر زما کړو      هر تعليم ئې وما را کړ
په تعليم ئې سخندان کړم      په ويئيل ئې سخن ران کړم
چه ئې درست په دا فنون کړم      په ويئيل ئې نور ما ذون کړم

او دے وائي چه موږ به هر کله فارغ وو نو علمي بحثونه به مو کول. او د شعر او ادب تذکرے به مو زياتې کولې. د صدر خوشحال ليکلې دغه دوه مثنويانې يوه په "مثنوي تورد لے شهف" او بله په "مثنوي آدم خان درخانئ" مشهورے دي. لکه چه او وئيلے شول چه صدر خوشحال به د خپل پلار سره

ACKU

په علومو او ادبیاتو بخښونه کول او د هغهٔ نه یې د علم فیض حاصلولو ځکه چه هغه وائي چه زما پلار :-

د هنر د علم کان وو  عالیجاه عظیم الشان وو

او یو بل ځائې کښې لیکي چه :-

پښتو شعر ناموزون وو  له شعري صفت بېرون وو
د دهٔ درست شعر په قانون کړ  آراسته ئې په فنون کړ

دخان علیین مکان خوشحال خان خټک دغه متبحر شخصیت چه په رښتیا سره د علمونو او هنرونو کان وو، هغهٔ یو نابغه طبیعت لرلو او د علم او فضل سره د عمل او کردار په ټولو خوبو الله تعالیٰ نمانځلے وو ځکه د هغوئ فیض د هغوئ اولادته هم د خپل خپل طبعي انداز په اندازه رسیدلے وو۔ او د خان په زامنو کښې صدر خوشحال یو داسے شخصیت وو چه هغهٔ د ادب ټول فنون او د علومو ټول مدارج، حد دا چه د فوکلوري موسیقۍ د فن او د پښتنو والی خانداني اوصاف ئې هم د خپل پلار نه په وراثت کښې موندلی وو۔

د هغهٔ د علمي مقام اندازه هغه څوک کولے شي څوک چه په دقیق نظر دغه دواړه مثنویانې ولولي۔ دے وائي چه :-

یوه ورځ په اشتغال د  د اشعار په قیل و قال د
هغه دم له عاشقانو  له رښتونو صادقانو
مذکور د پېښې شو ناګهانه  ما عرض دکړ وله زبانه
دیوا شعار له هره یا به  کتابت شو بے حسابه
د عشاقو افسانو  د ماضیو عاشقانو

ACKU

کتاب بویه چه نگارشی　　　　دوستو پاتو یو یادگار شی

خوش بختانه خان خوشحال خان ختک په دے لړ کښې هم په طور د وصیت خپل دغه زوئی ته دوئیل چه

کـه د عمر څه وفا وی　　　　له کار د بار فرصت زما وی

له اٰدم لـه دُرخانـئی　　　　بویه ښې سخن دا ستـئی

چه منظوم یوه نسخه شی　　　　یادګار پاتو پستنه شی

او که پاتو شی لـه مانه　　　　زهٔ روان شم له جهانه

تهٔ منظومه کړه بالجزم　　　　دا قصه په ښکلی نظم

په جهان کښې دا ګفتار دے　　　　اے فرزنده چه یادګار دے

که دِ پاتو فرزندان شی　　　　بیا به درک له دجهان شی

که دِ پاتو ښهٔ کلام وی　　　　ستا به تل پرِ زنده نام وی

دخان علیین مکان سره ریښتیا چه زوند وفا ونکړه او دغه کارئے بچیله ونکړے شو. خو هغهٔ دغه فرمودات چه په طور د وصیت ئے خپل دغه عالم فاضل او دروند صاحب سخن زوئی ته کړی ود او هغهٔ زړهٔ ته ځولی وو، دهغے په نتیجه کښې نهٔ یواځے دا چه هغهٔ د آدم خان درخانـئی داستان هکار مثنوی ولیکه، بلکه د دے سره سره ئے یوه بله مثنوی ،،توردلے شهئی،، هم نظم کړه.

.دا دواړه مثنویانے لکه چه وئیلی شوی دی، دد ے نه اګاهو هم پښتو اکیډیمیٔ شائع کړے دے. ولے څهٔ موده کیږی دَ دے دواړو د پړ دمے ایډیشن ختم شوے وو. مونږه اوس دد غه دواړو مثنویانو دَ سر دوباره شائع کولو تکل کړے دے. او د اٰدم خان دُرخانئی دا

مثنوی دد غه تکل نتیجه دی.

مونږ یو ځل بیا خپلو کرانو لوستونکو ته خواست کوو چه هغوئ دا مثنوی دیو داسے تدریسی کتاب په حیث مطالعه کوی چه په کوم کښے سرے دا څوارږی چه نه یواځ دا چه یوه افسانه ولولی بلکه دا چه د اخلاقیاتو او روحانیت په اسرارو رموزو خبرشی او د آدم د تشخیص په بنیاد د انسان یعنی د بنیادم د مقام او د هغه د شخصی برترئ احساس هم وکړی. ځکه چه الله تعالیٰ انسان په دے دُنیا نه یواځې دا چه په حیثیت د اشرف المخلوقات را ازیږی ولے دے. بلکه دې ته ئے خپل خلیفه هم وئیلی دی.

په دے مثنوی کښے د آدم تشخیص په دغه بنیاد شوے دے او د درخو مقام د حُسن او تخلیق د هغه ذریعے په حیثیت راوړے شوے دے دکومے نه چه انسانیت رازیږی، وده کوی او هغه ایز دی منشاء ترسره کوی دکومے دپاره چه انسان دے دنیا ته رالیږلے شوے دے.

د مثنوی آدم درخانئ دا دریم اشاعت دهغے تاریخی او علمی موازنے او څیړنے سره یوځائے شائع کولے شی کومه چه تیرځل د " آدم درخانئ یوه څیړنه " په نوم ځان ته بیله په کتابی شکل کښے شائع شوے ده. هیله ده چه د صدرخان خټک د مثنوی سره دڅیړنے شائع کیدل به د طالب علمانو او استاذانو دواړو دپاره بالعموم او د محققینو دپاره بالخصوص زیات سود مند ثابت شی. او عام لوستونکی ته به هم د مثنوی آدم درخانئ په سیاق سباق په پوهید وکښے آسانی پیدا شی.

په آخر کښے زهٔ دخپلو ملګرو ښاغلی محمد جاوید، لطف الله کاتب، قاضی حنیف الله

حاجی محمد شفیع ، فدا محمد او وحید ون پریس د اهلکارو تشکر کوم چه دده کتاب د دریم اشاعت په لړ کښې ئې دخپل پوره زیار او کاوش نه کار واخستو۔

زۀ د صوبائی حکومت بالخصوص د سابق وزیر اعلیٰ ارباب محمد جهانګیر خان خلیل او د سابق سیکریټری تعلیمات صوبه سرحد ښاغلی پروفیسر رشید احمد باچا هم د زړۀ د اخلاصه منته کوم د چا خصوصی شفقت او توجه چه دا اکیډیمی دوے جوګه کړه چه دده ادارے د نورو ګنړو کتابونو سره دا کتاب هم یو ځل بیا د صوبائی حکومت په مالی مرسته شائع کړی۔

وَمَا عَلَيْنَا إِلَّا الْبَلَاغ

محمد نواز طائر

ډائرکټر پښتو اکیډیمی

1 - ۳ - ۸۹

ACKU

# پېژندګلو

آدم خان درخانۍ پښتو افسانوي ادب کښې یقیناً د ټولو نه زیاته عامه خوښه او مقبوله قیصه ده. بې شکه چې د عشق او مینې هر داستان که د یونانیانو او رسیانو یا د رومیانو اینیډه، د مصریانو انتهني، کلوپیټرا او یوسف زلیخا، د عربو لیلیٰ مجنون، د ایران شیرین فرهاد، د هندوانو سیتا او رام چندرجي یا نل او دمینتي، د سنده سوهني مهینوال او عمومارووي، د پنجاب هیر رانجا. د چین سیف الملوک بدري جمالا وغیره وغیره دائمي او عالمګیر حیثیت لري. ځکه چې مینه د انسان د زړونو او فطرت یو داسې کیفیت دے چې د جغرافیائي حدودو، وطن دائرو، آب و هوا، رنګ نسل مذهب، ژبه، غرض دا چې د دے هر قسم د کیفیاتو د بیلتون پرے هیڅ اثر نه پرېوځي. زمان او مکان د مینې او عشق د داستانونو په خوند رنګ یا کشش هم څه خاص اثر نه لري. که عشق وي نو پردے داستان او زړګي داستان یو کشش او خوند لري. مینه په ما وي او که په کما، عشق که د تورو څي زیرمې، سپین پوستي یا چیت پوزي عشق وي، نو غوږنه وي که پروني، د عشق کشش دائمي وي او عام وي یعنې عالمګیر او انساني وي. لوړ او ښکته، سور او پلے، سور، سپین، تور، زیړ، فقیر او بادشاه، عالم او کم علمه، غرض دا چې د عشق باب له راشي نو تمام دنیا وي اُولسي روایتي او ذهني نسلي وغیره وغیره ټولے رشتے او نسبتونه په ځائے پاتے شي. یو عشق دے چې د مکان او زمان د قید نه خلاص تل ژوندے وي او د هر چا دے. او د انساني ژوند

ACKU

د هر حرکت بنا هم په دے ولاړه وی.

د آدم درخانۍ د عشق او مینے داستان د پښتو په ادب کښې چه د کومے درجے نه رازیږدلے دے د پښتو شاعرانو ادیبانو او لیکوالو توجه ئے تل ځان ته راکښلے ده. لکه چه ښاغلی محمد نواز طائر په خپله محققانه مقدمه کښې په تفصیل سره بیان کړیدے. د پښتونخواه د مختلفو اړخونو شاعرانو ادیبانو او لیکونکو د آدم درخانۍ قیصه په خپل خپل انداز کښې چرته په یو شکل او چرته په بل شکل کښې پیش کړے ده. د عشق اور په هر روایت کښې لمخړے کوی او شاعر که د ختکو د سیمے وی یا د اشنغر، سوات، دیر، ننګرهار، غزنی یا قندهار دی خپله معاشقه د آدم درخانۍ د افسانے په تنه بوده کښې د خپل خواږه شاد تاثراتو په رنړا کښې پیش کوی.

غرض دا چه سره د ډیرو روایت د وړو، وړو اختلافونو د وجود د آدم درخانۍ د قصے خوند په هره لهجه یا خاوره که وی، ښه لګی. او ځکه موږ د پښتو شعر و شاعرۍ او ادب د ټولو نه د لوړے او تاریخی کورنۍ روایت فی الحال ګرانو لوستونکو ته وړاندے کړو. د دے کتاب قلمی مسوده موږ ته د خوشحال بابا په نمسو کښې دیو ښاغلی مشر د طرف نه رارسیدلے ده. خواجه محمد خان ختک د سعادت آباد رچارسدے، ډیر په مینه او اخلاص ما ته د خپلو مشرانو د علمی پنګے نه د خوشحال خان د زوئی صدر خان تصنیف د آدم خان درخانۍ، نور د لی شهتی او کاظم خان شیدا دیوان قلمی نسخے راکړے چه موږ ئے د تحقیق او تدقیق نه پس شائع کړو.

په دے منظومانه کښې موږ ته د دے افسانے سره متعلق د مطبوعه روایتونو نه سیواځنے نور قلمی او زبانی روایتونه هم په لاس راغلل. غرض دا چه د خواجه محمد خان ختک سوغات ئے بنیاد شو او د دے چار چاپیره چه څومره معلومات په لاس راتلے

شو راغونډ کړے شو. ظاہر په خپله لاړو او دواړو باز دروکښے ئے هغه ځایونه وکتل چه په دے قیصه کښے ئے ذکر راغلے. ددغے دواړو کلوځنے زړو مشرانو سره ئے لیدل کتل هم وکړل او هڅه ئے چه هغه ته ددغه دواړو کلو د مشرانو نه معلوم شو هغه ئے په دے مقدمه کښے راغونډ کړے دی.

داکیډیمی کوشش فی الحال تر دے را رسیدلے. خو دا دعویٰ چه ددے افسانے په حقله ټول روایات او معلومات هم دغه دی چه کوم اکیډیمی راغونډ کړی دی، به قطعی بے بنیاده دی. ښکاره ښه به وی چه څوک بل زړلے ادیب محقق په دے میدان کښے لږ نور للون هم وکړی.

زه د خواجه محمد خان خټک د زړه د اخلاصه شکرګذار یم او یقین لرم چه دده دئ د امثال به د نورو ښاغلو سپین ږیرو مشرانو په نظر کښے دیرښه راشی. او هغوی به هم پوهه شی چه علمی پنګه په کور کښے نه، بلکه په علمی ادارو کښے اصل فائده لری.

په آخر کښے زه دومره قدرے ویناضروری ګڼړم چه ظاہر په دے مقدمه کښے زاړه روایتونه راغونډ کړی دی. یقین دے چه لس شل کاله پس به ځنے نوو شاعرانو ادیبانو د آدم درخانئ قیصه کښے خپل خیالات او جذباتو له نوے رنګ ورکړے وی او بیا به اُردو مرو د اداره ادیا څوک بل خوا څوړے د آدم درخانئ د قیصے نوے متن لوستونکو ته پیش کوی.

کاش، چه زمانږ وند کښے دا سے وشوے لکه چه د یک یوسف د قصے زدلے روایت ادس ورو، ورو په نوی رنګ کښے راژوندے کیږی. داسے دے هم نوے ژوند بیاموندے. داسے قصے تل بیا بیا کیږی او ژوند موقی. ځکه چه دے کښے هر شاعر، ادیب، مفکر، اوناول یا ډرامه نویس خپل تخیل خپل جذبات او واردات را ورانډے کوی. او داد هرچا خپل خپل دی.

(مولینا) عبدالقادر
۱۵، دسمبر کال ۱۹۵۹ء

ACKU

ACKU

# آدم درخانئ

## یوه څیړنه

**اصل واقعه -** د یوسفزو په علاقه د سورے د غره په لمن کښے د آدم خان او درخانئ پلرګنو استوګه نه کوله - د آدم خان د پلار نوم حسن وو او درخانئ د طاؤس خان ملک لور وه - دوئ دواړه په بائیزو او رانړیزو کښے یاد خانان وو -

آدم خان او درخانئ لا واړه وو چه د یو بل سره ئے مینه پیدا شوه او دغه خاموشه مینه تریو وخته پورے روانه وه - خو آخر دغه مینه د درخانئ د ترور د لور ښکلئ په وادهٔ کښے زیاته شوه - آدم خان د درخانئ د حاصلولو د پاره ډیر کوشش او کړو خو د هغے په لاس راتلل ډیر ګران وو - ځکه چه هغه د دغه علاقے د یو بل ملک د زلمی ځوئی د پاره کوژدن کړے شوے وه -

آدم خان او درخانئ به پټ په پټه د یو بل دیدن کولو - او اخر یو ځل آدم خان درخانئ د پلار د کوره د هغے د وادهٔ په شپه، روانه کړه. او د خپل سخر میرزائی ملک کره ئے

په نتواتے وروسته ـ په ظاهره خو میرمانی د هغوئی په طبعه تسله اوکړه او د هغوی دوارو د واده لوظ قول ئے اوکړو ـ ـ ـ ـ خو یوه ورځ چه آدم خان د خپلو دوستانو سره چرته بهر وتلے وو د پاپا وی استازے راغے او میرمانی ئے د درخانئی په واپس کولو راضی کړو ـ درخانئی ئے د هغه د کوره په ډولئی کنبے واچوله او د پایاوی ملک کره ئے او رسوله ـ

د جدائی زمانه په دوارو عاشقانو ډیره په مصیبتونو او تکلیفونو کنبے تیریده ولے څه وخت چه آدم خان په خپله مینه نا امیده شو نو د خپل وطن د خلقو او خپلے خانئی سکئی نه هم ویزاره شو او د هندوستان په لوری ئے مخه اونیوله ـ خو څه وخت چه د اکوړی په خوا کنبے (د خټکو په غلاقه) د مصری باندے کلی ته را او رسیدو ، نو د خپلے مینے تاؤونو او د اشنا د فراق غمونو دومره زهلے وو ، چه په تن کنبے ئے نور د وړاندے تللو توان نه وو ـ او هم د دغه رنځ د کبله ئے په دغه ځائے کنبے ساه ورکړه ـ

درخانئی چه د هغه د مرګ خبره واؤریده نو هغه هم په خپل ژوند ستومانه شوه ـ او د دے دنیا نه رخصت شوه ـ

خوش اعتقاده خلقو د درخانئی جنازه مصری باندے ته راوړه او دغه دواړه صادقان عاشقان ئے د یو بل په خوا کنبے خاورو ته او سپارل ـ

د ملکند د سر طوطی وے ـ
په اور ستی وے تهتی نه وے مینه ـ

د واقعے خیړنه ـ د هر ملک او قوم د ژبے د ادبیاتو تاریخ چه په غور د مطالعے لاندے راشی نو دا بنیادی حقیقت را ښکاره شی چه د ارتقائی منازلو ترمینځه د ژبو د پر مخ تګ لاره عموماً یوه وی او د وخت او زمانے د تیریدو سره سره د دوی خوربدونکے لمن په قلاره قلاره د شعر او ادب په میدان کنبے وسعت موسی م

د یوے ژبے د ادبیاتو د ترقئی رفتار، د وخت په تقاضو ، د حالاتو په سمون، د ماحول په مرسته او په هغه ژبه کنبے د نورو ژبو د ادب او لغاتو په قوت جذب، خپل انحصار لری ـ څه وخت چه دا خبرے د مینځ نه اوزی نو ژبه یا خو معدومه شی او یا په وړاندے د حرکت کولو جوګه پاتے نه شی ـ داسے ژبے لکه آوستا، پهلوی، سنسکرت، یونانی، عبرانی او د دنیا په مخ نورے ګنړے ژبے، دے رنځ زهلی او دغه ګونړی خوړلی دی ـ که د ځنو نه څه لږ ډیر آثار لا تر دے وخته پاتے هم دی نوځنے خونے بیخی نابوده کړی دی ـ

ACKU

په بوه ژبه کښې د شعر د صنعت آغاز د کوم وخت نه کیږی؟ دا سوال د هرې ژبې په خپل تاریخ پورې غوټه دے۔ مونږ به دے ځائے کښې صرف دا قدرے وېلے شو چه د زمانے د رفتار او ژبې د ارتقاء سره د شعر او ادب قافله هم په وړاندې پښه کوی---------

•

په پښتو ژبه کښې د شعر ابتدائی زمانه چا ته په یقین سره خو لا معلومه نه ده ولې قیاس بۓ د دوئمې صدئی هجری د وړمبو کلونو نه کیږی ځنے اندرونی او بیرونی محققین د پښتون قام او پښتو ژبې د ادب د تاریخ قیاس او اندازه د درےئمو زرو کالو تر خوا و شا کوی۔ د هغوئی قول دے چه "شعر او ادب د انسان طبیعی صفت دے نو که چرے مونږ د دوئی (پښتو) د وجود قدامت تر دغه وخته تسلیم کړو نو بیا مونږ د دوئی په ژبه کښې د ادب د وجود نه هم منکریدے نه شو،، خو افسوس دے چه تر دے وخته مونږ ته د هجری سن نه اګاهو د دے ژبې د ادب څه آثار په لاس نه دی راغلی۔

د پښتو قدیم شعر په تېه یا مصرع یادیږی او وړمبے د رزمیه نظمونو ابتدا کیږی چه په مثال کښې ئے د امیر کروړ هغه مشهور نظم وړ کولے کیږی چه هغه په ۱۳۹ھ کښې ویلے دے۔

زه یم زمرے په دے نړئی له ما اتل نشته
په هند و سند په بخارا او په کابل نشته
بل په زابل نشته، له ما اتل نشته !

د ځنے کسانو دا خیال دے چه، ادب د یوے نړئی د ذوق او جذبے هغه تاثر ته وائی کوم چه هغهٔ د خپل ماحول نه حاصل کړے وی۔ د هغوئی په خیال، ادب که د خپل ماحول ترجمان نه وی، نو هغه به ادب نه وی بلکه څه بل څه شے به وی۔

د پښتو ادب تخلیق او ابتداء په رزمیه انداز کښې شوے ده۔ په تېه، لویه نیمګړی، کسرونو او بدله کښې په هر یو صنف په مجموعی حیثیت کښې رزمیه رنګ زیات غالب دے۔ ولے بیا هم د دوئی د عشقی، افسانوی، رومانی او نفسیاتی رنګ د جوت والی نه انکار نه شی کیدے۔

د یوے ژبے د ادبیاتو په پنګه کښې هغه منظوم داستانونه لوړ مقام لری، چه هغه د خپل وخت د یوے مخصوصے واقعے په دود منظوم کړے شوے وی۔ په دے قصو او داستانونو کښې لکه چه څکښې ئے ذکر اوکړے شو، د هغه وخت د معاشرے د ژوند

عکسونه په نظر راځي. دا ډول داستانونه د نړۍ د ښځوانۍ ادب یوه مخصوصه حصه وي په دوی کښې ځنې رزمیه او ځنې بزمیه تذکرې لري په مثال کښې د (Homer) هومر یونانی (Odyssey) اوډیسي، د فردوسي طوسي شاهنامه، د نظامي ګنجوي سکندر نامه په سنسکرت کښې مهابارت اور راماین او دا رنګ مشهور عشقیه داستانونه لکه لیلی مجنون، شیرین فرهاد، یوسف زلیخا، هیر رانجها، عمر ماروی او دا ډول نور رومانونه د ځینې ځینې ژبې په ادب کښې خاص اهمیت لري.

په پښتو کښې دا قسم منظومې قصې د "بدلو" په نوم یادیږي. په دې بدلو کښې اکثر رزمیه بزمیه دواړه حالات او کوائف مشترک موندلې شي. علاوه د هغه مشهورو داستانونو او رومانونو نه چه پښتو ته د نورو ژبو نه را اړولې شوي دي، د دې ژبې په ذخیره کښې، ځل هم دا ډول ګڼ رومانونه دي چه د دې خاورې او د دې د اوسیدونکو د فطرت پوره پوره غماز، عکاس او ترجمان دي ـــ

په پښتو نخوا کښې په عموماً د یو پښتون ژوند تل بې تکاوه، ناقلاره او لکه د هوسۍ په سېرتون وو. دې ناقلارتیا به د هغه په وینه کښې ګرمي را پیدا کوله او د هغهٔ ارمانونو ته به ئې تقویت ورکولو. دغه تقویت به د هغه د دې احساساتو د راپیدارولو سبب ګرزیدو کومو چه به د هغهٔ سترې ستومانه زړهٔ، د رومان او مینې د دنیا لور ته راغب کولو. خو د ماحول د پابندیانو په وجه د هغه مینه تل د هغه د سر په سودا وه. او کله چه به خبره بالکل د امکان نه بهر شوه، او دغه پابندۍ او بندېزونه به د هغه د پاره داسې کلک اهونه شول چه د هیڅ بند به ئې نه پوهیدو، نو په دا ډول حال کښې به لکهٔ د یکه یوسف، موسی خان یا مومن خان په شان د بل وطن په لور روان شو. دې عمل د پښتنو په مینه کښې یو مستقل رواج موندلې وو. څکه خو ګنهې تپې په دې باب کښې ویلې شوي دي لکه.

هلک مشن شي وطن پرېږدي
جینۍ مینه شي مخ پټ کړي او ژاړینه

خو په دا ډول حال کې هم دغه پښتانه زلمي د ځلې مینې نه چرې لاس په سر شوي نه دي. د هغوی د پښتو، غیرت او پت په لار کښې ګولۍ، تورې، نیزې او غشیلونه هیڅ کله هم مانع شوي یا اړ شوي نه دي. د هغوی په خوانمردۍ معشوقو تل باور کړې دې او همیشه ئې دا وینا په پښو شوندو په زړهٔ لېږه سوځه دهٔ چه.

زما پـه خپـل اشنـا بـاور دے
که د چړو په څوکـو لار وي را به شـیـه

د پښتون قام د اکثرو مشهورو رومانی داستانونو پیاوړي او ننګیالی سړونه په دغه لار تېر شوي دي. په دغه سرو وینو کښې ماموني لانبو وهلې ده. موسی خان

ACKU

د دغه چرو په شوکو تر خپلے گل مکئی خان رسولے دے د فتح خان او را پیا د مینے لار په دغه لور وه۔ په دے سفر کښے د جلات شپږ وروڼه د محبوبے د خونکار پلار د تورے خار شوی دی۔ او مومن خان د کلونو د فراق نه پس په دے منزل د شیرنئی په پالنگ لکه د سور گلاب پاڼړے پاڼړے شوے دے۔

د مینے او وینے په دے مکتب کښے آدم خان او درخانئی هم لوستۀ کړی دی۔ د پښتنو د جذباتو قدم په قدم ترجمانی کوؤنکے دغه رومانی بدلے، نن هم د هر کلی په حجره کښے د را تولیدونکو زړو او زلمو د مجلسونو په خوند کښے د اضافے سبب گرزی۔ د ژمئ اوږدے شپے وی او که د اوړی سپینه سپوږمئ، د رباچی د رباب غووی، د زلمو په گرمه وینه کښے د پاکے مینے د خوندناک او خوږ خوږ درد پیدا کولو د پاره په دے خیال تاویږی چه۔

د آدم خان د مستانه رباب خوږے سندرے
د درخانئی د.منگی تنگ کښے اړول غواړم

(هر یو پښتون د خپل قام د دغه ننگیالو سره یو جذباتی تړون او مینه لری په دے ننگیالو کښے هر یو په خپل ځائے د ویړے پښتونخو: د فطرت عکاس دے۔نو ځکه ئے د عزت او تعظیم په دود د قام هر غړے د خپل خیالولی دستار گل گنړی ـ)

درخانئی او آدم خان څوک وو؟ د کوم ځائے وو؟ د چا څۀ وو؟ او کله وو؟ او هغوئی په خپلو کړو کښے تر کومه حده په حقه وو؟ هغوی شاعران وو او که نه؟ دا او ځنے نور د داسے قسم گنړ سوالونه دی چه د څیړنے پلټنے محتاج دی۔

آدم خان په قام میته خیل، اپا خیل بائیزے وو۔ اپا خیل بلئیزے د یوسفزو د قبیلے یوه۔ شهوره ځانگه ده د آدم خان کورنئی د دغه قبیلے په ځلورمه پیړۍ کښے راځی۔ په دے شان چه (۱) بائیزے د سهیل اپاخیل د شرف خیل ډ میتا خیل د آدم خان د پلار نوم حسن خان یادیږی۔

بناغلے حبیبی د ''کابل کالنئی،، د کال ۴۴-۱۹۴۳ء په گڼه کښے لیکی چه معجر راوړتی د مولوی احمد د کتاب د مقدمے په حواله دا واقعه بالکل ریښتیا گنړی۔ او درخانئی د سوات د سرحد د کوزے بازدرے د یو خان لور بولی او آدم خان د بازدرۀ بالا د یو خان مشر زوئے گنړی۔خو د دواړو د پلرگنو او پلرونو نومونه په دغه مجله کښے نه دی ذکر کړے شوی۔ هغوی د واقعاتو تړون د دغه دوؤ کلو نه علاوه د مصری پانڼے

(۱) حیات افغانی شجره یوسف ابن مندنړ صفحه ۱۷۳۔

او تولانډئ کلی سره هم کوی ـ او حواله ئے د ښاغلی الفنسټون "د کابل حوادث،، نومے کتاب د ۲۴۴ صفحے ته ورکوی ـ دغه کتاب په کال ۱۸۳۹ء کښے په لندن کښے طبع شوے دے ـ

ښاغلے راز محمد وېش د مولوی احمد په حواله وائی چه "لکه چه د دئے واقعے سترے ښینے بیدو هم په دغه ځائے (بازدرو) کښے واقع شوی دی مگر دغه قصه په ځائے کښے د اکوزی سره نزدے د کابل د سیند په غاړه په مصری بانډه کښے ځائے ته رسیدلے ده ـ د دغه عاشقانو ادیره اوس هم د تو لانډئ کلی سره خرمه لیدل کیږی،، ـ

د حیات افغانی مصنف وائی چه آدم خان یو ښائسته زلمے وو ـ د رباب او ښکار سره به ئے شغل کولو دا هغه زمانه وه چه په یوسفزو کښے اکوزی د مشرئ خاوندان وو ـ د هغه علاقے په سندرو کښے ځنے داسے اشارے موندے شی لکه ـ

د پلئی خانه ښه ده او نه کړل
چه "تو(۱) تالښی،، د په "پلئی بدله کړه

د توبالئی کلے د صوابئ تحصیل په سرحد د سوات ریاست په حدود کښے واقع دے ـ او پلی کلے د بائیزو په علاقه د بازدرو سره نزدے، د موړے د غره په لمن کښے، د ملکنډ ایجنسئ په حدودو کښے اباد دے ـ دا خبره نن هم د هغے علاقے خانخیل په دعوی سره کوی چه په یو زمانه کښے د توبنار ډب د دوئ پوله وو ـ دا دعوی بعینه هغه شان ده لکه چه ښتانه وائی چه مونږ د "غوړے مرغئ اولاد یو،، یا "د غوړے مرغئ نه راغلی یو،، د دے قسم دعوو هغوئ څه تاریخی ثبوت د خپل طرف نه ورکولے نه شی خو هر کله چه مونږ د تاریخ په پاڼرو نظر اچوو نو داسے خبرو په شا څه نه څه حقیقت ضرور راڅرګندیږی ـ په دغه رڼرا کښے حمزه خان چه د دوئ نیکه دے ـ هغه د مردان په علاقه د ګدر په غوا کښے حمزه خان کلے په خپل نوم آباد کړے دے ـ او وروسته د هغه خوئ جمال خان، جمال ګړئ د احمد شاه ابدالی په ورځو کښے اباده کړے ده ـ په "تاریخ ضلع پشاور،، کښے ښاغلی مولف داسے نور هم ډیر مثالونه ورکړی دی چه هغه د دے خبرے تصدیق کوی ـ هغه وائی چه "د دے تاریخ د لیک په وخت پولس پیړئ تیرے شوی دی چه ابا خان نوم یو سړے د سوات نه را کوز شو او د خپل پلار بابوزی په نوم ئے (بابوزئ) کلے ودان کړو ـ دغه رنګ "شموزی،، احمد خان اباد کړے وو چه په شمو نوم یاد وو او د سوات نه راغلے وو ـ "متهه،، په دوئم ځل شاه بیګ ابا خیل اباده کړے وه ـ دغه تاریخ دا هم ښائی چه د ځر تئی نه تر کاټلنګ پورے د علاقے ملکیت هم د بائیزو او رانړیزو وو ـ هغه خبره صدر خان د درځو په خوله کوی او وائی چه ـ

(۱) ځنے خلق په بر سوات کښے "چمالئی،، نومے کلے یادوی، دا نوم خبره زیاته حقیقت ته نزدے کوی ـ

ACKU

آدم خانه میته خیله    د یوسف د مندنړ خانه !
زړه د ډک په در گوهر دے    زه په مثل در افشانه

یو بل ثبوت د دےخبرے دا دےچه سره د دے چه د بائیزو اقتدار د خوشحال خان بابا په ورخو کښے لکه د پخوا نه وو پاتے ولے بیا هم ډیره لویه علاقه د حمزه خان بائزی په قبضه کښے وه۔ دا خبره قیاس ته زیاته نزدے ده چه د خوشحال خان سره د بائیزو د سردار حمزه خان خپلوی بائد چه په دے خیال شوے وی (۱) چه د هغوی یو تر بله په مرسته او ملاتړ کښے پوخوالے راشی۔ کامل صاحب په خپل کتاب "خوشحال خان خټک" کښے لیکی "هر کله چه بادشاه (اورنګ زیب) په دے شرط د خوشحال خان پریښودو ته رضا شو چه هغه د خپل اهل و عیال په طور د یرغمال ډلی ته راولی او دا قسم یو فرمان ئے سید امیر خان خوافی نه هم را اولیږلو، نو میر باز خان، باقی خان او سعادت خان چه درے واړه دا زمان په ډلی کښے وو هغوی خوشحال خان ته د دے خبرے اطلاع ورکړه او بیا د خوشحال خان د هدایاتو مطابق د صفرے په میاشت کښے په کال ۱۰۷۵ هجری (مطابق او اخر اګست ستمبر ۱۶۶۴ء) کښے وطن ته به دے غرض را روان شول چه د بادشاه په فرمان عمل اونه شی۔ هغوی وطن ته د را رسیدو سره سمدستی د خوشحال خان بال بچ محفوظ ځائے ته د رسولو انتظام اوکړو په دے غرض ملک حمزه خان او ملک اله داد خان سره د ګنړو بائیزو او رانړیزو راغلل او د خوشحال خان ټبر ئے د یوسفزو په علاقه کښے سیکری کلی ته او رسوؤ، چه د مردان نه بولس (۱۱) میله قطب طرف ته د جمال ګړی او کاټلنګ تر مینځه واقع یو کلے دے۔ د دوئی سره د خټکو سل (۱۰۰) کډے نورے هم د سیند نه د یوسفزو علاقے ته راپورے وتلے۔ د بائیزو په تپه اوس هم د خټکو څو کلی اباد دی۔ او یوسفزی او خټک سره یو تر بله شریک شوی دی۔ سره د دے چه د یوسفزو او خټکو یو تر بله دښمنی وه، خو په دے قبیله کښے د خوشحال خان دوستان او رشته داران هم وو۔ ولے د خوشحال د ګورنئی سره نوازے د هغه دوستانو او رشته دارانو مرسته نه وه کړے، بلکه د دے د پاره ټونه قبیله د تحسین لائقه ده"۔ خوشحال بابا په خپله دے واقعے ته دا رنګ اشاره کوی۔

زۀ د یوسفزیو په خان زهر وم قاتل
بل مقصود ہے نه وو په خدمت کښے د مغل

---

(۱) بناغلے دوست محمد خان کامل د خپل کتاب "خوشحال خان خټک"، په ۲۳۲ صفحه لیکی چه د صدر خان مور د ملک ملو خان ولد ملک اسماعیل خان یوسفزی لور او د ملک حمزه خان خور وه۔

شاباش په هغه شه چه د ننګـوکا ہالل
راغله یوسفزی لکـه پیښ شو کار مشـکل
یو وو بائیزی، رانړیزی ور ســـره مـــل
لوټی هلک سے واړه په دریـاب پورےواتل
لاړل تر سیکری ورســره کـوروـنـه بـــل
نـور ختک نے واړه په خپل ځـانـے اودربدل

ځکښې نے دے واقعے ته دابے اشاره کړے ده۔

یو یوسفزے نه دے چه په ما نے منتبار کړو
لا پـه اکـوزیـو د ننګ چـار ده ـسلمـه

او په یو بل ځائے کښې ئے دا ذکر دابے کړے دے۔

یو خله په ماتے تـر هنګالـــه ورغلـل
بیا "د اکوزیو په سیکرئی،، نـنـوتـــل

خوشحال بابا د حمزه خان دابے ذکر کوی۔

مخزن د درویزه د میاں نور شیخی پیری
الثالث بالخیر د حـمزه خـانی میـــری
دادرےتو که دېرقدر دېرعزتلری پهسوات کښے
و خدائی وته ښکاره دیوئل نه دی په زیری

خوشحال بابا د بائیزو او رانړیزو ( اوکوزو ) په وروستیو مشرانو هسے ارمان کړے دے وائی چه۔

نه حمیــد شته نه کجے شته نه کاچو شته
څه له نورو سره ســر وړے لــه سنګـــه،
که د سـوات په هوا خوش ئے یکښےښکار کړه
او که نه ورځنے تیښته څـــو فـرسنګــه

په دے شعرونو کښې د بائیزو او رانړیزو نه علاوه د یوسفزو د بلے کورنئی ذکر نه دے شوے ۔ او د کجو خان د اولاد دا دعوی چه "په دے وخت د بائیزو رانړیوو د نوبنار د ډب پورے عملداری وه،، ۔ هم ثابتیږی ۔ که چرے دا خبره تسلیم کړے شی نو د آدم خان او د درخانئی د ختکو علاقے ته را رسیدل هم یو څرګند جواز لری ۔لکه څه رنګ چه ځکښې ذکر کړے شوے دے، ،پښتانه" عاشقان، چه کله هم په سینه کښې د نا امیدئی تر خوا رسیدلی دی، نو د بل وطن په لور ئے مخه کړے ده۔ فخرالدین صاحبزاده وائی چه "آدم خان په زړه نتلے په ضورت کوتلے وسیرو، بلو ته ئے او وے

که دا کار یے له لاسه او نه شی. زه به له دے ملکه ورکیږم. تا ته به را سره ځی که به نه ځی،، هم په دے اراده آدم خان د یوسفزو د علاقے نه را اوتلو. خو د مینے رنځ ئے د کالبوت رنځ شوے وو. او په وجود کښے ئے د زیات سفر توان پاتے نه وو او د اکوړی سره نزدے د کابل د سیند په غاړه د خپلے او درخانئ د خیلخانو د عملدارئ نه بهر په مصری بانډه کښے وفات شو. بهرحال چه دوئ دواړه عاشقان وو او بغیر د بو بله ورته ژوند تیرول گران وو. نو د جدائی هم د درخانئ د پاره هم نرے تاوون شو او څه وخت چه د آدم خان د مرگ نه خبر شوه نو هغے هم ساه ورکړه. او د آدم خان په خوا کښے ښخه کړے شوه او تر نن ورځے دغه دواړه قبرونه په یو ځائے یادیږی. کیدے شی چه، د دواړو د پاک او صادق عشق له کبله، خپل اعتقاده خلقو د درخانئ جنازه د هغے د کورنئ په اجازه هم دغه ځائے ته راوړی وی. ځکه چه دا عین ممکنه ده چه هغے به د مرگ په وخت دا ویلی وی چه "ما د خپل مینن آدم خان په خوا کښے ښخه کړئ،، او دغه شان ئے دغه دواړه صادقان عاشقان سره یو ځائے مزکے ته سپارلی وی.

د دے دوو مینو ریښتنے او سوچه مینے، هغوی دواړه سره داسے یو کړی وو چه د یو بل د وجود نه، بل هر یو څیز ئے د نظر نه یو خوا ته شوے وو. د هغوی رگ رگ او نس نس د یو بل طالب او آرزومند وو. د هغوئ وینا وه چه.

چه په کوسه لاړه ځمه سودائی شم
نورے هیڅ لیلی نه دی، نه دی، (یاره!) ستا پل دے

او څه رنگ چه خوشحال بابا د مجنون سپیڅلی عشق په حقله ویلی دی هم دغه حقیقت د آدم خان او درخانئ وو. هغه وائی چه.

چا په وخت د زنکدن او وے مجنون ته
وخت آخر دے په زړه یاد لره خپل خدائے
ده وے زړه مے د لیلے په یادو ډک دے
پکښے نشته دے د نورو یادو ځائے

## ځائے ځائیکے.

د آدم خان او درخانئ د ځائے ځائیکی په حقله جدا جدا روایتونه راغلی دی. د حیات افغانی د مولف ښاغلی محمد حیات خان خیال دے چه هغوئ د بری کوټ او سیدونکی وو خو ځنے خلق ئے د بنیر کنړی. ښاغلے مولف په خپله د بری کوټ په کلی پانډے زیات زور ورکوی او دائے خیال دے چه په دغه کلی کښے د دوئ د کوزے او برے باز درے په کلو هغه مستقل کور وو. ولے عام خیال دا دے چه دوئ د کوزے او برے باز درے په کلو کښے استوونه کوله. ښاغلی راز محمد ویښ په خپل کتاب "پښتو کتابونه،، کښے دغه دواړه کلی په یو حساب کړی دی، ولے حال دا دے چه د دے دواړو کلو په مینځ

ACKU

کښې کم نه کم دوه میله فاصله ده ـ هغه لیکي چه "درخانئ د بازدرے کلي په ښکته خواؤ کښې د سوات د علاقې د یو ښتمن او مخور سړی لور وه، او آدم خان د بازدرے د کلي په بره خوا کښې د یو بل کلي زلمے مشر وو .. ـ دغه دواړه (۱) کلي د بائیزو په علاقه کښې د مورے د ښائیسته غره په لمن کښې د ښیر د علاقې او مردان د ضلعې اړخ ته پراته دی ـ او دے دواړو علاقو ته د دے کلو نه د پخوا راسے لارے تلې دی د مورے په بله ډډه په ملکنډ ایجنسۍ کښې آباد بائیزی اؤ رانړیزی دغه علاقې ته سمه وائی ـ د دے دوو کلو سره په لړئ کښې نور هم ډیر کلي آباد دی، چه دا وخت د عزیز خان کور او رستم خان کور په ملکیت کښې دی ـ ( دغه دواړه کورنئ د برکور او کوز کور د خانانو په نوم یادیږی) ـ سید بوعلیشاه په خپل منظوم رومان آدم خان درخانئ کښې دے دواړو کلو ته په داسے انداز کښې اشاره کړے ده ته به وائے چه کنی دا دواړه کلي اوس وران شوی دی ـ هغه وائی ـ

چه په ملک کښې د صوات وو یو دوه کلي
په ښائیست وو د هر یو کلي نه ښکلي
یو په بره بازدره بانـدے مشهـور وو
بل په کوزه بازدره بانـدے مذکور وو

صدر خان خټک د آدم خان د استوږنے ځائے شیرخانه ښودلے دے ـ د شیر خانے کلے هم د دغے لړئ په شمیر کښې راځی ـ

آدم میشت پـه شیـر خانه وو   شپ و روز پـه ترانه وو
دے پسـر د حسن خـان وو   میتـه خیل وو نوے خوان وو

. حقیقت دا دے چه په هغه زمانه کښې به په دغه علاقه کښې د زمکو تپه‌وار بدلونو نه کیدل، او بیا به د هغے نه وروستو کور د کوره د حصه دارئ "ویش،، کیدو ـ دغه دستور اوس هم د بائیزو او رانړیزو په ډیرو کلو کښې جاری دے ـ او څه رنګ چه د شیخ ملي بابا د مشهور تقسیم قائده ده دا بدلون به څو کاله پس (په څنے خابونو کښې څلور، څنے کښې پنځه، او په څنو کښې په اووه کاله پس) کیږی ـ نو دغه شان په یوه مقرره نیټه پس به د کوزے سیمے خلق برے سیمے او د برے سیمے کوزے سیمے نه راتلل ـ دغه وجه وه چه په هغه زمانه کښې د دے ټپو او خیلونو په یو

---

(۱) "یو انچ د شیل په حساب،، په سرکاری مستنده نقشه کښې ، چه په کال ۱۹۲۹ء کښې د بریګیډیر ( R.H. Thomas ) د نګرانئ لاندے طبع کړے شوے ده ـ دغه کلي په اتلسم او پنځلسم قطی سویلی جال ؤ او په پنځه پنځوسم ختیز قبلیز جال باندے ښودلی شوی دی ـ د دے کلو طول بلد ۰۱ ۲۲ او عرض بلد ئے د ۱۵ ۳۴ تر خوا وشا دے ـ

ACKU

PROPERTY OF ACKU 12949

خاص کلی کښې استوږنه نه وه۔ کلی آباد وو، کورونه ودان وو، پړے جنبې دلے تپلے غم ښادی او قبر واله په خپل ځائے روان وو۔ د کلی کلوبغئی په زیست روزګار کښې پوره پوره مطابقت وو، خوکډے به کله په سمه وے کله په سوات، کله په غر کله په میدان او کله په کوز سوات۔ کله په بر سوات۔ دے سلسلے ته به "وار،، ویلے کیدو، په دغه وارونو کښې به نائیکان خانان سره د خپلو نوکرانو مزدورانو او د هغوئی د بال بچ "پاسیدل،، او هغه ځائے ته به تلل چرته به ئے چه وار مقرر شوے وو۔

آدم خان او درخانئی چه د دغه علاقے د خانوادۇ نه وو۔ دواړه به هم خواه مخواه په دغه کډو کښې تلی راغلی وی۔ خو د دغه دستور د کبله مونږ د هغوی کورنئی د بریکوټ، بازدرو، ملکنډ یا بنیر سره په مستقل جوړ تړلے نه شو۔ دا خبره قرین قیاس ضرور ده، چه په دغه وختونو کښې د دوئی وار په بریکوټ هم راغلے وی، بنیر ته هم د دوئی کډے اوړیدلی وی، او په بازدرو ئے هم استوږنه کړے وی۔ په دغه شان کیدے شی چه په یو وخت کښې د حاجی خیلو او میته خیلو دواړو کورونه، په شریک تقسیم کښې راغلی وی او یا هډو د دوئی "خسنړے،، مشترک وی۔ د حیات افغانی د مولف په حواله (یو وخت) دا دواړه کډے په ملکنډ پرتے وے۔ د پیر جوګی حاجی خیل (۱) لور درخانئی، یوه ورځ د دوک سازولو د پاره د باتور آهنګر دکان ته راغلے وه۔ آدم خان هم د خپل اس (۲) نعلونو وهلو له راغلے وو۔ چه د دواړو سره سترګے او لګیدے او مینه ئے پیدا شوه تر څه نیتے پورے د دوئی دواړو مینه پټه وه۔ خو په دے دوران کښې د درخو د یوے سهیلئی وادۀ جوړ شو، درخانئی ئے هم په بلنه راوسته۔ سید ابو علیشاه دا پیغله د درخو د ترور لور ګنړی او وائی۔

چه په بره بازدره د درخو ترور وه
اوسیدله هلته هغه په خپل کور وه
د هغے وه یوه لور بسکئی ئے نوم وو
د ښائیست اواز ئے هر چا ته معلوم وو

د خپلے ترور په کور درخانئی خپل ښائیست، پیغلتوب او حیا په ستر کړے وه خوشه وخت چه د پیر صالح په ویتا آدم خان په رباب کوتے پورے کړے نو درخانئی تینګه

---

(۱) په "حیات افغانی،، کښې ئے درخانئی د پلار نوم پیر جوګی حاجی خیل ورکړے دے۔

(۲) د آدم خان د آس نوم په څنو ځایونو کښې بجلون ذکر شوے دے۔ په یوه نعره کښې ئے آدم داسے نوم اخلی۔

یے بجلونه اوس د تینګ ترم تانګونه۔ چه زما خوراک همیش غم وو ستا خوراک وو شوده نی په لذتونه۔ الخ

نه شوه او په ښکاره مخ ننداړے ته اودریده (۱) ـ د آدم خان او درخانۍ بیا د یو بل سره لیدهٔ کاتهٔ او شول ـ د مینے اور ئے لمبهٔ او کړے، خو درخانۍ ـ ـ ـ د پاپاوی چنغله کیدونکے وه ـ کوژدن ئے شوے وه (۲) ـ د دستور مطابق خو په دے وخت کښے درخو د پاپاوی د پاره منلے شوے وه خو په اسلامی شریعت کښے ، هر کله چه د هغے نکاح نه وو شوے، په هغے پاندے د هیڅ قسمهِ داسے پابندیٔ نه وه لازمه چه هغه ئے د خپلے رضا نه منع کړے وے ـ دا وخت هغه ازاده او د خپل اختیار میرمن وه ـ دا خبرهٔ نور هم دا حقیقت واضح کوی چه که چرے د هغے نکاح د پاپاوی ملک سره شوے وے، نو د درخو سور به هیڅ کله هم د هغے رضا ته غاړه نه وه کیښودے ـ صدرخان وائی

چه سور واک ورکـړه د تللو و درخـو تـه د وتـلـو
یعنـی زر آدم طلب کـړه تلل د ده سره نن شب کړه

او د دے بیان مطابق به درخانۍ هیڅ کله هم عمل نه وو کړے او د آدم‌خان سره شوے به نه وه ـ حالاتے شوه پښتو او رواج نو د دے غلط رواج په سبب دا قسم واقعات په دے علاقو پاندے کله نا کله پیښیږی، سره د دے چه دغه پابندیانے اوس هم قائمے دی ـ د رواج او دستور په زړا کښے دا یو ډیر سخت او سنگین کار وو ، خو هم دے شان کارونو ته "د غلطو معاشرتی پابندیانو خلاف بغاوت،، ویلے کیږی ـ په هر دور او هره زمانه کښے داسے افراد زیږیدلی دی چه د وخت، زمانے او ماحول د غلطو رواجونو او نامناسبه پابندیانو نه ئے په جار د آزادئ اعلان کړے دے ـ داسے زلمی د شاعر په ژبه دا احساسات په دے انداز څرګند وی ـ)

---

(۱) هغه رنګ چه د یوسفزو په ځنو علاقو کښے دا عام دستور دے چه که په جماعت کښے وعظ وی یا په حجره، دیره کښے مجلس وی، نو د خوا و شا زنانه د دغه ځایونو د چتونو پلو ته د ننداړے د پاره راتولیږی ـ (مجلسونو ته په دغه وجه هغوی په خپله اصطلاح کښے "ننداړے،، وائی) په داسے موقع نارینه ؤ ته د پورته ختلو اجازت نه وی په داسے غونډو کښے نارینه همیشه لاندے را تولیږی ـ

(۲) دلته دا خبره د ذکر قابله ده چه په دغه علاقه کښے په ساهو (اوچتو) کورونو کښے کوژدن د هلک د پاره د جینۍ د منلو یو رسم دے، چه نکاح پکښے نه شی تړلے کیدے ـ دوهره ده چه د پښتنو د دستور مطابق، د دے رسم نه پس، جینۍ د زلمی چنغله ګنړلے کیږی ـ نکاح ئے عموماً د ډولۍ د راوړولو نه وړ‌ُخ نیمه پهر د هلک په کور د هغه په روبرو یا د هغه په اجازت د چا مشر په واسطه کیږی ـ نو په دے وجه دا الزام چه آدم خان یوه نکاح کړے شوے ښځه تښتولے وه بالکل نامناسبه او بے ځایه ښکاری ـ

بامن میاویز اے پدر فرزند آزر رانگر
هر کس که شد صاحب‌نظر دین بزرگان‌خوش‌نکرد (غالب)

ویلے شی چه څه وخت آدم خان، د درخانئ د مور په رضا، درخانئ د پلار د کوره بوتله نو د خپل سخر میرمائی کره ئے په ننواتے ورورسته - میرمائی د آدم خان د وروښئ پښځے طوطیا پلار وو-

صدر خان خټک وائی -

هغه وخت طوطیا پسند لے
منکوحه د آدم ښکلے
هور ته ناسته وه جاضره
په خوله چپ په زړه ناظره

په داسے حال کښے میرمائی دا خبره څه رنګ زغملے شوه، چه آدم خان د د هغه په وراندے په داسے ناپسندو عمل اوکړی - په دے څه که آدم خان بو ستر خان، ښه زلمے او په هر جوړ د دوئمے ښځے توانمن سړے وو! په میرمائی دا الزام عموماً لګولے کیږی چه هغه د پاپاوی نه د درخو په سر سل روپئ رشوت خوړلے وو- او درخانئ ئے پاپاوی ته بیرته حواله کړے وه- ځنو شاعرانو دے خبرے له ډیره هوا ورکړے ده او نه یوازے دا چه میرمائی ئے د دے خبرے مجرم کړے دے بلکه د یوسفزو توله تپه ئے په دے کښے رالړلے ده خو هغه دهوښیارانو متل دے چه د وینځے خیرے کړیوان نه هر څوک ګوری او د میرمن خوږ زړه څوک نه وینی - که میرمائی داسے څه کار کړے وی نو شائد چه د خپلے لور د مستقبل د غم د هغه ئے کړے وی - ربښتیا خو دا ده چه په دے وخت کښے د آدم خان نه په خپله خطائی شوے وه څکه چه د هغه د ننواتے وروستل بے وخته او بے موقعے وو- خو سره د دے بیا هم د میرمائی دا حرکت د پښتنو د ښت او ننګ د دستور نه خلاف وو- په پښتنو کښے دا عام دستور دے چه که د خپل سر دشمن د چا پښتون په غولی کښے پناه واخلی نو په هرحالت کښے د غولی خاوند (تر هغه وخته چه څه بله لار ئے جوړه شوے نه وی) د هغه پشت پناهی کوی - څه وخت چه میرمائی د پښتو او ښت خیال او نه ساتو نو نیتجه ئے دا شوه چه د هغه په دے بے ننګئ د هغه خپل خوی ګوجر خان په آدم خان ننګ او خوږو او د ډیره سوخته ئے خپل پلار میرمائی د مرګ په تیغ حلال کړو-

د دے واقعے نه لا ښل نادر مثال د پښتنو د ننګ او ښت د پالنے څه کیدے شی- دا مثال ظاهر وی چه پښتون په هر حال کښے د پناه غوښتونکی په څنګ او مرسته ولاړوی عن دا چه که د ده د نزدے نه نزدے خپلوان هم په دے باب کښے څه کوتاهی اوکړی نو او چه پرے نه خوری-

ACKU

آدم خان چه څه وخت درخو د خپل سحر په کور دننه کړه نو زړه ئے داده شو څوک واٸی چه د میرو او بلو سره په ښکار تلے وو او څنے واٸی چه په لښکر لاړ وو چه په دے دوران کښے ورته دغه بده ورپیښه شوه ـ

ښاغلے محمد حیات خان په خپل تاریخ حیات افغانی کښے لیکی چه د هغه دوو باندو د کنډروڼو او د "باتور ،، آهنګر د دوکان آثار موجود دی او د هغه کتے ذکر هم کوی چه درخانٸ به پرے څرخه کوله ـ که یو خوا دغه حوالے ریښتیا او کنړلے شی. نو بل طرف ته په بره بازدره کښے هغه آثار ما په خپله کتلی دی کوم چه د هغه علاقے خلق په ګوته کوی، او د آدم خان او درخانٸ د معاشقے د داستان سره ئے د هغوئی په خیال کلک تړون پاتے شوے دے ـ په مثال کښے د بازدرے د رود غاړه چه درخانٸ به ترے منګی ډکول او اوس هم پکښے زنانه زړو لی وینځی او منګی تر نه ډکوی ـ د دے رود اوبه د سورے.د غره نه رابهیږی، او مقدار ئے وخت په وخت د موسم سره کله زیاتیږی کله کمیږی ـ د رومان او ښائیست نه ډکه دغه نظاره چه ځائے په ځائے پکښے اوبه د غارونو نه تیریږی او ګړنګونو نه راغورزیږی، د آدم خان د رباب د سوزو نغمو یاد تازه کوی ـ په دغه کتانو او کمرونو کښے د جام په خیر غونډه دوه ډوغالی چه د رود د اوبو نه ډکے وی او د آئین په شان پکښے د سپړی مخ ښکاری ـ ویلے شی چه درخانٸ به په دغه ځائے کښے سنړه ستړنه کول ـ په دغه ځائے کښے یو دوه کنډان دی ویلے شی چه هم دغلته به د دوی مشغولا او خبرے اترے کیدے ـ د دے ځایونو سره څنے داسے خبرے تړلے شوی دی چه د منلو قابلے نه دی، ځکه ئے ذکر کول هم ضروری نه دی ـ دا دواړه خبرے ثابتوی چه په هغه زمانه کښے د هغوئی د استوګنے ځائے مستقل ځائے نه وو ـ

د "پښتانه شعراء،، مصنف آقائے عبدالحئی حبیبی د دے واقعے په باره کښے د خپل تحقیق د زیاتے حصے انحصار په "حیات افغانی،، کړے دے او آدم درخانٸ د سوات د بری کوټ کلی یا بنیر د علاقے حسابوی، خو هغوی د درخو د پلار نوم پیر جوګی په ځائے طاؤس خان ښودلے دے ـ په څنے نورو کتابونو کښے هم، د درخو د پلار نوم طاؤس خان ورکړے شوے دے ـ سید بو علی شاه واٸی چه ـ

په بره بازدره کښے یو ښـــه ځــوان وو
مشهور هم پـه نامـه د طاؤس خان وو
یـوه لور وه ددهٔ ښه پـه حسن پـــوره
په مثال لکـه چـه وی د جنت حـــوره
نوم ئے اینبے درخانٸ خپل مور و پلار وو
پـه هغـے وطن کښے ډیر د دے وقـــار وو

ACKU

د بناغلی حبیبی خیال دے چه د دوئی دواړو مینه د وړوکوالی نه وه ـ هم په دغه مینه کښے وروستو اضافه اوشوه او دواړه ئے په لمبو ستی کړل ـ حبیبی صاحب میرمائی یا میرمامی د آدم خان رقیب بلی او دغه رقابت ئے د آدم خان او درخانئی د جدائی سبب گرزوی او پس د ډیر کړون او جدائیی د غمونو اول د آدم خان او بیا د درخانئی د مرگی ذکر کوی ـ

د کوزے بازدرے بناغلے میاں غلام صاحب (عمر ئے دا وخت شپږاتیا کالو ته رسیدلے دے) ماته اووئیل چه ما د خپل نیکه نه اوریدلی دی چه آدم خان د جنگو اوسیدونکے وو . د بنیر بابا زیارت له روان وو په لاره ئے د رباب غږونے مات شو ، د برے بازدرے د یو ترکاڼ دوکان ته د غوږی سازولو د پاره ورغے هلته ئے درخانئی په نظر شوه د دواړو په یو بل سترگے خوږے شوے او د مینے اور ئے په سینو کښے بل شو ـ

بناغلے عبدالغفور چه په خپلو پیژند گلو خلقو کښے په "کاکا جی"، نوم یاد دے وائی چه "دوئی دواړه د نوښار نه په تیښته راغلی وو او په بازدره باندے دیره شوی وو او هلته پرے دغه ټول واقعات تیر شوی دی ـ او د مرگ نه پس ئے دواړه بیرته خپلے علاقے ته وړی دی او هلته ئے یو ځائے سره خاورو ته سپارلی دی"، ـ

**د دے قصے زمانه ـ** | د حبیبی صاحب خیال دے چه آدم خان او درخانئی، د اکبر باچا (۱۵۵۶-۱۶۰۵ع) په زمانه کښے ژوندی وو ـ هغه د دے خبرے په ثبوت کښے د اخوند درویزه صاحب په حواله، د محسن خان صوبیدار ذکر کوی ـ دغه سړے په پیښور او کابل د اکبر صوبیدار وو ـ کیدے شی چه د محسن خان صوبیدار نوم د آدم خان درخانئی په تذکرو کښے هم چرته د هغوئی د نظر نه تیر شوے وی ـ

دا خبره تعجب خیزه ضرور ښکاری چه د پښتو د اکثرو داستانونو دور د اکبر بادشاه په زمانه پورے تړلے شوے دے ـ بهر حال دا واقعه هم په دغه خوا و شا کښے تیره شوے وه او د خوشحال بابا او د هغهٔ د زامنو تر وخته ئے پوره پوره اشتهار شوے وو ـ ځکه خو صدر خان د خپل کتاب په تمهید کښے چه د قلمی نسخے په وړومبو اتو صفحو خپور دے، وائی چه "ما خپل پلار ته یوه ورځ په خبرو خبرو کښے اوویئل چه ـ

د عشـاقـو افغـانـانـو　　د مـاضیـو عـاشـقـانـو
کتـاب بویـه چـه نگار شی　　ورستـو پـاتـو پـو یادگار شی

---

(۱) ممکن ده چه د بناغلی عبدالغفور کاکا جی دا بیان د هغه خبرو په جواب کښے راغلے وی، کومے چه په دے داستان کښے د یوسفزی قبیلے په خلاف ویلے شوی دی ـ

ACKU

دا خبره خوشحال خان بابا هم خوښه کړه او په جواب کښې ئې ورته دا بیت او ویل۔

دۀ وے ښه د او وے زویـه ـــ یو کتاب پـه دا باب بویه
کـه د عمـر ښه وفـا وی ـــ لـه کار و بار فرصت زمـا وی
لــه آدم لــه درخـانئ ـــ بـویـه ښے سخـن رانـئ

په دے ضمن کښې دا خبره هم قابل ذکر ده چه د آدم خان او درخانئ د داستان سره د خوشحال بابا د کورنئ ذاتي دلچسپي هم وه۔ وجه ئې دا وه چه د خوشحال خان کشره بی بی (د صدر خان مور) د بائیزو د خان، حمزه خان خور وه۔ بله دا چه د خوشحال بابا د مغلو سره د دشمنئ آغاز شوے وو او دا ئې غوښتله چه د یوسفزو سره په پښتونو زړه بداؤو باندے پرده واچوی، دغه سبب وو چه نه یوازے صدر خان بلکه عبدالقادر خان هم دا داستان منظوم کړے دے، اګرچه په ځنے ځایونو کښې د کردارونو غندنے شوی دی سلسه کښې صدر خان یوسفزو ته هم بد رد ویلی دی۔ خو دغه محض ضمنی خبرے دی خوا دا د قبائلی ژوند یوخصوصیت څرګند وی۔ د خوشحال بابا په دواړو زامنو کښې د صدر خان تالیف ورپسے ښکاری۔ ځکه چه هغه ته د خپل پلار د طرف نه اذن شوے وو صدر خان وائی چه پلار ماته اوویل چه۔

که د پاتو فرزنـــدان شی ـــ بیا به ورک له دے جهان شی
که د پاتو ښه کلام وی ـــ ستا به تل پر زنده نام وی
خـو زړیـږی لا ځـوانیـږی ـــ دے کلام، که څوک پوهیږی
پس د پلار د مرګه پلـه ـــ چه سرور شو هژده کالـه

صدر خان د پلار د وفات نه اتلس ۱۸ کاله وروستو د دے داستان په تالیف کوتے پورے کړے او په خلوښت ورځو کښې ئې سر ته او رسولو۔ دا کال ۱۱۱۸ هجری وو۔ ځکه چه په ۱۱۰۰ھ کښې خوشحال خان بابا حق رسیدلے وو۔ په دے کتاب کښې د سبب تالیف آغاز د دے شعر نه کیږی۔

زمـا پـلار ځـائے جنت شـــه
ښــه اولاد ئـے بـرکت شـــه

خو ښاغلے حبیبی په "کابل کالنئ" ۴۴-۱۹۴۳ء د میجر راورتی د مجموعے نه د منقولے نسخے د آغاز شعرونه دا بیت راوړی۔

ربــه زړۀ زمــا چمن کـړه ـــ د تا یاد ښکـښے ګلشن کـړه
استخــوان مے ښبـه زار کړه ـــ ښکـښے اور د عشق انوار کړه

ACKU

هغـه اور پـه مـا لنبـه کړه — خاکستـر مـے دا پنبـه کړه
زمـا زړۀ لکـه لالا کـړه — د زړه وينـــے مـــے پياله کړه

د کتاب د اختتام تاريخ په آخر کښے "قيغاد،، يعنى ۱۱۱۷ ه ورکړے شوے دے۔ خو د سن هجرى د دے کال او د هغه کال چه د هغه د پلار د مرګ نه اتلس کاله وروستو ښودلے شوے دے، تر مينځه د يو کال فرق معلوميږى او اصل تاريخ مشکوک ګڼوى ممکنه ده چه دا لاندے باندے د يو کال د ورستى او د بل کال د وړومبى مياشتے د برکته پيښس شوے وى۔ صدر خان خټک عمر "جيم،، يا "حم،، ښودلے دے۔ په کابل کالنى کښے د "جيم،، په حساب په دغه وخت کښے د صدر خان خټک عمر درے پنځوس کاله او د دے کتاب (۱) د لفظ مطابق د هغه عمر اته شلو پښتو کالو ته قابو شوے وو۔ هغه د کتاب په اختتاميه کرښو کښے وائى۔

زاغ حاسد زغن جاهل دے — بلبل څوک درد مند عاقل دے
سن "قيغاد،، بلبـــل لا وو — "حم،،(۲) د عمر نن زما وو
دا کتـــاب د عـــاشقانـــو — چه ما نظم کـړو يـارانـــو

دا رومانى داستان د صدر خان نه علاوه د هغه ورور عبدالقادر خان هم نظم کړے دے۔ خو د دوئ نه وړاندے هم څنګه چه د صدر خان د دے بيان نه معلوميږى، په څه خاص شکل کښے دے قصے ترتيب لرلو۔ هغه وائى چه۔

تاتى نام يو يـوسفـزے وو — حاجى خيل وو په زلمے وو
------------------ — ------------------
مـا ترے اوکړله پښتنـــه — په دا رنګــ چه اے دردمنه
دا قصـــه لـــه مـطـــربـانو — لـــه يارانـــو قصـــه خـوانـو
په بل شان و مونږ ته کيږى — له تا بل شان معلوميـږى
دۀ وے ما له دے دا ستانه — تحقيق اوکړو ډير څو شانه

دا شعرونه دا هم ظاهروى چه په هغه وخت کښے هم په دے قصه کښے اختلافات موجود وو، رنګ آميزئ پکښے شوے وے او هر يو داستان ګو اخون او مجلسى به د خوند پيدا کولو د پاره پکښے د خپله ځانه څه نه څه مالګه مرچ يو ځائے کول

---

(۱) د صدر خان خټک د منظوم کتاب "آدم درخانئ،، هغه نسخه چه د پښتو اکيډيمئ په کتب خانه کښے محفوظه ده۔
(۲) په کابل کالنئ کښے دا مصرع داسے ليک ده۔("جيم،، عمر نن زما وو)۔

ACKU

د صدر خان خټک د داستان ماخذ "تاتي،، دے، او وائي چه تاتي د میرو قوال د خولې نه روایت کوي ـ او میرو قوال د آدم خان هغه میرو کے اشنا ښکاري چه په عره سخته کښې د هغه ملګرے وو ـ او خوشحال بابا ئې دا رنګ ستائینه کړے ده ـ

درخو خود په آدم خان باندے شیدا وه
پر دا سبخ د میرو کي زړه بسلا وه
چه په مبنح کښې دلال نه وي وصال نه وي
په مجنون باندے میشته که لیلے وه

صدر خان وائي چه د تاتي د خپل بیان په آغاز کښې ماته دا حواله را کړے وه ـ

د میرو قوال د پوره (۱) ماته شوے ده مزبوره
هغه او وے دا تحقیق ده نوره لرے له طریق ده
په بل طور چه ئې کاندي ویل دوئي که لاندے باندے
هر چه ما ده اوریدلے له "تاتي،، دا قیصه ښکلے

مرحوم مولانا عبدالرحیم صاحب په خپل انتخاب "مجموعه کلام افغاني،، غیر مطبوعه کښې چه اوس د پښتو اکیډیمۍ ملکیت دے، د برهان شاعر د بدلے وروستۍ حصه نقل کړے ده، د پیژندګلو په دود هغوئی د بدلے په سر لیکلي دي چه "هر کله چه آدم خان ، درخانۍ د پیر مامي کره راوسته نو پیر مامي (میر مائي) خپل خوئي ګجر خان ته او وے چه پایاوے د درخانۍ چنغول به را باندے ضرور لښکر اوکړي، اوس درته بائیله دي چه په تلوار لاړ شه او خپلو عزیزان له دے حاله خبر کړه چه راسره کومک اوکړي ـ ګوجر خان مابنړ ته لاړ، او آدم خان هم د میرو بلو سره غره ته د ښکار د پاره لاړ شو ـ په دے دوران کښې پاباوی مل روبي بدمعه پیر مائي ته ورکړے او درخانۍ ئې ترے بوتله ، چه آدم خان دا خبره واوریده نو د اسه مرا بربوت په ډیران او لوټېم ـ چه ګوجر خان خبر شو نو خپل پلار ئې او واژه،، ـ دا هغه بیان دے کوم چه د ابتدا نه بے تحقیقه او بے تصدیقه راغلے دے او یو د بل نه او بل د بل نه هم دغه شان نقل کړے دے ـ د مولانا صاحب دا تحریر د برهان شاعر د دغے بدلے خلاصه ښکاري ـ د دغے نیمګړے بدلے آغاز په دے شان کیږي ـ

---

(۱) دا شعرونه ظاهروي، چه تاتي د میرو کي خولې په خپله لیدلے وو ـ ګویا خوا و شا د خوشحال خان په وخت کښې ژوندے وو ـ او شائد چه د هغه پلار میرو د شاهجهان یا جهانګیر بادشاه په وخت کښې هم ژوندے وو ـ او دا خبره دے خیال ته تقویت رسوي چه د آدم خان او درخانۍ د رومان زمانه، د اکبر بادشاه د حکومت په آخري دور کښې شوے وي ـ

آدم خان د درخانئ د مینے یار — دواړه اووتل پردیس ئے کړو اختیار
د شپے لاړ د پیرمامی کره دیره شو — پیرمامی د ډیرو کلو وو سردار

د پیر مامی خوئے گجر خان د آدم دوست وو۔
"دوئ له وخته بدل کړے وو دستار"

په دے پسے نے په یو څو شعرونو کښے د درخانئ او پیرمامی تر مینځ د مکالمے حال راوړے دے۔ چه څه شعرونه ئے دا دی۔

درخانئ وے پیر مامی ته واک د خپل دے
ستا په غولی زه راغلے ته مے پسلار
پیر مامی وے درخانئ مه خفه کیږه
ستا زما په مینځ کښے دے پروردگار

د پیر مامی په دے وینا او وعده د دواړو پوره پوره تسله اوشوه هغوئ د غم نه بے غمه شول او په خندا خوشحالئ نے ورځے شپے تیرول شروع کړے، خو په دے دوران کښے پاپاوے چه ملکند نے دیره وه خبر شو او آدم خان پسے د انتقام په خیال په ډیر قهر را روان شو۔

پاپاوے له ملکنډه را روان شو
پسه آدم پسے راغلے وو په قار
د پاپاوی استازے راغے پیرمامی له
د پیر مامی په خوا کښے۔کښیناست په قلار

هم په دے بدله کښے برهان وائی چه دغه استازی، پیرمامی ته د پاپاوی د طرفه سل روپئ رشوت ورکړو او هغه ئے پاپاوی ته د درخو په واپس کولو رضا کړو لو پس د صلاح مشورے۔

پیر مامی گجر خان اونیرو مابنرته،
آدم خان، بلو، میرزو تلی په ښکار

بیا وروسته د درخانئ او پیرمامی تر مینځه دویمه مکالمه ده" درخانئ ورته د هغے د پیرنه نه ورکولو زاری کوی، خو پیرمامی ورته هیڅ غوږ نه نیسی او په زور ئے ډولئ ته ننباسی۔ دغه مکالمه دا رنگ شروع کیږی۔

ډولئ راغله پیر مامی کوڅه کښے کینوه
سوه جینئ دننه لاړه په تلوار
جینی او وے درخانئ بی بی مهرمنے
ستا کوڅے له ډولئ راغله څه اسرار

د درخانئ لونځئ وسې ګوليې
پير مامي په ورکښې اودريد تاتلار
پير مامي وې درخانئ زر اوچتيره
لښکر راغې تول پير مسې شو په دار
درخانئ وې کاکاجي څه غم در پيښ شو
زر شه وايه ما خبر کړه له دې کار
پير مامي وې پاپاوې ډېر زورور دې
ما را نه بيانئ څه ورځه شوسه لاچار
درخانئ وې پير مامي ته وا کړ دخپل دې
ما ور نه کړې لاس نيولې زار زار
ښتانه په لوظ ولاړ په ننګ نيولی
د سپکاوی خبره نه وانئ په جار
پير مامي وې درخانئ ښځې وانې
پاپاوې دې زساډير پې حد ښکار

په کوم وخت کښې چه خواره درخانه په زور د ډولئ په لور بوتللې کيږي برهان د دغه وخت منظر داسې راښکلې دې۔

درخانئ به د ارسان ژړا کوله
په پرديس کښې آدم خان شو ترې کنار
د درخو په سخ سيلاب د اوښکو راغې
په ګريوان ئې څڅيدو، زړه ئې بيمار
درخانئ بوه ښره له خولې نه وښکه
د پيرمامي په قام د وی د کور ازار
برهان وائي داسې ننګ سړې به سپک وی
تر قيامته به پادېږي دا ګفتار

د برهان شاعر دې سکلي او خوندناک انر په دوئيم پړک کښې د هغه واقعاتو ذکر دې چه د دې له پسه په آدم خان سربدل۔ او د مېړولي ګجر خان په خپل پلار پسې لټون، او د ګجر خان د لاسه د هغه د ږه پلار پير مانی د سرکيدو حال مذکور دې۔ او په آخر کښې ئې دا شعر ليک دې۔

برهان وائي ګجر خان پښتو پوره کړه
د آدم په قصه کښې وه ليکلې

میجر راورتی ( Maj H.G. Roverty ) په خپل کتاب پښتو ګرامر کښې د درې دریشمې (۳۳) صفحې په حاشیه د فخرالدین صاحبزاده د نثر د نسخې ذکر هم کړې دې - هغه وائي چه دا کتاب د کال ۱۷۰۰ عیسوی په خوا و شا کښې لیکلې شوې دې او په خپل دغه کتاب کښې ئې ترې ځائې په ځائې مثالونه ورکړی دی، لکه د مثال په طور مونږ هم د دغو نه یو څو مثالونه ورکوؤ -

"په دا دیدن آدم خان ځان او ناته، ناموس او ننګ له خاطره او واته" - په بل ځائې کښې وائي چه "درخانۍ ور روانه شوه لاس ګرفته ئې راوست، پس درخانۍ اول په پالنګ اوخته او آدم خان ورستې" - او یا دا چه "یو سردار د یوسفزو په دولت کښې طهمورث ؤ - په اسم طاؤس خان نوماندی وو - د ده یوه لور وه درخانۍ نوماندګی وه، او د حسن سیال ئې نه وو" -

بناغلې رازمحمد ویښ د پښتو ټولنې په مطبوعه کتاب "پښتو کتابونو" کښې لیکلي دی چه "د دې کتاب یو بله نسخه په نظم کښې د اکبر شاه پېښوری په ذریعه لیکلې شوې ده او په کال ۱۸۸۳ عیسوی کښې په دهلی کښې چاپ شوې ده" - هم دا رنګ یوه بله نسخه چه د اشنغر د مولوی احمد له خوا د مثنوی په رنګ کښې ویلې شوې ده - او په کال ۱۸۸۲ عیسوی کښې په پېښور کښې چاپ شوې ده -

پروفیسر ډورن ( Professor Dorn ) په خپل کتاب ( Chrestomethy ) (د پېرنو، ژبو د کتابونو فهرست) کښې لیکلي دی چه خوشحال خان خټک هم د درخانۍ او آدم خان د داستان کتاب تالیف کړې دې، خو دا خبره محض هغه په اوریدو پورې ده، نور څه سند یا ثبوت نه لري - حقیقت دا دې، چه څه رنګ چه صدر خان د خپل کتاب په دیباچه کښې د دې خبرې پوره پوره وضاحت کړې دې، او د خان هغه خواهش طرف ته ئې هم اشاره کړې ده چه پکښې هغوی په خپله د دې داستان د لیکلو خواهش ظاهر کړې وو - که چرې ژوند د خان سره وفا کړې وې او د دزمانې د حوادثو نه چرته په ډډه ئې تګاؤ موندې وې، نو ممکنه ده چه د پروفیسر ډورن دا خبره نن صحیح وې نو د خوشحال خان بابا د لاس تالیف شوې نسبتاً زیاته مستنده نسخه به نن د پښتو ادبیاتو په پنګه کښې شمار وه -

د سید بو علی شاه تالیف کړې د آدم خان درخانۍ مثنوی چه دا وخت په بازار کښې عام موندې کیږی، هغه په کال ۱۳۱۲ هجری د شوال د میاشتې په پنځلسم تاریخ د نن نه ۶۶ کاله اګاهو، سرته رسولې ده - هغه د خپل کتاب د لیک د شروع کولو ورځ په دې الفاظو کښې ښائی -

ناگهانه په چونړۍ کښې. شور غوغا شوه
ما وے دا غوغا له کومه را پیدا شوه
هر چا وے غمرا خان هسے لښکر دے
ده پریکړے په چترال د انگـــریز سر دے
راغلم کورته سرمے ښکته کړو کریوان ته
زان مے جوړ کړو د آدم درخو بیان ته

هغه د خپل کتاب په ورستی حصه کښې د خپل کور کلي بیان داسے کړے دے۔

بم په ذات عالي نسب ـــه عمل پلـے
دواوه کښې دے زما ســوتمـاره کلـے
پیښور زما وطن زه پـکـښـے اوســم
دے ډیر شکر په مزو چرچو کښې خوزم
اجازت د چاپ مے ورکړو سیدان شاه ته
چه صبا نه کړي گله بو علي شاه تـه

مسعود د عبدالله زوے چه په ''پښتانهٔ شعراء،، کښې ئې د ژوند زمانه د زرمے صدی هجرۍ د وروستو بیان شوے ده، هم په خپلو آثارو کښې اد آدم درخو یوقصیده پریښودے ده۔ ویلے شی چه هغه دا قصیده چه په کوم حقیقي او وقعي رنګ کښې په پښتنو کښې مروجه وه لیکلے ده۔ بناغلے حبیبي لیکي چه ''مسعود لکه د نورو شاعرانو په دے قصه کښې د ځان نه نور شان نه دی گډ کړي او لکه چه دغه قیصه مشهوره ده هغسے ئې کټ مټ کښلے ده او ځائے په ځائے ئې د خپلے طبعے عروضي اشعار هکښې زیات کړي دی۔ هغه د آدم خان په مرثیه کښې دا اشعار ویلي دی۔

سل ارسانه چه آدم ولاړ لـــه جـهـــانه
له فراقه ئې پښتونخوا شوله گریانه
مزکے خاورے په سر او لوستے له سوخته
دا سپیره لوخړه ولاړه تـــر اســمـــانـــه
باد تـــر اوســه لا ساړه آهــونــه کاږي
مضطرب پـــه جـهــان گرزي سرگردانه
د آدم پـــه زړهٔ درخــو ورپـــســـے و مــړه
ما شهیــد لـــه خپلے مینے کړے سبحـــانـــه

(پښتانه' شعراء) ۔

ACKU

حبیبی صاحب لیکی چه د مسعود تولو عاشقانو سره عموماً او آدم خان درخانئ سره خصوصاً ډیره همدردی ښکاره کړے ده او د ارمان ډکے بدلے ئے ویلی دی۔ عمه د درخانئ حال د آدم خان په سینه کښے په دے شان سره پیش کوی۔

چه سینه ئے د آدم په اور کباب شوه
د حجاب میرمن درخانئ بے حجاب شوه

د شبقدر په خیر پټه وه لـه خلقو — و عالم ته ښکاره لکه آفتاب شوه
ننګ ناموس عقل تمیز ورسخه لاړشو — مسئله ئے درسته هیره د کتاب شوه
چه آدم د رباب شور ور باند تاؤ کړو — اوچے شونړے په نغمه لکه رباب شوه
د آدم شرابو هسے مستی او کړه — خلقه ئے و نظر و ته سراب شوه
هسے تاو د عاشقئ ور ښکاره شو — لکه مار په ملا ؤهلے پیچ و تابشوه
کوه قاف غوندے ساکنه وه قراره — د فلک په شان دائم په اضطراب شوه

هوسره وبر په دے درخانے باندے راغے
چه د زړه خو نه ئے ډوبه پـه سیلاب شوه

دا پورتنی اشعار حبیبی صاحب د مسعود د آدم درخانئ د قلمی نسخے نه نقل کړی دی۔

### د آدم خان او درخو شاعرانه حیثیت۔

که دا خبره یو منلے شوے حقیقت وی چه نعرے یا غړو نه د پښتو د ملی افسانو یو جزو دے نو بیا دا نکته نوره هم زیاته وزنداره کیږی، چه دغه نعرے هم دغه کسانو ذهنی تخلیقات دی چا چه یوے خاصے واقعے ته افسانوی رنګ بخښلے وی۔ دا افسانے یا قیصے په خپل مخصوص حالت او رنګ کښے د یو نه بل، او د بل نه بل ته را رسی۔ او لکه د لنډئ یا ټپے ئے، عموماً د اصل ویونکی په حقله معلومات ناپید وی۔ حبیبی صاحب د دے نعرو د برکته د پښتو او پښتو نخوا د افسانو تول نومیالی غړی د پښتو ژبے د شاعرانو په فهرست کښے راوستلی دی۔

دا خبره تر یو حده تعجب خیزه غوندے ښکاری، ځکه چه فتح خان، رابیا، اسلم خان د فتح خان پلار، د فتح خان مور، کرے او پردل د رابیا ورور۔ ښادی خان او بیبو د ښادی خان معشوقه۔ ظریف خان او سابئ د ظریف خان معشوقه۔ مومن خان او شیرینو۔ موسی خان، ګل مکئ ولی جان د موسی خان دوست، میرولی خان د ولی جان زوئے، تانو د ولی جان خور او نور هغه کسان د سیلے شاعران وو، چه قیصو مارو او داستان ګویو ئے د بوسونو سره په دغه داستانونو کښے په تمثیلی انداز کښے نعرے منسوبے کړی دی۔ خو په دے کښے زیاته د حیرانتیا خبره دا ده چه دے شاعرانو صاحبانو بوازے په نعرو یا غړونو کښے

ACKU

شاعري کېږي ده او که په هل صنف کښې ئې هم د کلام څه نمونې موندلې شي، د دې خبرې مثال خو دا دې شو، لکه چه يو سړے د وليم شيکسپير د ډرامو هر يو غړے په انفرادي طور شاعر اوګڼړي او د هغه ذات د حرف د دغو شاعرانو د مکالمو د راټولونکي تر حده محدود ګڼړي - پکار خو دا دي چه دا خوږې نمرې او غږونه د هغه نامعلومه شاعرانو د نيک نامۍ يادګارئي، چا چه په دے ذريعه د ملي داستانونو دغه "زلمو،، ته دائمي ژوند وربخښلے دے - د دغه نامعلومه شاعرانو په باب کښې مونږ ته به دے خبره هيڅ ثلاً ستر کې پټول نه دي پکار چه -

شته دے هسې ملغرے په درياب ښکے
چه بانيست ئې سمندر کښې شو تالا
زيږ ګلونه عنبر بويه په ځنګل کښې
خوشبوئي ئې شوه برباده په بيديا

(د تهامس ګرے ( T. Gray ) ديونظم ترجمه) -

بناني چه دا د درياب ملغرے او د بيديا زيږګلونه د پښتو ژبې د ادب د پنګے په دولت او د شاعري د باغ په ګلونو کښې حساب کېږي شي - او چا چه‌د دغه بنکليو او ننګيالو نومونو ته دائمي شهرت او ژوند ور کړے دے هغه نومونه د دغه بے نومو کسانو د فنا باعث او سبب نه شي -

دلته د مثال په طور هغه يو څو نمرې پيش کولې شي چه هغه د صدر خان د مثنوي نه اخيستې شوي او په پښتانه شعراء کښې په آدم درخو پورې د هغوئي د ذاتي کلام په حيثيت تړلې شوي دي - دغه نمرو په دے افسانه کښې عمومي شهرت موندلے دے

الف
په کمې کښې د خور شه ائے زما د دادا ميرے
صبا نه وو تا صبا کړو يار بے تا او ويست له غيرے

ب
آدم خانه ميته خانه د يوسف د مندنے خانه
زړه د دک په در ګوهرړے زه په مثل در افشانه
زه په مثل بو صورت يم
ته زما د صورت خانه

ج
خانه ته لا خبر نه ئے په ژړا بے ستر کې سرے کېږے
پاسه دروسه روانيږه چرګوخائے په خائے نعرے کېږے

---

(۱) په نعره کښې په دا بے انداز کښې راغي    پاسه دروسه روانيږه
د سحرچرګانو خائے په خائے نعرے کېږے

د صدر خان په مثنوی کښې د دے نعرے اصل صورت داسے دے۔

خانه دا چه ہے له تاسره کیسے کړے
دا ہے واړه غیرے مینے اندیښنے کړے
روغ عالم را خبر نه دی!
یارے ما په ژړا دواړه سترګے سرے کړے
ولے به نه ژاړم آدم خانه
د سحر چرګانو خاٸے په خاٸے نعرے کړے(۱)

په دے نعرو کښے څنے داسے دی چه لهجه او طرز ئے د سهیلی پښتو تخوا ښکاره رنګ راوړی۔ هر کله چه هغوئی یوسف زی وو نو پکار وه چه د هغوی وینا او لغات هم د یوسفزئی پښتو وے۔ ولے څه رنګ چه موږ وینو، په دغه نعرو کښے څنے خو به د یوسفزو په ژبه هلو په ګرانه اوړی، لکه په مثال کښے دا چه۔

| | |
|---|---|
| نه روغه یم نه لیونیه | پهآدم پسےبه اوسره تر ګریوه |
| له کوره روغه رسئ راغلم | د آدم غشے' ہے بوړو په پښته |

او یا دا چه۔

| | |
|---|---|
| په دا نیم پالنګ یم ناسته | دغه نیم پالنګ ہے تاوته پریښے |
| هم چه ته' زلمے رانغلے آدمخانه | د اور بل وینته ہےژاړی کوینے کوینے |

**د دے رومان نعرے یا غږونه۔** پښتو داستانونه چه څه وخت پښتانه' قیصه کوونکی په افسانوی نثر کښے په حجرو دیرو یا کورونو کښے تیروی نو مینځ' تر مینځه پکښے د وجد، خوند او موسیقیت د اضافے د خاطره په اوچت آواز نعرے یا غږونه پورته کوی۔ په څنو علاقو کښے دغه نعرے د رباب یا ستار د سازونو سره پورته کولے شی۔ دا غږونه یا نعرے د ښاغلی عبدالرؤف بینوا په الفاظو کښے "د ملی (۲) اشعارو څنے هغه شعرونه دی چه په ملی افسانو کښے راوړه کیږی۔ دا شعرونه عموماً د بیت په دول وی۔ مګر دبیت نه اوږده وی۔ د هرے افسانے د نارو سیلابونه بیل بیل دی۔ څنے ډیر او څنے لږ دی، کوم تاکلے سیلاب نه لری۔ خو دومره دی چه د هرے افسانے د نارو سیلابونه

(۱) د ګرامونون په یو ریکارډ کښے د مکالمے بوه کړئ دا ده درخو وائی۔
آدم خانه لیونیه دا د څه کار کړو
تابه سر ګری قسم دے که پاباوےچاخبردار کړو

په حسن سینګار کښې بوشي دي او هیڅ فرق سره نه لري. دا نارې عربي اشعارو پرې خبر په کوم بحر مقیدې نه دي، بلکه د اروپائي ازادو شعرو په شان ویلې شوي دي،، .

د آدم خان درخانۍ په دې ملي افسانه کښې هم داسې ګڼړې نعرې ځائې په ځائې ویلې شوي دي. او داسې ښکاري چه هره نعره لکه د زړه د کوسي نه را پورته شوي وي، او د هغه جذباتو ترجماني کوي چه د دوؤ مینتو پا که او سپیځلې مینه یو تر بله بیرزو کوي. په هغه نعرو کښې کوښې چه په آدم خان او درخانۍ پورې ځان ځان له منسوبې لیکې شوي دي او دا نعرې د پښتو ادبیاتو په ځنې کتابونو کښې را جمع کړې شوي دي او دلته هم په هغه جوړ نقل دي.

په یو ځائې کښې د ننګ غیرت او زلمیتوب مجسمه آدم خان د درخانۍ نه د حیلې مینې او عشق د رنځ دارو طلب کوي او ورته وائي.

درخانۍ میرمن سلوکې !
چه په درست جهان د لاړې د حسن ګوکې
آدم خان ستا کتو رنځور کړو
که ور کوړې کړې د دوارو زلفو سوکې.

څه وخت چه په یو جنګ کښې د دشمن مقابلې ته ورځي نو دا نعرې د خولې نه خیږي.

که بیره ده حو د باز څوګه تیره ده
د دښمن په لور کړه ده،
زما به دا سوبه روزي شي
زما به رنګي تینګه اندیښنه ده.

آدم خان د خپل قام سیته خیل د زلمو په حقله یو غور کړې دې، او هغوئي ته دا رنګ ستائیلي دي.

نه سیته خیل زلمي د سپلمې شاعران دي
دوئي د سپلمې قاتلان دي
سیه خیل زلمي د پورې بنر طوطیان دي
زه به رږو به لرمه ښکته چه یې واړه نوکران دي.

په یو ځائې کښې آدم خان په درخو باندې داسې نعره کړې ده.

که سرونه سرونه، نه دے هسے ځمهسرونه، درخو ورک د شه کبرونه
ستا نظر کوره په چا دے، خبر نه یم،
درخو ولے په دعوے تہے ترہرونه (۱)

آدم خان د درخو په عشق کښے خپله بدنصیبی او عاجزی بیانی په یو ځائے کښے نے د عشق او مینے په حقله داسے ناره د خولے نه خیژی۔

شه د بدو آدم خان دیے — د آدم شه د بدو ځان دے
چه ستا یو نظر پرے نه شو — په دا ځان بورے حیران دے
د سرو نتو پر هار شه دے — چه د زړونو سره جنګ کښتا پیزوان دے

آدم خان درخو ته د خپل مینن زړه د کوبی نه داسے دعا را پور ته کوی۔

که ګلے ګلے، درخو ګلے — ته په وجود د طاؤس خان د بنرېلبلے
سه د سات شه سرونه دونه — سه د وچے شه ځنګلے

په خپل اس باندے په یو میدان کښے داسے غږ کوی۔

اے بجلونه اوس د تینګ ترم تانګونه
چه زما خوراک همیش غم وو، ستا خوراک وو شوده پنی په لذتونه
ما اغوستے زنګی زغره، او په تا باندے پراته بر کستانونه
د میرمن په زړلو جنګ دے د غلیم په لیمه پاس پده قلمونه

---

د نباغلی عبدالروف بینوا د کړی تعریف دا حصه چه "د هرے انسانے د نارو سیلابونه" په خپل سیزغ کښے یو شے دی او هیڅ فرق سره نه لری،، په ځائے نه بنکاری۔ لکه د مثال په دود په دے دریو نمرو کښے د سیلابونو فرق ته او ګوری۔

در، خا، نی، میر، من، م، لو، کے، (۸ سیلابه)
چه، په، درست، ج، هان، د، لا، پے، د، ح، سن، کو، کے (۱۳ سیلابه)
آ، دم، خان، ستا، ک، تو، رن، خور، کړو (۹ سیلابه)
که، ور، کو، زے، کړے، د، دوا، رو، زل، فو، سو، کے (۱۲ سیلابه)

(۲) که، سرو، نه، سرو، نه، له، دے، هه، سے، غ، مه، سرو، نه (۱۳ سیلابه)
در، خو، ورک، د، شه، کب، رو، نه، (۸ سیلابه)
ستا، ن، ظر، کو، ره، په، چا، دے، خ، بر، نه، یم (۱۲ سیلابه)
در، خو، و، لے، په، دع، وه، ت، پے تر، بو، نه (۱۲ سیلابه)

(۳) ورا، نه، خل، قه، دیو، ے، ری، و، ه، لے، نه، یمه (۱۲ سیلابه)
چه، د، چا، خ، ب، ره، نا، ورم، ک، نړه، نه، یم (۱۲ سیلابه)
آ، دم، خان، کوچ، او، کړو، له، ما، نه، لاړ، شو (۱۱ سیلابه)
په، آ، دم، په، ے، په، تور، لے، مه، رن، دو، یمه (۱۲ سیلابه)

څه وخت چه درخو د آدم خان دیدن له راځي په دغه وخت پرے آدم خان داسے غږ کوی۔

راغله را روانه، خدایه مه ئے کړے ستومانه
ربه مه ئے کړے ستومانه
چه اغوستے ئے جوړه ده لښته
د لونګو بوئی ئے دروسی له ګریوانه

په میدان کښے به لاس راکه، درخانئی د طاؤس لور ده پهلوانه
هغه د درخو میرمنے د ښائیست په باب کښے په یوه نعره کښے خپله محبوبا د دنیا د هر ښکلی نه ښکلے ګڼړی۔

لویه خدایه اور را بانده لګی، لکه عین د ځنګله په او چه درګے

که په جهان ښائسته ډیر دی څه ئے څه کړم، د درخو په شان به نه وی تورےسترګے
او یو ځائے کښے د درخو په عشق کښے خپله پریشانی او ناقرارتیا داسے څرګند وی۔

د آدم صورت خو ویش دے، دے په هره پلا پیښ دے
دے عاشق د ښکلی مخ دے نه د چا دوست نه د چا خویښ دے

درخانئی هم په آدم خان ستی وه د هغه د نوم نه ځاریده د هغے د ښاکے او سپیځلے مینے تلوسو تر دے حده شهرت حاصل کړے دے چه په دے داستان کښے د هغے د نوم سره هم ګڼړے نعرے منسوبے دی۔ او لکه د آدم خان، هغے هم په دے قیصه کښے ځائے په ځائے ډیر خوندناک غږونه کړی دی لکه څه وخت چه په هغے د آدم خان د مرګ نه پس د هغه مینه داسے غالبه شی چه درخانئی میرمن په کټ پرے پاسی او خلق ئے د دارو درملو بندوبست شروع کړی، نو هغه په خپل تبر بانده داسے نعره کوی۔

ورانه خلقه دیو پیری وهلے نه یمه، چه د چا خبره نه اورم، ګڼړه نه یمه
آدم خان کوچ او کړو له مانه، لاړ شو، په آدم پسے په تورلیمه ړنده یمه

بیا د خپلے مینے اظهار او وضاحت ئے په داسے جوړ کړے دے۔

نه روغه یم نه لیونیه په آدم پسے به اوسرم تر کړیه
نه کوره روغه رمتی راغلم د آدم غشے یے یوړو په پښتیه

آدم خان یو ځل په بلنه د درخو کره تلے وو، په درخو بانده دا بے شانه د خوشحالئی وخت وو، په دے حالت کښے ئے د خان سره داسے او وے۔

تن شاهی آدم زما کرمهمان دے
د ده خدمت زما په ځان دے

ACKU

آدم خان بے سرور شو را نه دروی
سینه خوله ئے میلمستیا ځائے (۱) ئے دالان دے

د آدم خان په طمع درخو یو ځل په انتظار کښے ناسته وه۔ آدم خان تر ډیره وخته را او نه رسیدو نو درخو د ځان سره داسے او ویل -

په دا نیم پالنګ یم ناسته دغه نیم پالنګ ے تاوته پریښے
هم چه ته زلمے رانغلے، آدم خانه !
د اور بل ویښته ے ژاړی ګوښی ګوښی .

په یو ځائے کښے په آدم خان خپله مینه داسے ظاهر وی -

آدم خانه میټه خپله ! د یوسف د مندنی خانه
زړه د ډک په در ګوهر دے په خبرو در افشانه
زه په مثل یو صورت یم ته زما د صورت ځانه

آدم خان د درخانئی سره یو ځائے شوے دے۔ د مینے او راز په دغه مشغولا کښے نوله شپه لکه د باد هسے تیره شوه۔ چه سحر نزدے شو، نو ګډو نعرے شروع کړے - د درخو زړه درګړی لاړشو او د ارمان زیلی زړه نه ئے دا اواز را پورته شو۔

په کوبی کښے د خوږ شه اے زما د بابا میرے
سبا نه وو نا سبا کړو دا شاهی آدم سے اوویست تاله غیرے

او د خپل ګران آدم خان نه په جدا کیدو د فراق او جدائی د غم نه ډکه دا نعره بورته کړے ده۔

خانه دا چه ے له ناسره قیصے کړے، دا ے واړه غیرے مینے اندیښنے کړے
روغ عالم را خبر نه دے، بارے ما په ژړا دواړه سترګے سرے کړے
ولے به نه ژاړم آدم خانه! د سهار چرګانو ځائے په ځائے نعرے کړے

پښتانه شعراء او آدم درخانئی۔ | شاعر د قام ژبه او ترجمان وی، هغه د هغوئی د جذباتو روند نه، لارے ګودرے جوړوی، او په خپله وینا کښے داسے انداز اختیاروی چه هغه د هر یو خاص و عام د پاره د توجه باعث کیږی۔ د آدم درخانئی سره هم د پښتنو د هر وګړی د جذباتی تړون او مینے په بنا، پښتنو شاعرانو هم په خپل خپل رنګ کښے د خپل قام دے دواړو نیازولو عاشقانو ته د عقیدت نذرانے وړاندے کړی دی۔ او

---

(۱) "سینه خوله ئے میلمستیا زړه ئے دالان دے،، درخو د مینے په میلمستیا کښے شاند چه هغے د "ځائے،، په ځائے د "زړه،، پیش کش کړے وی۔

د دوئي د پاکےاو سپیځلے مینے ستائینه ئے د خپل خپل استطاعت مطابق کړے ده موږ دلته د هغه ګنړو وبناګانو نه یو څو په طور د مثال راوړو ـ خوشحال خان وائی ـ

درخو خود په آدم خان باندے شیدا وه
تر دا مینځ د میروکی ژبه بـــــلا وه
چه په مینځ کښے دلال نه وی وصال نه وی
په مجنون باندے مینـــــه کـه لیلے وه

د خان یوه بله رباعی ده ـ

درخو هوښیاره وه خان ئے نادان کـــړو
نوم ئے بداصل (۱) د آدم خـــان کـــړو
تل ئے د مور او د پلار پیغـــــور تـاړه
په زړه میننـه وه کار ئے دا شـــان کړو

عبدالرحمان بابا د درخو د مینے مثال داسے ورکوی ـ

درخانئی به سل غمونو خـــدائے اخته کړه
زۀ به ولے د تا زار ګوم ګـــه ګـــورے

ملا احمد وائی ـ

ته ئے درخو، زه آدم خـــــان یمـــه !
لکه رباب، په ویر د خـــــان یمـــه !
لکـه رباب د خـــــان په ویـر یمـــه
بند ستا د زلفـو پـه زنځـیـر یمـــــه
بنـد ستـا د زلفــو پـه اوم تـار یـــم
لکـه پتنګ سـوے پـه نــار یمـــه

د ملا احمد د بوے بلے چار بیے بند دے ـ

آدم خان خان په درخانئی پسے ملنګ که نا
خان ئے ستی په سرو لمبو لکه پتنګ که نا

مګر اخون ئے داسے یادګیرنه کوی ـ

وارونه دی راغلی په تا باندے د ځوانئی،
یام نـه کـیـږے پـه عـاشـقو

---

(۱) رسوا، بدنام ـ

پیدا به چرته نه شی اشنای د درخـــــانـــئی
آدم پـــه زړهٔ صـــــادق وو

د گرامونون ریکارډ د یوے مکالمے کړئی ده ـ

آدم خان لیونیه، دا د خـــه در لـــړو
تا په مړ کاندی قسم دے، که پایاؤ چا خبردار کړو

د محمد دین د لوښار د یوے مشهورے چار بیتے دا مطلع ده ـ

څوک به پیدا نه شی د آدم د درخانئی پـــه شان
یوخائے نه څوک نهشی دوترماد د شیرینئی به شان

د یو نامعلوم شاعر د نیمکئی دا حصه او ټوزلی ـ
په سازیگر دے بتیـــرے ٠ نه کا !

نهٔ به د نماز بتیرے کوے او به رنگینه ساژیگر دے
چه آدم خان د درخانئی دیدن ته ځینه سازیگر دے
زبړ سازیکر دے زبره ژه ولاړیمـــــــه سازیگر دے

دا او دغه شان نور بے شماره ښکلی او خوندنا که مثالونه په دے ویره او خوره وره پښتو نخوا کښے خوارهٔ دی، چه هره دربته او تکے ئے د زړهٔ د اخلاصه دے صادقانو عاشقانو ته به هر هر قدم د مینے شربک، او پیرزو ئے نذرانے وړاندے کوی ـ او دا سلسله به هم دغه شان روانه وی ـ

**په پښتو ادب کښې د آدم او درخو حیثیت۔** د دنیا ځنې نوموړو او مشهورو کردارونو د خپل افسانوی شخصیتونو نه علاوه خپل نوموړنه د خپلې سپځلې او پاکې مینې د تبله د خلقو په ژبه داسې خیژولي دي چه د هغوئ ذات د یو مینې د واقعې د کردار په ځائې د مینې عشق او حسن د نمائینده په حیثیت یادیږي۔ لکه مجنون، لیلې ، فرهاد شیرین یا داسې نور۔ شاعر چه څه وخت خپله مینه او د خپلې محبوبا ښائست. په عشق کښې د خپل لیونتوب ذکر او یا د خپلې محبوبا په وصال پسې د کړون او د لټون د تکلیفونو پټې را سپړی نو دا نوموړنه عموماً مخې ته راولي۔ په پښتو ادبیاتو کښې د لیلې، مجنون او فرهاد شیرین په شان آدم خان او درخانۍ هم د ماضي او حال شاعرانو د مینې او حسن د نمائینده ګانو په حیثیت ځائې په ځائې ذکر کړی دی۔ او د خپل عشق په بیان کښې ئې د هغوی د ژوند څه خاصه واقعه په اصل یا د مبالغې په رنګ کښې را میدان ته کړې ده۔ د بې شماره پښتو تپو او چار بیتونه علاوه خوشحال خان خټک، عبدالرحمان بابا، اشرف خان هجري، حافظ الپوری، علي خان او په اوسنو شاعرانو کښې سمندر بدرشوی، صاحبزاده ادریس، او اجمل خټک او داسې نورو ئې وخت په وخت او ځائې په ځائې ذکر کړے دے۔

د هغه ګڼړو تپو نه چه په خوره وره پښتو نخوا کښې د نر ښځې، زوړ ځوان پېغلې زلمي، شپونکي، غوبه۔ نائک، دهقان۔ تعلیمیافته او بې تعلیمه په ژبه وی۔ یو څو د مثال په دود دلته راوړلې کیږی۔ یوه معشوقه خپل عاشق ته د مینې دعوت او بلنه ورکوی۔ او ورته وائي چه۔

جانانه راشه آدم خان شه د درخانۍ مینه په مااو کړمینه

دا معشوقه د خپل محبوب نه هم په هغه جوړ د زړه د اخلاصه مینه او پېرزوئینه غواړی لکه آدم خان چه د درخو د پاره لرله۔

آدم خان ذ درخانۍ د دیدن په نیت څو څو ځله په داسې حالاتو کښې تلې دے

ACKU

چه هر وخت به ئې د سر بائیلو خطره په سر اخستله په یوه موقعه چه د درخو د کور د دروازے څوکیدار پرے خبر شو نو تر مینځه ئې څه تکرار او معارضه هم شوے وه خو په څه جوړ ئې د څوکیدار خوله بنده کړه۔ د دے واقعے بیان په یوه لنډۍ کښے داسے راغلے دے۔

د دروازګۍ سرپسه څوک ئې زه آدم خان د دژخانۍ سلام له زمه

د آدم خان د ارمانی ژوند په غم غلطونکو ملګرو کښے د هغه رباب هغه ته ډیر نزدے وو د ابتدا راسے پرے هغه د مینے او سوز نه ډکے سندرے وئیلے او چه مینه ئې زیګیدله نو په هغه وخت ئې هم د خپل رباب په تارونو ګوتے پرتے وے او درخو چه لا د مینے او عشق دسوی لوی ژوند نه خبر نه وه، نو د ناز خندا ئې د دردمنو زړونو تکور وه۔ اوس هم چه د چا نازکه خندا د اودریدونکی په زړهٔ خوږه اولګی او یا چرته یو خوږه نغمه ئې په غوږو راشی نو هغه لرغنے احساس چه یاد ئې لا تر اوسه ژوندے دے په دے ستائینه خپل خان ته راوړندے کړی۔

یا آدم درباب شرنګ دے
یا د ویرے درخود ناز خندا راځینه

شاعر که د خپلے معشوقے د حسن صفت او که د یوے شهزادګۍ د ښائست بیان تیروی نو د شیرینۍ، محبوبا، لیلے، ګل اندامے، پدم او درخانۍ د حسن او جمال په رنړا کښے د هغوی د صفت لړۍ سازوی لکه چه وائی۔

شهزادګۍ په هغه باغ کښے کاوو دور
شهزاده د را وستو ئې کوؤ غور
درخانۍ وه که پدم وه که پواړه
په ښائست ترے کمے وے دغه درے واړه
که لیلے وه که محبوبه که شیرینه
شهزادګۍ وه په دے واړو بهترینه
که پدم به یا دیده که ګل اندامه
په ښائست کښے کمے وے د دے ګلفامه

د مینے د سودا سر کولو د پاره د ربار او دلال تګ را تګ د دواړو مینانو تر مینځه د خبرو وړلو راوړلو د پاره ډیر ضروری وی۔ ځکه چه د هغوی وصال د خلقو د ګوتے نیوؤ د خاطره ډیر ګران وی۔ خوشحال بابا د دوؤ مئینو تر مینځه د غرضی د لال ضرورت ډیر اهم ګنړی او د وصال رو ګودر هډو د هغه له مخه حسابوی۔ او د آدم خان او درخو په معاشقه کښے د میرو غونډے غرضی دلال مثال ورکوی۔ میرو د آدم خان

ACKU

د چوتې يار وو ـ او په هره سخته زحمته کښې د هغه ملګرے وو ـ او د دے دواړو مينو د داستان د سر نه تر اخره پورے نے د دوئ د وصال د پاره لاس و پښے وهلی دی ـ خان د ليلے او مجنون د وصال نه محرومی هم په دے سبب ګڼړی د ميرو د دے وفادارئ او اخلاص په رنړا کښے خوشحال خان وائي چه ـ

درخو شود په آدم خان باندے شيدا ››

تــر دا مينځ د ميراوکی ژبــه بــلاوه

چه په مينځ کښے دلال نه وی وصال نه وی

پــه مجنون باندے مئينه کـــه ليلے وه

دغه مثال په دے مصرع کښے هم بيان شوے دے ـ

چه باری کړے ربيار پرے نهـــه ما ے ربياره ياری کړله غرقه شومه

د اشنائيئی او دوستئ په لار کښے دا ضروری ده چه دواړه اشنايان دے د بو بل د لحاظ او مينځ ساتنه‌داروی ـ او داسے موقع دے نه پيښه وی چه د يو نه بل ته څه ازار يا تکليف او رسی ـ عبدالرحمان بابا خپل اشنا ته داسے خطاب کوی او وائی ـ

دا کوم رنګ د اشنائی او د ورورګی دے

چه زه ستا د مخ ننـــا کړم تـــه مے زورے

درخانئ په ســل غمونـو خدائے اخته کړه

زه به ولے لـــه تـا زار کـوم کـــه کسورے

هغه د خپلے مينے روداد او قيصے ته دومره زيات اهميت ورکوی او خپله مينه دومره سپيڅلے، ژوره، د غمونو جدايو او تکليفونو نه ډکه ګڼړی چه خپل اشنا ته وائي چه که چرے زما او ستا د تعلق زما نه هم هغه وے به کومه کښے چه ليلے او مجنون يا آدم او درخانئ تير شوي دی نو د هغوئ نومونه به اوس چا هډو نه څه شمير کښے نه راوستل او آدم خان او درخانئ خو به زما او ستا ندارے نه ګنه به خوله حيران ولاړ وو ـ او هر چا به زمونږ دواړو د مينے داستان بيانول ـ

زه او تا نه هغه وخت وے چا به نه کړے

د مجنـون او د ليلے ــــــــ قيصه خوانئ

زما ستا و ندارے نـه به حيـــــران وو

کـه ژونـدی وے آدم خـان او درخـــانئ

د ناکامیابه مینے انجام دردناک او د افسوس سره ووړ دا حال د مرګ نه هم لا بتر او ګران وی ځکه چه مرګ خو یو ځل سړی ته راشی او خبره ئے غوسه کړی ولے د بیلتون مرګ د سړی د ژوند ملګرے وی ـ او لکه چه وائی ـ

زما د عمره سره سمه   د آشنا غمه په خندا د تیرونه

دغه نول او رنځ ئے زړ رو وینه اوڅوی او د بیلتانه او فراق هره نوے چه ورله د زنکدن پیغام راوړی ـ حافظ الپوری د آدم خان درخانئی د مینے په داستان کښے د هر عاشق د ژوند حال لیدلے دے او په ډیر دردناک انداز کښے ئے د دے خبرے اظهار کړے دے ـ وائی ـ

مرګ خو یو ځل په سړی تیر شی بیلتون مرګ دے مدام
د دوؤ مینو ګور ته هم ګوزیدهٔ ولے نه شی
دبیلتانهٔ په ناتار زیړے درخو روح تسلیم کړو
بے له آدمه ئے یو دم پائیده ولے نه شی

اشرف خان هجری هم د رحمان بابا نه د عشق په دے بیان کښے وروستو نهٔ دے پاتے، هغه خو هډو د عشق په بازئی کښے وامق مجنون او آدم خان شا ته غورزولی دی ـ او د دغه دریواړو نه هم زیات د خپل سود او زیان نه بے پروا ښکاری ـ

ما وے زهٔ د عشق په سیند کښے هسے ډوب یم
چه تمیز د نفعے او کرمه لــــه زیانه
نن مے ګوئی د عشق له واړو ربنوده کړو
تر وامق و تر مجنون تر آدم خانه

هغه د آدم خان په وفا اعتراض هم کوی او وائی چه که آدم خان دومره پیاوړے او وفادار عاشق وو، نو ولے ئے د درخانئی نه اول د مرګ به سیمه لاره اونیوهٔ ـ

آدم خان که د وفا په روښی جوړ وو !
اول ولے تهٔ ارم ته تر درخانه

خو هجری د دے خبرے د حقیقت نه هیڅ کله هم انکار نه کوی هغه خو وائی چه په پښتو نخوا (روه) کښے په حسن او وفا پوره له هر چا بره دوه میرمنے تیرے شوی دی چه یوه پکښے د بنادی خان معشوقه بیبو وه ـ او بله د آدم خان محبوبا درخو وه ـ د مینے او عشق په میدان کښے د زیان او ګټون په حقله چه ترے تپوس او شو ـ

حقیقت د مصیبت راته بیان کړه
بل قابل د جواب نه وینم بے تانه

ACKU

نو دهٔ ئې په جواب کښې او وئيل ـ

ما وې دوه دلبرې تيرې دي په روه کښې
يو نازو د حسن وه بله درخانه

د دې فاني او ارماني دنيا په دې بازار، په وار وار د هر چا دوران راشي او تير شي خو ځنې واقعات داسې وي چه ياد ئې دوام اونيسي او کله هم چه دغه تيرو وختونو پله د چا حساس سترګه‌ور نظر واوړي او د هغه تيرو واقعاتو منظرونه ئې سترګو ته شي نو لکه د اشرف خان هجرى ئې د ياس او حسرت نه ډکه دا وينا په شونډو راشي ـ

بيا به کله درخو وکا سنګارونه
چه ليمه د حسن سترګې بې جلا کا
نه به بيا آدم شمله په خيره کيږدي
چه درخو ئې سينه يخ په تماشه کا
د ګردون هسې روشې دې له ازله
دوه مئين په زجر تل سره رسوا کا

هر عاشق خپل محبوب په زمانه کښې يکتا ګڼړى او هيڅ څوک ورته هم په دې دنيا د هغه ثاني نه شي ليدې لکه وائي ـ

که جهان ټول جانان جانان شي
زما د يار په شان جانان به د چا وينه

دغه شان هغه نه خپل عشق د بل هر عاشق نه په درجه کښې اوچت ښکاري په دې حقله علي خان د خپلې معشوقې او خپل عشق په باب کښې وئيلي دي ـ

که درخو وې نن له ته به ئې ښائست غوښت
آدم خان به وور د مينې پور له ما

خو هغه ورسره ورسره د دې خبرې اعتراف هم کوي چه آدم خان او درخانئ په خپل عشق کښې تر انتهائي حده صادقان وو ـ کوم وخت چه د آدم خان د ښنو نه د درخانئ د زلفو زولنئ تاؤ شوې نو په طوطيا او ګلنازه ئې هيڅکله د زړه تاؤ او تنده نه ماتيده ـ او د درخانئ زړهٔ چه څهٔ وخت ميرمائي ازار کړو نو بد دعائې ټول خاصې رنځور او برباد کړل ـ علي خان وائي ـ

آدم خان چه د درخو زلفو ښائسے بند کړو
په غرض نے نـه طوطـا وه نـه ګنـنـاړه
میرملئي د درخانۍ ازار زړګے کړو
لا بلائے شـوه بـه درست هـازی(۱) خپل سازه

څه وخت چه آدم خان د درخانۍ د مینے په دام کښے ګرفتار شو نو د ګلنازے ناز و ادا، حسن و ښائست نے د سترګو په وړاندے هیڅ جاذبیت نه لرلو - د مینے جنون چه د چا په سر کښے کور اوکړی نو د خپل معشوق نه ما سیوا بل هیڅ څوک نے هم د خوږ زړه مرهم کیدے نه شي - علي خان وائي -

که پرے اولوسته' افسون خو آدم په ده شه'
له درخو چا آرزو آده پـه ده شـه
که ګلنارے ورتـه خـان ستاهو په وصف
آدم خـان تـه به د لاسـه دم پـه دم شـه'

حقیقي مینے د آدم خان په ژوند کښے داسے زورور انقلاب راوستے وو چه د چا په کوته پورته کولو یا په پیغور او زور نه نے هیڅ پروا نه لرله هغه' ته د خپلے معشوقے د طرفه دا ازن شوے وو چه -

پـه تـو مـت مـه شرمیږه پـاره
پـه ښـو خـوانانو پـسـے تـل وی تـو متوتـه

او تولے دنیا ته به نے په جار او په ډاګه ډګلي دا خبره کوله چه "ما نه ے خواهیم ننګ و نام را،، - د شاعر چه د هغه په دے اړخ نظر پرېوتو نو د ننګ او شرم کوم حجاب چه دے د عشق د مشعل نه یو اړخ ته ساتلو د هغے د تار په تار کولو او ختمولو د پاره نے دغه مثال ځان ته مخکښے کیښودو او اونے وئیل چه -

آدم خـان د نـام و ننګـه وو وتـلـے
چـه ګیـر شـوے ور د عـشـق په زنځیـر

د نوے زمانے شاعر د آدم خان او درخانۍ د ژوند زاړه شراب په نوے پیاله کښے واچول - هغوئ له نے د وطن په خاوره د پښتو او پښتونولۍ' د نمائینده عاشقانو حیثیت ورکړو او د پښتون قام د نوی ژوند د پاره نے د هغوئ د لوړ کردار عکس ضروری او ګڼړو دوئ چه څه وخت د "خپل منزل،، په تلاش او لټون پسے رواں شول نو وار په وار د تېر شوی دور واقعاتو نے په مخ کښے غزونے اوکړے او ډا پاکے او سپیڅلے مینے څه

---

۱- هازی خپل چه عموماً حاجی خیل یادیږی -

هیرے تیرے نغمے ئے په غوږونو راغلي او اوئے کتړل چه بايد چه دايے ماحول په دے خوره وره پښتو نخوا کښے بيا را پيدا کړے شي چرته۔

د ګل رګونو کښے چه ژوند اوسيږی نور اوسيږی
يا د انګور غنچه کښے مينه او سرور اوسيږی

خو دا د مينے او سرور ناوے هله دے سيے ته راتللے شی کله چه د نوی دور د پياوړی شاعر اجمل خان خټک د لسو ارمانونو نه يو دا ارومان هم تر سره شی چه۔

د آدم خان د مستانه رباب خوږے سندرے
د درخانۍ د منګی ټنګ کښے اورول غواړم
د ښکرو شرنګ چه د ګودر سازيګرے پرے تودوی
د تيرائی تپے په سور کښے اورول غواړم

او صاحبزاده محمد ادريس چه د پښتو نخوا په غرونو، ميدانونو، ځنګلونو، ييديا ګانو او لوړو ژورو باندے د ژوند په تلاش او لټون کښے لکه د باتور پروازونه اوکړی نو د ژوند اصل راز ورته د مينے او عشق په مستئ کښے په نظر راشی او اووائی چه۔

ژوند دے د ليلے د خندا ستر ګو کښے
هم د قيس د زړهٔ په درزيدو کښے دے
ژوند د آدم خان د رباب ترنګ کښے دے
کور د درخانۍ په ګډيدو کښے دے

پښتو، غيرت، قربانۍ او سړيتوب ته ويلے کيږی۔ دا هم ژبه ده او هم کردار دے يو جامع صفت دے چه ټول پښتانه ئے په انفرادی او اجتماعی جوړله د خپلے درنے خوږے او ګوړے لمنے د سوېری لاندے نيولی دی۔ په دے کښے د هغه خبرو او اشياؤ د قبول او جذب ماده ده کوم چه د دے د اصل جوهر او روح سره د ګډون او ميل صلاحيت لری۔ آدم خان درخانۍ د بوے افسانے په حيثيت کښے دغه ټول مقتضيات تر سره کړی دی نو ځکه د پښتو سره پښتو شوے ده او د پښتو تولنه معنوی پنګه ئے خپله کړے ده۔ او هغے پرے هم د خپلے مينے درنه لمن دايے راوبيره کړے ده ځکه چه يوه مور ئے د خپل بچی د پاسه خوروی، صاحبزاده صاحب د پښتو په تعريف کښے وائی۔

پښتو پښتو ده د غيرت نښخه ده
د سړی توب او قربانۍ ژبه ده
دے کښے پرتے دی افسانے د مينے
د آدم خان او درخانۍ ژبه ده

د نوی دور دا شاعر چه کله په ژوند کښې د نوی کل دے لغزشونو ته کوری او د پښتو د اصل او مزاج نه خلاف د ړوند مغربی تقلید ننداره وینی نو دا ورته څه غیر فطری ښے خونده او مصنوعی شان عمل ښکاره شی او سخته نیوکه او تنقید پرے را واخلی ـ او په ډیر سخت خو طنزیه انداز کښې پرے داسے غږ او کړی ـ

شوخے سترګے، نیغ ښانرۀ، شفقی شونډے
شیرینۍ فرهاد سره څی سنیما ته
درخانۍ هم د ګډا جامے اغوستے
آدم خان سره راغلے ده لـه سواتـه

اباسین د پښتو نخوا د زړګے سره داسے تړون لری لکه د ښیادم د وجود سره د رګونو وینه ـ د هغه هره غوټۍ او هره چپه د پښتو او پښتونولۍ غمازی کوی ـ دے او د دۀ هر غرئیز معاون لکه د پښتنو د ژوند سخت او لوار دے هرے چپے ئے د ګټانو او کمرانو سره خپل تندے ډېنجولے دے ـ د دے سختو او زحمتونه د راتیریدو نه پس ئے هر یو څاڅکے دردانه شوے ده ـ او څه وخت چه د "سمندر،، په لوړ ئے سخه نیولے ده نو دا نغمه ئے را پورته کړے ده ـ

څاڅکی زما هر کله در در دی د درخو د غوږ
تندے چپے تک ے په مخ کاندی آدم خان ته غږ
دلته غلۍ هلته غلۍ پس همه ژوندون ښمه
زۀ خپله پښتون یمه چه بربد زۀ د پښتون ښمه

سمندر صاحب د وخت د بدلون سره د کنجنۍ په عمل کښې هم بدلون غواړی او ورته واۍ چه ښکار دی چه د زمانے د روش نه تـه ٔ هم سبق واُخلے دا مصنوعی ژوند پرېږدے څکه چه دا وار ډیر زر تیریدونکے دے د خپل کور پیشواز په ونو کښې د زمرو پالنه اوکړه او د ژوند د رباب د نوے نغمے په اصلیت او حقیقت باندے ښان پـوهـه کـړه ـ

نغمے دی نورے، ساز دنے ښل، او اوس دے تـار ښـل
اوس ښـل آدم دے هم ښلـه درخـو، دے وار ښـل
اوس دا د وختـو ساز خـو د رنګین غزل نه دے
ښل تـار دے نـاقـراره کـه چـه ستون اجل نه دے

دا څو مثالونه د هغه نورو بے شماره ویناګانو نه دی چه آدم خان او درخانۍ ته د پښتو په ادب او شاعری کښې د نمائنده کردارونو مقام او حیثیت بخښی

ACKU

## د آدم او درخانئی مرگ او د قبر قضیه

په دے مسئله د ضمنی بحث په دوران کښے چه د دے نه آګاهو څه ویلی شوی دی باید چه دلته د هغے ذکر او کړے شی ـ " نه چرے د نوښار د دب پوړے د یوسفزو د عملدارئی خبره او منلے شی نو د آدم خان او درخانئی (د ختکو علاقے ته راتلل هم یو څرګند جواز لری) ـ لکه څه رنګ چه څکښے ذکر کړے شوے دے، پښتانه عاشقان، چه کله هم په مینه کښے د ناامیدئی تر خوا رسیدلی دی نو د بل وطن په لور ئے مخه کړے ده ـ فخرالدین صاحبزاده وائی ـ "چه آدم خان په زړه نتلے په صورت کوتلے ومیرو بلو ته ئے اووے که دا کار ے له لاسه او نه شی، زه به له دے ملکه ورکیږم تا سو به را سره ځئی ،، ـ (هم په دے اراده آدم خان د یوسفزو د علاقے نه را اووتلو)، خو د مینے رنځ ئے د کالبوت رنځ شوے وو او په وجود کښے ئے د زیات سفر توان پاتے نه وو ـ او د اکوړی سره نزدے (د کابل سیند په غاړه د خپلے او درخانئی د خیل‌خانو د عملدارئی نه بهر په مصری بانده) کښے وفات شو ـ هر کله چه دوئی دواړه (رښتونی) عاشقان وو او بغیر د یو بله ورته ژوند تیرول ګران وو، نو د جدائی غم د درخانئی ه پاره

هم نرے تاوون شو۔ او څه وخت چه د (آدم خان د مرګ نه خبر شوه) نو هغے هم ساه ورکړه او د آدم خان په خوا کښے ښخه کړے شوه۔ او تر نن ورځے دغه دواړه قبرونه په یو ځائے یادیږی۔ کیدے شی چه د دواړو د پاڅه او صادق عشق له کبله، خوش اعتقاده خلقو د درخانئ جنازه د هغے د کورنئ په جنازه دغه ځائے ته راوړے وی۔ ځکه چه دا عین ممکنه ده چه هغے به د مرګ په وخت دا وئیلی وی چه "ما د خپل مین آدم خان په خوا کښے ښخه کړئ،،۔ او دغه شان ئے دغه دواړه صادقان عاشقان سره یو ځائے مزکے ته سپارلی وی،،۔

په دے پورتنی اقتباس کښے څنے خبرے داسے دی چه وضاحت ئے ضروری دے۔ آدم خان د خټکو علاقے ته د تللو یا د خپل وطن د پریښولو په نیت را روان شوے خو وو، ولے د ناروغتیا د کبله ئے خپل خان په مټ کښے د نوښار د سیند په غاړه د خپل پلار کلی زاړه پیر با زړے مینے ته را اورسولے شو۔ او هم هلته ئے خو ورځے پس ساه ورکړه۔ او د مصری باندے په کورستان کښے خاوروته او سپارلے شو۔ د مرګ نه څو لمحے مخکښے ئے میرو ته د درخو په نوم خپل آخری ارمان بیان کړو او ورته ئے او وئیل چه زما دا پیغام زما د مرګ نه پس په څه جوړ درخانئ ته او رسوه۔

عام روایت دا دے چه د مرګ نه پس آدم خان او درخانئ د خپلے ریښتونے مینے د برکته په قبر کښے سره یو ځائے شول۔ خلق دا د هغوی د بزرګئ او صداقت کرامت ګڼړی۔

حقیقت دا دے چه د دے دواړو صادقانو عاشقانو په ژوند کښے د دوی د ریښتونے معاشقے داستان په خلقو کښے شهرت موندلے وو، او د دوی سره ئے خوږ او مینه پیدا شوی وو۔ څه وخت چه د دوی دواړو جدائی راغله او درخانئ د پایوی په کور د ننه کړے شوه دغه وخت دهغے د سخرانے کله د ملکند نه راروانیدونکښے وه۔ آدم خانُ، د فخرالدین په قول، میرو او بلو ته خواهش کړے وو چه که زۀ په خپله اراده کښے کامیاب نه شوم نو د دے ځایه به لاس په سر کیږم۔ د وطن د پریښودو په دے خیال آدم خان د هغوی د وړاندے را روان شو۔ خو د مینے زور په نسخوری اخته کړے وو۔ او په ناجوړه صورت آدم خان د خپلو ملګرو سره ځان زاړه پیر با روړے مینے ته را اورسولو۔ دا کلے د هغه د پلرګنی د میشتے پل ځائے وو۔ او هغوی دغه وخت د سوات نه را کوز شوی وو۔ صدر خان والی، چه څه وخت چه هغهٔ د پوے بوډی د خلے نه د درخانئ په ورکولو خبر شو نو میرباسی ته ئے د خولے نه ازار او بد دعا او حمله — او وریبے ئے داسے بیان راوړے دے۔

"او هم له هغه چه خبر شو چاروتسل و خپل کور ته چه کور ئې میشته په هغه وخت په زاړه پیر وو چه مشهور په زړه مینــــه دے،،

صدر خان وائی۔

په مصری بانډه میرهام وو          په بلې د خاصی قــام وو
میته خیل په زاړه پیـر وو          د آدم په حال دلگیـر وو

"او هم هغه وخت چه آدم خان داخل په خپل کور شو په رنځ د نس خوږی له ډیره غمه پریوت،،۔

په دے میانه کښے د خاصی تبرے هم بلې ته را کوزے شوے او دغلته ئې کدے واړولے۔ درخانئی هم د دوئی سره دے کلی ته راغله۔

آدم خان چه په غم کښیوت          د نس خوږی په رنځ پریوت
هسے خوار ضعیف په تن شو          چه ویښته ئې بار ترمن شو

په آدم خان چه دا حال ډیره ښو د زړه نول ئې د وجود رنځ شو او د مرگی په بکت نے ښیے اوودے کیږے نو۔

هغه وخت چه دے رنځور شو          د نس خوږی پرے ضرور شو
درخانئی نے له دے حالــه          خبر بیا موند له چــا لالــه

د دے خبر په اوریدو د هغے حال هم خراب شو۔ داسے معلومیږی چه دا وخت د سپرلی موسم وو۔ هر څو که د هغے حال هم زبون شوے وو په مخ به ئې اوښکے څڅیدلے په سترگو ئې تیارهٔ وه او په نس ئې لیکه شوے وه څو۔

هم ئې ویښے له چشمان ملے          هم لـه نـه نـے همان تلے
زیږندئی چشمه د ښون شوه          ویښے ویښے درست لړمون شوه

څو د خپل خان هیڅ خیال ورسره نه وو۔ د آدم خان د غمه ناقراره وه۔ په دغه وخت د پاروی د باړئی گلونه ډال شوی وو۔

په باړئی گلونـه ښکلی          پاهـوی وو ډیـر کرلی
درخانئی هغـه گلونـه          شـوکـول په فریادونــــه

دا گلونه به هغے د خپلو کاکلو په تارونو کښے د گلدستے په جوړ تړل او د سرې په لاس به ئې ورته سره د دے پیغام استول۔

ACKU

مخ د ږمکې درست رنګین دی | ښائسته روئې زمیـن دی
د فلک ریاض که ښین دی | هر یو باد ئې آتشین دی

تر ځلوبښتو ورځو د هغې دا عمل جاري وو خو اخر د ګلو دوران تیر شو. او هغه ورځ راغله چه د درخانئ بي‌بي د لاسه آدم خان ته د ګلونو سوغات په څه وجه او نه رسیدلې شو. آدم خان په دغه ورځ خپل د مینې یار میرو را اوبللو او داسې سوال جواب ئې ورته او کړل.

آدم او وې اې جیبـــه | اې همدمه اې انیــــسه
صبا درومه شتاب تر شنه | تر درخو په خپله ور شــه
پرې اول زما دعا کـــړه | بیا پرې دا پیغام ادا کــړه
چه سونړ لاړو که ربښتیا کړې | ته به هم ورانه دنیا کړې
دا ئې او وې نوو ئې ســاه | په اسمان لاړه لـــه آه

د آدم خان د تجهیز و تکفین نه پس میرو د آدم خان پیغام درخو ته د رسولو د پاره بلړ ته روان شو. چه هلته او رسیدو نو د پاپاوي په باغ کښې یو خوا ته غلې کښیناستو. دا د سحر ترږمې وو د هغه سحر چه د غم په اوښکو لمبیدلې او د آهونو او ارمانونو لړې ئې په هر لور را خورې کړې وې. دا سحر د پاکیزه مینې په غم لړې داستان‌د حسرتناک انجام سحر وو. او د مینې د شهید آدم خان قاصد د درخو د مرګي د اس ملونې په لاس نیولې د هغې په انتظار ولاړ وو. درخو د پاپاوي په بند کښې بندي وه خود خیال طوطي ئې د آدم خان د میشتې په ښرونو کښې تل الوت کولو. د هغې جنون او مرض تر دې حده رسیدلې وو چه د خاصي د کور خلقو ترې لاس اخستي وو. د ستر پردې اغه قدغن چه دې په خپل خان اینې وو هغه ترې نه هم لرې کړې شوې وو او لکه د سودایانو به ترې هر څوک لرې لرې تلل او بازوګانو ته به په خپله خوښه وتله زا وتله.

دا سحر چه هغه په باغ د ننه شوه نو د یار د لورې باد ورته د آهونو او اسویلو سوغات د آګاهو نه تیار نیولې وو. هر ګل او هرې غوټئ ورته د حال په ژبه وئیل چه "درخو- د مینې ګل خو دې د خزانۍ په باد تارې تارې شوې او د زړه طوطا د په ښرونو پرواز کړې دې".

په دا ملک خزان د ګلو | رسیده ژړل بلبـــلو
د ګلـو تو رژیـدون وو | د بلبـلو وریت لړمون وو

هم په دې حال ننې چه په باړې ورګډیده یو توره سایه ئې د ورایه په نظر سوه چه د دې لور ته را روانه وه دې پرې د آدم خان ګمان او کړو زړه ئې اودرژیدو

ACKU

قدمونه ئے ګند شول او د هغه تورے سانے طرفته جلته جلته روانه شوه میرو هم ساه نیولے د دے خوا ته را روان وو غریبو ئے راډک شوے وو په زړه ئے د خپل خوږ دوست د غم پولنی ولاړے وے او په سینه کښے ئے د هغه د اخری وصیت امانت هغے ته د حواله کولو د پاره راوړے وو۔ دوئی چه یو بل ته را نژدے شول نو میرو پښه نیولے شو۔ درخو په انګازه پوهیدلے وه۔ هغے وئیل۔

د باغ طور د ګرګون دے　　　هر ګل وینم چه زبون دے
وائی دا د حال په ژبــــه　　　وخت د کوچ راغلے قالبه
سپری لاړل لــه دنیــــا تــه　　　دا ملک څه کا اوس درخانــه

دواړه چه یو تر بله مخامخ شول نو څه شیبه ئے بنکالو نه وه۔ د میرو زړه د غم په درياب لاهو وو په خله ئے خبره نه جوړیده۔ حیران وو چه څه رنګ د آدم خان وینا هغے ته تیره کړی۔ خو د غم استازو هغے ته د آئنده حالاتو خبر د اګاهو نه ور کړے وو۔ هغے په میرو غږ کړو چه "میرو وروره زه ستا د راتلو په سبب رسیدلے یم۔ ما ته د بلبلو زوړندو سرونو شړوندو وزرونو او غمجنو سندرو څه خو وئیلی دی ما ته هغه لار لیدلے شی په کومه چه راته تلل پکار دی۔ هغے په خپل آدم خان پسے تلل غوښتل دغه تلوسے او دغے ارمان ئے دا حال کړے وو۔ او د میرو تر مخه ئے وئیلی وو چه۔
آدم خان سره یے کړے خدایه ملګرے　　　نور یے مه سیزه ژوندی په اور د سرے

ولے چه آدم خان ورته وئیلی وو۔

هغه ځائے چه تل وصال دے　　　زر را دروسه څه امهال دے
که د مینه په رښتیا وی　　　دا پیغام به مرګ د تا وی
سخ به ماته زر حضور کړے　　　تور لحد به په ما نور کړے
که په مینه نقصانی وے　　　مونږ باقی یو ته فانی ئے

او څه وخت چه میرو پوهه شو چه درخو زما د راتلو په مطلب رسیدلے ده نو په ډیره غمګینه او اندوهناکه لهجه کښے ئے ورته بیان را واخیست۔

بی بی ګل کا لــه ګلـذاره　　　دا خبر نه ده لـــــه یــــاره
یار ئے ځائے کړو د ګورخونه　　　دا به څه کا اوس ګلونـــه

بیا ئے ورته د آدم خان پیغام تیر کړو او کومه بلنه چه ورته آدم خان ورکړے وه د هغے خولست ئے ورته اوکړو۔ په جواب کښے۔

دے پلے لحو کړو میزو ورووه　　　اوس زمـــا ننـــداوه ګووه

ACKU

چه په یار پسې بار تله کا — دا رنګ دروسی تعطیل نه کا
چه په یار پسې دا تله کړم — پښې به زړه د زړه لیمه کړم
دا ئې او وئیل په غــــاړه — آه ئې او کړو ساه ئې لاړه

دا منظر هم داسې وو لکه د رومیو جیولټ او د خلیل جبران "د لبنان د هغه ناوې چه په خپل مثن پسې ئې ساه ورکړې وو.، او لکه د دو ، په شان درخو هم خپل آدم خان ته دا پیغام ور استولو ـ

"اې محبوبه نظر او کړه
تــول نقشونه اوس فنا شول
اوس زما سترګو ته پټکاری
بس مثینه ستا وجود
اف زما شونډې شوې مراوې
اخری ساه مې قبول کړه !
اې زما بنائسته دلبره !
اوس راځه چه موږ روان شو
فرښتې د محبت کړې
د هوا وزرې وازې
شوه چاپیره د حلقې نه
د پاک نــور خې روانیږی ".

او د باغ په دغه زیږو ګلونو کښې را پریوته او د بلې دنیا په نیلی سوره د آدم خان لور ته روانه شوه ـ هم په دې وخت

په دا ملک خزان د ګلو — رسیدۀ زوړل بلبلو
د ګلونــو رژیدن وو — د بلبلو وریت لړمون وو
هر بو ریش چه د شجر وو — وچ ترمزی د مسطر وو
د صد برګ سینه له همه — صد پاره لاړه لسه همه
د ګلابو ګل په اور شه — بنفشه په خاک نسکور شه
د باغونو ناوې جونه — واړه خاورې شوې خاکونه
تن ئې ګل وو په باغ خورشه — آزاده قد ئې نسکور شه

ACKU

او سرو د هغې د مرګ نه پس د هغې په وصیت باندې عمل اوکړو او په دغه تروږمۍ کښې ئې دا په خپل ګرندی اس زاړه پیر ته راورسوله ـ د آدم خان په خوا کښې ئې لحد ته ورکوزه کړه ـ او د آدم خان د رباب نه د سیرو په ربه دا ورستۍ نغمه را پورته شوه ـ

عشق دې وروست تر کماله — شوې د عشق په تیغ حلاله
مبارک د تل وصال مو — په دیدار د زړه خوشحال شه
عشق هم دا دې لکه ستا دې — مبارک ښکلې زیبا دې
چه د یار پسه سهر مینه — یار په یار پسې و سرچه
دا د عشق کمالیت دې — که مجاز کسه حقیقت دې
چه دا عشق د چا روزی شی — په کونین ئې فیروزی شی
چه هر خائې ذکر کاوه شی — آفرین پرې ډیر وایه شی

او د یوسف زو د یو زوړ رواج مطابق ئې ورله د شریکې دنکاچې قبر جوړ کړو ـ نن هم د سوات، بنیر، یوسفزو او د پښتو نخوا په ځنو نورو ځو کښې، د ښځې خاوند پلار خوئې، سور لور، دوؤ ورنړو، ورور خور، یا د دوؤ دوستانو (چه به یو ځائې مړه وی) یا د دائې نورو نزدې خپلو خپلوانو چه برله پسې یا یو ځائې مړه شوی وی ـ د قبرونو د نکاچې ئې شریکې جوړولې کیږی د دوئې دواړو د قبرونو د نکاچه هم په دې وجه شریکه کړې شوې ده ـ د زمانې په تیریدو دغه دواړه قبرونه لکه یو ښکاری ـ دا هم کیدې شی چه نن د غه‌دواړه قبرونه یو ځکه ښکاری چه د دغه دواړو ـ څه جدا نخښه د سره هډو جوړه کړې شوې نه وه ـ بوه بله خبره چه د دې په حقله په قدرتی جوړله د سړی مخې ته راځی هغه دا ده چه د ترېګنئی مخاصمت او کینې له کبله د خلقو به هغوئی په ژوندانه نزدیکت او وصال پیرزو نه وو او نه ئې د دوئی د مینې په صداقت باور کیدو ـ خو کله چه هغوئی خپل ځانونه د ریښتونې مینې زار کړل نو د خلقو د دوئی په بزرګئی عقیده راغله او د دې د ربنتیا ثابتولو او د دوئی د مرتبې د لا پورته کولو د پاره ئې به دوئی پورې عجیبه عجیبه قصې تړل شروع کړې ـ کله خو ئې د هغوئی په قبرونو د ولاړې بیرې د څانګې نه جوړ شهباز د رباب د زدکړې دوا کړې کله ئې د یو ځائې کولو په خیال د هغوئی د کراماتو په زور هغوئی دواړه د جدا جدا قبرونو نه یو قبر ته راوستل ـ او دې خبرې ته د نور تقویت د پاره ئې دا عمل سه بار کړو ـ هر څه چه وی خو د دې دوؤ مینو سره د هرې زمانې او د هر دور د پښتنو د مینې او د همدردئی زړونولو او دوئی ته په درنه سترګه د کتلو د خاطره د دوئی ظاهری مرتبه کښې د اضافې راوستلو کوشش شوې دې ـ دا د ګردې دنیا د انسانی تاریخ یو زوړ دستور دې چه تر ننه روان دې چه د ښو خلقو او صادقانو عاشقانو د مرتبې معیار په هغوئی پورې منسوب کړې شوی عجیبه عجیبه واقعات وی چرته خو ئې د

دشمنانو او بد نظرو نه خان بچ کونکی زنانه په خپله دعا کته کړې وی او حربه ئې د ایلم د سر ژبئ د لاس په اشاره هم په هغه خانې اودرولې وی۔ خنې خانې ... د غرهٔ په کمر کښې د چا د نیزې اس او قدمونو چاپونو باتې دی او چرته ئې د ... تیارې رڼې خاورې کړې دی۔ دا تولې خبرې د خپل خپل دور او زمانې سره مړې دی۔ او د بې علمئ او عقیدې د خاطره په دې د ډیرو خلقو اعتقاد وو او دے۔

په آدم خان درخانئ پورې هم داسې ډیرې خبرې تړلې شوی دی۔ چه څنګښې په یو بل مضمون کښې ئې مجمل ذکر شوے دے۔ خو باید چه هغه تولې خبرې نه دے ضمن کښې دلته په وضاحت سره راوړې شی۔

درخو چه به د باز درې د خوړ کودر ته را تلله نو د غره په دغه لویو کمرونو کښې د اوبو د یو دوؤ ډنډوقو سره به کښیناسته، وئیلې شی چه تر اوسه چه په دغو دواړو کښې د یو ډنډوقی دا اوبه تور بخنې شان ښکاری د دې سبب دا دے چه په دے کښې به درخانئ خپل رانجه کیښودل۔ د دې سره په خوا کښې دا دویم ډنډوقې څکه رونړ سور بخن رنګ لری چه دلته به د درخانئ آئینه پرته وه۔

یوه ورځ درخانئ د خوړ غاړې له راغلې وه۔ آدم خان د یو لوئې کمر په بله ډډه د خپل رباب سره مشغولیدو درخانئ چه د هغهٔ د رباب اواز واؤریدو نو خدائې پاک ته ئې زاری اوکړه۔ د خدائې کرهٔ وو هغه کټ په مینځ او چاؤ دو او هغوئې ته ئې د دیدن کولو څه ازاده کړه۔

یو ځلې آدم خان د باز درې نه لاندې د یو درمند په خوا تیرېدو رشه تیاره وه آدم خان د زمیندار نه په څه خبره خفه شو د خولې نه ئې ورته بد دعا او ختله او د غنمو د تیارې رشې نه د خاورې کټو او شګو ډیر کئې جوړه شوو۔ چه اوس هم هغه ډیرئې د بازدرې سره نزدې موجوده ده۔

څه وخت چه میرباسی حاجی خیل درخانئ باباوی ته حواله کړه او د آدم خان سرهٔ ئې بد عهدی او کړه نو آدم خان او وئیل چه

میر باسیه زور د کم شـه ستا په کور د غم ماتم شه
ستا په آل په فـرزنـدانــو رنځ تعین شـه د کهریانــو

او هم دغه شان او شول۔ وئیلې شی چه د میر باسی خاندان هم په دغه مرض کښې ګرفتار شو او تر څو چه ئې نسل را روان وو هر غړې ئې جزام وهلې رنځور وه صهر خان والی۔

چه ښیره د خوږ خاطر ده
په درګاه کښې ماثر ده
وائي دا چه له میربامه
پښت په پښت تر نن ایامه
په اولاد کښې نې غم وینه
ډیر د ګهر په رنځ مرینه

برهان شاعر دا ښیره د درخانئي د خولې نه ذکر کړے ده هغه وائي چه ـ

درخانئي بوه ښیره د خولې نه وښکه
د پیر مامې په قام د وی د کور ازار

که چرے په هغه وخت سره دا دومره خبرے ونیلے کیدے شوے نو دا څه عجیبه نه وه چه د هغوئی قبرونه ئې هم د کراماتو په زور یو ځائے کړی وی ـ

د دے نه آ کاهو د آدم درخانئ د داستان په تاریخي ارخ بالدے تفصیلي بحث شوے دے ـ په دے حصه کښے به دا ذکر راشي چه دا رومان د پښتو ادب په میدان کښے څه مقام لري ـ او د پښتو د هغه وخت د کلي کلویښتي او دود دستور څه نقشه پیش کوي ـ د پښتو ښځے رواجونه او دستورونه ډیر پخواني او محکم دي او په کوم جوړ چه د نن نه څو صدۍ پخوا وو په هغه جوړ نن هم په عوامو کښے رواج لري ـ

**دا رومان او ملي ژوند ـ** | څه رنګ چه ښکښے ویلي شوي دي په هر قوم او هر وطن کښے داسے داستانونه یا رومانونه وي چه د هغه وطن د خلقو ورسره فطرتي مینه او ترون وي ـ په دے قیصو یا رومانونو کښے شاعرانو یا بیان لیکونکو هغه ټولے خبرے د نظر لاندے ساتلي وي کومے چه د هغه وخت د معاشرے د ماحول نقشه وړاندے کوي ـ او دا کوشش ئے کړے وي چه د رومان هر ارخ د خپل وخت د ثقافت او تهذیب مبسوطه او مکمله خاکه لري ـ په دے رومان کښے صدر خان هم د دے قسم خبرو پوره پوره خیال ساتلے دے ـ او د شاعرانه رنګ آمیزیانو عالمانه بحثونو او نصیحت نه علاوه د هغه وخت د خلقو په ناسته پاسته، غم ښادۍ، جامه بیزار، کالي پټرې، دله تهله، کورني ژوند، پیر پرستي او نور رسم و رواج او دود دستور باندے ئے تفصیلي بحث کړے دے لکه د دغه وخت د جاے او کالي په حقله واني چه :-

نور درخو طلب زیبور کړې — هم ئے سور لباس در بر کړ
سپوږمۍ ستوري ئے په شب کښے — آراسته کړل په طرب کښے
یعنې تیک لولو غوتۍ — هم لړلړ د سرو تمکۍ
په وربل په تور کیسونے — لر لر کړو په هر موئے
سرے غوټۍ په وربل باندے — چه دے کیږدے سرے ګلاندے

شب برات ښې چراغان کړو — منور ښې درست جهان کړو
زېړ پېزوان ښې شعله تاب کړو — د نمر تبال ښې په آفتاب کړو
پکښې لعل په څه شان وو — ګویا زړه د آده خان وو
اوېدانه ښې سور حميل کړو — د عالم ښې زړه په خيل کړو
ښائسته ويښې د زرو — مکلل په در ګوهرو
دے په لاس په سپين مروند کړل — د عشاقو لاس ئے بند کړل
چه پائېلې ښې په پښا کړې — ښا پېرئ ښې په نخا کړې
يو دوه درے څلور څادره — پنځه شپږ اووه مجمره
څوک سالو څوک زعفراني وو — څوک اودي ارغواني وو
دا همه رنګين ښاغلي
دے په سر وو اچولي

درخانۍ چه کله د پلار د کوره د پېغلې کره د خپلو سهيلو سره روانېږي د هغوی د لباس او ښائست ئے دا رنګه بيان کړے دے:

رنګا رنګ جونه طنازے — ورسره وے خوش آوازے
په ښائست بدر جمالے — په لباس وے سالو والے
ښا اغوستي سري صاف وو — ښا د ښا تر ورېدے صاف وو
د فلک مطربه پاره — ورسره تله خدمتګاره
نمر سپوږمۍ دف داريا وو — جلاجل ښې ثريا وو
چه دا حورے دي که جونه — که پېرۍ دي زري پېرونه

په پښتو نخوا کښې دا يو عام دستور دے چه د جينۍ د وادۀ په وخت څه د کورني استعمال سامان د جينۍ د وادۀ سره ورکولے کېږي. دے سامان ته "کاز يا جهېز،، وائي. دا د هر چا د خپل توفيق او وس په اندازه وي. د هلک د کوره هم څه حساب اخستلے کېږي چه "نوېاله،، ورته وائي. دغه هم د دے اخراجاتو په شمېر کښې راوستلے کېږي. د پېغلې پلار ګور هم د وس دس خاوندان رو، نو د پېغلې د وادۀ کاز هم عوريز او خوندناک وو.

د پېغلې وادۀ تيار شو — جوړه څرخ جوړ ئے هر کار شو
نهالي سره بالښتونه — رنګينه سره پالنګونه
سردانه جوړے ړينښے — زنانه جوړے مېښے
غنم وريژے انبارونه — زېړ غوړي په منونه شو
صد لبات شهد و شکرے — هم شربې شربے ډنګ

ACKU

دا ضروري نه ده چه دا ځینې خصوصیات د ښکلي د واده نه خسانه صدر خان ساڼ کړې وی حقیقت دا دے چه دا دغه وخت د جامے پیزار کالي سرې او واده کوزدنے د عمومي رواج سره خا نه ده، چه سونږ نه د هغه وخت د ثقافت او دود دستورونه حتله نه دے روښان کیښے را رسیدلے ده -

دا قسم دستورونه نه خوره وره پښتونخوا کښے نن هم نه هغه جوړ دی - د علاقو علاقو په جامه پیزار کښے بر څه موقعے ٦ کاله بورے دایے خاص فرق نه وو رلغلے خو اوس د وخت تقاضے او د لرے نږدے علاقو سره د ډیر رباط قدرون په سبب نه امه لباس کښے ډیر په تندئی فرق روان دے -

د جامے درونډ والے او صفائي د پښتون تام په فطرت کښے اغرلے نشوی دی - د نلوینه ؤ لباس ساده او ارزان پیمه خو سوتره وی - د زنانه ؤ د جامے او کلي بنري ډیر خیال ساتلے کیږی - او د خوندناکے جامے او کالو پټرو په زنانه ؤ کښے د عمومي ذوق له کبله د خپل خپل وس په تابین هغوئ ته مهیا کولے کیږی، څکه خووائی -

که بے زکه شړئي پسه سر وی
شالیلے تایه په پښملو کښے ساتمه

وربل خوروَل - په یوسفزو او د ښښنو په نورو قبیلو کښے د جینئی د واده نه ورځ نیمه ١ کاله د وربل خوروَلو رسم ادا کیږی - دا دستور عموماً د ملکئی کسب ګره نا ثانره ادا کړی - د کالئه څه زنانه او ماشومانے جینکئی ورسره هم وی په دے موقع دا یے څه سندره وئلے نیږی -

سونږه نے څه کوز سور پلار نے ودوینه
نائه والــه وربلــه

دے دستور خوا ته صدر خان د بسکئی په خوله دایے اشاره کوی -

اے درخو ښانسته حورے په بزرګئی د همائیے سیورے
دا وعده که له سا او کړے سا به خوبنه ته' په زړه کړے
که واده زما پیشتروی دا وینا دے مقرر وی
څو دتا تا تسر هغه پورے راتله' نه اوشی اے خورے
زه به غوته له اور پلـه بے تا وا نه کړم هیڅ کله
ته' هم اوایه که ښه' کړے چه بے سا او ور بل خوز نه کړے
زه به غوته بے لتانه د وربل نه کړم پرشانه

ACKU

په کومه زمانه کښې چه د آدم درخانئ د مینې دا واقعه پېښه شوې ده یعنې هغه زمانه کښې یوسفزي تمام په ښائیسته تکاوُ مونډې وو خو څه رنګ چه ښکښې وَئیلې شوي دي ـ لا مستقله آبادکاري ئې نه وه شوې او علاقائي او تپه وار بدلونونه په خپل ابتدائي رنګ کښې لا جاري وو ـ په داسې حالت کښې د پردې دستور دومره سخت نشو کېدې ـ خو بیا هم د درڅو خانوادوُو په کورونو کښې د دې پابندئ رواج شروع شوې وو او درخانئ هم چه د یو اوچت خاندان پېغله وه لو پرده کول پرې لازم شوي وو ـ او حکه ئې د ټېلې تردر په کور باندې خلق د سخ کتې لېوالئه کړي وو ـ د پښکې د پلار د کلي خلقو ته دا څیره د دستورته یل شان ښکارېده ځکه چه وائي :-

چه له ښځو سره مستوره درخانئ شوه بېرې کستوره<br>
له سردانو که حساب که دا له ښځو په کوم باب که

داسې معلومېږي چه درڅو د ټېلې کورو د، کور د تاریخه نه هم پرده کوله او هر کله چه د وادهٔ معامله وه او تاریخه بلېر د څه پابندئ نه په کور کښې وئلې متونل نو درڅو په دې وجه د زنانهؤ نه هم یو خوا ته پېله د پښکئ سره ناسته وه او د نور ځا سره ئې ډېرون نه کوتو ـ د همې دې عمل ععلوئ څه ذکرمند غوندې کړل ځکه چه د هر ځا د هغې د سخ کتې خو ښکلي او تلوسه وه صدر خان وائي چه :-

په دا کار ئې ډېر دلګیر شول ہمکی په دا تدبیر شول<br>
چه له شره د وېشتو ده دا رنګ کلمه د پرپوده<br>
چه هر څوک ترې عبزت او کا بلکه جهل دا هسې نه کا

ممکنه ده چه دا خیال هم را پیدا شوې وي چه که چرې دا قسم کلکه پرده شروع شي نو د ژوند خوند رنګ به ورک شي او څه رنګینئ او تنوع به پکښې پاتې نه شي ـ په دې سلسله کښې د حیات افغاني مولف د دې کتاب په ۱۸۰ صفحه باندې یوه واقعه ذکر کوي چه "څه وخت چه د لنډي سیند نه قطب طرف ته علاقه د یوسفزو زو په قبضه کښې راغله نو بیا ئې د سوات اخیستو تکل او کړو ـ د ملک احمد او شیخ ملي (مدار المهام) په تجویز ټول قوم په ایکانه د سوات په لور په کلمه روان شول او د شاه کوټ درې په خوله کښې ئې کډې واړولې ـ سواتیان د یوسفزو د لارې نیوو په غرض په دغه دره را جمع شول ځو د نورو لارو خیال ئې او نه ساتلو ـ یوه شپه یوسفزو مصلحت او کړو چه دښمن سره څه فریب پکار دې ـ نو خپلو ښځو ته ئې اووئیل چه تاسو سندرې شروع کړې پکښې د خپلو تارینه ؤ صفت او د سواتیانو غندینه کوئ ـ د دې موضوع مضمون څه داسې وو چه ,,سواتیانو خبردار شئ صبا سحر به ستاسو سره جنګ وي،، ـ چه دا آواز ئې

ACKU

واوړیدو نو سواتیانو خیال او کړو چه دوی (یوسفزی) به صبا هم په دې دره باندې راخیژی نو د نورو درو لښکر ئې هم دلته را او بللو او یوسفزو شپه په شپه د ملکند د غاښي لار او نیوه او په اسانه سره په سوات کښې ور د ننه شول،، ۔

د شاه کوټ او چړات درے د موریے د غرهٔ کندوونه دی ۔ چه یو طرف ته ترے د تانړے او اله ډنډ ورشوده ۔ او بل ارخ ته ئې د باز درو شیر خانے ۔ زورمندئی او پلني کنی دی ۔ د پورتني واقعے نه د دے خبرے وضاحت کیږی چه زنانهٔ به د کور د۔ کارونو نه علاوه په نور عملي ژوند کښې هم پوره پوره حصه لرله ۔ او په دے وجه د هغوئ د دے قسم پردے پابندی ساتل ضروری نه وو ۔ د پښتو په زمانه کښې به د هر کلی غیرتمندو پښتنو زنانهٔ د جنګ جګړو په وخت کښې په مورچو او سپلونو کښې ناستو نارینهٔ ته دارو سړدکے اوبهٔ او خوراک رسولو او د زخمیانو پټه پټئ او دارو درمل به هم د هغوئ کار وو ۔ د پښتنو میرمنو د سرانې او غیرت ګنړ واقعات هر چا ته معلوم دی ۔ هغوئ دا ټولے خبرے په خپلو سندرو کښې هم راوستی دی لکه چه وائی :-

جګړے ته ما در سره بوځه    چه دې په جنګ کښې کومکی ولاړه یمه

او یا دا

چه جنګ ته ځې ما بوځه یاره    تشے توټي به د په جنګ کښې تولومه

او یو ځائے کښے داسے وائی :-

ځوانانو مرګ په ځان قبول کړو    پیغلے زلمی کړې چه کونتون نه قبلوینه

او د خپل طبی امداد ذکر داسے کوی چه :-

په دښمن ځان توکر توکر کړه .    یا به د سینے خولے ملهم دربانديې ږدمه

پیر پرستی ۔ د دغه وخت یو بوخ رواج وو ۔ چه دے خلقو به پیر فقیر او میان ملا ته ډیر په درنه سترګه کتل ۔ عن دا چه که د کورونو زنانهٔ به د ورو بندیانو نه ستر پرده هم ساتله خو د پیر نه به ئې مخ نه پټول سعادت ګڼړلو او د هغه په وړاندے به ښکاره مخ کښېناستلې ورته عیب نه ښکاریده ۔ د درخو او د بسکئ د خپلخانې هم یو پیر وو چه پیرصالح بابوزے ئے نوم وو ۔

پیر صالح بابوزے پیر وو    د عشاقو د ستګیر وو

هر کله چه د درخو د مخ ښکاره کولو هیڅ حیله جوړه نه شوه نو چا ښکلے او ویل چه :-

ACKU

چا وې کله به دا اوشي — دا کار ګران دے او به نه شي
پیر صالح ورته رونیداو کړي — چه روني او کاندے دا کار کړي
پیسر به دا له دے حجابه — بیرونه کا له شتابه
نسر و بخښے به ئے لاله — بهره مند شي له جمانه

څه رنګ چه څرګنیږي ذکر اوشو په پیرانو او میاګانو ملایانو باندے خلقو پخه عقیده لرله ـ او دا خبره تر دے حده رواج شوے وه چه د دوئي د کره کوته څه کښیني به هم نه کیدو ـ خوشحال بابا په سوات نامه کښیي هم دے خوا ته داسے اشاره کړے ده وائي چه :-

نه ئې کښل زده نه لوستل زده نل تکل کا
تعویذونه ورکوی په دروغ کښل کا
مریدي ئے په کلاه په شجره ده
که پیری مریدی دا ده مسخره ده

دا قسم بے علمه پیران نن ورځ هم په دغه علاقه باندے عام دي او د علاقے بے علمه ساده او ناخبره خلق ورے ورو یقین ساتي او په خپله به او پله کښیے ترے امداد غواړي ـ د تیرو وختونو خلق هم عموماً ساده او د یوے لارے وو ـ محمد امین خوګیاني په خپل کتاب حیات سید جمال الدین افغاني کښیي په دے حقله د سید علی ترمذي رحمت الله علیه عرف پیر بابا د ذکر په وخت د هغوئي له خوا د یوسفزي قام د دے خاصیت ذکر کړے دے ـ او د یوسفزي قام ځنے ځنے کمزورئي په ګوته کړي دي ـ چه بوه پکښیے د هغوئي د قول مطابق د لاس نیوے کولو استعداد دا ده ـ د دے وجه ئې صرف دا ښودلے ده چه دلته په عوامو کښیې جهالت او بے علمي زیاته ده د هغوئي ارشاد دے چه "افغانان فقط شائق پند و نصیحت اند ـ نه از عمل یعنی گفتار پسند می باشند و از کردار غافل اند ـ و عوام ایشان از جهت بے علمی فرق شخص صحیح و فاسد را کرده نمی توانند ـ اهل حق را از اهل باطل جدا نکرده اقتدار علمی ایشان آنقدر نیست تا شخص نووارد را بشناسند که بر جادهٔ حق استوار است یا از راه صحیح گمراه گردیده ،، ـ او بو بل ځائے کښیے فرمائي چه "عادت افغانها است که سخن را در موضوع خیر و شر گوش می نهند اما سخنهائے خیر را پابندی کمتر می نمایند ـ زیرا بے علمی در افغانها بسیار زیاد است اکثر افاغنه این آوان از شنیدن سخنهائے خیر گریزان می باشند ـ و به شنیدن سخنهائے شر بسیار مائل هستند ،، ـ

هم د دے خبرے په حقله صدر خان وائي چه ـ

د جهالو مریدانو — پیران دا رنګوی یارانو
چه روا که ناروا وی — هر یو کار چه ئې پخواوی

ACKU

ورته وائي چه دا او کړه — او که نه وي پیري به کړه
پېرنے هم مټ په هغه کړه — چه جهال ورته اثره کړه

د حضرت سيد علي ترمذی (پیر بابا) قول دے چه "تمام این مردم بے علم اند و از سبب کثرت شیخان باطل و پیران بے حاصل که ایشان را به راه مخالفت شرع دعوت می نمودند برخے پیروئے ایشان شده او بدعت هائے بسیارے را بنام دیانت قبول کرده بودند۔ و مسلمان ضعیف الاعتقاد اغلبا به جادهٔ گمراهی سوق داده بودند"۔ د هغه زمانے دا قسم آثار په هغه علاقو لا تر اوسه هم باقي دی۔ او د دوئ په رڼا کښے دا معلومیږی چه د آدم درخو د واقعے په وخت به دا اثر نور هم زیات وو۔ او بے علمه او ټګانو پیرانو به په بیهوده خبرو ساده عوام غلول:-

که په سر د دریا دروسی — یا بالا په سما دروسی
په ستو کښے جاهل دے — الحق ضال دے هم مضل دے
شکر شکر چه بعیدیم — له بد پیره نه مریدیم

محمد امین خوګیاني د پیر بابا علیه الرحمته یو بیان نقل کوی چه "در افغانها پیرانے پیدا میشوند۔ که سخنهائے جن را می شنوند و بنام غیب گوئی خود آن را شهرت مے دهند و ایشان نمی دانند که این چنین اعمال موجب کفر است"۔ دا ځنه معلومیږی چه پیر صالح هم د دے قبیلے یو پیر وو۔ د داسے پیرانو غرض خو همیشه د خپلے ذاتي ګټے، فائدے او اثر قائم ساتلو سره وی په دے وجه هغه همیشه د شرعی لارو چارو په ځائے د عامو خلقو د طبعے په لارے د تللو کوشش کوی۔ د عامو خلقو د عقیدے یا هدایت د رڼا سره څه دومره غرض نه وی۔ هغوئ خود خپلو مراد ونو فکر په سر را غستی وی۔ صدر خان دے خبرے ته د پیر صالح په کردار کښے اشاره کړے ده۔

دواړه لوریه دنیا غواړی — پیر مرید په دنیا وهاړی

او هم دغه د پیر صالح د خپل عمل نه ثابته شوه څکه چه دهٔ د اوږدے مراقبے نه پس چه کوم چل ول جوړ کړو نو د هغے په نتیجه کښے ئے آدم خان راو ملو چه رباب اووهی او درخو مخ ښکاره کړی۔

25759

**پښتانه او زر پرستي۔** د دنیا دولت خواهش د انسان خاصه ده۔ او د دنیا ګرد اولس د دے په لټون اخته دے۔ او د دے د خاطره ئے ډول ډول او رنګ رنګ کسبونه او لارے چارے اختیار کړی دی۔ په دے کښے ځنے خو داسے دی چه د انسان په عام اخلاقي معیار مناسبے او جائزے دی او ځنے داسے دی چه هغه د غندنے او کرکے لائقے دی۔ دا ده چه کله خو سړے ارادتاً دا د دوئم قسم لارے او نیسی او ځنے وخت ئے خپل انتهائي ضروریات او مجبوریانے په دے لارو را واړوی۔

ACKU

د دوئم ارخ دا کمزوریانے په پښتون قام کښے د بده مرغه څه زیاتے موندے شی ـ د دے یوه وجه خو به غالباً دا وی ـ چه د دولت پیدا کولو او کټلو جائزے ذریعے او لارے چارے په پښتونخوا کښے ډیرے محدودے دی او بله دا چه د پښتون په ژوند کښے د جنګ جګړو د تربګینئی کشمکش او دښمنیانو دوئی ته د دولت ګټلو ډیرے کمے موقعے یا فرصت پریښے دے ـ او د دوئی ذهن د پخوا راسے "د لاس د بری کار دے،، په اصول عمل کولو خوا ته راغب دے ـ یو دریم سبب دا هم کیدے شی چه پښتانه د زړانو راسے د نورو قومونو د فاتحانو او حاکمانو باچایانو په ساجیونو، خلعتونو، رشوتونو او لمسون او یا د هغوئی په مرسته کښے د جنګونو نه پس د علاقو او ښهرونو د چور چپاول او لوټ مار روږدی وو ـ او هم په دے عادت د دوئی اولسی تربیت نے د ظلم زور او حرام حلال په ګټه کړے وو ـ او داسے ډیرے زیاتے کمزوریانے نے د دوئی په طبیعت او فطرت کښے زرغونے کړی وے چه د چور او تالان او مرګ ژوبلے د سلسلے د ختمیدو نه پس هم د دوئی دا عادت باقی پاتے شو ـ د ورور تربور، کونډے، یتیم مال ته اسرا، شوکے پاکے ـ سورسات، ناغے، سود سلم د لور خور په سر پیسے اخستل او داسے نور ناکاره او د مذهب او اخلاقو نه خلاف عادتونه او رسم و رواج په دوئی کښے جاری شوی دی ـ هم دے غټو خرابو او غیر اسلامی او غیر انسانی بلکه زهٔ به او وانم چه غیر پښتنی رواجونو او عادتونو او اعمالو د دوئی قامی تړون او شیرازه تار په تار کړے ده ـ او د ابتدا راسے کور په کور بےاتفاقی خیل په خیل او قبیله په قبیله دښمنی د دوئی سرشت شوے دے ـ د دوئی د ژوند دے ارخ ته خوشحال خان خټک داسے اشاره کړے ده ـ

پښتانه په عقل پوهه څهٔ ناکس دی — کوته سپی د قصابانو د جوس دی
بادشاهی نے د مغل په زرو بائلــه — د مغــل د منصبــونو پــه هوس دی
اوس له باره په خپل کور کښے وو ورغلے — پــه اولجــه د اوس د غارے د جرس دی

د دوئی د دے کمزورئی دا راز فرنګیانو هم معلوم کړے وو او دوئی نے سره په خپلو کښے داسے اچولی وو چه په سودو سودو نے د زمانے د رفتار نه غافل ساتلی وو او په دوئی کښے څنے کسان نے د مغلیه بادشاهانو د زوړ دستور په رڼرا کښے په منصبونو او جاګیرونو خوشحاله کړی وو ـ علامه اقبال په "جاوید نامه،، کښے وائی ـ

امتان اندر اخوت ګرم خیــــــز — او برادر با برادر درستیــــز(۱)
از حیات او حیات خـاور است — طفلک ده ساله اش لشکر ګراست
بے خبر خود را ز خود پــرداختــه — ممکنات خـــویش را نشناختــه

---

(۱) جاوید نامه ـ صفحه ۲۰۷ ـ

ACKU

تن ز تن اندر فراق و دل ز دل　　بهت دارانے دل و غافل ز دل
ز مقاصد جان او آگاه نیست　　مرد ره رو را بمنزل راه نیست

څه رنګ چه څګنیږې ذکر شوے دے زاړه روماڼونه قصے او داستانونه د ملي ژوند د قومي خواصو او کمزوریانو عکاس وي او لکه د آئین په دود د قام وګړو او افرادو ته د هغوئي مخ ښکاره کوي - صدر خان هم په خپل روماڼ "آدم درخانئ،، کښے د دے کیفیت ډیر خیال ساتلے دے او د بیلو بیلو کردارونو په عمل کښے ئے بیلے بیلے خبرے په ګوته کړي دي - میر هاسي یا میر مائي چه د دے رومان یو ستر کردار دے د زر پرستئ او بے ننګئ یو ښکاره مثال دے (دلته زمونږ د دے خبرے د تاریخي اړخ سره څه غرض نشته ځکه چه په اول کښے مونږ میر هاسي په خپل عمل کښے تر څه حده حق به جانب ګڼړلے دے خو څه وخت چه د هغه د کردار دا دویم اړخ راشي نو هغه زمونږ په وړاندے د یو پساتي ( Villain ) په جامه کښے را څرګند شي) د هغه د زندے زرپرستئ صفا مثال د هغه بے ایماني ده - څه وخت چه هغه د خپلو تولو وعدو وعیدونو نه مخ واړوي او درخانئ په زور پایاوی ته حواله کړي - داځکه چه پایاوی هغه ته د پیسو تکو خوږکے وړکړے وو - هر کله چه هغه سل کالدارے او لیدلے نو زړه ئے ټینګ نه کړو او لکه چه صدر خان وائي -

میر هاسي وے چه جهان دے　　هم په دا زرو ودان دے
په دا زرو سر بازه شي　　هم زوزاد په زر شانده شي
معشوقه چه د هر چا ده　　په دنیا کښے دا دنیا ده
نام و ننګ تشں ستائنش دے　　زر در تبت دے زیبائنش دے

چه ننګ وړاندے زر ته شاکا
لیوني دی چه څوک دا کا

څه وخت چه آدم خان درخانئ د پیر مامی په کور ننواتے وروسته نو د برهان شاعر په قول -

پیرمامی وے درخانئ سه خفه کیږه　　وز به دے نه کړم پایاوی له په قلار
ـس سوارۀ زما زغره پوش واړه د جنګ دی　　دولس سوه سے توپک دی خبر دار
دا به واړه دلته ستا په مخ کښے مړۀ شي　　تا به بیا را نه یو نه ځي څه دے کار
درخانئ وے پیر مامی ته واک دے ځپل　　ستا به غولی زۀ راغلے ته م پلار
پیرمامی وے درخانئ مه خفه کیږه　　ستا زما به مینځ کښے دے پروردګار

هر کله چه پاپاوی خاصی خیل ته دا معلومه شوه چه په جنګ جګړه به درخانۍ په لاس را نه شي۔ او خپلو ورونړو عزیزانو هم ورسره د ننګ او سرښتے نه مخ واړولو نو دهٔ درشوت، حرص او طمعے لار سوزونه اوکنړله ۔ صدر خان وائي ۔

چه خاصی(۱) له تام مایوس شـــهٔ
په خپل فکر د ناموس شـــهٔ
بل ئے هیڅ مصلحت نـــه شـــهٔ
مکـر دا فکـر ئے او شـــــهٔ
که په سل کـــه پـه هزار شي
په رشوت به هر دا کار شي
بیے رشـوتـه بـــه تـمـامـه
کلـــــه چـــار شي له میر بامـه
نوډ ئے خو شلے مـــعـدو دے
و میـر بام و تـه نـقـــودے
د هوښیـــار په لاس ارســـال کړے
تر میر بام هغــه د رحـال کړے

د آدم خان او درخانۍ د خانے خانیګی په حقله د ذکر په موقع د دوئ څه مخصوص کور نه وو په ګوتـه کړے شوے۔ خو د وخت موقعے او ضرورت سره به ئے کډے په سر کولے ۔

یوسف زی پـــه هغـــه دور
د کـــوچي عـــالم پـــه طـــور
په هر ځائے به ئے میشتـــــه وه
ګاه پـه سیند ګاه په میـره وه
ګاه بـه لاړو د غـــرهٔ ښـوا تــــه
ګاه بـه بیا راغلـــه دریـا تـــه
چه ئے بنه د مال لیـــدلـــه
دوئ میشتـــه هلتـــه کـــوله

په دایے حالت کښے معلومیږی چه دوئ په مالی جوړ له بنه نه وو او هم د دغه خاطره ئے په ځائے باندے تکاؤ نه شو موندے د پیسے قدر ډیر زیات وو۔ نو څه وخت چه د خاصی له خوا استازے د روپو د همیانئ سره راغے او د میر بامی په مخکښے ئے را او سپړدله نو هغه ورته تینګ نه شو۔ او د آدم خان او درخانئ سرهٔ د کړے وعدے نه ئے مخ واړولو څـکــه چـه۔

زر بـــــــــلا دی زر بـلا دی
شیخ ګمراه کا وران ـــــــــلا کا
پـدر قتـــل پـه پسـر کا
پسـر قتــل پـه پـدر کا
ورور د ورور پـه تیغ حـــلال کا
عـــزیـزان ویلـــه پائمـــال کا
شرم ننګ لـــه سـړی ګـــم کا
دین لا هـم پـائـے مـــردم کا
د زر دشت پـــه اول ګـــوره
نوم د زرو دے خـان ژغــــوره
که د زرو په پـــرست شـــوے
زر دشتی آتـشـی پـرست شـوے
چـه د زر وجـود آتـشــــں دے
هـر زر دار څکه سـر کـشـں دے

---

(۱) د پاپاوی پـلار۔

ACKU

او درخانئی ئے په زور پایاوی ته په دولئی کښے واچوله په دغه وخت د میر باسی سره د پښتو ننګ غیرت او وعدے هیڅ فکر نه وو ځکه چه د هغه سترګو ته سپینے روپئی ځلیدلے وے او غوړونو ئے د ډبلو او کلدارو کړنګ اوریدلے وو ـ او د صدر خان د بیان مطابق ـ

کـه عجـم دی کـه عرب دی ــ پـه اکثـرو زر احـب دی
امـالا پـه افغـانانـو ــ په دے ورو ننګ چشمـانـو
تـر احـب لا احـب دی ــ نهـایت ئے پـه طلـب دی
نه ننګ ډیر د پښتنـو دے ــ امـا ورک ئے تـر پیسـو دے
لا یوسف دی که منـدنـړ دی ــ که ئے څوان که ئے کپړ دی
نهـایت پرے عـزیـز تـر دی ــ زر خـرید بنـده د زر دی
که ور څیـرمـه هنـبدکے زر ئے ــ خـان امیـر بـه دوستی ور کا
چه آغاز بنیـاد د ننګـ ئے ــ بیـا ئے زړو سـره رنګـ کا

**د آدم درخو روماني حیثیت ـ**

دا افسانه د پښتنو په ملی افسانو کښے د تولو نه زیات اهمیت لري ـ د غرونو میدانونو کوزے او برے سیمے پښتانه ئے تول په یو شان خوند سره وائی او اوری ـ د پښتنو د رباب غوږی په دے بدله باندے د بلے هرے بدلے نه زیات تاؤ شوی دی ـ او د زړو حجرو دیوالونو دا بدله د بلے هرے بدلے او سندرے نه زیاته اوریدلے ده ـ دا د پاکے او سپیڅلے مینے روداد د افسانوی خواصو هر اړخ لري ـ

آدم درخانئی یو المیه رومان دے ـ المیه یا تریجیډی ( **Tragedy** ) د حکیم ارسطو ( **Aristotle** ) د تعریف په رڼرا کښے "د (۱) یو داسے عمل (کردار) نقل او پیښے دی چه هغه اهم او مکمل وی ـ او یو مناسب عظمت لوړتیا (طوالت) لري ـ او په داسے ښکلے ژبه کښے لیکلے شوے وی ـ چه خوند کوی ـ ولے د دے په مختلفو حصو کښے په مختلفو ذریعو چه کوم د دردمندئی، ویرے او دهشت په ذریعه اثر اوکړی ـ او بیا د هغے د وجهے د پیدا شوؤ جذباتو او هیجاناتو اصلاح (هم) او کړی،، ـ

دا تعریف له هره اړخه په دے رومان صادق راځی ـ په دے المیه کښے د روئیداد اطوار، ژبے، تاثراتو، آرائش او موسیقئی هر صفت شته دے او درجه په درجه د ابتداء نه انتها او انجام ته رسیږی ـ او د آئی ایم ورما په شان ( **I. M. Verma** ) "لکه د طوفانی سمندر د ښکته کیدونکو پورته کیدونکو چپو او لهرونو په دوڼ د کردار عمل هم ښکته پورته کیږی،، ـ د روداد بیان څه په خوندنا که لحجه کښے راوړلے کیږی ـ

---

(۱) کتاب الشعر صفحه ۱۱ ـ

په ښکېنۍ باز دره کښې درخانۍ وه ستاره لښې
د ستارې ميرمن پېدا وه په ښائست کښې بې همتا وه
پلار ئې خان په نام موسوم وو په پردې په ځهل معلوم وو
درخو در وه پلار ئې خان وو له ترکيب ئې نوم عيان وو
چه در، خان وته مضاف شي
د درخانې نوم دريساف شي

د تاثراتو ذکر چه راشي‌نو هره خبره دابے معلوميږي لکه چه د زړۀ د کومې نه را پهر شوے وي ـ څه وخت چه آدم خان او درخانۍ يو تر بله په خبرو اترو او مشغولا سر وي نو د مينے او عشق دابے خوږے خوږے خبرے کوي چه د هر يو اوريدونکي اوده مينه را بيداره کړي ـ درخو وائي ـ

که ته' هر څو پروانه ئې زۀ ستا شمع غم د تا کړم
ته لا نه ئې پېدا شوے زۀ لښه په سر برېښا کړم
که ته' خان په سا سوخته کړے زۀ ځان بحو په ژړا کړم

آدم خان وائي ـ

در گوهر چه په عمان دی دا د تا د غاښو حق دے
چه گلونه په جهان دی ستا د حسن پيو ورق دے

هم په دے مکالمه کښے د نور خوند او مزے د اضافے د خاطره درخو په آدم خان طنز کوي او څه رنګ چه د عشاقو خاصه ده د هغوئي زړونه ډير نازک وي ـ او د معشوقے معمولي معمولي خبره ځان ته سوبرے کوي ـ درخانۍ هم په دے راز پوهه وه او په خبرو خبرو کښے آدم خان چېړي او تنګوي ئې ـ درخانۍ وائي ـ

د مشکنړو سوداګر وے د ګوهرو سے دلال کړے
که ته' ګل د کشمالي وے په ګريوان درخانے نهال کړے

د درخو په خبره آدم خان څه غمژن غوندے شي ـ او د خبرو انداز ئې څه بدل شان شي ـ او درخو ته دابے جواب ورکوي ـ

زۀ په اصل کښه باز يم چه په تازرکے شيدا شوم
اوس خندا په قهقهه کړے چه زبون ستا د خندا شوم

د آدم خان دے رد عمل ته د درخو خیال وو۔ او۔

د قطعے په اوریدلـه ... درخـو رو رو خندیدلـه
یعنے خـان زمـا بـد لـه ... پـه زړۀ ګـرانـه او منلـه
بو یه دا چه زړۀ نـے بـه کرم ... بـو د مینـے بیـان او کـرم

کوم رومان چه په سپېڅلې او خوږه ژبه کښې نه وی لیک، د هغې هیڅ خوند رنګ نه پاتے کیږی۔ ارسطو وائی چه په المیه کښې "څلورمه درجه ژبې ته حاصله ده یعنی ------ د الفاظو په ذریعه د تاثراتو ظاهرولو ته، نظم وی او که نثر، د هغې طاقت او د هغې اثر یو رنګے وی"۔

د آدم درخو دا رومان چه چا هم وضع کړے یا نظم کړے دے نو د ژبې د خوږوالی او مزے خاص خیال ئې پکښې ساتلے دے۔ که د فخرالدین صاحبزاده د نثر مسوده ده او که د مسعود، برهان، سید بوعلی شاه یا صدر خان منظومے بدلے یامثنوېانے دی په ټولو کښې د خوند او مزے پوره پوره خیال ساتلے شوے دے۔ فخرالدین صاحبزاده وائی۔ "عالم ورته ټولپ ارزوئی عذر خواهی او کړئی چه زما فهم هرګز په درخانه شوے نه دے که په ما په قصد بے التفاتی کړے وی خدائے بے دے په سترګو روند کا"۔

او یا دا چه "خان زۀ چه ستا لور ته کاته" کرم مرګ راته کړنګ دے دا صورت په و کړنګ ته پرېواته" کرم"۔

د مسعود شاعر د بدلے یو بند دا دے۔

چه آدم د رباب غوږ وربانده تـاؤ کـړ ... وچے شوندے په نغمه لکه رباب شوه
د آدم شرابو هسے مستی ور کـړه ... خلقه نے و نظر و ته سراب شـوه
هسے تـاؤ د عاشقئ ور ښکاره شـو ... لکه مار په ملا وهلے پېچ و تاب شوه

د برهان په بدله کښې هم دغه رنګ خوند او مزه ښکاری۔ (۱)

پیر مامی وے پاپاوی ته ډولئ راوړه ... درخو بیا په کور ته څه نښے اظهار
ډولئ راغله پیر مامی کـوڅـه کښې کیښوه ... بوه جینئ د ننـه لاړه پـه تـلـوار
جینئ او وے درخـانئ بی بی مـېـرمنے ... ستا کوڅے له ډولئ راغلـه څه اسرار

د سید بو علی شاه د بیان انداز داسے دے۔

د یار خیال نے تسلی د غمژن زړۀ وه ... ګیره شوے د غمونو پـه ګـړه وه
آدم خان د جدائی په میـره سـر وو ... د فرهاد پـه شان له ځانه ناخبـر وو

(۱) هارو بهارد دارستیتر صفه ۱۰۹

د فراق په اور کښې ناست وو سره دواړه  د وصال زمانه لیره وه خو لاړه
د سید بو علی شاه د خسولې خبرې
د مجلس په غوږ کښې راغلې مرغلرې

صدر خان وائی۔

آفرین په ښو یاراتو  په ربښتونی صادقانو
چه د یار د پاره یاره  سر قربان کا بې انکاره
نه حیله کا نه انکار کا  سر و مال فدا تر یار کا
په دا طور یاران کم دی  یاران دا وخت د غم کم دی
د راحت په وخت یاری کا
چه تنگه شی ویزاری کا

منظر کشی۔ | په رزمیه او بزمیه دواړه قسمه شاعرۍ کښې منظر کشی ډیر اهمیت لری۔ د منظر بیان د کتونکو مخکښې یو داسې ماحول تیار کړی چه هغه د آئنده واقعاتو د پاره مناسب او سازگار وی۔ کتونکے د کیر چاپیره ماحول نه په ښه شان سره خبر کړی، او بیا د واقعاتو په پیښیدو د منظر د مناسبت په وجه ښه پوهیږی۔ لکه صدر خان چه د بسکئ د وادهٔ په وخت د مجلس د غونډې بیان کوی۔

پیر صالح هم نشسته وو  هغه خانې پرې ښائسته وو
که یمین وو که یسار وو  ورنه ناست خلق بسیار وو
چه آدم ور لره راغې  در دیوار پانډې شه آغې
په قیام نې خلق واسع شول  لوئې هلک متواضع شول
آدم لاس مصافحه کړل  د پیر پائې په بوسه کړل
هغه نوورونې لاسونه  هم نیول په ښه وارونه
چه فارغ شوله دے کاره  په ښه ځائې کښیناستل یاره
په لیدل ئې اژدهام شو  هر لور سور په خاص و عام شو

د منظر بیان عموماً د نظم په آغاز کښې راوستلې کیږی دغلته دا یو قسم تمهیدی حیثیت لری۔ داسې تمهیدونه د پرک د بدلیدو سره بیا بیا را نیولې کیږی او د یو ساعت د پاره د واقعاتو درود نه یو طرف ته د ماحول په سل کښې سړے مشغولوی۔ د بازدرو د ماحول په حقله صدر خان وائی۔

د سهرے د غرهٔ په خوا کښې  بازدرے دی په هوا کښې
یکښېسے اوښے په دوونه  په هر جونې ښکلې کښونه

ACKU

کـه بهـار وی کـه خـزان وی　　پـه دوئی تـل بـارشـتـان وی
کـه سـردی وی کـه گـرمی وی　　پـه هـوا کښېـے نـه فـرمـش وی
نـه سـردی پکښېـے شدت کا　　نـه ئـے اوړے حـرارت کا

## آدم خان او رباب۔

رباب زنا په غیر کښې پسروت دے　　خوږے خبرے د اشنا راتـه کـوینه

په ټوله پښتو نخوا کښې عموماً او د یوسفزو په علاقه کښې خصوصاً د حجرو په مجلسونو کښې د پښتوا رابے رباب او منګے سره ترلی راغلی دی۔ تن هم د رباب مجلس د پښتنو د پاره هغه خوند نری، کوم چه څو سوه کاله اګاهو ئې ترلو۔ او بیا په تیره تیره د آدم خان درخانئی په رومان کښې خو رباب ته یو خاص مقام حاصل شوے او که موږ دا او وایو چه د دے رومان پیلاټ هم د رباب د تار په لرزېدو کښې دے۔ نو بے ځایه به نه وی۔ که د آدم خان رباب نه وے نو د بسکلې وادۀ له به د الی خادیانو به دله کښې دے هم لکه د نورو د. یو تماشبین په شان تلے وے۔ او د درخو د مینے غشو به په زړه نه وو ویشتلے۔ اوس هم څه وخت چه د آدم خان موه د چا پښتون خیال ته راځی نو د هغه رباب ته ئې هم ورسره سملښتی پام کیږی آدم خان او رباب، رباب او آدم خان په دے داستان کښې یو تر بله دومره زیات نزدیکت لری چه تن هم په پښتو نخوا کښې دا مشهوره ده چه ''څوک د رباب زده کول غواړی۔ که د آدم خان په قبر د ولاړے بیرے نه څانګه را پرے کړی او مضراب ترے نه جوړ کړی نو ډیر زر به رباب زده کړی،،۔ په رباب وغلو کښې د آدم خان د استاذئ او مهارت په باب کښې صدر خان وائی چه۔

موسیقی علـم ئـے ډیـر وو　　په مرونـد کښې ئې ډیر پښتو بلا
د سـرود پـه هر مقـام وو　　دے عـالم پـرے تـام پـه تمام وو
چه پـه دے په اول ساز څـو　　لـه عـراق به په حجـاز څو
بیا به کـوز څو خـراسان تـه　　بیا به اوخوت وبل شان ته
بیا به دے پـه خوښی شـو　　په بنه رنګـت به چـښکی شو
چه به بیا پـه تـرقی شو　　جـوړ به دے پـه عشاقی شـو
عشـاقی پـرده پـه ویـره　　دۀ خپـل شـان کړه تر هغه تهره
خبردار پـه هر مقـام وو　　شـان ئـے وخت پـه هـر هنګام وو
بے ځـګانه بـه هیڅ کـله　　دۀ پـرده تـه غـږولـه
چـه سرود بـه ئـے په هنګام وو　　اثـر څکـه پکښې تـمـام وو

په هنګام چه سرود کیږی ، خارا کاڼی هرې ترمیږی
چه به دۀ سرود په وخت کړو شیخ ملا به نی پرې مست کړو
چه به دې به بم په زیر شو په غرغشه ؤ به هم ویر شو
چه به دۀ ترمه چاشنی کړه روغ رنځور به کریانی کړه
چه به دې په اوچت شان شو هرې به سرې دست افشان شو
چه حاضر به عام و خاص وو
همګی به هرې رقاص وو

صدر خان خټک - په دې سلسله کښې بايد چه د صدر خان خټک څه قدرې ذکر هم او کړې شي - څه رنګ چه د دې نه آګاهو ويلي شوی دی د هغه ذاتی دلچسپی د دې واقعې په نظم کولو کښې نمایانه او جو ته (څرګنده) حصه لری - او خپل پلار ته نې هم داسې يو تجويز وړاندې کړې وو لکه چه په خپله نې ذکر کوی او وائي چه -

پوه ورځ په اشتغال وو د اشعار په قيل و قال وو
هغه دم له عاشقانو د رښتونی صادقانو
مذکور پښ شو ناګهانه ما عرض اوکړو له زبانه
ډير اشعار له هره بابه کتابت شو بې حسابه
د عشاقو افغانانو د ماضيو عاشقانو
کتاب يو چه نګار شي وروستنو ياتو يو يادګار شي

صدر خان د خوشحال خان خوئې وو - دوست محمد خان کامل په خپل کتاب خوشحال خان خټک کښې د دۀ ذکر د خوشحال بابا د دپارلسم خوئې په طور کړې دې - هغه د ميجر راورټي د ګرامر د مقدمې په حواله وائي چه "د دۀ (صدر خان) مور د ملک ملو خان ولد ملک اسماعيل خان يوسف زی لور او د ملک حمزه خان خور وه - دۀ د يو ديوان نه علاوه د آدم درخانئ قيصه هم منظوم کړې ده او د نظامی خسرو شيرين نې هم په پښتو کښې ترجمه کړې ده - د دوډې په جنګ کښې د پلار سره ملګرې وو ،، کامل صاحب د دوډې د جنګ په بيان کښې وائي - "او صدر خان چه د دې نه مخکښې نې جنګ جګړې نه وې ليدلې هم خپله نيزه د دښمن په وينو سره کړه،، - دا جنګ په ۱۰۹۱ھ کښې د رجب په مياشت کښې شوې وو - خوشحال بابا د دې واقعې ذکر داسې کوی -

د دې جنګ نارې به دروسی په ملکونو هرې خوښيږی به همه پښتون په نام
چه د دې سو به اواز اوشي په هند کښې يا به ژغ شي د بادشاه په خاص و عام

چه په نام پښتون غوښیږی پرے خوښیږی    اورنګ‌زیب هسے    بادشاه دے د اسلام
د اسد تحویل زر یو نوی رجب    وو    په دریم د جنګ اغاز شو دا کـــلام

هر کله چه د دودے جنګ په ۱۰۹۱ھ کښے شوے وو او خوشحال خان په ۱۱۰۰ھ کښے حق رسیدلے وو۔ نو د دے حساب نه معلومیږی چه د دودے د جنګ په وخت دے (صدر خان) د یوویشتو یا دیرویشتو کالو ځلمے وو۔ او د دے پورتنی بیان په رنړا کښے چه "او صدر خان چه د دے نه مخکښے نے جنګ جګړے نه وے لیدلے هم خپله نیزه د دشمن په وینو سره کړه"۔ یوویشت کاله یا د دے نه لږ اګاهو زیات قرین قیاس ښکاری۔

د مضمون په اولنی حصه کښے ذکر تیر شوے دے چه صدر خان د خپل پلار د مرګ نه اتلس کاله وروستو د آدم درخانی مثنوی سر ته او رسوله نو عمر ئے اتلس کاله وروستو د ځلویښتو او پنځوسو کالو تر خوا و شا وو۔ په دے حساب د خوشحال خان د وفات په وخت دے د دیرشو یا دو دیرشو کالو سړے وو۔ د دے نه معلومیږی چه د پیدائش کال ئے ذ ۱۰۷۰ھ او ۱۰۶۸ھ په مینځ ومانه کښے دے ـــــ ذ دهٔ د مرګ د تاریخ یا کال په حقله څه حتمی ثبوت نشی موندے۔ خو د څنو آثارو نه داسے معلومیږی چه عمر ئے د درے پنځوسو کالو نه بهرحال اوړیدلے وو۔

حبیبی په کابل کالنی کال ۱۹۴۴-۴۳ء کښے وائی چه د صدر خان د آدم درخانی یوه نسخه (O. R. ۲۵۰۴) په ۷۰ مخه په ‎$8\frac{1}{4}$"×۶" تقطیع په برټش میوزیم کښے شته دے۔ دا د میجر راورتی مجموعه معلومیږی۔ د دے کتاب د اثر نه معلومیږی چه د دهٔ عمر د کتاب د اختتام په وخت ۵۳ کاله وو۔ دا شان د حبیبی د خیال مطابق هغه په کال (۱۰۶۴ھ - ۱۶۵۴ء) کښے زیږیدلے دے؟

د صدر خان آثار۔ | صدر خان ډیر خونده ور کلام لری۔ په تحریرونو کښے ئے متانت او سنجیدګی ده۔ د فلسفیانه ذوق خاوند دے د شعرونو یو دیوان هم لری۔ خو دا وخت ډیر نایاب دے۔ پادری هیوز په خپل کتاب کلید افغانی کښے د دهٔ یو دوه غزلونه نقل کړی دی۔ د دے دوؤ غزلونو نه د هغه د ادبی ذوق او کلام د پوخوالی او لوړ معیار اندازه لګی۔

کسر۔ | دا یوه عامه قاعده ده چه شاعر د خپلے وینا (نظم، غزل، یا چار بیتے) په وروستی بند کښے یا چرته بل ځائے خپل نوم یا د نوم څه حصه یا خپل تخلص راوړی۔ دے ته په پښتو کښے کسر خیژول وائی۔ صدر خان خټک هم لکه د نورو شاعرانو

ACKU

خټل کسر به خیال ساتلے دے۔ خو عموما ئے خټل خان په "صدر خوشحال،، یاد ېږے دے۔ د "صدر خوشحال،، نه علاوه دهٔ یوازے "صدر،، هم خیژولے شے۔ او چرته ے خان په ابن خوشحال هم یاد کړے دے۔ دٔ صدر خوشحال کسر داسے راوړی :-

ســا آغــــازه دا نـــامـــه کــړه          خـــراســـانــه بے خامه کړه
أوس یـــاری صـــدر خــوشــحالـهٔ          غــواړه تـه لــه ذوالجــلالـــــه

بل ځائے وائی :-

چه ئے غم د عشق ډیــریــــری          هــومره دے په غم خـــونیـــــری
د عشق غــم صـــدر خــوشحالـه          لــوئے دولت دے بے مثـــالـــه

د دلے شهی په مثنوی کښے وائی چه :-

د عشق غم صــدر خوشحاله لوئے دولت دے
لوئے دولت لوئے عافیت لوئے سعادت دے

: ابن خوشحال کسر ئے داسے تړلے دے :-

راشه واؤره له ما ابے "ابن خوشحالــــه
دا رنګ ګل فلک له غمه کړو ملاله

په یو بل ځائے کښے وائی :-

هغه پیر وے واوره اے "ابن خوشحـالـــه
یو داستان به درته وائم بے اشــکالـــــه

د پلار نوم په خټل کسر یوړے د داسے ګلک تړلونه دا معلومیږی چه د صدر خان د خټل پلار سره ئے ګچه زیاته مینه وه۔ په ګلید افغانی کښے چه د دهٔ کوم دوه غزلونه راغلی دی په هغے کښے د اول غزل څه شعرونه دا دی۔

۱۔ ستا تر لب لعل و ګوهـــر هیڅ          ستا تر زلفـو مشک عنبر هیڅ
د عشق یـــو سبق کافـــــی دے          نـــور د ګل جهان دفتـــــر هیڅ
ستا ګفتار صدر خوشحالـــــــــه
کان د کان کړ د شکــــر هیڅ

---

(۱) پښتانـه شعراء صفحه ۱۸۶ ـ أدبیات سرحد صفحه ۳۱۲ ـ

ACKU

او دا غزل ئے د خپل ورور عبدالقادر خان ختک په جواب کښے ویلے دے۔

۲- لکه زړۀ چه زما وسه ستا په غم کښے ویتون هسے
شه وریت د جدائی په اور کښے بل بولړسون هسے
خط په مخ د ښائسته ؤ د قضا نخښے هم داسے
هر کمال زوال پذیر دے ددے خط دے مضمون هسے
لکه زده دی ستا د سترګو د جهان په مخ دلبره
نه دے هسے چالیدلے جنون هسے افسون هسے
لکه‌ما د یار په‌غم کښے‌وجود وسه ییاژوندے شوم
هیڅ پتنګ‌موندلے نه دے له چراغه ژوندون هسے
څه‌ساعت به ددنیاوی چه‌ے هسکستا په غمونو
ازلی‌پریوت محبوبے څوک به راوړی شګون هسے
پرون سور په انبالئی ته" نن په کټ د جنازے ځی
دا دنیا ده دائے دود دے چه نن‌هسے پرون هسے
چه تاوینی‌ګل ته‌ګوری او بۀ وینی تیمم کړی
په همه‌مذهب‌مردوددے که‌څوک‌کاندے‌تیبون‌هسے
ستا جواب عبدالقادر په دارنګ صدر خوشحال کړ
څو یے خانه زۀ ویل کړم بل به نه کا پښتون هسے

دا غزل صدر خان د یوے فی‌البدیهه مشاعرے په وخت د عبدالقادر خان ختک په جواب کښے ویلے دے د عبدالقادر خان د غزل مطلع ده:-

لکه زۀ په یار مفتون یم بل به نه وی مفتون هسے
لکه زۀ پسے محزون یم بل به نه وی محزون هسے

او په مقطع کښے وائی چه:-

دا غزل په پښتو ژبه چه بیان عبدالقادر کړو
دروغ‌ژن یم که یے خانه وائی بل بو پښتون هسے

په دے تاریخی مشاعره کښے د خوشحال خان په یوه مصرع باندے په بدله قافیه غزلونه ویلی شوی وو۔ ویلے شی چه د شعر په میدان کښے به دے مقطع ډیره هنګامه شوے وه او په جواب کښے ئے ګڼرو شاعرانو غزلونه ویلی وو۔ د خوشحال بابا د غزل مطلع دا وه:-

---

(۱) پښتانه شعراء صفحه ۱۸۸ - (۲) پښتانه شعراء صفحه ۱۸۲ -

لکه زۀ په یار مئین یم، بل به نه وی مینن هسے
لکه زۀ پسے غمژن یم بل به نه وی غمژن هسے

او مقطع ئے دا رنګ وه :-
چه خوشحال خټک ئے وائی په پښتو ژبه خبرے
په فارسئ ژبه به نه وی که پوهیږے سخن هسے

حبیبی په خپل کتاب پښتانهٔ شعراء کښے لیکی چه د عبدالقادر خان د غزل مقطع پښتانهٔ شاعران را او پاره ول - "څکه چه پښتانه ډیره غبطه او د سیالئ حس لری - نو د عبدالقادر خان په استقبال دے خبرے ته دوئ ډیره اغیزه کړے او احساسات ئے ورپښورولی دی!

ډیرو شاعرانو د عبدالقادر خان په استقبال خورا خوږے او اوشیوا او رشیقی بدلے ویلی دی - او د فصاحت او بلاغت دا د ئے ورکړے دے -

په دے مشاعره کښے (معزالله خان، محمدی، صدر، اشرف، عثمان، غفور، او دلـ شرکت کړے دے،، -

په خپلو ورونړو کښے د شعر په میدان کښے د دهٔ شخصیت د حبیبی په نظر کښے په "هجری،، او "عبدالقادر خان،، پسے دریم راځی - هغه وائی "صدر خان لکه خپل نور ورونړه، یو ادیب او شاعر او پوهه پښتون دے، چه په خپله کورنئ کښے د کلام په متانت او د شعر په پوخوالی تر "هجری،، او "عبدالقادر خان،، وروستو مقام لری - ژوندون ئے عاشقانه دے - د عشق او مینے د دنیا سوے او خوږ تر هر څه خوښوی او د نړئ ټول دفاتر او علوم د مینے تر یوه لوست قربانوی -

د عشق یو سبق کافی دے نور د کل جهان دفتر هیڅ،،

د خپل نایاب دیوان نه علاوه صدر خان د نظامی خسرو او شیرین هم په پښتو شعر کښے ترجمه کړے دے - دا هم ډیر کمیاب کتاب دے - د دهٔ په شعر د فارسی اثر غالب دے او په مثنوی کښے د نظامی نه ډیر زیات متاثر ښکاری - د دلے شهئ او آدم درخو دوارو مثنویانے د پښتو قصے کوونکو د عمومی انداز نه جدا دی او فارسی رنګ پکښے جوت ښکاری -

---

(۱) پښتانهٔ شعراء صفحه ۱۸۶ -

اوپیر عالم او پوهه سره معلومیږی د آدم درخو په مثنوی کښې ئې بند په بند په فلسفیانه نکتو، د عشق په رموز و اسرار او اخلاقیاتو به خوندور بحث کړے دے ولے د بحث په دوارن کښې ئې بیا هم د واقعاتو د تړون زنځیر د لاس نه سست شوے نه دے۔

حبیبی وائی چه "صدر خان په شعر کښې د خوشحال خان خټک په سبک ځی او د خپل پلار پیرو دے۔ کلام ئې د خټکو د کورنئی په خیرخوږ او بے وله او سلیس ښکاریږی،،۔

د صنائعو کمتر پاتکی به داسے وی چه دے به ورته حتلے نه وی د مضمون د خوږوالی او روان بیان په سبب ورته موثر د پښتو نظامی که او وایو نو بے ځایه به نه وی۔

اشرف خان هجری په خپل یو مشهور نظم کښې چه د پښتو د ادبی تاریخ د ښکے غمے دے د صدر خان نوم هم ستائلے دے۔ وائی چه۔

| | |
|---|---|
| د اشعارو ملک ئې تول په ژبه خپل کړو | په سرپیر د نظم شاه بل سکندر دے |
| صدرخان عجب گوهر سخن شناس دی | رحمن لا په دا هنر د تورو(۱) غر دے |

د صدر خان په معاصرینو کښې اودل نومے یو شاعر د صدر خان ستائینه کړے ده او په هغه غزل کښې چه د عبدالقادر خان د غزل په جواب کښې ئې ویلے وو۔ اودل د حبیبی په تفسیر ویلی دی چه "عبدالقادر خانه! ستا جواب صدر په ښه شان اوکړو او اودل دے هم جواب اوکړو۔ او داسے پښتون پیدا شو۔ حال دا دے چه تاویلی وو چه بے خانه بل پښتون نشی پیدا کیدے چه داسے غزل اووائی،، د اودل د غزل مطلع ده۔:

لکه زه یم ستا په غم کښې ډک له وینو لړمون هسے
نه په پان نه به حنا وی پر په وینو دروں هسے

او په مقطع کښې ئې د صدر خان ذکر داسے کړے دے۔:

ستا جواب عبدالقادره! په ښه شان دے صدر کړے
هم اودل دے جواب اوکړو چه پیدا شو پښتون هسے

حبیبی چه د خوشحال خان د سبک په لړ کښې کوم شل تنه یاد کړی دی په هغوئی کښې ئې د صدر خان نوم په دریم ځائے ایښے دے۔ هغه د خوشحال خان

---

(۱) دیوان هجری صفحه ۲۴۶۔

د مکتب د غړو اته ښکاره صفات بیان کړي دي او د پښتو ادب د ټولو مکتبونو نه ئې غوره او افضل ګڼړلے دے۔

**د صدر خان نثر۔** د صدر خان خټک لکه د خوشحال بابا یا افضل خان خټک د نثر د لیکونو څه ځانته آثار خو په ګوته نه دي راغلي ولې په خپله مثنوي آدم درخانئي کښې ئې ځائے په ځائے لنډ لنډ شان تمهیدي بیانونه ورکړي دي۔ دا تمهیدونه یاسري د عامو قصه ګوونکو د دستور نه بالکل جدا دي۔ په پښتو قصه ګوونکو کښې دا دستور عام دے چه دا تمهیدونه په فارسئي ژبه کښې راوړي۔ لکه د ګلزار عشق افغاني، المعروف قصه شهزاده بدر منیر و ملکه بینظیر، الف لیله جدیده، قصه شهزاده ممتاز، د ملا احمد جان او شاهنامه به زبان افغاني تصنیف ملا نعمت الله. مثلاً د الف لیلے یو سرے دے چه "بروز دیګر شهر یار بعد از انفصال امورات سلطنت تشریف به حرم آوردن و بزم عیشق و طرب آراستن و ملکه شهرزاده او را به وعدهٔ دیروزه قصه غانم و فتنه ګفتن،، د صدر خان د دے قسم نثر یو ټکړه دا ده۔

"خبریدل د آدم خان په ورکول د درخانئي له زبانه د یوے بدئي او بد دعائي کول د آدم خان په باب د نیر بابي۔ او هم له هغه چه خبر شه، جاروتل و خپل کور ته چه کور ئې میشته په هغه وخت په زاړه پیر چه مشهور په زړه سینه دے۔ او هم هغه وخت چه آدم خان داخل په خپل کور شو په رنځ د نس خوږي له از پس فراقه پریوت۔ خلوبښت ورځے د درخانے له طرفه دستے د ګلو ورته راتلے پرے پائیدهٔ آخر ئې له جهانه فاني کوچ اوکړو،،۔

**د صدر خان د آدم درخانئي قلمي نسخه۔** دا کتاب اد خفیف بحر په مثنوي کښے لیکلے شوے دے۔ د بیتونو هره یوه مصرع ئې اته سیلابه ده لکه د کتاب د آغاز بیت دے چه۔:

زما پلار خانئے ئې جنت شه     په اولاد ئې برکت شه

د سیلابونو شمار ئې ملاحظه کړئ۔

ز، ما، پلار، خانے، ئې، ج، نت، شه
په، او، لاد، ئې، ب، ر، کت، شه

د دے کتاب یوه قلمي نسخه چه د چارسدے د سعادت آباد خواجه محمد خان خټک پښتو اکیډیمئ ته ورکړے ده۔ د دے سره "دلے او شهئي،، قیصه هم ده. دا هم د

صدر خان تصنیف دے۔ د دواړو مجموعي ضخامت (۱۷۶+۱۰۰) ۲۷۶ صفحے دے تقطیع ئے ۸×۱۲ دہ۔ پہ دے مجموعہ کښے پہ یو مخ د آدم درخانئ د مثنوي پنځلس کرښے دي۔ حالت ئے ډیر ضعیف دے۔ څہ حصہ ئے وینو خوړلے دہ او کاغذ ئے رنګ اړولے دے څہ حصہ ئے د اوبو زیم خرابہ کړے دہ او د بوے ډډے او بلے ډډے نہ ئے پاڼړہ نیمہ یے ځایہ شوے هم دہ۔ د صدر خان د آدم درخانئ یوہ نسخہ د حبیب‌الله آثم د تیری نہ اخیستے شوے دہ۔

د آدم درخانئ د مثنوي تنقیدي جائزہ۔ | ښکار دي چہ اوس د پښتو ادب د دے خوندورے نمونے پہ ځنو هغہ مضامینو یو نظر واچولے شي۔ او دا او کتے شي۔ چہ د صدر خان پہ نظر کښے څومرہ وسعت او د معلوماتو او پوهے لمن ئے څومرہ خورہ ورہ وہ۔ هسے خو د ځنو پہ خیال مثنوي یا بدلہ د پښتو شاعرئ پہ اصنافو کښے د هر څہ نہ پخوانے صنف دے۔ خو د خوشحال خان د کورنئ یو خ قلم او علمي لوړتیا دے تہ هغہ تول خوند او ښائست راوستو چہ د مثنوي د تکمیل، ښائست او خوند د پارہ ضروري وي۔ د مثنوي پہ حقلہ ډاکټر اعجاز حسین پہ خپل کتاب "مذهب و شاعري،، کښے وائي چہ "یوازے مثنوي د شاعرئ یو داسے وسیع صنف وو چہ پہ آسانہ سرہ پکښے هر څہ نظم کیدے شول۔ د غزل ، قصیدے تولو مضامین پہ دے کښے جذب کیدے شول او د خوش قسمتئ نہ داسے او هم شوہ۔ غرض دا چہ کہ سوږ د دے پہ ابتدائي اوږخ نظر اچوو نو پہ فارسي رائج‌الوقت اصناف سخن کښے مثنوي د تولو نہ قدر منہ ښکاري،،۔ پہ پښتو مثنوي کښے د مضامینو تړون پہ دغہ انداز کښے شوے دے۔ د تصوف میدان دے کہ د عمل زغل، د اخلاقیاتو مکتب دے او کہ د تربیت کشربیخ۔ صدر خان خټک هم پہ خپلہ مثنوي کښے د دے تولو خبرو پورہ پورہ خیال ساتلے دے۔

تعلیم و تربیت۔ | تعلیم او تربیت د انسان د ژوند پہ اساسي مقتضیاتو او بنادي ضروریاتو کښے ډیر اهم ځائے او لوړ مقام لري۔ د ازل نہ د تهذیب او ارتقاء خواهش د هر ماحول د بنیادیو خاصہ راغلے دہ او تل ئے دا تقاضا لرلے دہ چہ د معاشرے او 'ولس ودانے او پر مخ تګ او عمومي ترقي دے روانہ وي او هر څوک دے د خپل خوا شا د اخلاقي آئینے غخے تہ ښائستہ، ښکلے ، سپیځلے او ډولناک لیدے شي۔ د پښتنو نوړورو او درنو مشرانو هم همیشہ دا احساس او خیال لرلے دے۔ او پہ هر وخت او هرہ موقع ئے د دے احساس مظاهرہ د خپل قول عمل او کردار پہ ښا کړے دہ۔ نور میدانونہ بہ ئے فی‌الحال پریږدو خو د ادب پہ میدان بہ لږ نظر واچوو۔ نو د کټرو ورو ورو نظمونو نہ علاوہ د تصنیفاتو او تالیفاتو ډاسے مجموعے بہ هم او مومو چہ دا خبرے پکښے ذکر شوي وي پہ دوئي کښے د خوشحال خان خټک دوہ مشهور کتابونہ دستار نامہ او فضل نامہ خاص اهمیت لري۔ خوشحال بابا د فضل نامے پہ حقلہ وائي چہ:

د حکمت لـه کتابونـــو     راوتلی لـه بابونـــو
د دنیا د زیست خبرے     پکښے هم ښته دے نادرے
دین دنیا به پکښے مومی     ده په حکم ئے څوک دروی
دا کتاب چه درست زیبادے     سرا سر فضل عطا دے
چه عطا نه وی له غیبه     کر خالی نه وی له عیبه

دغه رنګے صدر خان هم په خپل مثنوی کښے یو ډیر لوړ فکر وړاندے کړے دے ـ هغه د فرد تربیت د اولس مجموعی تعلیم او پر مخ تګ بیان کړے ـ

د حیـوان اخـــلاق بدلیـږی     پـــه تعلیـم آمـوختـه کیـږی
-------------------------     -------------------------
د حیـوان اخـلاق بـدلیـــږی     د اخـلاق تهـذیب ئے کیږی
و لا کـن چـه کـمالات دی     تـر دا حـد د حیوانات دی

د دهٔ په نیزد چه د انسان تربیت په خوند وره طریقه جاری او ساتلے شی نو د هغه نه د یو ے تهذیبه شړ شبار کس په ځانے ښائسته، خوږ، دروند او با اخلاقه انسان جوړ شی ـ او د انسان د اصل مقام د منزل په لور روان شی ـ

چـه پـه وصف د انـســان شی     کمل تـر هغـه حیوان شی
د انســـان کمال هغـــه دے     څــو اعلے بلند پـایـه دے
پـه اخـــلاق د الـهـی شـی     پـه وصـال ئے کمـاهی شی
دا آدم هغــه لـوئے څیـز دے     چه د خدائے پـه خوئی عزیز دے
-------------------------     -------------------------
دا خلقت چـه د انـسان دے     دے بـزرګ د درست جهـان دے

خو هغه د انسان د دے قسم تربیت د باره علم ډیر زیات ضروری ګڼړی ـ او غواړی چه هر سړے دے د موجوداتو د تحقیق څیړنے، او مشاهدے، خوټی بوټی په ځان کښے پیدا کړی او په دے طریقه دے د پر مخ تګ دا سلسله جاری او ساتلے شی او کمال او عروج ته د رسیدو لارے دے هوارے کړی ـ

آدم او وے عـلـــم کـوم دے     چـه تحقیـق په دهٔ معلـوم دے

الـعـلـم مـا يتحقق بـه الـمـعـلـوم

علم هغه تـه وایهٔ شی     چه معلوم پرے پیلاوهٔ شی
علم هغه ته وایـهٔ شـی     چه تمیز په دهٔ کاؤه شی

ACKU

ولے دے دا هم وائی چه هر څوک چه د علم په جامه ښائسته شی نو د هغه نه په دنے خان ور ښیدل نه دی پکار او نه ورته په خپل علم غره کیدل پکار دی۔ مشهور متل دے چه که "د درست تلی ملک نے چه د ځانه خبر نه ئے نو هلک ئے"۔ او علم چه د ځان نه د خبریدو یوه ذریعه ده نو باید چه د سړی نه په دے باندے ځان ورک نه شی۔ داسے ور ښیدل سړے د خپل اصل مقام نه را وا غورزوی او که ریښتیا وائے نو د داسے خلقو د علم لمن ډیره لنډه تنګه او ډېوهے میدان ئے ډیر وړوکے او محدود وی۔ او لکه د تنګ لوښی لیرے اوبه ئے هم د غاړو توئیږی۔ دغه شان د هغوی هغه محدود معلومات او لنډ تنګ علم د هغوی د ذهن په ورکوتی شان لوښی کښے نه ځائیږی او اکثر ترے نه بیخایه داسے کارونه اوشی چه د هغه د دے قسم تنګ ظرفی ثبوت لری۔ صدر خان وائی۔:

چه د خپل ګمان تابع وی دوئی لـه علمـه بے طالع وی

علم او عمل۔ | خو علم که یوازے علم شی او عمل ورسره نه وی۔ نو داسے علم هیڅ فائده نه لری۔ د دے مثال داسے دے چه یو رود یا سیند خو په یوه علاقه بهیږی۔ خو دواړو غاړو ته زمکه ئے اوچه او غیر آباده ده۔ دا آبادی هله ممکنه کیدے شی چه د دے سیند نه رودونه نهرونه او ولے او ویستلے شی او په خواؤ شا زمکه باندے لکه د جال په دود خورے کړے شی۔ هله به زمکه شنه شی۔ فصلو نو به زرغونه او اونے بوتی به را او توکیږی۔ باغونه به او لګی او ملک به ګل و ګلزار شی۔ دغه مثال د علم دے که عمل ورسره مل وی نو فائده کوی او که نه وی نو۔

دونـــم دا چـــه بزرګانـــو اصـــولـــی محـقـقـانـو
دا ویلـــی مـکـــرر دی ښـــه ویل دی معتبـــر دی
عـلـم بـے عمـلـه خــــه دی د ګاؤ شخوند، په شنه وا ښه دے

د علم دے حقیقت ته علامه اقبال په جاوید نامه کښے د پیر رومی په ژبه هم داسے اشاره کوی۔:

"عـلـم را بـر دل زنـی یارے علـم را بـرتـن زنـی مـارے بود

علم د معرفت د لارے رڼرا ده او دا معرفت د محسوساتو او موجوداتو دواړو په حقله د معلوماتو حاصلولو ذریعه ده۔ قرآن کریم د انفس او آفاق دواړو د مطالعے تلقین کوی۔ او په دے خبره زور ورکوی چه په جماداتو نباتاتو ستورو نمر او سپوږمئی تولو

---

فکر اقبال صفحه ۴۳۸۔

باندے ژور نظر واچوی ـ د صدر خان د دے خیال تائید په اقبال کښے هم موندے شی ـ هغه فرمائی چه "د یونان د فلسفے لوئی امام سقراط وائی چه انسان له فقط د انسانی ژوند مطالعه بس ده ـ قرآن خو د کبین بجئی د خدائے پاک د وحی نه مستفیده کړی او د دے په عجیبه اعمالو غور کول د ایمان د پوخوالی سبب کړی ـ د سقراط یو مقتدر شاگرد د محسوساتو دنیا ته د سپکاوی په سترگه گوری او د اعیان ثابتهٔ په تلاش کښے د دوئی نه د مخ اړولو هدایت کوی ـ قرآن انسانی حواس لیدهٔ او اوریدهٔ د علم ذریعه او د خدائے پاک نعمت گڼړی ـ په حواسو چه کوم علم حاصلیږی هغه هم د حقیقت د یو اړخ علم دے"ـ

علـم اسمـاء اعتـبار آدم است　　　حکمت اشیاء حصـار آدم است

د علم د حصول دا قسم احساس د نوموړی شاعر صدر خان په زړهٔ کښے هم داسے ژوندے دے ـ هغه علم د انسانی فضیلت سبب گڼړی ـ او د هر سړی د پاره د دے حصول فرض عین خیال کوی او د عمل نه ئے اول ضرورت محسوسوی ـ هغه علم په مثال د بوے لارے گڼړی چه لار معلومه شی نو لار وے په داده زړهٔ د منزل په لور دروی ـ

چـار د علـم فـریضـه ده　　　چـه طـلـب کا پـه همـه ده
د عمـل علـم اول کـړه　　　لار پیدا کړه بیا پرے زغل کړه
د علـوم گوتی پـه دل کـړه　　　بیا غمے پکښے عمـل کړه

د علم اهمیت ئے داسے بیان کړے دے ـ:

چـه پـه علـم کـړو کـوروی　　　پـه قیامت به ئے مخ تـوروی
په دنیا به د خـرهٔ وروړ وی　　　پـرے بدنام به پلار و مور وی

خو د علم سره چه عمل ملگرے نه وی څه رنگ چه د دے نه وړاندے ذکر شوے دے داسے علم هیڅ فائده نه لری او څوک چه د علم د میدان سره د عمل د نیلی د سورلئی اموخته نه شی داسے علم د سړی د پاره د نقصان او ضرر سبب کیږی ـ

هغـه علـم د تـا یار دے　　　چـه عمل څنے اظهـار دے
بے عملـه څـه پـکار دے　　　بار ئے مه گڼړه تور مار دے

حضرت مولانا رومی هم داسے فرمائی ـ:

علم هائے اهـل دل حمال شان　　　علـم هائے اهـل تن احمال شان
علم چون بر دل زند یارے بود　　　عـلـم چون برتن زند مارے بود

---

هین مکش بهر هوا این بار علم　　　تا ببینی در درون انبـار علم
جون نه بر رهوار علم آئی سوار　　　آنگـهان افـتد ترا از دوش بـار

ACKU

هر کله چه سړے د علم په جامه پټ شي او د علم جستجو تلاش او لټون ئے د ژوند اساس او مقصد او ګرځي نو د هغه ظاهري حالت که هر رنګه وي خو د جاهل او نا پوهه سړي نه په هر حال کښے غوريز وي ـ او خدائے پاک د هغه کوشش زيار او ډرون بے ځايه نه بيائي، د قرآن شريف ارشاد دے چه ـ والذين جاهدوا فينا لنهدينهم سبلنا ـ او هغه څوک چه جهاد (زيت کوشش، زيار، وس کړون، محنت) کوي په سوبو کښے (د الله تعالی په کائنات کښے) مونږ به ډېرو سرو هغوئي ته ځيلے لارے ګودرے وو اوښيو ـ ـ صدر خان وائي ـ:

| | |
|---|---|
| د عالم تمام طاعت دے | د جاهل طاعت غفلت دے |
| د عالم ذلت عزت دے | د جاهل عزت ذلت دے |

کله چه د دے خبرے په حقيقت پوهه شي نو د معرفت منزل ته ئے لار سمه شي ځکه چه د علم ابتداء او انتها د مجاز او حقيقت ترون راولي ـ او د فرد د تکميل او ارتقاء د پاره پاتکي جوړوي ـ او په دے پاتکو د خدائے پاک قرب او نزديکت حاصلوي ـ

| | |
|---|---|
| گفت ايزد يحمل اسفاره | بار باشد علم کاں نبود زهو |
| علم کاں نه بود زهو بے واسطه | آں نه پايد همچو رنګ ماشطه |
| ليک چوں ايں بار را نيکو کشي | بار بر گيرند و بخشندت خوشي |
| -------------------- | -------------------- |
| هيچ نامے بے حقيقت ديده | ياز کاف و لام کل گل چيده |
| اسم خوانده رو مسمی را بجو | مه به بالا دان نه اندر آب جو |

صدر خان وائي ـ:

| | |
|---|---|
| دا نور علم که هنر دے | بو تش جسم مختصر دے |
| چه و حق وته رهبر دے | هغه علم معتبر دے |
| حقيقت دا دے له ځايه | موجود هيڅ نشته بے خدايه |
| يو واحد دے خود نما يه | جلوه‌گر په دواړه سرايه |

مطلب دا چه د علم انتها وحدت الوجود دے او حقيقت دا دے چه ـ:

په هر شه کښے ننداره د هغه مخ کړم
چه له ډيرے پيدائی ناپديد شو

خوشحال خان خټک ـ

څه وخت چه دا علم حاصل شي نو د فرد شخصيت تکميل او سوبی ـ د داسے علم مثال د بوے سيغلے وي چه د عشق بازی پرے کيږي او سړے د بلے هرے بوے

لاړے نه بے نیازه کوی ـ د هغه زړه نه خو د عام اولس په شان په معمولی معمولی خبرو غنیږی او نه ورته وړے وړے خبرے سورے کیږی ـ هغه د هغے منزل په تلاش لټون او تکل کښے وی چه د ټولو خواصو او ښائستونو مرکز دے هغه په یو مخه په یوه ستره او تریکه خپل دے منزل ته ځان رسول غواړی ـ او څه وخت چه هغه خپل ځان په دے کار کښے داسے محو کړی نو بو خوا بل خوا د کتلو فرصت ورته نه وی ـ دا رنګے د هغه په عمل او ژوند کښے یکسوئی راشی او د معرفت د بڼ خوش بیا نه طوطی ترے جوړ شی او داسے دا سفر سرے د عشق مقام ته او رسوی ـ صدر خان د آدم خان په ژبه وائی ـ :

دا د عــلــم نتیجــــه ده — چه په ما کښے ئے شغله ده
دا شغلـه د عشـق بازی ده — نه بازی ده شاهبازی ده
دے شغلے تـه عشق خس دے — نام و ننګ ورتـه عبث دے
چـه د چـا علـم کامـل شی — نـور ئے دا شغلـه حاصل شی
غم الم یکښے هـوس شی — زړه ئے اور چـراغ نفـس شـی
زړه ئے داغ داغ ئے ملهم شی — غم ښادی ښادی ئے غم شی
هم جانان هـم جانانـه شی — هم شراب غـم پیمـانـه شی
ګاه بلبل شـی ګهے ګل شی — ګهے ګل شي ګاه بلبـل شی
دا شعلـه ده پـه ګلـزار کښے — دا نغمـه ده پـه هـزار کښے
پـه چـراغ کښے دا جلـوه ده — پـه پتنګ کښے دا شغلـه ده
پـه دا تبـه شـاخ د ګلـو — دے لـرزان بـال د بلبلـو

کـه مجـاز کـه حقیقت دے
محبت واړه دولت دے

د قرآن حکیم ارشاد دے ـ و من یوتی الحکمته فقد اوتی خیراً کثیراً "چا ته چه حکمت عطا کړے شو بے شکه چه هغوئی ته ډیره فائده ورکړے شوه،، او هم دا رنګ په یو حدیث شریف کښے راغلی دی چه الحکمته ضاله" المومن اینما وجدها فهو احق بها چه "حکمت د مومن ورک شوے شے دے چرته چه ئے هم او مومی هغه د دے زیات حقدار دے،، ـ علامه اقبال چه د پورتنی آیت په رڼا کښے څه ویلی دی د هغے مقصد هم د صدر خان خټک د دے پورته ذکر شوؤ اشعارو په څیر دے ـ هغه وائی ـ :

"ګفت حکمت را خدا خیر کثیر — هر کجا این خیر را بینی بګیر،
علم حرف و صوت را شهپر دهد — پاکئی ګوهر به نا ګوهر دهد
علم را بر اوج افـلاک است ره — تاز چشم مهر بر کندد نګـه
نسخه او نسخه تفسیـــر کل — بسته تدبیر او تقـدیــر کل

دشت را گوید حبابے ده دهـد — بحر را گوید سرا بے ده دهـد
چشم او بر واردات کائنـــات — تا ببینـد محکمـــات کائنـات
دل اگر بندد به حق پیغمبری است — ور ز حق بیگانه گردد کافری است

---

از جلال بے جمالے الامـــان — از فراق بے وصالے الامـــان
علم بے عشق است از طاغوتیـان — علم با عشق است از لاهـوتیـان
بے محبت علم و حکمت مـــردهٔ — عقل تیرے بر هدف ناخـوردهٔ

د عشق حقیقت په صدر خان پوره پوره واضح دے او مقام ئے د علم، عقل، زور او قوت نه ډیر بالا کنړی په خپل یو غزل کښے ئے ویلی دی چه :-

د عشق یـو سبق کافـی دے — نـور د کل جهـان دفتـر هیڅ

د عشق مجازی په پوړو د عشق حقیقی منزل ته لار جوړیږی - په دے جوړ د کائنات او عالمُ انسانی د ارتقاء سلسله روانه وی - په ابتداء کښے د مینے ذ اوږ یو ورکوټے شان سپرے د زړهٔ په دور اولگی خو په دغه وخت کښے عقل د دهٔ په لار کښے مانع کیدل غواړی او د حیا شرم او ماحول د پابندیانو رعب پرے اچوی - او د عقل او تمیز کمزورئ ئے په لاره کښے بے شماره ازمونه شی - خوچه څومره دمینے په دے سپری کښے توان، زوند او حرارت وی هم په دومره سرعت او تیزئ سره هغه د دے ټولو بندیزونو نه تیر شی او لکه د درخانئ د مینے د ابتداء-

بیا ئے عقـل حیـا یـاره — مـانعـان شـول لـه دے کاره
عـاقبت چـه عشق پیــدا کا — زور قــوت عقـل بے پـــا کا

د عشق اصل مقصد د نور حقیقی تلاش وی - او هر تلاش کوونکے د خپل فکری بساط او رسائی د قوت په حساب د دے نور یو مقام متعین کوی - او بیا دغے طرفته د نزدیکت لارے معلوموی - هم دغه شان مشهور فلسفی ډاکټر خلیفه عبدالحکیم چه په خپل کتاب فکر اقبال کښے د یونانی فلاسفر فلاطینوس اسکندروی د نظرئیے په حقله چه څه لیکی هغه عیناً د صدر خان د عقیدے تائید دے-

"ذات (۱) خالص چه ذات احد دے هغه د ټولو صفاتو او تعیناتاتو نه بے انتها لرے والے لری - هغه یو نـور محض دے چه نفوذ او خلائے په ټولو موجوداتو کښے کیږی،،-

---

(۱) فکر اقبال صفحه ۳۵۰ -

ACKU

او د دے نکتے وضاحت داسے کوی۔:

"د موجوداتو نظام تدریجی حیثیت لری چه د نفس کلی ، روح کلی یا عقل کلی نه شروع شی او په مادۀ محض ئےسر ختمیږی۔ په دےنظام کښے د هرے هستئی درجه د نور ورکولو په حساب متعین کیږی کوم چه هغه ته د نور حقیقی نه حاصلیږی۔ په زیاته لوړه درجه دا نور زیات وی او د دےنه په لاندینی درجه کښے مقابلتاً کم، د ذات احد نه ترما دے پورے د تنزلاتو یوه سلسله ده،،

د مسلمانانو صوفیاؤ عقیده هم د دے سره لګی۔ حضرت محی‌الدین ابن عربی هم دا نظریه لری او د خالق او بنده په مستقلو حیثیتونو زور ورکوی۔ د دے نظرئے له رویه د نور اخیستونکی د قبول د استعداد اندازه هم لګی هم دغه عمل د نور د تنزلی مدارجو سره روان وی او په دے سره د حقیقی او مجازی عشق مدارج هم متعین کیږی خو بیا هم۔

که مجاز که حقیقت دے محبت واړه دولت دے

صدر خان د انسان د فضیلت راز په عشق کښے موندے دے د هغه خیال دے چه د انسان دا مقام هغه ته د هغه د مینے احساس ور بخښلے دے۔ که چرے دا نه وی نو هغه د یو بچارهائے خناور یا ښاروی نه هم کم دے۔ او هم هغه د تدریجی تنزل اصولْ د دۀ په دے عمل کښے کار کوی۔:

چه یے عشقه هر آدم دیے تر چاپانے بهانم دے
عشق په بخرو د آدم شو خکه هسے مکرم شو

دا مضمون د یو صوفی په نظر کښے داسے دے۔:

عشق و اوصاف کردگار یکے ست عاشق و عشق و حسن یار یکے ست

علامه اقبال د دے عاشق د مقام هم دغه رنګ ترجمانی کړے ده۔:

بر مثال خویشتن حرفے نوشت نام آں حرف آدم و حوا نهاد
هم به چشم خود جمال خود بدید تهمتے بر چشم نابینا نهاد

انسان چه د عشق په رنځ رنځور شی نو په زړۀ ئے د فراق او بیلتون د غمونو نهرے را خورے شی۔ هغه د خپل محبوب او معشوق وصال غواړی خو د هغه قرب او نزدیکتخه داسے اسانه خبره نه وی چه د دۀ د خواهش او تلوسے د را پیدا کیدو سره دے دۀ ته حاصل شی۔ د خپل محبوب ترس یا لرے والی د هغه سترګے نمناکے او د هغه د غرږو جام راډک کړی۔ هغه لکه د شپیلئی په ژړا سر وی او تل د بیلتون او فراق د لاسه په واویلا وی۔

صدر خان د عشق د غم څه په خوندناک اوښکلی انداز کښې بیان کړې دے -:

چه د عشق د غم رنځـــور وی　　همیشه ئے دا دستـــــور وی
چه مذکور د عشق د غـــم کا　　ګاه صفت ګهے ئے ذم کا
چـه ئے عشق لاولنـــــے وی　　هغــه دا رنګ لیونــے وی
ګهے دے لــه غمــه ژاړی　　ګهے غم لــه خدایه غواړی
چه پـه غم کښې درست پایه شي　　د عشق غم ئـے سرمایه شي
چه ئے غم د عشق ډیریـږی　　هومره دے پـه غم خوښیږی
د عشق غـم صدر خــوشحالــه　　لوئـے دولت دئے بے مثالــه

دا دولت د بــل چــا نـــــه دے
چـــه خـــاکـــار دے د هغــه دے

څه وخت چه د عشق دا غم حاصلیږی او تدریجی پوخوالے پکښې راځی نو د عاشق په دنیا کښې داسے انقلابات راځی چه د مادی ژوند واړه نمائشی څیزونه ورته بے معنی او لاشے ښکاری - ییشکه چه عاشق په عامه انسانی دنیا کښې. د اولس په مینځ کښې میشته وی او د هغوئی په غم ښادئی، ناسته پاسته، زیست روزګار او کلی کلوبغی کښې شریک وی - خو سودا ئے تل د خپل معشوق یعنی د هغه نور چه دهٔ ته خُلا ورکوی سره وی او هر وخت او هره ګړئی د هغه په لټون او تلاش کښې سر وهلے بر وهلے په اما په کما سرګردانه ګرځی - په دے مثنوی کښې د آدم خان او درخانئی د کردارونو کوم تخلیق چه صدر خان په کوم ښکلی سپېڅلی او خوندناک انداز کښې کړے دے، هغه هم د عشق دا! نقشه وړاندے کوی -:

صدر خان د دے دواړو عاشقانو د زړونو درزار اوریدلے او محسوس کړے وو او هغه راز کوم چه د دغه دوؤ عاشقانو د زړونو په پردو کښې پټ وو هغه ښکاره کړو. او د هغوئی جذبات ئے داسے را اولړزول -:

زړهٔ خـــرم د یـــار پـــه غم کړه　　نور خـــدا پـــه درست عالم کړه
زړهٔ اوجـــاړ کـــړه شکسته شـــه　　آزاده لــه وابستـم شـــه !
شکستـــه د زړهٔ مکان کــــــړه　　پکښې ځائے د عشق سلطان کړه
نــور عالم ودانی غـــــواړی　　عشـق د زړهٔ ویـــرانی غواړی
چـــه پـه یـار پسے ویران شی　　هغـه زړهٔ د عشـق مکان شی

چـــه د عـشق خـــاطـر آبـاد کا
تـــا بـــه دوه کــونـــــه آزاد کا

ACKU

یو بل پښتون شاعر اکبر زمینداوري چه په ۱۱۰۰ھ کښې تیر شوې دے وائي۔

زهٔ عاشق یم یار هم نیز    نور څه نه لرو تمیز
یو په بله عاشقان یو    هم په خپل عشق صاقان یو
یو په بل پسے رنځور یو    چه نـزدے نه یو مهجور یو

سوز و ګداز۔ | سوز و ګداز د حقیقي عاشق د زړهٔ تاثر دے دا په هغه وخت څرګندیږي کله چه هغه ته د معشوق یا مطلوب د نور څلا په پوره اندازه ګښې را او رسي خو د دهٔ د پاره د نور دغه مرکز او سرچشمه بیا هم د دهٔ د دسترس نه وریسته وي۔ او په کوم رفتار چه خپل مطلوب ته د دهٔ د نزدیکت خیال، آرزو او شوق وي په هغه تناسب په دے جوهر کښې هم اضافه کیږي۔ د سوز و ګداز دا جوهر د انسانیت د تکمیل او معراج یو ضروري جزو دے۔ انسان په دے لار د ارتقائي مدارجو نه تیریږي او د هستۍ درجه ئې د نور د ماخذ یا د هغه معشوق د مقام نه کیږي۔ څوک چه د دهٔ د دے جوهر د را پیدا کولو سبب کیږي۔ دا معشوق که په یو صورت کښې هم څوک نه لري نو د هغه ژوند نامکمل او بے خونده وي۔ د دے لحاظه باید چه سړے خپل نظر په یوه نقطه مرکوز کړي۔ او خپل ټول قوې د دے تابع او طالب کړي۔

صدر خان وائي۔:

که بل څیز نه وي چه ته شے    پرے مئین درد بند په زړهٔ شے
یار له کانړي لوټے ساز کړه    پرے مئین شه خان ګداز کړه
روغ پښه نه ئے خان دردمنده کړه    په هغه درد کښے انند کړه

جذب او فنا۔ | د عاشق همیشه دا آرزو او خواهش وي چه د نور په هغه مرکز کښې خپل ځان جذب او فنا کړي، د چا په برکت چه د دهٔ د سوز و ګداز په جوهر کښې اضافه کیږي۔ دلته د هغه شخصي حیثیت ذات او انفرادیت ختم شي۔ او هغه د نور د دے چینے یو جزو شي څه وخت چه هغه په دے راز پوهه شي نو عشق ئې کامل شي۔ او د هغه لوري نه پرے هم مرحبا او هر کلے او شي او په تدریجي پوړو ئې هغه مقام ته روان کړي د کوم طرف نه چه په دهٔ تنویر کیږي۔

چه دوه جانه یو وجود شي    بود نا بود ئې یو نمود شي
هم ئې یو عدم فنا وي    هم ئې یو وجود بقا وي

لکه څه رنګ چه مخکښے ذکر شوے دے په عشق کښې عاشق د ځان جهان خپل پردي کلي کلویغي عن چه د ټول کائنات نه آزاد وي۔ او د حضرت جامي رح سره په دے چغه کښې ملګري وي :-

بندهٔ عشق شدی ترک نسب کن جامی
که درین راه فلان ابن فلان چیزے نیست

او هم په دے پورے صدر خان وائی چه -:

عشق خالی له من له ما دے — د عاشق کار د فنــــــا دے

ځنے شاعرانو عشق د یو باغ یا ګلستان په شان ګنړلے دے - دا یو داسے ګلستان دے چه د خزان لارے ورته بندے دی او عاشق پکښے لکه د یو بلبل هزار داستان د ګلو په څانګو په سندرو سر وی - د عبدالرحمان بابا یو شعر دے چه -:

عشق عاشق لره یوهسے ګلستان دے — چه دے باغ وته ئے لار دخزان‌نشته

خو د صدر خان په خیال د عشق مثال د یوے داسے اونے دے چه غمونه ئے پانړے دی او فنا ئے میوه ده - لیونتوب ئے غوټئی ده - او د تهمت په نو بانده ژوندئ ده - هغه د دے اونے ذکر داسے کوی -:

عشق یـــــه مثل یو شجر دے — غم ئے برګ فنـــا ثمــــر دے
لیــــونتـــوب ئـــــے شګــوفــــه ده — د تهـمت پــــه نـــو تـــازه ده

هر شاعر د خپل خپل خیال مطابق د عشق تعریف کړے دے او د خپلو احساساتو په رنړا کښے ئے د عشق د وارداتو په بیان کښے څه‌نه څه ویلی دی - خو صدر خان چه زړهٔ ئے د عشق په نو ژوندے شوے وو او د فکر مثال ئے د سینے د نور نه ځلا مونډلے وه د عشق تعریف څه په بل رنګ خوندناکو تکو کښے کړے دے - د هغه عشق د جنون او فنا استازے دے - یو داسے تاؤ دے چه وجود لکه د موبو ویلی کړی - او په یو جوړ عاشق د خپل مطلوب سره یو کړی - د هغه عشق -:

د نیستئ د برق خـــــدا دے — شعله زن عقــــــل ربـــــا دے
و هوښیاروتـــــه معلـــــوم دے — چه عشق اور دے وجود موم دے
چه په موبو آتش بـــــل شـــی — د موم کـــوه په ژړا تـــــل شـــی
دا ځـــائے تم د عشق- کلام شـــو — قصه تم شـوه والســـــلام شـــو

د عاشق بے صبری - عاشق چه د خپل محبوب په طلب بسے وی نو د ساعت ګړئ وقفے عن چه د لمحے صبر هم نشی کولے - هغه زر تر زره د معشوق وصال غواړی او د دے د باره ئے بے صبری دومره زیاته وی چه تل په تړیکه او تلوار کښے وی - زړهٔ

ئے غواړی چه ځانګو نه او وزر ئے او شوے او د سترګو په رپ کښے ئے د خپل دلدار په خوا کښے ګښېنولے ـ د بے صبرئ او تلوسے دا جذبه هم د عشق د تدریجی مدارجو او د نور د مرکز د اصلیت تابع وی ـ حقیقت خو دا دے چه د عشق کمال او د وصال د پاره دبے صبرئ انتها یو شے دے۔

خود د عشق په ملک معلوم دے   چه د صبر نام معدوم دے
په عاشق څو ډیر غرور شی   هومره لا ډیر ناصبور شی
عشق په مثل سره لمبه دے   په معنی صبر پنبه دے
په پنبه چه آتش سر شی
که سپین غر وی خاکستر وی

د سعدی شیرازی رحمت الله علیه دا شعر د صدر خان د دے وینا تصدیق دے ـ:

قرار در کف آزادګان نه ګیرد مال   نه صبر در دل عاشق نه آب درغربال

درخو هم چه دے مقام ته اورسیده او د بے صبرئ او تلوسے انتها ئے نصیب شوه نو د روغو خلقو نصیحت ورته یا عبث او بے فائدے بېکاریدو او دا ئے ویل چه ـ:
ورانه خلقه دیو پیری وهلے نه یمه   چه د چا خبره نه اورم کنړه نه یمه
آدم خان کوچ اوکړو، لهمانه لاړ شو   په آدم پسے په تورلیمه ژنده یمه

خپلے مور ورته د دے لارے نه د را ګرځیدو خولئی غوږول را واخیستل او ورته ئے او ویل چه ـ:

لـه دے کاره تـوبـه کاره   پـه اخلاص شـه اسـواره
هر چـه او شـول هغه تیر شول   هر چه تیر شول هغـه هیر شول

د عشق جنون ـ خو درخو د ربښتونے مینے په تال ختلے وه ـ او زړه ئے د ربښتونی عشق هوا خوړلے وه ـ هغے ته دا خبرے هسے بے فائدے او عبث ښکاریدے ـ هغے خپلے مور ته اوویل چه زما غمخورے مور خبرے دے په ګل بدلے شه ـ منم چه ستا وینا ربښتیا او بے غرضه ده خو ارمان دے چه زه هدو ستا د وجود نه زیږیدلے نه وے او یا که پیدا شوے وے نو چه په ماشومتیا کښے راله مرګ راغلے وے ـ نو اوس به ستا د ازار او د شرم نه خلاصه وم که دے خوښه وی نو اوس راله زهر راکړه ـ ستاسو پرده به هم رانشی او زما غم به هم غوځ شی ـ او که داسے نه وی او زه ژوندئی پاتے یم نو دا رنج به مے دل ته سلګرے وی ـ او د دے مرض په تعریف کښے ئے اوویل چه ـ:

ACKU

دا مرض عـے پیـدا دے ... چه نے غم الم دوا دے
روغ لـه غمـه احتیـاط کا ... دے پـه غم الـم نشـاط کا
چه د روغـو نصیحت دے ... هغـه بدٔ نـه فضیحت دے
روغ بنـدی په رنګ په ننګ وی ... دے ازاد لـه ننګ لـه رنګ وی

دے حالت ته جنون ویلے کیږی ـ په دا سے حال کښے عاشق د نور هر څه نه بے نیازه شی ـ یو د خپل محبوبٔ ذات او وجود ئے هره لمحه سترګو ته کیږی او د روغو پیغورونه، تقالے، خندا ګانے یا نصیحتونه پرے هیڅ اثر نه کوی ـ د ژوند تول خوابه او د زړه ارام او تسلی ورته خالص د خپل مطلوب په غم کښے حاصلیږی ـ او څومره چه په دے غم کښے اضافه کیږی هومره ئے نااراره زړکے خوشحالیږی ـ د دهٔ او د روغو خلقو تر مینځه چه کوم تفاوت وی هغه صدر خان دا سے ذکر کړے دے ـ:

روغ و دهٔ ته وائی سپک شو ... دے و روغ ته وائی ورک شو
روغ خبـرے د نـاسـوت کا ... دے ویـل د ملـکـوت کا
څو د زمکـے اسمـان وټ دے ... د دے هومره تفـاوت دے

درخو هم په دا سے مینه اخته شوے وه او د خپل آدم خان د پاره ئے دا هر څه قبول کړی وو ـ او زړهٔ ئے د هغه د یادو، جدائی او فراق په غمونو دا سے ژوندے شوے وو چه د عقل او خرد خبرے ورته توقے مسخرے ښکارے شوے او د لباسی ژوند نه ورته ځان په دے حالت کښے ښه او غوریز ښکاریدو ـ او خپلے مور ته ئے اوویل چه ـ:

اوس لـه ما د روغـو چارے ... هرګز مـه غواړه هـوښیارے
د ما پخـره اوس جنـون دے ... د تا عقل رهنمـون دے
د عشق عقل خـدمتګار دے ... لیونتـوب ئے پرده دار دے

او په دے خبرونے ورسره سکوته فیصله اوکړه چه ـ:
تهٔ خپـل کار د روغ عـالم کړه ... ما تـه خوشـے د یار غم کړه
ستا لـه عقل سره کار دے ... لیونتـوب زمـا شعـار دے
ځکـے سورے اوس کـه ښهٔ کړے
نصیحت بـه را تـه نهٔ کړے

**فطرت او شرست ـ** د فطرت او شرست په حقله صدر خانٔ په خپله مثنوی کښے د درخو په خوله ډیر په ښکلی انداز کښے څنے حقائق بیان کړی دی ـ په پښتو ژبه کښے یو عام متل دے چه که سل څو په ئے نور وی څو یو به ئے د مور وی ـ هر څوک

ACKU

د خپل فطرت او اصل سره په مطابقت لرونکی څیز ښے ګرځی او چه چرته ئے موبی د خپلولو کوشش ئے کوی۔ هغه وائی چه د کوم څیز د پاره څوک پیدا شوے وی هم په هغے کښے مشغول وی او هم د هغے کار یا عمل سره ئے محبت وي درخو وائی۔:

د بــوورا مینــه پــــه ګل ده  پــه نجــو د جعــــل ده
پـه ګلـزار بــوورا خــوښیږی  پـــه ګنـد ګی جعـــل نازیږی
چـه ګلـزار وتـه پـیـدا دے  پـه ګلـزار هغـه شـیدا دے
چـه سرشت ئے د څـه کار دے  د هغـه هغـه روزګار دے
سـا ے مینـه پـه دیـار ده  زمـا مینـه پـه خپـل یار ده

او د خپل فطرت او د هغوئی د سرشت په حقله ئے ورته په ډاګه او وئیل چه زما او ستاسو په فطرت کښے فرق دے ستاسو مینه د دولت او دنیا سره ده او زما په شرست کښے آدم خان میشته دے او هغه تعلق کوم چه د بورا او د ګل دے زما او د هغه تر مینځه پیدا شوے دے په دے وجه ستاسو نصیحت او لار ښونه ما ته عبث دی۔ پکار دا دی چه تاسو خپله لار واخلئی او ما په خپل حال پریږدئی۔

شرم و حیا۔ د رسول پاک صلعم ارشاد دے چه الحیاء نصف الایمان یعنی حیا نیم ایمان دے۔ پښتانه په خپله معاشره کښے د شرم او حیا خیال ساتلو ته ډیر اهمیت ورکوی او په معاشرتی آدابو کښےپه هر سړی باندے ډیرے څه داسے پابندیانے عائدے دی۔ چه په دے شمار کښے راځی۔ او پښتنو ئے د همیشه راسے ډیر خیال او لحاظ ساتلے دے۔ هغوئی خو وائی چه مال ہے له سره ځار شه او سرے له شرمه ځار شه۔

دا متـل نـه اوسـے دے  پـه پښتـو کښے لرغونے دے
سـر لـه شرم صـدقـه دے  مال لـه سر فـدا فـدیه دے
چه پـه شرم سر شاندۀ شی  مـال دلا پـه ورکاوه شـی
سـر کـه مـال دے بهم دواړه
زار تـر شـرم شـه کل واړه

د انسان د فضیلت راز۔ بنیادم ته په نورو مخلوقاتو باندے خدائے پاک فضیلت ورکړے دے۔ او هغه ئے په دے دنیا کښے خپل خلیفه ګرځولے دے۔ او انسان دا فضیلت او فوقیت د هغه د هغے علم په سبب دے۔ کوم چه خدائے پاک دۀ ته ور بخښلے دے۔ هم د دے علم په ... ات دۀ د دنیا په نورو حیواناتو چاپو او غلبه مو...

ده ـ صدر خان د آدم خان او درخانۍ په مکالمه کښې د آدم خان په خوله درخانۍ ته جواب ورکوی او والی چه ـ

فضیلت چه د انسان دے ــ په دیر علم په حیوان دے
دا صفت ئې خود ځرګند دے ــ چه وئیلے خدا ونید دے
هغه یاد دے دارنګ د ہنیه ــ چه هل یستوی الذین
وربیے ییتا یعلمون ــ تهر آخر لا یعلمون
هل یستوی الذین یعلمون و الذین لا یعلمون ـ

او بیا د دے نه علاوه انسان له خدائے پاک شکل شباهت قد قامت او ښائست د نورو حیواناتو په مقابله کښې ډیر غوریز ور کړی دی ـ او هم دغه چه دا جسم ښائست ئې پیدا کړو نو د آدم نوم ئې ورته کیښود او په دے دنیا ئې خپل نائب مقرر کړو او خپل دا پیداوښت ئې په احسن تقویم یاد کړو ـ

آدم او وے له صورت دے ــ ښائسته یا ښه قامت دے
پسرے موصوف بنی آدم دے ــ په ښائست عجب رقم دے
دا صفت ئې خود عظیم دے
چه یاد احسن تقویم دے

تشبیه او تمثیل ـ | بنیادم هسے خو په رنګ جوسه او ښائست کښې د نور تول پیداوښت نه غوریز او مکمل دے خو بیا هم د هغه دا خاصه ده چه کوم نمایان صفات په نورو حیواناتو نباتاتو یا جماداتو کښې وینی هغه د تمثیل یا تشبیه په دود د ځهلو عزیزانو د خصوصی صفاتو په حقله راوړی (ځنے وخت دا د مبالغې تر حده وی) د دے تشبیهاتو فضیلت په کوم نسبت چه په دغه حیواناتو یا اشیاؤ کښې د خاص خصوصیت لرونکی حیوان یا څیز د دغه نورو حیواناتو یا څیزونو په مقابله کښې وی هم په دغه نسبت د مشبه او د نورو بنیادمو تر مینځه د یوے خاصے خوبۍ تفاوت ښائی ـ لکه د عبدالحمید بابا د یو شعر ـ:

خط په مخ د صنم راغے که سهویښی شوه په هاله کښے
دانے غابښ په خوله کښے زیب کاکه ژاله شوه په لاله کښے

د مخ او سهویښۍ، د غابښونو او ژالے، د خولے او لاله او چرته د خولے او د ګنج د نورو زلفو اوښامارانو وغیره نسبتونه دغه یو اصول وراندے لری ـ صدر خان والی ـ:

---

(۱) آیت ـ لقد خلقنا الانسان فی احسن تقویم ـ

ACKU

د وضیع چه شانتن کا     د خوږنی چه نمائش کا
له شربته نته ورکا     په تشبیه نے بلند تیر کا
بس سړی چه وله سانی     سه اوصاف نے به څه نمائی
که تشبیه کله سنبلات کا     نه سړی به حیوانات کا
بلکه کوز چه تر جوان دی     بوټی اونے د بستان دی
له هغوڼے تشبیهات کا     چه د خپلو دوی صفات کا
چه صفت د نصحسا کا     یا بلبل یا نے طوطا کا
چه صفت د سپږی کا     مشابه نے له زمری کا
چه د ښکلو خبرے شانی     آهو چشم ورته وائی
چه لبه سده نے گفتار کا
یا نے سرو یا نے چنار کا

په انسانوي ادب کښې د مينې تعلق د آدم درخانئ او روميو جيوليټ سمائلت - او د هغې د رنګ وينې اصيت عموما يو دے - هغه د علاقائي بريدونو، تاريخي ادوارو، د رنګ نسل د تميز، حتئ چه د مذهب او عقيدے د قيودو نه هم آزاد وي - او د ښاغلي مولانا عبدالقادر د قول مطابق "مينه د انسان د ژوند او فطرت يو داسے کيفيت دے چه د جغرافيائي حدودو، وطني دائرو، آب و هوا، رنګ نسل، مذهب، ژبه غرض دا چه د دے هر قسم کيفياتو د بيلتون پرے هيڅ اثر نه پريوزي - زمان او مکان د مينې او عشق د داستان په خوند او رنګ يا کشش څه خاص اثر نه لري،، ——— هغوئي د مينې د اصليت ذکر داسے کوي -

"مينه په اماوي او که په کما عشق که د تور مخي، زيړ مخي، سپين پوستي يا چيت پوزي عشق وي، نرغوندے وي او که پړنے. د عشق کشش دايمي وي او عام وي يعني عالمګير او انساني، لوړ او ښکته سور او پلے، سوز سپين، تور زيړ فقيراو بادشاه عالم او کم علمه غرض دا چه د عشق باب له راشي نو تمام دنياوي اولسي، روايتي. ذهني او نسلي وغيره وغيره تولے رشتے او نسبتونه په ځائے پاتے شي ،،-

دا ځکه چه عشق د هره بنده ازاد دے - ژوند ئے ابدي دے او هر څوک ئے د خپل ځان کنړي - د مينے تعريف په آکسفورډ ډکشنري کښے داسې بيان شوے دے - "مينه،، "د هغه فطري احساساتو او کيفياتو نوم دے چه د يو انسان د پلره د بل په زړه کښے د هغه د ښه صفاتو د خوښے له کبله پيدا شي او د هغه محبوب طرف ته د هغه د خاص رحجان په وجه ځان ښکاره کړي - او مينن د هغه په موجودګئ کښے خوشحالي محسوسوي - او د هغه نه لرے کيدل نه غواړي ،،-

د عبدالحميد بابا د ديوان "در و مرجان،، په ديباچه کښے، ښاغلے سيد انوارلحق ليکي چه،

"د نورو بے شماره خاصو او جذباتو، عادتونو او خصلتونو، مينه او محبت هم، قطع نظر د دے نه، چه بنيادي محرکت ئے څه وي خو يوه فطري جذبه ده - چه د سره ځانه د ده سره پيدا ده او د ده به ختم او خمير کښے د شروع راسے اختلے راغلے ده - مينه، د هر مادي او غير مادي، د همجنس او غير همجنس سره کيدے شي - خو دومره ده چه هر کله دا، په خپل کيف او کم کښے د عامو حدونو نه ډيره وړاندے شي او شدت اختيار کړي نو عشق او بنئے شي ،،-

دغه مینه او عشق د مغرب او مشرق د انسان په زړه کښې په یو شان دے ځکه ئې واردات هم باید چه یو شان وي - د عشق او مینې قیصې، داستانونه او افسانوی ادب که د هر وطن او هرې لتے وي - خو د لوستونکی د طبعې سره سمون خوری - ځکه چه د افسانې واردات انسانی وی د ماحول د عکس او علاقائی دستورونو سره د نابندتیا نه سیوا نور ټول کیفیات ورته خپل ښکاری - او د خپلو قومی افسانو رنګ پکښې هم کله کله جوت او په ډاګه وینی - په دائے افسانو کښې د پښتو نخوا د مشهورې ملی انسانې آدم درخانئی او مغربی داستان، رومیو جیولیټ هم دی چه یو تر بله تر ډیره حده نزدیکت او مناسبت لری - خو د دے نه آګاهو چه د دغه دوارو افسانو د کردارونو او په هغوئی باندے د تیرو شوو وارداتو او واقعاتو تفصیلی جاج واخیستے شی - پکار دی چه د رومیو جیولیټ داستان هم په لنډو ټکو کښې بیان کړے شی - د رومیو جیولیټ د داستان د لوستو نه پس به بیا د دوارو افسانو د کردارونو تجزیه راځی چه هغه به د دے سلسلے یو بل باب وی -

## رومیو جیولیټ

د اټلی په ملک کښې په ورونا نومے ښاریه کښې کیپولیټ او مانټیګ دوه درنے کورنئے اوسیدے چه د ډیر پخوا راسے پکښې زړه بدا وے او دښمنی را روانه وه - دا دښمنی څه دائے حد ته رسیدلے وه‌چه د دواړو خاندانونو رګه رېښے، خپل خپلوان او نوکران مزدوران پکښې هم را ګرلی شوی وو - کله چه به د مانټیګ خاندان څوک خدمتګار د کیپولیټ کورنئے یو سړی ته به مخه ورغے - نو سمدستی به ئې یو بل ته سترګے برندے کړے - د یو بل ګریوانونو ته به ئې لاس واچول او خبره به وینو توئیدو ته او رسیده - دا جنګ جګړے دومره زیاتے شوے وے چه د ورونا ښارئیے د کوځو امن ئې اړے ګړے وو -

د کیپولیټ کورنئے مشر یو خوږ دروند او میلمه دوست سړے وو -

میلمه دوست وو ښه‌زلے وو  اقبالمند وو مهربانے وو
د هنـــر هـــوے خاونـد وو  د رواج رسم پـــابنـــــد وو

یو ځل ئې یوه درنه میلمستیا اوکړه - او د ښار ټول درانه نارینه او ښائسته زنانه ئې پکښې را او بللے - د ورونا ټولے ښائسته پیغلے دلته راغلے وے او یے د دشمندارئے د تبر نه نور هر چا ته د شرکت کولو دعوت وو - دے میلمستیاته د مشر مانټیګ د زوئے رومیو معشوقه روزلین هم راغلے وه او سره د دے چه د مانټیګ کورنئے د یو غړی د پاره هلته ښکاره کیدل قدرے هم ډیر خطرناک وو ولے بیا هم د رومیو یو آشنا بنوولیو

هغه دغه ځائے ته د تلو د پاره اولمسولو۔ هغوئی خبرے به مخ واچولے غرض ئے دا وو چه رومیو خپله معشوقه د نورو ښائسته‌ؤ پیغلو په منځ کښے اووینی او په هغوئی کښے ئے د ځنو سره مقابله او کړی نو هغه به ورته د سپینو کوترو په مینځ کښے د تورے کاغے په څیر ښکاره شی۔ د ښوؤنیو په خبرو د رومیو باور نه راتلو خو د روزلین د لیدو د خاطره ورسره ملګرے شو۔ ځکه چه د هغه په زړه کښے یا که مینه وه۔ او دے مینے به هغه خوب خواړه حرام کړی وو او هر وخت به د خلقو نه بیل د روزلین په فکر کښے ورک وو خو د روزلین د هغه سره د مینے هیڅ اقرار نه وو شوے او چرته ئے ورسره په ښه خوله خبرے قدرے هم نه وے کړے۔ د ښوؤنو غرض دا وو چه که د دۀ چرته نورو پیغلو ته غځه شی۔ او روزلین ئے هیره شی۔ نو دا به ښه وی۔ ښوؤنیو، رومیو او د هغوئی یو بل آشنا او خویش مر کوشیو ځبرے به مخ هغه لاړل۔

مشر کپیولیټ د دے زلمو دار و مدار او کړو او د پیغلو سره د شریکے ګډا دعوت ئے ورکړو۔ دائے هم ورته اوویل چه زۀ به هم په خپل زلمیتوب کښے په داسے مجلسونو پسے ګرزیدم۔ او د ښائسته پیغنو سره به مے ښکنګ به ګډا کوله۔ او بیا هغوئی په رقص کښے شامل شول او ناساپی د رومیو سترګے په یوه پیغله باندے خوږے شوے چه د هغه نه لیره شان اخوا په ګډا سر وه۔ د هغے د ښائست په وړاندے ټول مشعلونه تت معلومیدل۔ او داسے ښکاریده لکه چه د حبشی په څیر د تورے شپے په غوږ کښے ښائسته ملغره اویزانده وی۔ د مخ مخے ئے د زمکے په مخ نه وو۔ او د پیغلو په مینځ کښے داسے معلومیده لکه چه د زاغالو په سیل کښے سپینه کوتره را خطا شوے وی او هغه ئے بے اختیاره په ثنا سر شو۔ د هغه دا خبرے د مشر کوربه کپیولیټ وراره ټائیبالټ وا وریدے او رومیو ئے د آواز نه او پیژندلو۔ ټائیبالټ د خویه ډیر تریخ وو۔ هغه دا کله زغملے شوه۔ چه یو مانټیګ دے په پټ مخ د هغوی په کور را اوخیژی۔ او د هغوئی د پرے د خلقو په مجلس کښے دے شریک شی۔ تورے ته ئے لاس کړو او غوښتل ئے چه په دے ځائے د رومیو سره لاس واچوی او په وینو ئے لاس سره کړی خو د هغه تره او بیا رومیو چه د دوست دښمن ټولو به خوله ئے د ښو آوازه وه۔ او د ورونا ښار هر سړی به ئے صفت کولو۔ ټائیبالټ د داسے کار نه په زور منع کړے شو۔ خو هغۀ د ځان سره سوګند او کړو۔ چه دا مستی به د دے مانټیګ ته ډیره زر ګرانه پریوزی۔

هر کله چه د ګډا دور سر ته او رسیدو۔ نو رومیو هغه ځائے ته نظر کښے اخستے وو۔ چرته چه هغه پیغنه ولاړه وه۔ او په پټ مخ د هغے خوا له ورغے۔ او ډیر په ادب او نرمئے ئے د هغے لاس په خپل لاس کښے د اخستو په طمع هغه لاسونه لکه د یو پاکے هستئے د لاسونو په څیر او ګنړل او هم په دغه خیال ئے د لاس وروزلو تلوسه ښکاره کړه

د ښائست د تونی میرے اے د جونو ملغلرے

بله خو به نه وی چه چرے دا زیلے زائر د ګناهونو د عفوے د پاره ستا پاک او مبارک لاسونه ښکل کړی۔

بو سلام یو دوه خبرے که سے واورے نیاز پرورے

بیغلے ورته په خواب کښے اوونیل چه "اے نیک بخته زائره ستا عقیدت د حد نه تجاوز کوی۔ پوئے نه ئے چه د اولیاؤ د لاس ښکلا جائزه نه وی،،۔ "بزر ګان او زیارت کوونکی شونډے نه لری څه؟ ،، هغه ترے تپوس اوکړو۔ هغے ورته په خواب کښے او وئیل چه "ولے نه؟ خو هغه خاص د دعا د پاره وی،،۔ رومیو اوونیل چه "که داسے وی نو بیا خو اے ډیرے میرمنے زما دا دعا هم لره شان واوره۔ خو ګورے چه ستومانئے ته بے او نه سپارے،، دوئ لا په دے مشغولا سر وو چه په بیغله پسے د هغے د مور مځ راغے۔ زلمی رومیو چه د هغے نه د هغے د مور په حقله تپوس اوکړو۔ نو ورته معلومه شوه چه هغه جینئے چه د بنائست غشی ئے د ده په زړه ننوتی وو۔ د هغه مشر کپیولیټ لور وه۔ چه د دوئ سره ئے د ویښے دښمنی وه۔ خو هغه په بے خبر ئے کښے خپل زړه په هغے بائللے وو۔ دے خبرے د هغه زړه ډیر آزار کړو۔ خو هغه ئے د خپلے مینے نه ستون نه کړے شو۔ له هغه خوا چه بیغله جیولیټ هم په دے خبر شوه چه هغه ځوان چه د هغے سره ئے څه شیبه مخکښے خبرے اترے شوے وے۔ د مانټیګ خاندان زلمے رومیو وو۔ ډیره زیاته خفه شوه او د ځان سره ئے اوونیل۔ چه "زما مینه جوړ زما د دښمنئ نه او زیګیده۔ هغے ته دا مینه که هر څو ګرانه پریوته خو د ځان سره ئے دا فیصله او کړه۔ چه د ګورنئے حالات چه ما د چا نه په کرکه کولو مجبور وی۔ تر آخره به د دغه دښمن سره خپله مینه ټینګ پالمه۔ د دے لندی شان ملاقات نه پس د دوئ په زړونو کښے د مینے اور لمبے او کړے۔

چه نیمه شپه شوه نو رومیو او د هغه دوه ملګری د کیپولیټ د کوره بهر شول خو چه د هغوئ څو پاه کیدو۔ نو رومیو ترے پټے سپکے کړے وے او د کور په شا د باغ په دیوال ئے ټوپ کړی وو۔ او د هغه کور چنے ته ئے ځان رسولے وو۔ چرته چه ترے خپل زړه پاتے شوے وو۔ هغه لا څه ډیره شیبه نه وه اوړولے چه جیولیټ د کور په پاسنئے تنبګئے کښے را ښکاره شوه۔ داسے ښکاریده لکه نمر د مشرق په څنډو څیره وهلے وی۔ او سیوری چه په باغ د پاسه په آسمان کښے ښکاره کیده هغه ته زیړه زیږیلے او رنځوره شان معلومیده په دے چه د دے نوی نمر په وړاندے د هغے د رڼا توان پاتے نه وو۔ جیولیټ دا وخت ځان یک یوازے ګڼړلو یوسوړ اسویلے ئے اوکړو۔ او د ځان سره ئے اوویل چه "افسوس زه څه کولے شم،، د هغے دا خیال کله کیدے شوو۔ چه زما دا خبرے به لا هم څوک اوری۔ او د زړه د اخلاصه ئے د خپل آشنا نوم په خوله

راغے۔ هغه څه خبر وه چه اشنا به ئے لا دلته عم ولاړ هم وی۔ "رومیو ..؟ آه زما رومیو؟ هغے اوویل "ته دا وخت چرته ئے؟ زما به خاطر د خپل پلار او خپل نوم نه لاس واخله که چرے ته تۀ ئے کولے نو زما دے په خپله مینه سوګند وی۔ چه زۀ --- زۀ به نوره کیپولیټ پاتے نه شم،،۔ په دے اوریدو رومیو زړورشو څه ئے وئیل خو د هغے د بو خو نورو خبرو اوریدو د پاره څه شیبے له غلے پاتے شو۔ او هغه لګیا وه د زړه تاؤ ئے سړولو۔ او رومیو ئے له رومیو او په مانتیګ کیدو ملامته کولو اووئیل ئے چه افسوس چه د هغه دا نوم نۀ وے او په ځان ئے بل څه نوم کیښودے۔ د دے نوم په پریښودو چه د هغۀ د وجود سره ئے څه تړون هم نیشته به بے ورته خپل تول اختیار اوسپارلے د هغے دا وینا د رومیو په غوږو داسے اولګیده۔ لکه چه هغے دے لیدلے وی او هم دۀ ته مخاطب وی۔ هغه ټینګ نه شو او وئے وئیل "چه که داسے وی نو ماته محبوب وایه او یا چه څه نوم تا ته ښۀ ښکاری نو ډیر په خوشئی سره هم هغه راته وایه۔ پس له دے نه زۀ رومیو نه سهی بس هغه یم چه ته ئے ګنړے،، هغے چه په خوشی باغ کښے د ناربنه آواز واوریدو نو ساؤ شوه۔ په اوله کښے خو په دے او نه رسیده چه دا څوک کیدے شی چه په دے شپه کښے باغ ته راننوتے دے۔ او د هغے آواز ئے معلوم کړو۔ خو چه څه وخت هغه بیا خبرے اوکړے او سره د دے چه د هغے په غوږو تر دے وخته د هغه څۀ زیاتے خبرے نه وے راغلے۔ خو بیا هم د محبوب په آواز کښے څه داسے تاثیر وی۔ چه سمدستی ئے رومیو او پیژندلو۔ او هغه ته ئے په دیوال د راوریدو د خطرے په حقله اووئیل چه "که د چا خپلوان سترګے بے درباندے دا ځائے اولګیدے نو ژوندے به دے پرے نږدی۔ ولے چه تۀ د مانتیګ د کورنئے نه ئے،، خو هغه ورته ځواب کښے اووئیل چه "خدائے سته؟ چه ستا ملالے سترګے د هغوئی د شلو ښمبل کړو تورو نه زیاتے خونکارے دی۔ که چرے په ما باندے ستا د ښو نظر وی۔ نو دا به د هغوئی د دښمنے په وړاندے ډال شی۔ چه ستا د مینے خواږه پکښے نه وی نو د داسے بریخ ژوند نه ښو د هغوئی په تورو کوتره کیدل ډیر غوریز دی،،۔ "ته څه رنګ دے ځائے ته را اورسیدے او چا درته دا لار برابره کړه؟ هغے ترے تپوس او کړو،، دا هر څه را ته ستا مینے اوښودل که څه هم زۀ مانړ ګے نه یمه خو که چرے ته د دے خوروور سمندر په بله غاړه اوسیدے نو دے سفر ته به ئے هم بے تپوسه ملا تړلے وه،، هغه چه دا خبره اوکړه نو د جیولیټ مخ د حیا نه سور او ښتیدو خو د هغے دا حالت د ترګمی له کبله هغه او نه لیدے شو۔ هغه پوئے شوه چه د هغے د زړۀ راز رومیو ته معلوم شو۔ خو توکلے لاړے بیرته نه شی راتلے۔ په دے ئے تسلی وه چه د دستور مطابق هغے د خپل ځان د درناوی په خیال ئے په هغه ځان څڅولو۔ لکه چه د معشوقو دستور وی۔ دا ؛ مین خبرے په سره سینه نه اوری او په هره خبره ئے تندے تریو نیولے وی۔ دا هر څه هغوئی د خپل قدر زیاتولو په خاطر کوی، خو د جیولیټ په باب کښے خبره څه بل شان شوے وه۔ او د داسے ناز نخرو څه ضرورت پاے نه وو۔ او هغه وخت چه رومیو هدو د

ACKU

هغې په خیال کښې هم چرته نه وو ـ هغه د جیولیټ د زړهٔ آواز د هغې په ژبه اوریدلے وو ـ په دے وجه هغې چه څکښې څه ونیلی وو ـ د هغهٔ په وړاندے ئې بیا اقرار او ډیر ـ او هغه ئې د "ګران مانتیګ،، په نوم یاد کړو ـ ( ربښتیا ده چهٔ مینه تریخ نوم هم خوږ کړی) او ورته ئې اوویل چه دوسره زر زما په مینه قبلولو چر ے در ته سپکه ښکاره نه شم ـ اوکه چرے دا هم څه قصور حسابیږی نو د شپے د تیارے سبب دے چه زما د زړهٔ آواز ئې برسیره کړو ـ او بیا ئې اوویل چه کیدے شی چه زما دا عمل زما ناپوهٔ تیا وی ـ ولے چه دا د عا م رواج نه په بل جوړ دے ـ خو سره د دے به هم زهٔ د هغه ډیرو معشوقونه زیاته ربښتونے یم د چا پوهه، شرم، حیا او ناز نخرے چه په چالا ئے او پخنی توب پوورے اړه لری ـ

د هغې په دے خبرو رومیو سوګند پورته کړو چه د دا سے درنے او ها کے مبرمن په حقله به هیڅ کله هم د هغه په زړه کښې دا سے د سپکاوی خبره تیره نشی، خو هغې په دے خبره او توکو او وئے وئیل چه سوګندونه مه خوره ـ سره د دے چه په هغې د هغه خبرے ډیرے خوږے لګیدے خو بیا هم هغه د شپے په دے ملاقات خوشحاله نه وه ځکه چه دا ملاقات ډیر بے وخته، سمدستی او بے تپوسه شان وو ، خو د هغه دا ارمان وو چه په دے شپه دے د مینے اقرار او تړون اوشی ـ او دا ئې غوښتل چه په خپله وعده تر آخره ټینګ ولاړ پاتے شو ـ جیولیټ ورته اووئیل "چه ستا د وینا نه آګاهو ـ خپل ځان تا ته سپارلے دے،، مطلب ئې د هغه خبرو نه وو ـ چه رومیو اوریدلے وے خو هغې د خپلے خبرے نه په دے خیال ګرزیدل غوښتل چه د خوند د پاره ئې بیا ګردان کړی ـ

زمـــا دا وړبے زړګـــے راکـــــړه
پـه نـادا نئی مـے درکا وهٔ نـه پـوهیدمـه

د هغوئی دواړو د مینے ډک ملاقات لا روان وو چه د جیولیټ دائی چه د هغې سره به سملا ستله هغې ته اواز اوکړو ـ دا وخت سحر نزدے وو ـ او هغې ته خوب هم کول وو خو هغې د رومیو سره درے څلور خبرے نورے کول غوښتل ځکه نو ډیره زر بیرته راغله ـ لنډه دا چه هغوئی دواړو دا تصدیق کړه ـ چه هغه د رومیو د زړهٔ په مینه خوښه ده ـ او مطلب ئې د هغې سره وادهٔ کول دی ـ جیولیټ به صبا صحر استازے وراولیږی، او د وادهٔ نیته به کیږدی او دا سے به رومیو د هغې د قسمت خاوند شی ـ

زمـا د خپـلے خـو ښے بـاره
صبا به خط د خپل اختیار در کـړم مینه

لو هغه چه به کومه څه تلل غـواړی جیولیټ به ئې ملګرے وی ـ

ACKU

څه وخت چه دوئی دا خبره پخولـه دانې ورته بیا بیا نعرے وهلے هغه په تله او بیا په راستون کیده۔ هغے ته د هغے د خوا نه د رومیو تلل داسے ښکاریدل لکه چه د یوے ماشومے جینئی یوه مرغئی په لاس راغلے وی او الوتو ته ئے پریږدی خو چه لږه تر اخوا لاړه شی نو سمدستی ئے په ښبنه پورے تړلے تار را کاږی او ځان ته ئے بیا را نیږدے کړی۔ دغه شان رومیو هم د هغے نه بیلیدل نه غوښتل۔ ولے چه د شپے په تیارهٔ کښے د دوؤ مینو مشغولا او خوږے خبرے د بل هر ساز نه زیاتے خوږے او زړهٔ راښکونکے وی۔ خو آخر جدائی راغله او یو بل ته ئے د خدائے په امان، اوونیل۔

سحر نږدے وو چه هغوئی د یو بل نه رخصت شول۔ په رومیو د خپلے معشوقے مینه دومره زور شوے وه چه خوب ترے پاتے وو او کورته د تللو په ځائے هغه د پادری لارنس د خانقاه لار اونیوله۔ راهب دا وخت عبادت کولو خو چه په دے تورہ خره ئے رومیو په دے لور اولیدو نو پوهے شو چه بیګاه ئے خوب نه دے کړے او اوئے ګمارل چه زلمے د چا په مینه کښے ښکیل شوے دے۔ د هغه دا ګمان رښتیا وو۔ خو په دے لا نه وو پوهه چه رومیو د روزلین په ځائے د جیولیټ سره د مینے تړون کړے دے او هم په دغه ورځ په وادهٔ کولو کښے لاس غواړی۔ پادری چه په دے خبر شو تو د روزلین په پریښودو او د هغے نه په هغه بیشماره ګیلو وسوسو څه حیران شان شو او وئے ویل چه د زلمو مینه د زړهٔ په ځائے په سترګو کښے وی، رومیو ورته اوویل چه خو تا به راته د روزلین په مینه زورئه راکوله۔ او بله دا هم ده چه په جیولیټ نه یوازے زما مینه راغلے ده بلکه زهٔ هم د هغے خوښ شوے یم۔ پادری ته د هغهٔ دا دلیل څه وزنی شان معلوم شو۔ او په دے خیال چه شاید د دوئی دواړو خپلوی د دواړو کورنو دښمنی ختمه کړی۔ هغه د دوئی دواړو په نکاح رضا شو۔ دا پادری د دواړو خاندانونو دوست خوا خوږے او د هغئی په دښمنئی ډیر خفه وو او څو واره ئے هڅکښے هم د دوئی د جوړے راوستو کوشش کړے وو بله دا وه چه رومیو هم په هغه باندے ډیر ګران وو او د هغه د یوے خبرے نه ئے هم مخ نه شو اړولے۔ د وعدے په تابین جیولیټ د ربار په لاس سوال جواب ور اولیږل۔ او په تاکلی وخت د پادوی لارنس تهه ځائے (کوټګئی) ته ورسیده چرته چه د دواړو نکاح او کړے شو۔ د نکاح نه پس پادری دعا اوغوښته چه خدائے د د دے وادهٔ انجام په خیر کړی او د دوئی دواړو د تړون په برکت دے خدائے پاک دا زړه دښمنی او جنګ جګړے همیش د پاره ختمے کړی۔

د نکاح د دود ختمیدو نه پس پیغله جیولیټ په تلوار کورته ستون شوه او ساعت په ساعت ئے د شپے راتلو ته تلوسے زیاتیدے ځکه چه رومیو ورسره د تیرے شپے د ملاقات په ځائے کښے د لیدو کتو وعده کړے وه۔ دے حالت کښے د هغے هم داسے مثال کړے وو۔ لکه د یو وړوکی ماشوم چه د اختر نه یوه ورځ اګاهو د ښکلو نوؤ جامو د پاره د اختر صبا ته په هیبت اوتلوسه وی۔

ACKU

هم په دے ورځ د غرمے مانے د رومیو دوستان بنوزلیو او مرکوشیو د ورونا په یو بازار تیریدل - چه د کیپولیټ خاندان د بوے بلے سره ئے لاس اوتکیل هغه تریخ مزاجه ټائبالټ د دے ډلے مشر وو - دا هغه سړے وو چه تیره شپه ئے د کیپولیټ ته میلمستیا کښے هم د رومیو سره انګته اچول غوښتل - هغه چه مرکوشیو اولیدلو - نو ډیر په ناراښئے ئے هغه ته د رومیو سره د دوستئے پیغور ورکړو مرکوشیو هم د هغه په څیر زلمے وو - تینګ نه شو - خوله ئے پرے رابرسیره کړه - او سره د دے چه بنولیو د خبرے سړولو کوشش او کړو - خو جګړه شروع شوه - په دے وخت کښے رومیو په دغه لار تیریدو - ټائبالټ د مرکوشیو په ځائے اوس په رومیو پسے ګواخ اوکړو او هغه ته ئے سپورے ستغے او د سپکاوی خبرے اوکړے - خو رومیو په هیڅ حالت کښے هم د ټائبالټ سره لاس لګول نه غوښتل ځکه چه هغه د جیولیټ خپلوان وو - بله خبره دا هم وه چه زلمی رومیو د خپل نیک خوئی له کبله د کور په شر شدت کښے کار غرض نه وو لرلے او اوس خو د خپلے بنځے په مناسبت هغهٔ ته د کیپولیټ خاندان ډیر خوږ لګیدو - هغهٔ ډیر په نرمئے او راشه درشه د ټائبالټ سره خبرے کول را واخستل هغه په څه شان سره د ټائبالټ پوه کول غوښتل ورته ئے ووئیل چه "خوږه ټائبالټه شر شدت پریږده د لارے خبره کوه،، هغهٔ دا خبرے په داسے جوړ کولے چه سره د دے چه هغه مانتیګ وو - ولے بیا هم ورته دغه خبرو مزه ورکوله - خو بل خوا ته ټائبالټ وو چه د مانتیګ خاندان د هر غړی نه ئے داسے کرکه کیدله لکه د جا چه د دوزخ نه کیږی - هغهٔ د لارے پوه خبره نه اوریدله بس توره ئے ربل کړه - مرکوشیو د رومیو د دوئمے جوړے په مقصد پوئے نه وو او د هغه تاموله ډیرته څه بے غیرتی او بزدلتوب معلوم شو - هغه په ټائبالټ را سور شو - او ورته ئے ووئیل چه "راځه اول ماته را ورانډے شه،، دواړه سره په جنګ شول - مرکوشیو را پریوتو سخت زخمی شوے وو او لږه شیبه پس ئے ساه ورکړه -،،

د مرکوشیو د مرګ نه پس د رومیو نه نور صبر او نه شو په ټائبالټ ئے خوله را برسیره کړه - او هغه څه ئے ورته اووئیل چه هغه د ټائبالټ نه اوریدلی وو - دواړه سره په جنګ شول - او خبره دے ته را او رسیده چه ټائبالټ د رومیو د لاسه مړ شو - په رڼرا ورځ دے جګړے د ښار خلق را ټول کړل - په دوئی کښے د کیپولیټ او مانتیګ کورنو امیران او د کورنوزنانه هم وے - لږه شیبه پس د ورونا شهزاده هم راغے - هغهٔ د مقتول مرکوشیو چه ټائبالټ قتل کړے وو رشته‌دار وو - د دے دواړو خاندانونو دے جنګ جګړو به همیشه د ورونا امن خرابولو - په دے وجه شهزاده دا ځل په دے پخه اراده راغلے وو - چه مجرم له د قانون مطابق سخته سزا ورکړی - بنولیو ته څوک چه د دے جګړے چشم دید ګواه وو حاکم د اصل واقعاتو د جګړے د سبب بیانولو د پاره اووئیل او هغه ورته خوا و شا تموله قیصه په داسے شان بیان کړه چه رومیو نه ئے د پیچ کیدو ډیر کوډر جوړ کړو - او په دے جنګ کښے چه د هغه د انتها څه

ACKU

حصه وه۔ هغه ئے په معمولی رنګ کنبے او خودله ۔ د رئیس کیپولیټ ښځه چه د خپل خپلوان ټائیبالټ په مرګ ډیره خفه اوسوځت شوے وه۔ په هر څه شان د بدل په اخیستو ټینګه وه۔ او شهزاده ته ئے په انصاف د کلک اودریدو لمسه کوله او ورته ئے وئیل چه قاتل ته دے مناسبه سزا ورکړے شی او په دے حقله دے د بنوؤلیو خولے ته او نه کتے شی۔ په دے چه هغه د رومیو ملګرے او د مانټیګ خاندان سره تړلے دے او په دے وجه ئے یو نخیزه خبره کړے ده۔ په دے شان هغے د خپل توی زوم او د جیولیټ د خاوند خلاف په بے خبرئے کنبے مخالفت اوکړو۔ خو هغه په دے وخت لا د دے خبرے نه څه خبر وه چه رومیو د هغے زوم او د جیولیټ خاوند هم دے بل اړخ ته د امیر مانټیګ ښځے د خپل زوئی دبچ کولود پاره زاری منت کول او جولئے ئے غوړولے خو په شهزاده د دے دوارو زنانهؤ د جذباتی خبرو هیڅ اثر هم او نه شو۔ او د معاملے ویخ ته د رسیدو نه پس ئے د سزا اعلان اوکړو او رومیو ئے د وروناد ښار نه پاسولو۔

د جیولیټ د پاره چه د ناوے توب ئے لا دوه څلور ګنټے هم نه وے پوره شوے۔ دا خبر د تل عمری طلاق په څیر افسوسناک وو۔ چه خبر شوه نو اول خو ئے په رومیو زره سپک کړو په دے چه د هغے ترپور ئے وژلے وو او په هغه ئے "ښائسته ظالم،، مکاره فرښته، ځنګلی کوتره، د ګل په څرمن د ننه شرمخ او د ګل په څیر د ښائسته صورت سره د مار د زړه خاوند او داسے نور متضاد لوسو نه کنبهودل د هغے د مینے او قهر تر مینځه د تکرار سلسله روانه وه۔ خو څه شیبه پس مینه غالبه شوه۔ او غم ئے د خوشحالئے لار اونیوله هغے فکر اوکړو چه شکر دے خاوند خو ئے ژوندے دے ګنی دا هم کیدے شوه چه ټائیبالټ دے وژلے وے او څه شیبه پس ئے بیا په سترګو کنبے اوښکے راغلے ۔ دا اوښکے د رومیو د ښار نه د پاسیدو له کبله وے۔ د رومیو د ښار نه وتل د هغے د پاره د څو څو ټائیبالټو د مرګ نه زیاته ګرانه وه۔

د دے جنګ نه پس رومیو د پادری لارنس په تهه خانه کنبے پټ شو۔ او هم هلته ورته د خپلے سزا خبر اوشو۔ دا خبر د هغهٔ د پاره د مرګ نه هم زیات وو۔ هغه داسے محسوسوله چه هغو د ښار د دیوالونو په اخوا نوره اباده دنیا شته دے هم نه او د جیولیټ د سترګو نه وریسته هغو د ساه خاوندنشته جنت هم هغه ځائے دے چرته چه جیولیټ اوسیږی او د هغے د څنګ نه وریسه د غمونو تکلیفونو او دوزخ نه سوا بل هیڅ هم نشته۔

پادری هغهٔ له داډ ګیرنه ورکوله خو هغهٔ د پادری خبره کله اوریدله لو لکه د لیونو ئے خپل ویښته را شوکول او خپل ځان ئے په واک واک ویشتلو۔ اوفعل

به نے چه هم به دے ځائے م ښخ کړي۔ به دے کښے نے د ښځے له څوا استازے راغے ۔ زړۀ نے لړ شان تکاؤ او موندو۔ پادري هم موقع بیا موندہ او هغه ته نے د پوهے او همت خبرے را واخستے او ورته نے اووئیل چه تائیبالټ خو دے سړ کړو۔ نو اوس دے د خپل ځان او خپلے ښځے د مرګ هم خیال را پور ته شوے دے؟ ستا د ښځے ژوند اوس ستا پورے دے۔ بنده د موم په څیر نرم دے۔ خو همت نے د کاڼړي په دود سخت کړي ۔ قانون ستا سره نرمي کړے ده۔ چه د مرګ په ځائے نے د شهزاده د خولے نه ستا د پاره د جلاوطنئے حکم منظور کړو۔ تا تائیبالټ وژلے دے کیدے شوه چه هغه ته وژلے وے۔ دا هم ستا د پاره په یو حقله د خوشحالئے خبره وه۔ جیولیټ ژوندئے ده او (د هر څه نه د پاسه) دا چه ستا سره نے نکاح هم شوے دے او دا د تولو نه زیاته د خوشحالئے خبره ده۔ پادري چه ورته دا خبرے اوکړے نو رومیو په خود شو او غم نے لړ شان سپک شو۔ بیا پادري د هغه' د خبردارئے د پاره اووئیل چه د نااميدئے مرګ ګورے ډیر د خوارئے وي او څه وخت چه رومیو لړ شان غلے شو۔ نو هغۀ ورته اووئیل چه د شپے پټ لاړ شه ۔ او د خپلے ناوے نه رخصت واخله او بیا نیغ د مانتوا ښهر نے ته ځان او رسوه۔ او هلته تر هغے اوسه چه تر څو مناسب روکودر نه وی ساز کړے شوے ۔ او د هغه' د وادۀ خبره ما ښکاره کړے نه وی۔ څه وخت چه دا خبره خوره شی نو د دواړو کورنو روغه به راشی ۔ او شهزاده به هم د دے په برکت تا معاف کړي ۔ او دا وخت چه ته څومره د غمونو او ارمانونو سره له دے ځایه روان نے د دے به په شل دومره د زیاتو خوشحالو سره بیرته راستون شے ۔ رومیو د پادري په دے روغه خبره راضي شو۔ او د خپلے ښځے د ملاقات د پاره د هغه' نه رخصت شو۔ او دا ارادۀ نے او کړه چه نننئے شپه به د جیولیټ سره تیره وي ۔ او صبا سحر به خړه به یک یوازے مانتوا ته روانیږي پادري ورسره دا هم وعده کړے وه چه وخت په وخت به نے د کور کلی د حال احوال نه خبر وي۔

هغه شپه هغه' د خپلے خوږے ښځے سره تیره کړه۔ رومیو د باغ په هغه ځه د هغے شرے نه ننوتے وو۔ چرته چه یوه شپه اګاهو د هغوئ خبرے اترے شوے وے۔ او یو تر بله نے د مینے قول اقرار کړے وو۔ دا شپه د وصال د خوشئے او د فراق د غم د ګډون شپه وه هغوئ داسے محسوسوله چه په ناخوالئے د راتلونکی صبا رنړائی ډیره زر راخوږیدونکے ده۔ او څه وخت چه جیولیټ د سحر د خړارو آوازونه واوریدل۔ نو هغے د بلبلے د اواز ګمان پرے اوکړو چه داسے په توره ښپه سندرے وائی۔ خو اوس به رښتیا سحر شوے وو۔ او سرغو سندرے ونیلے ۔ ولے د هغوئ اوازونه دا وخت په هغے ډیر بد لګیدل۔ او د نمر خاته' رتړائی هغوئ ته دا وئل چه د بیلتانه نیلے درته ږین کړے ولاړ دے۔ هغه د خپلے ګرانے ښځے نه به درینګلی زړۀ به دے وعده رخصت واخستو چه هغے ته به د ورځے پهره کړے د مانتوا ښار نه خط را استوی۔ او کله چه

هغه د هغې د کمرې نه را کوز شو۔ او په زمکه د هغې نه ښکته اودرېدو۔ نو غمز پلې جیولیټ ته غمژن رومیو داسې ښکارېدو لکه په یو گنبد کښې چه د مړی کالبوت لیدې شی۔ د ډیره غمه د رومیو هم دغه حال وو خو هغه له دې ځایه په سمدستی رخصت کیدو مجبور وو۔ ولې چه د رڼرانبی لگیدو نه پس د هغه په ورونا کښې ښکاره کیدل او د هغه مرگ سره سم وو۔

دا لا د دې دواړو بدنصیبو مینو د غم د داستان ابتدا وه۔ د رومیو د ښار نه د وتلو لا څه دومره ورځې نه وې شوې چه رئیس کیپولیټ د یو زلمی سره د جیولیټ د پرېکون نیت ښکاره کړو۔ دا خبره هغو چرته د هغهٔ په خیال کښې نه وه تیره شوې چه گنې جیولیټ لا وادهٔ شوې هم ده۔ هغهٔ د هغې د پاره پیرس نوې نو زلمې نواب خوښ کړې وو۔ هغه یو زړور ښائسته او شریف ځوان وو۔ او که چرې رومیو د دوئی دواړو تر مینځه نه وې نو ښه برابر جوړ نې وو۔

برې اخستې جیولیټ د پلار په دې پیشکش ډیره سرگردانه شوه۔ او اوئې وئیل "چه لا خو د وادهٔ وخت په ما نه دې راغلې او بیا د ټائیبالټ د لنډو د مرگ غم هم د دې خبرې سره سمون نه خوری۔ چه زهٔ دې د خپل خاوند سره په خوشحالئې لاړه شمه۔ دا به د کیپولیټ د کورنئې د پاره څومره د سپکاوی خبره وی۔ چه لا خو ئې د مړی د گور کفن کار تر سره شوې نه دې۔ او د وادهٔ میلې تیلې جوړې کړی۔ هغې د دې واده په خلاف بغیر د هغې په اصل کښې د یو ځل شوی وادهٔ د حال وئیلو نه بل هر ممکن دلیل هغوئی ته مخکښې کړو۔ خو د هغې یوه خبره هم چا او نه منله رئیس کیپولیټ د هغې په خبرو غوږونه کاڼه کړل او هغې ته ئې جبراً د ځان تیاروليو حکم ورکړو۔ او ورته ئې اووئیل چه په راتلونکې زیارت به د نواب پیرس سره د هغې وادهٔ وی۔ ځکه چه د هغهٔ په فکر کښې چه د پیرس غوندې په دولتمند ښائسته او ښازیلې چه د ورونا هره پیغله پرې فخر کوی۔ محض د هغې د معنوعی شرم و حیا له کبله د هغهٔ د خپلوئې نه ځنگ کول د هغې ناپوهتیا او د ځان سره په خپله د بد کولو په څیر دی۔ د هغهٔ خو دا خیال وو چه د هغې دا انکار هسې چل وتې دی۔ د دې سختې په وخت جیولیټ د پادری سره صلاح له لاړه په داسې گرانو کښې ئې همیشه هغه پکار راتلو۔ پادری د هغې نه تپوس اوکړو۔ چه ته د خپل سر په بیعه د ډې خبرې غوښېدو ته جوړېدې ئې؟ هغې ورته په ځواب کښې اووئیل چه زهٔ د خپل گران خاوند په موجودگئی کښې د پیرس سره د وادهٔ کولو نه مرگ غوره بوم۔

پادری هغې ته هدايت اوکړو چه کورته لاړه شه او د خپل پلار په خوښه د پيرس سره وادهٔ کولو ته غاړه کيږده - او په ځان خوشحالي ډ بره کړه - او په راتلونکې شپه کښې يعنې د وادهٔ په بوه شپه ناګاهو د دې بوتل دا دوائي او څښه - په دې سره به د دې د څښلو نه تر دوؤ ځلويښتو ګينټو پورې ته يخه اوسړه بېکاره کيږې او سحر چه څه وخت ستا څښتن ستا وانولو له راشي - نو تا به مړه اووينې او د ملک د رواج مطابق به د خپلې کورنۍ په مقبره کښې کېښودې شې که چرې په ځان دې بهځنى بره را نه وسته نو د دوائي - مسلو نه پس به زهٔ ستا خاوند ته پوره حال احوال واستوم او هغه به د شپې مالې را اوغواړي و تا به د ځان سره مانتوا ته بوزي -

د مينې زور او د پيرس سره د وادهٔ يرې په هغې کښې دومره توان او حوصله پيدا کړه چه دې ګران مهم ته هم جوړه شوه هغې د پادري نه شيشه واخسته او وعده ئې اوکړه - چه د هغه په خوونه به عمل کوي -

هغه چه د خانقاه نه اووتله نو په لارې ورله زلمې پيرس مخې له ورغلو نو مې په ځان مصنوعي حيا اوشرم را وستلو او دهغه - ناوې جوړيدو د وعده ئې او کړه - دمسى کيپوليټ او د هغه د ښځې د پاره دا ډيره د خوشحالئ خبره وه - دوی ته دې معلوميده لکه چه په بلا سردار د نوی سره ځواني راغلې وی - او جيوليټ چه د انکار په وجه ئې هغه ډيره خفه کړې وو - اوس بيا د هغه خوږه او نياز يينه لور وه - د وادهٔ په راتلو په ټول کور کښې هله ګوله جوړه شوه - د وادهٔ په تيارئ کښې هيڅ کسر پرې نه ښودې شو - روپئي پسې لکه د اوبو خرڅ کړې شوې د وادهٔ د پاره دومره درنې تيارئ اوشوې چه د ورونا په ښار کښې به د چا په يادو دا رنګ بندوبست نه وو راغلې ۔

د شورو په شپه جيوليټ د خوب دوائي او څښله د هغې په زړهٔ کښې قسما قسم شکونه را ولاړيدل - کله به ئې خيال کولو - چه هسې نه چه د روميو سره د وادهٔ کولو د الزام نه د خلاصيدو په غرض راله پادري زهر را کړې وي - خو هغه خو په خپله نيکئ او مقدس باندې ياد دې - بيا دا چه کيدې شي چه د روميو د راتلو نه اګاهو زهٔ بيداره شم - او په قبرستان کښې د کيپوليټ خاندان د مړو هډوکي او د ټائيبالټ په وينو سور کفن راته ښکښې شي نو هغه وخت به زما څه حال وي - او هغې ته د خلقو د خولې هغه ټولې خبرې را يادې شوې - چه په مقبرو کښې د خپلو قبرونو په خوا کښې مړو روحونه ګرزي را ګرزي خو په دې ګښې ناڅاپه ورته د روميو سره مينه او د پيرس نه کرکه را وړاندې شول - او په تلوار ئې هغه دوائي د ستونې نه تيره کړه او بې هوشه شوه

سحر وختې چه زلمے پیرس د سازونو سرېندو سره د ځلې ناوے بېدارولو له راغے نو د هغې د خوب په کمره کښې ئې د ژوندئې جیولیټ په ځائې یو عجیبه تماشه تر غږ شوه او په ټول کور کښې ماتم ګډ شو۔ زلمے پیرس د ځلې ناوے په ویر سر وو۔ هغه ناوے چه د وادهٔ نه اګاهو مرګ د هغه د خوا نه واخسته۔

خو د دے نه زیات د بوډا سردار کیپولیټ او د هغه د ښځې حالت افسوسناک وو چه هم دغه یوه لور د هغوئي د خوشحالو او امیدونو نوغے وو۔ خو هغه ترے نه هم د مرګ استازی په داسے وخت کښې بوتله چه د هغوئي په خیال هغه د یو ډیر مناسب جوړ سره یو ځائې کیدونکے وه۔ د وادهٔ د ورځې د پاره چه څه انتظامات شوی وو ټول په ماتم کښې بدل شول۔ د وادهٔ نمرڅی د ماتم ماښامے شو او د خوشحالئې سندرے او سازونه د غم په نوحو او ماتم په ټنګټنګو بدلے شوے۔ کوم ګلونه چه د ناوے په ښبو کښې د خوررولو د پاره راغلی وو۔ هغه په مړ کالبوت د پاسه واچولے شول۔ او په ځائې د دے چه پادری د هغې نکاح لوستے وے اوس د هغې په جنازه د حاضریدلو د پاره پکار وو۔ هغه ګرجې ته هم یوړے شوه۔ خو د راتلونکی ژوند د خوشحالو د امیدونو سره نه بلکه د هغې د جنازے د رسمونو ادا کولو د پاره۔

د غم خبره د خوشحالئې د خبرے په مقابله کښې زیاته په تیزئې سره خوریږی۔ د پادری د استازی د رسیدو نه مخکښې چه هغه د ټول حال احوال نه رومیو خبر کړے وے او د جیولیټ د مرګ راز ئې ورته خودلے وے۔ رومیو د هغې د مرګ نه خبر شو۔ هغه ته دا خو معلومه نه شوه چه د هغه خوږه میرمن به د څه وخته پورے په قبر کښې بے هوشه پرته وی بیا به را په خود شی۔ او په دے انتظار کښې به وی۔ چه اوس به د هغې سرتاج رومیو راشی۔ او هغه به د قبر د دے تیرو نه اوباسی۔ هغه ته په ماتیوا کښې معلومه شوه چه جیولیټ د دنیا نه سفر کړے دے۔ د دے خبر د اوریدو نه اګاهو هغه څه ډیر خوشحاله شان ښکاریدو۔ ځکه چه تیره شپه هغه خوب لیدلے وو۔ چه هغه مړ شوے دے۔(په عجیبه خوبونو کښے مړی هم فکرونه زغلولے شی) او د هغهٔ ناوے د هغه خواله راغله او هغه ئې مړ اولیدو او هغه ئې داسے په مخ مخ ښکل کړو۔ چه بیا را ژوندے شو۔ او د را ژوندی کیدو سره د بادشاهئې په تخت ناست وو۔ هر کله چه د ورونا استازے ور اورسیدو نو رومیو دا خیال اوکړو چه هغه څه د خوشحالئې خبر راوړے دے۔ او د هغه د بیګانی خوب تعبیر پوره کیدونکے دے۔ خو هر کله چه د هغه د خوب خبره اړولے اوخته۔ او هغه ته معلومه شوه۔ چه د هغه ناوے مړه شوے ده۔ او دے ئې اوس په ښکلولو بیا نه شی را ژوندئې کولے۔ نو سمدستی ئې سورو ته د

تیارئے حکم ورکړو۔ چه هم به هغه شپه ورونا ته لاړ شي او د خپلے معشوقے دیدن د هغے په قبر کښے اوکړي۔ د نا امیده شوی سړی په ذهن ورانے جاړے خبرے زر ځائے موښی۔ نو یو خوار حکیم د هغه په خیال کښے راغے چه دکان ئے ورله ځو ورځے وړاندے د مانتوا په یو بازار کښے لیدلے وو۔ دا دکاندار د خپل رنګ روات او جامے نه خوار فقیر ښکاریدو۔ او د هغه دکان په ګډوډ حالت کښے وو په سخا او خیرنو خیچنو الماړو کښے ئے وران جاړ دبلی بے ځایه ځائے داسے پراته وو چه چا به ورته کتل نو د هغه د بدے ورځے احساس به ورسره را پیدا کیدلو۔ دے دکاندار رومیو ته ویل ده (کیدے شي چه هغه ته هم دا خیال راولاړ شوے وو چه د هغه دړ وند به هم داسے افسوسناک انجام وی)۔ ''که چا ته د زهرو ضرورت وی۔ چه د مانتوا په قانون کښے د هغے د خرڅونکی د پاره د مرګ سزا مقرر ده۔ نو زما نه د هغے سودا کولے شي،،۔ د هغے دکاندار خبرے هغه په زړه اچولے وے اول خو ورته هغه څه اتے بانے اوکړے بیا ورته رومیو زر ځکښے کړل نو هغه خوارئے دا پیش کش په ستنه نه کړے شو او په رومیو ئے زهر خرڅ کړل۔ او ورته ئے اووئیل چه که چرے دا ئے او خوړل او پکښے د شلو ځوانانو هومره طاقت هم وی نو سمدستی به د مرګ سره مخامخ شي۔

سره د زهرو هغه د ورونا په لور روان شو چه د خپلے ګرانے بی بی په قبر کښے د هغے آخری دیدار اوکړی مطلب ئے دا وو چه هغه به مړو سترګو اووینی نو بیا د هغے نه به زهر اوخوری او د هغے به څوا کښے به ښخ شي۔ نیمه شپه وه۔ چه هغه ورونا ته او رسیدلو او هغه ګرجے ته ورغے چه د کپولټ خاندان ځوانانے مړی پکښے ښخ وو۔ هغه د اګاه نه د رڼا او د ټوپے کښے انتظام کړے وه۔ او د قبر په چپړلو ئے لاس پورے کول چه ناسابی پرے چا د ''بد معاش مانټیګ،، غږ اوکړو۔ او د هغه به دے غیر قانونی حرکت ئے ورته بد رد اووئیل۔ دا ځلمے نواب پیرس وو۔ چه د شپے به دے بے وخته وخت کښے د جیولیټ په قبر د ګلونو اچولو او اوښکو تویولو د پاره راغلے وو۔ هغه د دے نه نه وو خبر چه د رومیو د جیولیټ د مړی سره څه دلچسپی وه۔ خو بس په دے خیال چه هغه د مانټیګ خاندان نه دے۔ او د کپولیټ کورنئے د کښے دښمن دے۔ نو وئل ئے چه ګوندے هغه د کپولټ خاندان د مړو به بے پرده ګیرئے کولو پسے راوتے دے۔ او هر کله چه هغه ... وه۔ او د قانون مطابق د ورونا په حد کښے د ښکاره کیدلو نه پس هغه توئے ورلو د دے سبب پیرس د هغه نیول ضروری اوګڼل۔ رومیو پیرس ته عرض اوکړو چه به ښه شه ... مه کړه۔ او په خپل حال بے پرده ګنی نو ستا به هم لکه د ټائبالټ ... په تل کښے بروت دے انجام شه نه شي۔ زما نت دے چه ... خون دے په سر واخلم۔ خو

ACKU

قهر ولی پیرس د دے خبرے هیڅ ـ ـ او نه ساتلو او لکه د باز په هغه ورغوته شو او رو رومیو د خپل ځان دیچ کولو د خاطره د هغه سره په جنګ شو۔ اوپیرس راپریوتو او مړشو۔ رومیو چه رڼړا د هغه خوا ته را نژدے کړه او اوئے کتل نو پوئے شو چه پیرس ئے وژلے دے۔ د ساتهوا نه د راتلو په وخت هغه ته معلومه شوے وه چه د جیولیټ وادهٔ د پیرس سره کیدونکے دے۔ هغه د کیپولیټ قبر اوسپړدو او مړ شوے زلمے ئے د لاس نه اونیولو او د فتح په ګور یعنی د هغے جیولیټ په قبر کښے برے یښتلو چه بد قسمتی هغه د هغه' ملګرے کړے وه۔ جیولیټ په خپل قبر کښے په آرام پرته وه۔ او روم و نه دا ے معلومیده لکه مرګ د هغے په بے شانه بائسته کړو وړو او رنګ روات کښے د بدلون راوستلو توان نه لرلو۔ او یا لکه چه مرګ هم په هغے مئین شوے وی۔ او د کرکے او نفرت لائق مرګ هغه محض د خپلے خوشحالئے د خاطره په دغه ځائے کښے پرے یښتلے وی۔ د هغے وجود لا تر اوسه تازه اوازمخیر معلومیدو ولے چه هغه خو د خوب راوستونکو دارو له برکته بے هوشه قدرے وه۔ د هغے په خوا کښے تائیبالټ په وینو سور کفن کښے نغښتے پروت وو۔ رومیو چه هر کله هغه اولیدو نو د خپلے جیولیټ د خاطره ئے هغه ته د ورور خوږ نوم واخستو۔ او د هغه د کالبوت نه ئے معافی او غوښتله ـ او ئے ویل چه دا دے ستا د دښمن نه ستا د مرګ بدل اخلم۔

رومیو په آخری ځل د خپلے معشوقے دیدن اوکړو بیا ئے د زهرو بوتلکے را واخستو او خپل ځان ئے د قسمت د سپیره ستورو د بند نه آزاد کړو۔ هغه زهر ډیر زود اثر وو۔ او د هغے خو بوږنکے دوائے په شان نه وو چه اثر ئے اوس رو رو په زائل کیدو وو۔ او د جولیټ د وینیدو وخت را نژدے وو۔ او د راوښیدو سره به ئے ساید، چه دا ویلی وے چه رومیو په وخت را او نه رسیدے شو او یا دا چه هغه ډیر وختی راغلے دے۔ اوس وخت را نژدے‌وو چه جیولیټ را بیداره شوے وے۔ پادری هم د وعدے مطابق هلته را او رسیدو ولے چه هغه ته معلومه شوے وه چه هغه چه ساتهوا ته په رومیو پسے کوم قاصد استولے وو۔ هغه د بده مرغه په لاره کښے ایسار کړے شوے دے۔ نو هغه په خپله کشئی لالتین بر کوتو کړل چه جیولیټ د قبر نه را اوباسی خو هلته چه د ا ـاهو نه هغه ته د کیپولیټ خاندان په قبرستان کښے رڼړا په نظر شوه۔ او بیا ئے د هغے سره وینے، توره او د رومیو او پیرس مړے بوتے اولیدے نو حق حیران شو۔

د دے نه وړاندے چه هغه' په دے واقعاتو څه رائے قائمه کړے وے جیولیټ هم را بیداره شوه او چه پادری ئے په خپله خوا کښے اولیدلو نو ټول ټکانے ځانیکے ئے په خیال کښے راغلو او هغے د رومیو په حمله پوس او کړو خو به دے کښے پادری د نورو سړو د راتلو ښکالو واوریدله ـ نو جیولیټ ته ئے مغرے کړے چه د دے بر نه اوزی

ACKU

ولې چه د خدائے د کړو سره د بنده چارے نه جوړېږی۔ چه د خلقو آوازونه ئے واورېدل نو پادری او بربدو۔ او په منډه اوتښتېدو۔ خو هر کله چه جیولټ د خپل ګران محبوب د لاس سره نزدے۔ یو لوښے اولیدو نو پوئے شوه چه د هغه د مرګی سبب هم دا زهر دی که چرے په دغه پیالګئے کښے د زهرو څه تکے نیم پاتے وے نو هغے به هم څکلے وو۔ هغې رومیو په شونډو ښکل کړو۔ چه که په دے پورے څه زهر نښتی وی۔ چه رائے کاږی۔ چه په دے کښے ورته د نزدے راتلونکو سړو آوازونه په غوږو شول۔ جیولیټ په تیزئ سره توره د تیکی نه را او و یستله او په خپله خیټه کښے ئے اوتومبله۔ او د خپل مئن او صادق رومیو په خوا کښے پربوتله۔

په دوسره ساعت کښې خلق د موقئے خائے ته یا را رسیدلی وو۔ د نواب پیرس یو نوکر چه څه وخت رومیو او خپل مالک به جګړه اولیدل نو د خلقو د خبرولو د پاره ئے منډے کړے وے۔ او د ورونا په بازار کښے دا خبر دا سے خور شو چه کوڅه په کوڅه یو الاکونی او نعرے سورے کلمے شوے وے۔ د هغوئی په ژبه د پیرس، رومیو او جیولیټ نومونه وو۔ په دے هله ګوله کښے امیر مانټیګ، امیر کیپولیټ او شهزاده هم د خوبه را بیدار شول۔ او د خپلو کتونو نه ئے را او دنګل چه د خبرے په حال څان خبر کړی۔ پادری چه څو څوکیداراتو د ګرجے نه د راوتلو په وخت په ګرګوزو، ژړا انګولا او مشکوک حالت کښے اولیدلو نو را ټینګ ئے کړو۔ د کیپولیټ خاندان په قبرستان باندے د خلقو میله لګیدلے وه۔ شهزاده پادری ته حکم اوکړو چه د دے واقعاتو په حقله درته څه هم معلوم دی ټول ربنتیا ربنتیا بیان کړه۔

هغه د امیر کیپولیټ او امیر مانټیګ په وړاندے د هغوئی د اولاد د خونړئ مینے داستان را واخست۔ هغه ووے چه په دے امید چه دا تړون به د دواړو کورنو زړه دښمنی ختمه کړی۔ هغه د دوئی دواړو لاسونه یو ځائے کړی وو۔ او وئے وئیل چه مړ شوے رومیو د جیولیټ خاوند او جیولیټ د هغه ښځه وه۔ خو د دے نه اګاهو چه هغه ته د دوئی د وادهٔ د راز ښکاره کولو موقع په لاس راغلے وے۔ د جیولیټ د یو بل خپلوان سره تړون اوکړے شو۔ او هغے د دویم وادهٔ د جرم نه د بچ کیدو په خاطر د هغه په صلاح د نشے دارو اوڅکل او ټولو دا وګنړله چه هغه ګنی مړه شوه۔ په دے دوران کښے هغه رومیو ته خط واستولو چه د نشے د دارو د ختمیدو نه وړاندے څان ورونا ته را او رسوی او جیولیټ د څان سره بوزی۔ خو د بدو د شامته هغه استازے هغه ته په وخت او نه رسیدے شو۔ د دے واقعاتو نه پس پادری نور څه او نه وئیلے شول۔ او نه ورته د دے نه زیات څه معلوم وو۔ هغه ته صرف دا قدرے معلومه وه چه د جیولیټ

ACKU

د روميو جيوليټ داستان په اختصار سره بيان کړے شو۔ اوس بايد چه دا۔ اوکتے شي۔ چه د دے ډرامے او د آدم خان درخانئے د رومان په واقعاتو او کردارونو کښے يو تر بله څه مشابهت او سمون او مماثلت دے۔ که هر څو هم د دوؤ بنيادمو د ژوند په واقعاتو کښے د يو بل سره ظاهري يوشانوالے ښکاري خو د علاقے او ماحول ځنے مخصوص حالات داسے هم وي چه اصل اړانړےته د تفاوت جامه وراغوندوي که حقيقت له راولے نو مغرب مغرب دے او مشرق مشرق۔ له دے کبله بايد چه په ادبي او ثقافتي ژوند کښے هم دغه تفاوت او بعد موجود وي په داسے حالاتو کښے که ځنے واقعات (قطع نظر د ماحول د حالاتو او ثقافتي فرق او بيلتون نه) يو تر بله لږ څه هم مشابهت خوري نو هغه د عالمګيرے انساني وروروليئے او د انساني خمير او فکر د يک رنګئے ثبوت ورکوي۔

آدم درخانئے لکه د روميو جيوليټ يو الميه ده۔ داسے الميه چه په پښتنى دنيا کښے ئے د هر زلمي او پيغلے، نارينه او زنانه او مشر کشر په زړه کښے ځانے کړے دے۔ په حجره يا ديره کښے د نغري په غاړه يا په سفر کښے او په عامو مجلسونو کښے هم په خوند خوند اوريدے او لوستے شي۔ دا رومان چه د پښتون د فطرت عکاس او د جذباتو ترجمان دے په خپله لمن کښے هغه اکثر کردارونه لري چه د دے قام د هر کس و ناکس د سرګلونه هم دي او د لعنت ملامت او مختورګي نخښے هم۔ دا کردارونه په حقيقت کښے د معاشرے د هر دور د دغه قسم افرادو نمائندګي کوي۔ که د نن نه سوؤنه کاله اګاهو وو که نن دي او که د نن نه سوؤنه کاله وروستو په راتلونکي وګړي کښے به وي۔ خو آدم خان به آدم خان وي او شمسي خان به شمسي خان۔ ميروکے به خپله لار شړي او ميربامی به په خپله لار روان وي۔ د انساني ژوند دا وسيع ناټک هم دغه شان روان دے۔ زشت او خوب ننګيال او بے ننګه، درانه او سپک، خوشي او ساهو هر چرته او هر کله خپل مخصوص کردار ادا کوي۔ هم دغه شے دے چه صدر خان ورته اشاره کړے ده۔

ميربامی د تا په دور ... څه لږ نه دي اوکړه غور
څو دا دور دا دنيا ده ... هم دا طور پړے غوغا ده
ننګيالي له ننګ‌ونام وړي ... بے ننګان له زرو کام وړي
دا هغو ته واني خام دي ... هغه واني دا بد نام دي
هغه خپله چار مرغويه ... ګڼړي دا خپله محبوبا

ACKU

د قبر نه د راویستو په نیت هغه هلته او رسیدو نو پیرس او رومیو ئے دواړه مړهٔ اولیدل ـ د قیصے نوره حصه د پیرس نوکر تیره کړه چا چه رومیو او پیرس سره په جګړه لیدلی وو ـ د دے نه علاوه هغه نوکر هم څه واقعات بیان کړل چا له چه رومیو د خپل پلار په نوم خط ورکړے وو ـ او ورته ئے ویلی چه زما د مرګ نه پس زما دا خط هغه ته ورکړه ـ

د دوئی د بیاناتو نه د پادری د دے بیان تصدیق او شولو ـ ولے چه هم په دے خط کښے رومیو د جیولیټ سره په وادهٔ کولو د خپل مور پلار نه معافی غوښتلے وه ـ او د دے خبرے تصدیق ئے هم کړے وو ـ چه هغه د یو دوائی فروش نه د زهرو بوتلکے اخستلے وو ـ او د جیولیټ په قبر په را حاضریدو کښے د هغه دا خاص مدعا وه چه د هغے په خوا کښے په دائمی خوب اودهٔ شی ـ

د دے ټولو شهادتونو د یو والی له کبله ټولے شک شبے د مینځه او وتلے او دا معلومه شوه چه د پادری په د دے جاځه او الول قتل مقاتله کښے څه لاس وو ـ او دا خبره د ټولو یقین ته پرے وتله چه د هغه دا ټوله چل وته د نیک نیتئ نه وه ـ

شهزاده د مانټیګ او کیپولیټ دواړو کورنو امیرانو ته مخ را واړولو او د هغوئی د ناپوهتیا او وحشی دښمنئے په عمل ئے هغوئی ښه او شنډل ـ او وئے وئیل چه د هغوئی د نفرت او دښمنئے په سزا کښے خدائے پاک د هغوئی بچی په یو بل مئن کړل او په دوئی ئے دا قهر نازل کړو اخر دے دواړو امیرانو فیصله اوکړه چه خپله دښمنی د خپلو بچو سره د همیشه د پاره ښخه کړی او امیر کیپولیټ امیر مانټیګ ته خواست اوکړو چه دواړه سره دوستان شو او د رومیو او جیولیټ د وادهٔ نه پس د دواړو ټبرو د خپلو ئے او یو والی د ښکاره کولو د پاره د یو بل ورونړه شو ـ او ووئے وئیل چه "زهٔ د خپلے لور د مهر په عوض صرف د امیر مانټیګ د دوستئے خواهش لرم" ـ او امیر مانټیګ د دے په ځواب کښے او وئیل "خو زهٔ د دے نه زیات څه ورکول غواړم ـ زهٔ به د خالصے سرو د وفادارے جیولیټ یو داسے قیمتی بت تیار کړم چه د ورونا ښار سره به تل تر تل قائم وی" ـ امیر کیپولیټ ورته په ځواب کښے اووئیل چه "زهٔ به هم د رومیو یوه داسے مجسمه جوړه کړم" ـ

په دے ډول د دواړو خاندانونو امیرانو د خپلے دښمنئے د هیرولو د پاره د یو بل سره د مهربانئے او خوش اخلاقئے په سلوک کښے د یو بل نه مخکښے کیدل غوښتل خو د دے دوستئے په بدل کښے د هغوئی بد بخته اولاد د دے دواړو درنو خاندانونو د دښمنئے د ختمولو د پاره د خپلو ځانونو قربانی ورکړه ـ

د انگریزی ادب د تاریخ یو لیکونکے اے۔ سی وارډ ( A. C. Ward ) چه د رومیو جیولیټ په حقله څه وئیلی دی ـ بعینه دغه بیان په آدم درخانئے هم منطبق کیږی ـ خو آدم درخانئ پرے یو ځائے کښے فوقیت هم لری هغه دا چه تر مرگه مرگه ئے د پیلتون سختے گاللے خو د خودکشئے گناه ئے کیدے شی چه د مذهبی پابندئ په بنا یا په ژوندانه ئے د یو بل وصال او دیدار له خاطره په سر نه وی اخیستے خو هر کله چه د زمانے ناکردو د هغوئی دا ارمان تر سره نه کړو نو د یو بل په مینه ئے په نری ونځ ځېل سرونه اوشندل ـ اے سی وارډ د رومیو جیولیټ په حقله لیکی :

"This is pure love, love without Taint of either prudary or prurience ...............love compounded as love is, of pain and joy and escaping Time's destructive hand only through heath".

"دا یو سپیځلے مینه ده ـ هغه مینه چه د مجاز او نفسانی خود غرضو د فاسدو خیالاتو نه ماورا ده ـ ـ هغه مینه چه اصلیت ئے د غمونو دردونو او خوشحالو نه ترکیب موندے دے او د زمانے د ظالم لاسه د مرگ په لار ځان خلاصول ئے غوره کړی دی،، ـ

آدم درخانئے چه د پښتنی ژوند او قامولئے د نمائینده کردارونو په حیثیت کښے کوم مقام لری هغه نه که د یو دریم کړی په سترگه او کتے شی نو د ژوند د مختلفو اړخونو د عکاسئے له لحاظه به د دے خبرے قائل شی چه د دے رومان د پښتون قام د ثقافت او تهذیب سره ډیر کلک تړون دے او څه رنگ چه د کتاب Illustrated History of English Literature په صفحه ۱۰۲ باندے فاضل مولف د رومیو جیولیټ په حقله ذکر کوی چه :

"Romeo and Juliet (1594—5) which has driven so deeply in to the emotional conciousness of the Civilized world that there is little need for Comment"

''رومیو او جیولیټ (۹۵ - ۱۵۹۴) (تمثیل) د مهذبے دنیا په احساساتو او جذباتو کښے تر دے حده کور کړے دے چه د بحث کولو حاجت نه لری ،،

دغه شان د آدم درخانئے رومان هم په پښتنو د ځېل عالمگیر او ژور اثر له کبله د بحث و تمحیص څه حاجت نه لری ـ دا رومان په حقه سره د لیونی عشق او سپیځلے مینے یو-زړه راښکونکے داستان دے ـ د مینے او محبت د خوږو خبرو د پرله پسے واقعاتو د بنائسته

زنځیر او د علمي بحثونو او فلسفیانه نکتو سره سره د ملي ژوند عکسونه لري ـ او د پښتون قام د جذباتو او احساساتو نمائندګي کوي ـ دلته مینه ریښتونې او بې ریا ده پاکه او د زړهٔ د اخلاص ده ـ دلته مجازي مینه د حقیقت په هغه لوړ بام ختلې ښکاري چرته چه چل وتې نفسیاتي او ځوشې خواهشات زائیل شي ـ او طالب او مطلوب په یو بل وېاړي ـ او کله چه د اصل آزمائیش وخت راشي نو د ګران نه ګران ازمېښت هم په ډېره خوشحالئې په سر اخلي ـ د دې مثال دوه همرنګ ثبوتونه د رومیو جیولیټ او آدم درخانئې په واقعاتو کښې موندلې شي ـ

څه وخت چه رومیو د شهزاده په حکم د ښار نه شړونکې شو ـ نو د پادري په صلاح د خپل میئن د وصال په خاطر جیولیټ د بې هوشئې دارو د ستوني ښکته کړل ـ څه که هغه په دې خبر نه وه چه دا د بې هوشئې دارو دي او که د زهرو ګوټ دې ـ هغه پخپله وائي :

"What if it be a poison which the Frair
Subtly hath minister'd to have me dead,
Lest in this marriage he should be dishonour'd,
Because he married me before to Romeo".

"یا به څه وي که وي زهر دا پادري چه دي راکړي پټ په راز پکښې سازش وي څه زما د مرګ د پاره ـ

ګوندې نه چه دې وادهٔ ښېې دې پخپله او شرمیږي ـ دا په دې چه وادهٔ شوې آ ناهو د دې په لاس یم زهٔ یو ځلې رومیو ته ..
خو سره د دې شک شبهې ئې بیا هم د عشق په آواز لبیک او وې ـ او لکه څنګه چه وائي :

د عشق عقل خدمتګار دے
لیونتوب ئې پرده دار دے

هغې هم د عقل سپوټکې د سره ګزار کړو ـ او سره د دې چه د خپل ترهٔ د زوی ټائبالټ، چه رومیو وژلې وو د بوټ سورې ورته مخې مخې ته لیدو ـ هغې هغه دارو اوڅښل او خپل ځان ئې د هرې راپېښیدونکې واقعې د نتیجې نه بې نیازه کړو او اوئې وئیل :

"O Look, methinks I see my cousin's ghost,
Seeking out Romeo that did spit his body
Upon a rapier's point: Stay Tybalt, stay?
Romeo! come, this do I druk to thee".

ACKU

"آه او کوره! زما خیال دے راته بنکاری، د تربور روح زما ځکښے کیږی۔ په تلاش د رومیو دے، چا چه ژوند له دهٔ اخیستے د تیرے تورے په سوکه، لړ ایسار شه تائیبالته لړ ایسار شه، لړ ایسارشه !

رومیو یمه در روانه    دا زهٔ ستا له ځه ځنبمه،،

هم په دغه انداز څه وخت چه د آدم خان د ژوند مزے په شو کیدو شو۔ او د میرو په خوله ئے د خپل ارمانی ژوند دا وروستے پیغام درخو ته واستولو چه :

"صبا دروسه شتاب تـــر شه    تر درخو پخپله ور شـــــه
پرے اول زمـا دعـــا کـــړه    بیا پرے دا پیغـــــام ادا کړه
چه مونږ لاړو کـه ربنتیا کړے    ته به هم ورانـه دنیـــا کړے،،

نو د درخو د روح شیشکی طوطا هم د خپل آشنا په لور د الوت په تکل وزرے وازے کړے او میرو ته ئے دا رنګ اوونیل۔

"چه په یار پسے یار تله" کا    دا رنګ دروسی تعطیل نه کا
چه په یار پسے دا تله" کړم    پښے به زهٔ د زړهٔ لیمه" کـــړم
دائــــے او ونیـــــل پـه غـــاړه    آه ئے او کـــــړو ساه ئے لاړه۰۰

د دوؤ مینو د ملاقات او وصال شپه څومره خوندناکه او د خوشحالو نه ډکه وی۔ د دے احساس او اندازه د دغه دوؤ مینو زړونو په درزا او په هغه کیفیاتو پورے وی چه په هغوئی تیریږی او هیڅ دریم تن ئے تر هغے محسوسولے نه شی تر څو چه پرے په خپله نه وی تیرے شی۔ دغه لمحے درخو داسے ستائی :

"تیــارهٔ خــونـه چــه زمـا ده    نن د تـا پـه مخ رنــړا ده
په راتلل دے شوم شاد کمــه    پـه هـر کام شـــوم دل آرامـــه
تر دا وخت چه مبـــارکـــ وی    کوم یو وخت به خوشترک دی،،

او دغه د ملاقات او وصال د شپے منظره که د آدم درخانئے دے او که د رومیو جیولیټ یو اصلیت یو احساس او یو کیفیت لری۔ آدم خان چه د خپل سر په سودا د طاؤس خان ملک د کور په سنګینو برجونو د شپے په موره تیارهٔ کښے په اول ځل ور اوری نو خپله مینه ئے د لار ښودنے سبب ګیږی۔ او چه څه وخت د خپلے درخو په خوا کښے کښینی۔ نو لکه خوب چه وینی۔ او د حیرت او استعجاب په حالت کښے او وائی :

ACKU

دا اوده یم که ویده یم      چه ناظر په دا دیدار یم
چه په خوب یې نه لیدله      هغه سخ مې او لیدله''

خو چه څه وخت د سحر آثار ظاهر شي - چرگان بانگونه را واخلي ګډے نعرے شروع کړي نو د آدم خان زړه درز اولویږي - او د خوب د دنیا نه بیداره شي - او په ډیر ارمان او افسوس ئې د لوېدلي زړه نه دا بیان را ولاړ شي :

''هم دا شپه عمر زما وے      سرگ مې دا سحر صبا وے
چه له هسې مخ بیلیږم      یا ژوندے څم چرانیږم

د آدم خان ویناکانې د رومیو د هغه خبرو سره متوازنې او یو رنګ ښکاری کومې چه هغه د جولیټ سره د وروستي وصال په وخت کړے وے - د ژلمی رومیو نه د جیولیټ یو اهم تپوس دا هم وی چه ''د چا په ښودنه دلته را اورسیدے'' او هغه ورته ډیر په سادګئ سره په جواب کښے وائي چه :

"By love, that first did prompt me to inquire,
He lent me council, and lent him eyes!"

''زما مینه راهنما شوه چه اول ئې مستعد کړم په لټون او په لټه مینې ماله صلاح راکړه - زما سترګې د هغې شوے''۔

او د دے نه پس د خوږے مشغولا او وصال دور شروع شي د دے وصال په غرض رومیو د خپلے خانداني دښمنئ هم څه پرواه نه کوی د مینے او وصال لیوالہ زړه ئې د کپولیټ خاندان د باغ په احاطه دننه هغه دریڅې ته رسوی چه د جیولیټ د کمرے له ارخه پیرته کیږی - او هلته د هغې سره ملاقي کیږی - د ملاقات د دے خوندورو لمحو په صفت رومیو هم د آدم خان په شير ګویا کیږی - او وائي :

"O blessed blessed night, I am afeard
Being in night all this is but a dream
Too flaltaring sweet to be substantial"

''مقدسے محترمے پاکے شپې د برکتونو، بس په دے باندے ویریږم هسے نه په دے بیرو کښے دا هر څه چه وینم خوب وی۔

زانه هر څه چه دا ښکاری دومره ښکلی او خوږه دی چه باور د حقیقت پرے ناممکن چه زما اوسی''۔

د مینو زړونو احساسات د دنیا په مخ هر چرته چه وی انسانی وی ـ او یو رنګ وی ـ د آدم درخانئ او رومیو جیولیټ د زړونو په احساساتو کښې هم څه خاص تفاوت نه ښکاری که رومیو ته د دے ویړے او آبادے دنیا په مخ د ورونا ښار نه سیوا نور هم وطن ښار او هر ښار ویجاړ ښکاری ـ نو آدم خان هم د درخو په مخ آبادے باز درے د جنت په څیر ګنړی :

"There is no world without verona walls,
Bu purgatory, tarture, hell itself:
Hence banished is banished from the world,
And world's exile is death. Then 'banished'
Is death mis-Term'd: Calling death 'banished'
Thou cutts't my head off with a golden ax,
And smils't upon the stroke that murders me".

"ورونا نه بهر واوره، نشته نوره دنیا نشته!
خو مقام د کفارے دے، اخرت څه چه دوزخ دے
شړونتیانو شړونتیا ده حقیقت کښې د دنیا نه
د دنیا نه شړونتیا نو نورلا څه وی خو بس مرګ وی
'شړونتیا، نو بیا مرګے دے چه ئے نوم ورله بدل کړو وائی مرګ ته شړونتیا
د سرو تبر دے په لاس دے سر زما پرے پریکوے ته'
په هغے ګذار مسکا کړے چه تا بیا مے د ژوندون ده ،،

آدم خان وائی :

"په هغه طرف مے زړه ځی
چه درخو ځی بل سره نه ځی
یو قدم ئے نه بیل لور کړم
د صورت مکان به ګور کړم
نه زما به ژوندون ویاړے
زما عمر ژوندون غواړے
سازر سور به دا زمان کړم
بازدرو ته مے روان کړم..

هغه باز درے چه :

پکښې ښے جونونه ظاړے
پیدا کیږی لکه ـ باړے
چه چشمانے ئے ګرڅش کا
زړونه ښکار به یو پرڅش کا
بازدرے څکه نرمیږی
چه ترے باړے پیدا کیږی
بلکه حورے پکښې جونه
بازدرے دی جنتبونه

څه وخت چه د دوو زړونو دمینے دنیا داسے شریکه شی چه د دریمګړی او خللی لاس پکښے د بیلتون او ناروغمنتیا چنړی نشي اچولے نو هغه وخت مینه لاامتناهی شی او لکه د سمندر دریاب نے غاړے معدومے شی جیولیټ د دغه مینے اظهار خپل محبوب ته په دے تکو کښے کوی :

"My bounty is as boundless as the sea,
My love as deep, the more I give to the
The more I have, for both are infinite."

د پیرزوے خوره دومره لکه بے غاړو دریاب وی
زما مینه دومره غرقه چه هر څو نے بخښم تا ته ـ د هغے نه لا سیوا شی ـ
دواړه دونی بے انتها دی،،

هم دغه رنګ کوم وخت چه درخانئے د آدم خان سره چیر را واخلی او په هغه باندے د ناخوالئے او غریو حالت دبره کړی ـ نو درخانئے ورته د خپلے بے پایاوه مینے راز په دے شان څرګندوی ـ درخو وائی :

"که ته هر څو پروانه نے زۀ شا شمع غم د تا کړم
ته لا نه نے پیدا شوے زۀ لمبه په سر برپا کړم،،

د معشوقے د چیړله کبله د عاشق په زړۀ کښے شکر ونجی پیدا کېدل یو فطری امر او عامه قاعده ده ـ د عاشق زړۀ په دے سلسله کښے دومره حساس وی ـ چه د معشوقے وړه شان ناموافقه خبره ورته هم لکه د غر اودرېږی ـ خو معشوقے هم څه کچے سپړے

وی چیچلی ـ هغوئی هم په هل اسانه د خپلو خویونو نه پستنه کیری له ـ خکه خو ...ۀ شاعران د عاشق زړۀ ته د ښینے او د معشوقے زړۀ ته د ګیځے نسبت ورکوی ـ د ...لااات په وخت چه جولیټ د رومیو سره په خوږه مشغولا سر وی نو د هغے زړۀ دغه رنګ ...په او تخنیږی او وائی :

"O gentle Romeo,
If thou dost love, pronounce it faithfully:
Or if thou thank'st I am too quickly won,
I will frown and be parverses, and say thee may".

"رومیو نیکه خو په گرانه!
که د مینے خواهشمند ئے نو اقرار ئے په رښتیا کړه
که دے دا چرے گمان وی چه ډیر زر خوښه په تا شوم
ځان به ستا نه مزور کړم ناخوالی به کړم ظاهره درته وایم به چه نه !

او رومیو ورته په ځواب کښے وائی :

"Lady, by yonder blessed moon I swear,
That tips with silver all these freit tree tops",

"اے میرمن: په هاغه ښکلے سپوږمئے باندے مے قسم شه
د میوو په دغه اونو چه شیندلی ئے سپین زردی،،

ا او

درخانئے هم چه د ځهل مین آدم خان سره د راز و نیاز په خبرو مشغولیږی نو په زړه کښے ئے د معشوقانه مکیز او ورانی خیال را ولاړ شی او د ځان سره او وائی :

| | |
|---|---|
| " یعنی ذم صفت آمیزه | د یار او کرم له مکیزه |
| چه یار څه په زړه کښے راوړی | پرے دلگیر شی که اوویاړی،، |

د دے خیال د راتلو سره ئے دا قطعه د زبانه شی :

| | |
|---|---|
| د مشکنړو سوداگر وے | اوس د لعلو ئے دلال شوے |
| که ته گل د کشمالی وے | په گریوان درخانے نال کړے |

آدم خان فکر او کړو چه درخانئے زما نسبت د هغه ځیزونو سره کوی - چه په حیثیت کښے ښکته او لاندے دی - په دے خبره ئے طبع خره او زړۀ خفه شان شی - او د دغه خفگان اظهار په دے جوړ او کړی، -

| | |
|---|---|
| زۀ به اصل کتے، باز یم | چه به تا زرکے شیدا شوم |
| اوس خندا به قهقه کړے | چه زهون ستا د خندا شوم |

د شپے د ملاقات هغه ښائسته منظر او د هغے نه پس د جدائے روداد که د آدم درخو دے او که د رومیو جیولیټ ځواؤ شا یو شان دے - فرق صرف دا دے چه د آدم

درخانئے په رومان کښې چرګان بانګونه را واخلی او ګډے اوناړی او په رومیو جیولیټ کښې د خراړے او بلبلې آوازونه د دوؤ مینو د بیلتون پیغام ګیږی ـ په آدم درخانئے کښې د چرګو غږ درخانئے ناقلاره کوی او په رومیو جیولیټ کښې جیولیټ د خراړے اواز د بلبلې په سندرو تیر باسی ـ حقیقت دا دے چه دواړه معشوقې د خپلو مینانو جدائے ته نه شی ټینګیدے او دا ئې خواهش وی ـ چه دا ملاقات او وصال دے تل تر تله هم دغه شان جاری او قائم وی ـ په دے سلسله کښې چه کومه مکالمه په خپل خپل ځائے د دے مینو تر مینځه شوے ده ـ د غور قابله ده ـ جیولیټ رومیو ته وائی :

"Wilt thou be gone? It isn ot near day:
It was the nightingale, and not the lark,
That pierc'd the fearful hollow of thine ear,
Nightly she sings on yond pomigranate tree
Beleive me love, it was the nightingale."

"ته به لاړشے دا اووایه؟ ـ لا خو ورځ لرے په شا ده :
دا بلبله سندر بولی ګوندے نه چه دا وه خراړه،
چه ئې ستا په غوږو باندے بد دا هسے اواز راغے،
دا د شپې توره تیره کښې دغه ځائے په یو انار کښې همیشه سندرے وائی
باور اوکړه اے مینه چه دا وه هغه بلبله ،، ـ

درخانئے آدم خان ته وائی :

| | |
|---|---|
| شپه د مینې زر تیریږی | د غم شپه نه تمامیږی |
| زه د شپې ننداره او کړم | وخت نا وخت به قیاس زه کړم |
| چه دا اووته خروس وو | ګویا جوړ تیغون (۱) طاؤس وو |
| هم په کلی ګنبے چرګانو | ژغ کړو الفراق یارانو |

او بیا ئې په آدم خان داسے غږ اوکړو :

---

(۱) تیغون طاؤس : ځلانده یا بریښیدونکے طاؤس ـ

"خانه تـه راڅبـر نه ئے — پـه ژړا مـے سترګے سرے ډکے
پاســه دروســه روانیــږه — چرګو ځانے په ځانے نارے ډکے

رومیو هم د مرغئے په آواز شک من شوے وو - هغه پوهیدلے وو - چه شپه تیره شوه - او صبا راختونکے دے - د بیلتانه دا ستازی غږ دوړابه اوریدے شی د هغهٔ د جیولیټ په خبره امنا او تسلی او نه شوه او ځان ئے په دے غلط فهمئے کښے باتے کول نه غوښتل هغه جیولیټ ته اووئیل چه :

"It was the lark, the herald of the morn
No nightingale: Look love, what envious streaks
Do lace the severing clouds in younder east:
Night's clouds are burnt out, and jocund day

Stands tiptoe on the mysty mounitain tops:
I must be gone and live or stay and die."

"دا خراړے وه دا خراړئے وه، چه استازے د صبا دے
دا بلبله کیدے نشی : محبوبا لږ څو او ګوره! دغه کرښے حسدناکے
هاغه لرے په مشرق کښے له وریځو نه چاپیره :
مشعلونه د شپے مړهٔ شول خندنی صبا ته ګوره
دے ولاړ د پښو په څوکو د غرو غرونو د پاسه :
خوامخواه دے یا روان شم بادِے دلته کښے ایسار شم چه مرګے په ځان قبول کړم،،

څو د پښتنو سحر د چرګ بانګی سره سم وی دغه وخت لا په اسمان د ستورو مشعلونه بلیږی - او د نمر د راختو آثار لا مفقود وی - او ځکه صبح کاذب د هغوئی د پاره د سحر پیغام راوړی - څه وخت چه درخانئے بهر اووتله او د وړبو چرګو اواز ئے تر غوږ شو نو هغے بو چرګ را اونیوو او چه راغله نو آدم خان ته ئے اووئیل :

"سپین کے چرګ مے آدم خانه — وبلـه تاؤ پـه زور چیت پیت کړو
بیـا مے ستـالـه ډیـره تاوه — جوړ ژوندے په اور کښےوریت کړو،،

آدم خان ورته په ځواب کښے اووئیل چه :

آدم خان وے چه هر چرګ دے — هم پـه دا طور خـراب شـه
چه سپین وبـزار وبنـــه — هغـه کل واړه کبــاب شــه

او هم په هغه شان لکه چه رومیو ته د سحر آثار نمایاں شوی وو په دوئی هم :

بیلتون په خره اسپه راغے    ما وے سلام کوم دۀ وے کور دے ورانومه

او څه شیبه پس :

د کاذب صبح گریوان شو    وبله چاک وخت د هجران شو
بلبلانو په گلونه    نارے اوکړے فریادونه
فلک ستر گے له دے غمه    په شبنم کړے پرنه نمه
د درخانئے خاطر چاک شو    آه‌ٔ خان په ډیر یلغاک شو
دا دستور دے چه صبا شی    گدے میړے په نړا شی
بوے میړے اواز اوکړو    په خوځل ئے باز باز او کړو
درخانئے قطعه فالفور    هغه وخت او وے دا طور

د دے نه آگاهو چه د درخانئے هغه قطعه ذکر شی د جیولیټ بیان اوربدل پکار دی چه هغه څه رنگ ورځے ته شپه وئیل غواړی۔

"Youd light is not daylight, I know it : I
It is some meteor that the sun exhales,
To be to thee this night a Torch - bearer,
And light thee on thy way to Montua
Therefore stay yet, thou neede'st not be gone."

"هاغه اورته چه بنکاریږی دا د ورځے رنړا نه ده، زۀ بم پوهه په دے باندے :
کسو ستورے را غورزیږی چه د نمر گمان پرے کیږی،
چه د لار دے رهنما شی درته دے مشعل بردار شی،
د مانتوا په لار چه ته ځے نو په ځکښے دے رنړا وی
بیا نو اودریږه ایسارشه تا دی مه کوه په تلو کښے،،

درخانئے هم دغه رنگ د چرګ په بانګونو ځان نانګاره کول غواړی او دا ئے خواهش وی چه د میئے دا مشغولا دے هم دا رنګے جاری وی چه په دے کښے ئے د پلار ګدے نعرے شروع کړے داسے بنکاریږی لکه چه هغوئی ته زر تر زره د جدا کیدو پیغام ورکوی۔ د درخانئے چه دا اوازونه په غږو شی نو دا نعره او کړی :

په کمی کښے دے خوږ شه    اے زما د بابا میړے
صبا نه ووتا صبا کړو    یار مے تا او وهت له غیرے

رومیو د سحر په انګازه رسیدلے وو او مجبوراً ئے تلو ته تلوسه کیده۔ خو جیولیټ

ACKU

ورنه د ایساریدو بانے لټولے ـ او د وږمے رڼائی نے هم د ستوری په را څوږیدو شمیرله خو د هغے د دے خبرو خواب رومیو په دے ټکو کښے ورکړو :

"I will say yound grey is not the morning's eye.
'Tis beet the pale reflex of Cynthia's brow :
Nor that is not the lark whose notes do beat
The vaulty heaven so high above our heads,
I have more care to stay than will's to go:
Come death and welcome, Juliet will it so.
How is it my soul? let's Talk, it is not day"

"څه چه لاندے مے کړی خیر دے، که مے مړ کړی عذر نشته،
زۀ به دے باندے رضا یم، ښائی ستا خوښی هم دا ده ـ
سپین بخنه چه آبکاری نه چه سترګه د صبا ده :
دا خو جوړے زیړ بخنه د سپوږمئے د مخ رڼرا ده :
به نغمو باندے چه سر ده نه دا خړاره د هوا ده
نښ دا سین آسمان ولاړدے پاس په سر زمونږه باندے،
زۀ د تلو د تلوسے نه په دے زیات یمه خوشحاله چه هم دلته دنے ولاړوے :
راشه اے مرګیه راشه! ․هر کلے زۀ درته وایم جیولیټ هم په دے رضا ده ـ
دا ے نه ده وایه ځانه؟ څه چه دواړه مشغولیږو، نیتی لرے د صبا نه․․․

آدم خان وائی :

هم دا سپه عمـــر زمـا وے مـرګ مے دا سحـر صبـا وے
چـه لـه هـے مـخ بـلـیږم یـا ژونـدے خـم حیـرانیـږم
پـه ژونـدون چـه شـا ګـوږمـه درخـو بانے شوه زۀ خمـــه
حیف بـه دا عمـــر زمـا شـه صـد نفـرین بـه دا وفا شـه

او درخانئے چه د آدم خان د رخصتیدو د وخت په رالنډیدو او پوهیری ـ و په سرو سترګو به ژړا شی ـ د جدائے او فراق سورے نے لکه د مرګ د اشارې څخے ته او بیری زړۀ ئے غواړی چه دا مشغولا هم دغه شان جاری وے خو سحر نے په سر ولاړوی ـ او د دونی د باره سیوا د بیلتون نه بله لار نه وی ـ په دے حال کښے درخانئے پړے دا ارمانجنه نعره کوی :

خانه دا چه مے د ماسره قصے کړے دا مے واړه غیرے مینے اندیښنے کړے
روغ عالـم را خبــر نه دے بارے ما په ژړا دواړه سترګے سرے کړے
ولے به نه ژاړم آدم خـانـه دسپهارچر ګانو ځائے په ځائے نعرے کړے

جیولیټ هم پر ډیره وخته د سحر شپېلۍ غږیوان پټ نه کړے شو. د مرغو آوازونو د شورو د غنا لېدو او د مشرق په سیمه د سحر رڼوالي نے آخر سترګې او غوږونه او د خراړے په نعرو نے یقین راغے او ډیر په درد سره آواز ئے خپل مئین رومیو ته داسے اوونیو :

"It is, it is hie hence, be gone away :
It is the lark that sings so out of tune
Straining harsh discords and unpleasing sharps"

"دا څو ورځ ده چونه دسے زر څه دروسه رواڼ ره
دا خراړے ده چه وشپیږی په دے سفو لو لو ور ده
دا اواز ئے څه بےخونده بے مزے تے دی سدرے،،

او څنګه چه درجانے د حال بلار لمے او حرمان ښکاری وه نو د هغه نه جیولیټ په خراړے بد اوونیل :

"This doth not so, for she divideth us :
Some say the lark and loathed Toad change eyes,
O now I would they had chang'd voices Too,
Since arm from arm that voice doth us affray,
Hunting thee hence, with Hunt's - upto the day."

"د خراړے اواز خوندنا ک وی خے وائی دا رو وی :
خو دا به ده داسے نه ده دا بغاء د جدائی سو ن زما او ستا د یاره،
ګوښو لا او خراړے دواړه داسے وائی وی سبن سترګی،
زه دا هم وریره وایم چه لا اوس ئے اوازونه هم د دے سره بدلیږی،
لاس تر لاسه بوږ یا هم مو. هغه لو ئے اوازونه، وبره وی بو نامراره
یا بیے دی اوازونه درته وائی هغه بیا دے. د سحر اواز او سوے ،،

او بیا رومیو ته داسے رخصت ورکوی :

"O now be gone, more light and light it grows"

"څه اوس دروسه رواڼیږه، د سحر رڼا خوریږی، رڼوالی رو رو زیاتیږی،،
رومیو ورته په ځواب کښے وائی :

"More light and light, more dark and dark our woe"

ACKU

آدم خان هم د روميو غوندے يو نوے ځلمے وو ـ د مينے احساس ئے د ابتدا راهے په زړه کښے موجود وو ـ هم د دغه احساس له برکته هغه د شعر و سخن او موسيقی شاهو شوے وو ـ صدر خان وائی :

چار حروف د زړه د رنځ وو — هر يو حرف پنجه دو پنځ وو
چه شاهد ئے په دا حال دے — د نازو قطب ويصال دے
خپل خاطر ئے بے فروغ کړو — قطبے ئے په لفه زوغ کړو
روح به خوښ د دهٔ له مخ وو — به الام ئے د مړو سخ وو
------------------------ — ------------------------
موسيقی علم ئے ډير وو — په سرود کښے ئے ډير پير وو
عشاقی پرده به ويره — دهٔ خپل شان کړه تر حد تيره

دا د هغه ابتدائی دور ذ کر دے ـ چه آدم خان لا درخانئے ليدلے نه وه ـ او نه ئے د هغے وجود د سترگو او خيالونو مرکز شوے وو ـ هغه يو دروند خوږ بنانسته او بے ضرره ځلمے وو ـ د نغمے سرود او ښکار سره ئے کار وو ـ خو هر څله چه به ربتيا ئے د مينے اوږ به زړه کښے غرغندے او کړے ـ نو دے هم د هورے د لويو درگو شين امزرے شو ـ روميو موسيقار نه وو خو هغه ته دا احساس ضرور وو چه د هغهٔ زړهٔ به روزلين Rosaline نوے پيغله ورغلے دے ـ او آدم خان ته د خپلے معشوقے څه خاص پيکر يا وجود په وړاندے نه وو خو بيا هم د رباب په تارونو کښے ئے د هغه ناليدلی بشر سره مشغولا کونه ـ دا دواړه ځلمی څه رنگ چه ظاهريږی په خپله مينه مين وو ـ يو دواړو د خپلو مينو زړونو د تاؤ او کرے د سرولو د پاره خپله خپله لار غوره کړے وه ـ

درخانئے او جيوليټ ـ | په ابتدا کښے څه رنگ چه تاغلے سيمسن ( Sampson ) وائی ـ جيوليټ هم د روميو په شير جامد يا مجهول حيثيت لرلو ـ د رقص او ندا په محفل کښے يو تر بله د مخامخ کيدو نه اګاهو دواړو مرکزی کردارونه محض د دوو عامو افرادو په حيثيت پيژندے شی ـ او دا يے ښکاری لکه چه نرس او مرکوشيو ته د مرکزی کردارونه مقام حاصل وی ـ دغه رنگ د آدم خان درخانئے د داستان په ابتدا کښے هم پير صالح او پسکنے د آدم خان او درخانئے نه زيات اهم ښکاری ـ خو دا هله ته چرے سونو د دغه دواړو کردارونو حالات او واقعات تر بخے اونسيو او د وادهٔ د شپے د مجلس د واقعاتو نه مخکښے دور د نظر لاندے اوساتو او د واقعاتو او داستان په پر مخ تګ کښے د هغوئی د کردار نه خان بے فکره نه کړو ـ

مرکوشيو او بلوکے ـ | بے شکه چه د آدم درخانئے په افسانه کښے د مرکوشيو په شير ژوندے کردار موندے نشی ـ خو سره د دے د آدم خان په ملګرو کښے بلوکے

ACKU

"رنړانی رو رو زیاتیږی، خو د غم تیرے دا شانے په موږ باندے را خوریږی،،
آدم خان د سحر د راتلو نه خپله بیزاری داسے ظاهره وی :

"نور آدم په واویلا شو ، الفراق فراق گویا شو
وے نے څه عجیبه شپه ده ، چه تر درست عمر خوږه وه

د مال حرص او د پیسے ټکے لالچ د دنیا د هرے سیمے د بنیادم یوه غټه کمزوری ده۔ متل دے چه "زر په غره کښے لار کوی،،۔ په دے د غولیدو د باره د یورپ امریکے یا د ایشیا افریقے په بنیادمو کښے خاص تخصیص یا تفاوت نشته په هر وطن او هره زمکه میر مایان اوسی که دغه حرصناک په آدم درخانئے کښے د میر مائی یا میر بامی په نوم موجود دے نو په رومیو جیولیټ کښے خوار Apothecary سنداسی زهر په زرو ورکوی۔ څه وخت چه درخانئے د پیسو په عوض میرمائی د آدم خان نه په غلا او په پټه پایاوی ته حواله کړه او آدم خان او درخانئے دواړه نے د فراق په اور ستی کړل۔ نو داستان گویو دا بیان تیر کړو :

زر بلادی زر بلادی  شیخ گمراه کا وران ملا کا
پدر قتل په پسر کا  پسر قتل په پدر کا
ورور د ورور په تیغ حلال کا  عزیزان ویله پائمال کا
شرم و ننگ د سړی کم کا  دین لا هم پانسے مردم کا

---

چه د زر آفت گزند دے  څو دانا وته څرگند دے
یو عجب باب د حیرت دے  نه پوهیږم څه حکمت دے
په دا حال د زر پوهیږو  څو پوهیږو لا غولیږو
څو ترے زار کړو لاڼے غواړو  څو ترے زاړو لا پرے ویاړو

څه وخت چه رومیو د جیولیټ د مرگ خبر واوریدو "نو سمدستی نے سورو ته د تیارئے حکم ورکړو۔ چه هم په هغه شپه ورونا ته لاړ شی او د خپلے معشوقے دیدن د هغے نه قبر کښے اوکړی۔ د نا امیده شوی سړی په ذهن ورانے و جاړے خبرے زر ځائے موی نو یو خوار حکیم د هغهٔ په خیال کښے راغے چه دکان نے ورله څو ورځے وړاندے د مانتوا په یو بازار کښے لیدلے وو۔ دے دکاندار چه د خپلے جامے او ډول ډال نه خوار زار فقیر معلومیدو رومیو ته ونیلی وو۔ چه که چا ته د زهرو ضرورت وی۔ نو زما نه نے سودا کولے سی۔ د هغے دوکاندار خبرے رومیو ته لا هغه شان یادے وے۔ رومیو چه د هغه په دکان ورغے او د زهرو سودا نے ترے کوله۔ نو اول خو ورته هغه څه آئے بائے او کړے۔ بیا ورته رومیو زر ورکښے کړل نو هغه خوار نے دا پیشکش رد نه کړے شو۔ او په رومیو نے زهر خرڅ کړل۔ په دغه وخت ورته رومیو د زرو او زهرو داسے موازنه او کړه :

ACKU

"There is they gold, worse poison to men's souls,
Doing more murder in this loathsome world
Than these poor compound that thou mayest not sell:
I sell thee poison, thou has sold me none,
Farewell, buy food, and get thyself in flesh."

"واخله لاس لره زر دی راخمه. دا د زهرو لا بتر دی، د انسان د ځان د پاره
دے پے مهره دنیا ئلے کښے ، ډیر مرګونه فسادونه، هم د دے د لاسه کیږی
څه دا خوار مر نبات دی، چه ته ښکاری نارضائے، دا په ما په خرڅولو
دا وو زهر چه ما در ډرو ، تا خو هیڅ راته را نه کړل۔
چار دے ښه شه، رزق واخله، څه په خیټه باندے موړ شه ،،

**کرداورنه۔** کر دے ځایه د دے دواړو روماني داستانونو د مختلفو واقعاتو او د مرکزی کردارونو د مکالمو یو تر بله د مشابهت او یو شان والی ذکر اوشو اوس باید چه دا او نئے شی چه د یوے واقعے او د بلے واقعے بیل کردارونه یو تر بله څه نزدیکت او یو والے لری۔

**ادم خان او رومیو۔** آدم خان او رومیو د خپلے خپلے قیصے مرکزی کردارونه دی او د دواړو د قیصے په ادائره او تنه بودا کښے د دوئی شخصیتونه غالب رنګ راوړی۔ آدم د درخانئے او رومیو د جیولیټ په مالګرتیا کښے د واقعے د ابتدا نه تر آخره په دا شان حاوی ښکاری او دا دواړه جوړے د خپل خپل داستان سره په ډیر سرعت د مینے په میدان کښے ترقی کوی۔ د رومیو په حقله یو انګریز نقاد **Geoge Sampson** د خپل کتاب په سر مقاله کښے لیکی چه :

**The first brawl serves to introduce the young lover who is to be the storm Tossed victim of the next. He appears as one already distined to unhappiness.and is dimly consious of evil to come. He thinks he is in love but when love really pierces him, the lamb becomes a lion".**

"(د واقعے) اول غورزنګ د هغه زلمی عاشق د پیژندګلو سبب وی۔ څوک چه د دویم غورزنګ د طوفانی سپړو زار شي۔ داسے معلومیږی لکه چه هغه د مخے راسے د غمژنتیا او کړون د پاره په ګوته شوے وی۔ او د راتلونکے بدے تت شان احساس نے د اګاهو نه په زړه کښے موجود وی۔ هغه ته دا ګمان وی چه ګوندے هغه په چا مئین دے۔ خو هر کله چه هغه په رښتیا مئین شی۔ نو دغه وړ نے (ګډورے) د مزری په رنګ کښے را څرګند شی ،،

يو حاضر جوابه او خوش طبع كردار دےچه د معارضے او مناظرے په وخت نے د آدم خان د رقيب سره ټونكه وهلے ده ـ او څه رنګ چه د افسانے واقعات ښائي هغه هم لكه د روميو د دغه خوږمن او خوش طبعه اشنا د خپل دوست په سر كښے قربانيږي ـ د شمشي او بلو تر مينځه هم هغه رنګ يو خوندنا كه مكالمه شوے ده ـ لكه چه د ټائيبالټ او مركوشيو په مينځ كښے شوے وو ـ د مكالمے نه علاوه صدر خان د بلوكي داسے ذكر كړے دے

بـو غـلامِ د آدم خـــان وو بلـــو نامِ فصيـــح زبـــان وو
يـر ونـه د اس تـر ځنګـــ وو څار تـاره ولاړ پـه ځنګـــ وو
غـوږ نـے ايښے پـه اواز وو د خـبـــرو جنګـــ تـه ساز وو

هم دغه بلوكے وو چه په آدم خان نے د درخو د سرتوريدو زيرے كړے وو او داسے نے ورته وئيلي وو ـ

خانـه زيـرے يـے در بابــدے عين پـه ورځ كښے نـور ځليږي
وئـيـل كـړه بي بي درخـويـه . اوس سـرتـوره اودريږي .

نرس او توره ـ | نرس د جيوليټ دائي او توره د درخانئے وينځه او ملګرے ده ـ نرس چه د روميو او جيوليټ تر مينځه د خبرو وړلو راوړلو كوم كردار ادا كړے دے ـ هغه د سټيج ډرامے د پاره په خپل ځائے منفرد حيثيت لري ـ د هغے خبرے خوږے پوهه او تجربه زياته او عمل پوخ معلوميږي ـ د هغے كردار په روميو جيوليټ كښے ډير واضح دے ـ د تورے حيثيت محض د يوے خدمتګارے دے ـ د عمر او تجربے آثار نے د عمل نه نه واضحيږي ـ دومره ده چه د درخانئے ننداره ته په آماده كولو كښے لوئے لاس لري او د هغے د وينا نه ښي :

درخـــو هـــم لـــه دے ګفتـاره عشـق ولاړ كـړه نـاچـاره
ورتـــه راغلـــه مخ پـوښلـے ورئـــے او نيــو عشـــق نتلـے ته

ټائيبالټ او مير بامي ـ | ټائيبالټ د روميو جيوليټ او مير بامي يا مير مائي د آدم درخانئے د افسانے ښاتي دے ـ يو شرپسنده او بل حريص دے ـ دواړه په خپل خپل ځائے د المئے باعث دي ـ ټائيبالټ د روميو د لاسه مړكيږي ـ او ميرباسي د خپل زوئے د لاسه سر خوري د هغه زوئے ګجر خان د آدم خان دوست وي ـ د خپل پلار ناكړدے نے د آدم خان سره په زړه نے او نه لګي ـ او هغه د مرګ په لوري رخصت كړي ـ د دواړو په كردار كښے فرق د عمر د لحاظه هم موندے شي ـ ټائيبالټ زلمے دے ـ او مير مائي د پوخ عمر خاوند دے ـ ځكه د دواړو د كردار په جذباتي او عملي اړخ كښے فرق دے ـ

ACKU

**فرائر لارنس او پیر صالح -** دوی دواړه مذهبی مشران دی - د شیکسپیر په ډرامه کښے د فرائر لارنس کردار د یو عالم فاضل او صاحب فهم سړی په حیثیت ښودلے شوے دے - خو بروک ( Brook ) چه په خپله د توهم پرستو پیرانو ( Superstitious Friers ) خلاف دے - د فرائر لارنس په حقله په مخلوطه لهجه کښے وائی :

Not as the most was he, a grass unleurned fool,
But doctor of divinity proceeded he in schōol.

,,هغه یو ساده سړے وو دومره د علم پوهے خاوند نه وو خو بیا هم د مذهبیاتو درس به ئے ورکولو،، د پیر صالح حیثیت هم د دهٔ نه څه اوچت نه معلومیږی - خو د جاهلانو مریدانو د پاره د هغهٔ خبره بیا هم د کانړی کرښه وه - د پیر صالح غوندے پیرانو په حقله صدر خان هم وائی :

که په سر د دریا دروسی  ینا با لا په سما دروسی -
په سنتو کښے جاهل دے  الحق ضال دے هم مضل دے
شکر شکر چه بعید یم  له بد پیره نه مرید یم

خو سره د دے که په ژور نظر د خبرے ویخ ته او کتے شی - نو په اصل کښے پیر صالح او فرائر لارنس د اوچتے پوهے نه کار اخستے وو - او څه رنګ چه فرائر لارنس د یوے اوږدے خاندانی دښمنئ د ختمولو په خیال د دوؤ موزونو افرادو یو تر بله د نږدے راوستلو خواهش لرلو - دغه شان پیر صالح ته هم د آدم خان او درخانئ جوړښت ډیر فطری و مناسب معلومیدو - او دا ئے غوښتله چه د دوئی دواړو تړون پکار ده چه اوشی - فرائر لارنس د ډرامے د ابتدا نه تر آخرهٔ پورے موجود دے خو پیر صالح خپل عمل په لنډو ختموی -

**پیرس او پایاوے -** پیرس یو شریف بانسته دروند او د اوچت خاندان زلمے دے - چه د رومیو جیولیټ په تمثیل کښے یو غیر مستعد کردار دے - خو د جیولیټ سره د نکاح کولو له برکته په آخره کښے د رومیو د لاسه مړ کیږی - د دهٔ سره متوازی کردار په آدم درخانئ کښے د پایاوی دے - پایاوے د علاقے یو ملک دے چه درخانے ورته کوژدن شوے وه - خو د آدم خان او درخانئ د عشق له کبله ئے وادهٔ کامیاب او خوشحاله نه وی - د آدم خان او درخانئ د مرګ نه پس هم دے ژوندے وی -

**بنولیو او میرو -** میرو د آدم خان او بنولیو ( Benvolio ) د رومیو خوږ او غمرنج دوست دے - آدم خان د میرو په ملګرتیا کښے د بسکئے د وادهٔ په غونډه کښے شریکیږی او بنوؤلیو رومیو ته د کیپولیټ کورنئ په کلهز دعوت کښے د ګډیدو مشوره ورکوی -

ACKU

او څه رنګ چه آدم خان د بسکلے په وانه کښے په درخو مئینیری دغه شان رومیو په دغه ګډا کښے د جیولیټ سره ستر ګه اخلی ـ که میرو کے نه وے ـ نو د آدم خان او درخانئے مینه به دومره کمال ته نه وه رسیدلے ـ دغه شان که بنوڅلیو نه وے نو د رومیو جیولیټ لیدهٔ کاته به هم داسے نه وو شوی ـ

## کتابیات


۱ـ آدم درخانئے ـ (قلمی) صدرخان خټک
۲ـ آدم درخانئے ـ سید بوعلیشاه
۳ـ آدم درخانئے ـ پښتو اکیډمی چاپ
۴ـ ادبیات سرحد ـ فارغ رضا
۵ـ ادبی فنون ـ عبدالرؤف بینوا
۶ـ اٹک کے اس پار ـ فارغ رضا
۷ـ الف لیلے جدید ـ ملا نعمت الله
۸ـ باتور ـ صاحبزاده محمد ادریس
۹ـ بهار نو روز ـ - - - - - - - -
۱۰ـ پٹھانوں کے رومان ـ فارغ بخاری
۱۱ـ پښتانهٔ شعراء ـ عبدالحئ حبیبی
۱۲ـ پښتو کتابونه ـ راز محمد وینی
۱۳ـ پښتو ګرامر ـ میجر راورټی
۱۴ـ پښتو چار بیتے (قلمی) عبدالحلیم اثر
۱۵ـ پښتنے ـ سمندر بدرښوی
۱۶ـ پښتنی سندرے (جلد اول و دوم) پښتو ټوله
۱۷ـ پنج حکایت ـ علی اصغر حکمت
۱۸ـ تاریخ ضلع پشاور ـ - - - - - - - -
۱۹ـ جاوید نامه ـ علامه اقبال
۲۰ـ حیات افغانی ـ سردار محمد حیات خان
۲۱ـ حیات سید جمال الدین افغانی ـ محمد امین خوګیانی
۲۲ـ خوږه شهلئے ـ سمندر بدرښوی
۲۳ـ خوشحال خان خټک ـ دوست محمد خان کامل
۲۴ـ د پښتو ادبیاتو تاریخ ـ عبدالحئ حبیبی
۲۵ـ د خوشحال خان یو شعر ـ امیر حمزه شنواری
۲۶ـ دلے شاهی ـ صدر خان خټک
۲۷ـ دیوان اشرف خان هجری ـ (قلمی) پښتو اکیډیمی
۲۸ـ دیوان حافظ الپوری
۲۹ـ دیوان عبدالحمید ـ عبدالحمید ماشوخیل
۳۰ـ دیوان عبدالرحمان ـ عبدالرحمان مهمند
۳۱ـ دیوان علیخان ـ علیخان
۳۲ـ شاهنامه بزبان افغانی ـ ملا نعمت الله
۳۳ـ فکر اقبال ـ ډاکټر خلیفه عبدالحکیم
۳۴ـ قصه شهزاده ګلشن ـ عبدالغفار سواتی
۳۵ـ قصه شهزاده ممتاز ـ ملا احمد جان
۳۶ـ کابل کالنئ ۴۴-۱۹۴۳ء ـ پښتو ټولنه کابل
۳۷ـ کتاب الشعر (د حکیم ارسطو) ـ ترجمه مولوی محمد اسرائیل
۳۸ـ کلیا خوشحال خان ـ دوست محمد خان کامل


ACKU

۳۹- کلید افغانی- نادر هیوز مولانا عبدالرحیم

۴۰- گلزار عشق افغانی- ----- ۴۳- مجله پښتو- پښتو اکیډیمی

۴۱- مذهب و شاعری- ډا تهر اعجازحسین ۴۴- منتخبات خوشحال خان- پښتوا کیډیمی

۴۲- مجموعه کلام افغانی (قلمی)- ۴۵- هار و بهار- دارستیتر

| | | |
|---|---|---|
| Illustrated History of English Literature | vol. I. II. III<br>By A. C. Ward, | 46 |
| Romeo and juliet. | Shakespeare | 47 |
| Much Ado About Nothing. | " | 48 |
| Tales from Shakespeare. | Charls Lamb | 49 |
| Shakespearean Tragedy. | A. C. Bredly | 50 |
| An Introduction to English. Literature | Literature | 51 |
| Encyclopedia Britanca | Vol 7-20 | 52 |

د صدر خان خټک

# مثنوي

# آدم دُرخانۍ

ACKU

# سبب د تالیف د کتاب

زما پلار خان[۱] جنت شه — په اولاد ئې برکت شه
نیکو خُلق نیکو گفتار وو — نورانی علوی دیدار وو
خلق ئې هسې په اوصاف وُو — چه ترِ هیڅ د آهوناف وُو
د هنر د علم کان وو — عالیجاه عظیم الشان وو
خیرالناس نافع الناس وو — بخشنده بے التماس وو
چه ئې خط په لاس رقم وو — عبارت وجود کرم وو
دے له خصم جان ستان وو — نان ستان له دهٔ، بے نان وو
لکه دیوئې سخاوت وو — لا ئې تیر تر شجاعت وو
شیران دهٔ وته ماضی وو — لکه سوئې ما یُضی وو
په علوم لکه نعمانؒ وو — په حکمت لکه لقمان وو
مثلاً کالعلیؓ شیر وو — هم ئې علم هم شمشیر وو
ابر رنگ ئې بران تیغ وو — په اعدا د مرگی میغ وو
چه پیدا به ئې دښمن شهٔ — لا له وار به په کفن شهٔ
لاس ئې ابر د بهار وو — گُهَر ریز هم آتش بار وو

---

[۱] د خوشحال خان خټک د همه جهتی شخصیت دا ښکلے تصویری بیان د هغهٔ زوئ صدر خان خټک د خان علیو نمکا ن ر وفات نه اتلښٔ کاله پس لیکلے دے۔

په دوستانو کښې ډیر دو — په اعداء آتش انګیز دو

په نیکانو چوړ جنت دو — په بدانو دوزخ صفت دو

د صفاؤ ودانی دو — د اوباشو ویرانی دو

په دا وخت که نوشیروان دے — عدالت له دهٔ بویان دے

یعنې عدل لکه دهٔ کړي — نوشیروان دا هسې نکړي

پښتو شعر ناموزون دو — له شعری صفت بیرون دو

نه حروف د قوافي دي — وړاندې روستو نو روی دی

د هر یک مقام معلوم دے — په درست شعر کښې منظوم دے

پښتانهٔ پرې آګاه نهٔ دو — روندهٔ په دا لار نهٔ دو

یا څهٔ نور شعری قانون دے — یا ئې خیال باریک مضمون دے

له همهٔ بې خبر دو — د جهّالو په لار سر دو

دهٔ درست شعر په قانون کړ — آراسته ئې په فنون کړ

په دقیق شعر دقاق دو — ور معلوم هغه اغراق دو

که غلو په دوه اقسام دے — یا په دوه رنګه ایهام دے

تناسب دے که لزوم دے — که تشبیه په خپل خپل نوم دے

که تمثیل دے که ترصیع دے — یا چه نور صفت بدیع دے

په همه داړه قائل دو — په همه اشعار کامل دو

شایسته ئې درست اشعار کړ — په مضمون ئې استوار کړ

رونده شعر ئې لار کړه — چار ئې جوړه د اشعار کړه

تو بیت ئې ډیر زما کړ — هر تعلیم ئې وما را کړ

---

له خان چه د خپل اولاد خصوصاً د صدر خوشحال په تو بیت کښې څومره ذاتی زیار کړې دے هغه دد ے اشعا رونه څرګند دے.

ACKU

په تعلیم ئې سخندان کړم — په وېل ئې سخن ران کړم
چه ئې درست په دا فنون کړم — په وېل ئې نور ماذون کړم
یوه ورځ په اشتغال وو — د اشعار په قیل و قال وو
هغه دم له عاشقانو — له رښتینو صادقانو
مذکور پېښ شه ناګهانه — ما عرض وکړو له زبانه
ډېر اشعار له هره بابه[۱] — کتابت شه بې حسابه
د عشاقو افغانانو — د ماضیو عاشقانو
کتاب بویه چه نګار شي — درو ستو پاتو یو یادګار شي
ده وې ښه دي دوې زویه — یو کتاب په دا باب بویه[۲]
که د عمر څه وفا وي — له کار بار فرصت زماوي
له آدم له ورخاتنې — بویه ښې سخن رانتې
چه منظوم یوه نسخه شي — یادګار پاتو په ستنه شي
او که پاتو شي له مانه — زه روان شم له جهانه
ته منظومه کړه بالجزم — دا قصه په ښکلي نظم
په جهان کښې دا ګفتار دے — اے فرزنده چه یادګار دے[۳]
ښه کلام راحت د ځان دے — په معنیٰ آب حیوان دے

---

۱ دا مضا نوی ادب په حقله د خان بابا وصیت.

۲ د ادب په حقله د خوشحال بابا نقطهٔ نظر چه صدر خوشحال را نقل کړے دے

۳ دا سے ښکاري چه د خان کو رنئ د شعر و ادب د یوے اکیډیمي په مثال وه چه د فنونو او ادبیاتو ټول مروجه میډ انونه یکښے د توجه لاندے وو-

ACKU

نتیجه چه د خرد ده — ښه خبره د سند ده
که خبره وي معدومه — عیب هغو به وو له کومه
که غزل که مثنوي ده — په خبره معنوي ده
په معنٰی کښې معنٰی ځان دے — تن ئې نطق د زبان دے
که د پاتو فرزندان شي — بیا به ورک له دے جهان شي
که د پاتو ښه کلام وي — ستا به تل پرے ژوندۀ نام وي
څو ژرېږي لاځوانېږي — دے کلام که څوک پوهېږي
پس یادګار ده دي چه دا وکړے — دا قِصه منظومه ته کړے
چه یادګار دا تو له تا نه — تر قیامت شي د پلار ځانه
چه پدر دے سفر وکړو — له دُنیا ئې ګذر وکړو
په دا فکر پیوسته وُم — که ولاړ که نشسته وُم
خو لا نۀ ووه د خدائې حکم — زۀ عاجز وُم صُمّ بُکم
چه د خدائې حکم په ما شۀ — نو رے درست عزم پیدا شۀ
پس د پلار له مرګه لاله — چه مرور شول هر ده کاله
ما آغازه دا نامه کړه — خرامانه ئې خامه کړه
اوس یاري صدرِ[1] خوشحاله — غواړه ته له ذوالجلاله
چه له سره تر انجامه — په ښه رنګ ئې کا تمامه

---

[1] نیکاره ده چه پښتو ادب کښې دا فسانوي او رومانوي داستانونو محرک هم خوشحال خان دو

[2] صدر خوشحال خټک دا مثنوي د ثقه راوي نه را نقل کړي ده۔

ACKU

# تحقیق د دے قصے پر غصے چہ لیکلے او تحقیق ته رسولے دہ

تا تہ نام یو یو سفزے وو  حاجی خیل وو بنہ زلے وو
مرُدہ دل نہ وو ژوندے وو  مدام مست د عشق پہ مے وو
قیل و قال ئے لہ بل شیز ہ  دۂ ھرگز نہ کڑہ عزیزہ
لہ عشاقو نژدے لرے  دۂ بہ کڑے مدام خبرے
امازیات چہ ئے بیان کڑہ  دۂ مذکور لہ آدم خان کڑہ
دے بہ ڈیر ماتہ راتنہ  دا مذکور بہ ئے کاونہ
ما ترے وکڑلہ پو ښتنہ  پہ دا رنگ چہ اے دردمنہ
دا قصہ لہ مطرب نو  یا لہ نورو قِصہ خوانو
پہ بل شان و مورِ تہ کیږی  لہ تا بل شان معلومیږی
دۂ وے مالہ دے داستانہ  تحقیق ڈیر وکڑہ خوشانہ
دا چہ زۂ ئے تا تہ وایم  موبموئے درتہ نمایم
دا دښتیا دہ نورہ وا ڑہ  پہ خلاف خکوی پر غاڑہ
دا چہ مادہ اورید لے  دہ و ما تہ رسید لے
دمیرو قوال لہ پورہ  ما تہ شوے دہ مزبورہ
ھغہ ؤ وے دا تحقیق دہ  نورہ لرے لہ طریق دہ
پہ بل طور چہ ئے کاندے  وئیل د دوئی کالاندے باندے
ھم پہ دا طور تاتی  د خبرو نباتی
دا قِصہ کوہ شیرینہ  لا خوږہ ترا نگبینہ

هر چه ماده اوریدلے      له تاتی دا قِصه بشکلے
له اغازه تر انجامه      په ښۀ رنګ درته تمامه
که له مرګه فرصت وینه
بیان زۀ کړم په ښۀ مینه

# اغاز د کتاب

له دے بابه په دا طور      نا قلان دا ئی ددے دور
یوسف زی چه له بالانه[1]      بے وطن شول له بلانه
حادثات په حادثات شول      را غلل ځائی په سمه سوات شول
خوا ځوزئی له اکوز یټو      مولیٰ زی له خوا ځوزیو[2]
کل میشته په بازدرو دو      خوښی خورم له غم په خشوبو
د مهرے دغرۀ په خوا کښے      بازدرے دی په هوا کښے
پکښے ونے ښۀ جویو نه      په هر جوئی ښکلی ګلونه
که بهار وی که خزان وی      په دوئی تل بهارستان وی
که سودی وی که ګرمی وی      په هوا کښے نرمی دی
نۀ سودی پکښے شدت کا      نۀ ئے ادرے حرارت کا

---

[1] دیوسفزو درے لوئے برخے، چه اوس هم په سوات او په دیر کښے آباد دی.
[2] د مرزا الغ بیګ او دیوسفزو دښمنئ او قتل عام هغے واقعاتو ته اشاره ده چه یوسفزی پکښے په بے سروسامانئ د کابل د مضافاتو نه ملک بدر کړی شوی وو-

ACKU

په کښې نېي جوند طنازے　　پيدا کيږي لکه بازے
چه چشمانے ئے گردش کا　　زړونه ښکار په يو پرش کا
بازدرے ځکه نومیږی　　چه ترے بازے پيدا کيږی
بلکه حورے پکښې جوَ نه　　باز درے دی جنتونه
په کښيښتۍ باز دره کښې　　دُرخانئ وه ستاره کښې
د ستارے ميرمن پيدا وه　　په ښاښت کښې بے همتا وه
پلار ئے خان په نام موسوم وو　　په پردی په خپل معلوم وو
دُر خو دُر وه پلار ئے خان وو　　له ترکيب ئے نام عيان وو
چه دُر، خان ونه مضاف شی　　د دُرخانِ نام درياف وو
چه لا دا طفل رضيع وه　　گلاب گل د سر ربيع وه
دا دوه کالو چه دا شوه　　دگلاب ترگل زيبا شوه
چه په کال دنهو لس شوه　　د ښاښت ويناپرِ بس شوه
دوه زلفينے ئے وَل وَل شوے　　نورمارونه په صندل شوے
تور ويښتهٔ ئے پيچ درپيچ وو　　مشک عنبرترِ پورے هيچ وو
په زلفينو کښې ئے ببله　　سودا نه بے مشکو دله
تور ويښتهٔ ئے نورمارونه　　نحل نظم وُد پر زړونه
په قامت سروِ تمامه　　سروِ چوب دا سيم اندامه
نزاکت به سوکند ونه　　کړل ددے په اندامونه

---

ـلـه بره باز دره ادکوزه باز دره دواړه کلی نن هم د مورے دغرهٔ په لمن کښې په تنګه دره کښے آباد دی۔ددے بيان مطابق درخانئ دکوزے باز درے وه۔

نزاکت ئې له انداّ مه ⠀⠀ باریکي بیاموندهٔ وامه
نرویانه ئې زرکه څهٔ وه ⠀⠀ داکبکي زرکه قارګه ده
یعنې هرچه لطافت دے ⠀⠀ باریکي چه نزاکت دے
د هرچا دا نورالعین وه ⠀⠀ دا په دے چه حُورالعین وه
چه په ناز به ئې قدم ایښی ⠀⠀ زړهٔ به فرش ورته علم ایښی
صبحګاه ئې سپین جبین وو ⠀⠀ درست له مهره ړک مبین وو
د خوبئ په اوج څهٔ وه ⠀⠀ درست سپوږمئ وه نور ئې نهٔ وه
چه په مخ ئې مشکین خال وو ⠀⠀ د آفتاب د مخ جمال وو
چه به ئې سترګے واړولے ⠀⠀ دے د زړهٔ مینې لوټولے
په آهوئې د چشما نو ⠀⠀ ښکار وُو زړونه د شیرانو
د لبرئ ئې په کتل کښې ⠀⠀ کړے دستوګو په حُنبل کښې
یا ئې وُروځې وے کمانے ⠀⠀ کشیدهٔ ناوک مژګانے
یا ئې وروځے میزانی وے ⠀⠀ میاشتے میاشتے نورانی وے
شیرین څان به له قالبه ⠀⠀ وکیښی دے په خوږهٔ ژبه
په خندا کښې شکر ریزه ⠀⠀ په خبرو کښې دُر خیزه
چه ئې سیب د صاف ذقن وو ⠀⠀ نخشبی قمر روښن وو
ورځ په درځ چه لوئیدله ⠀⠀ په مخ ماه دُ څلید له
خلق ربي وربک الله ⠀⠀ دے چه دا ئې لیدهٔ والله
بلکه مخ د دے آفتاب وو ⠀⠀ دماه حُسن تړ کامیاب وو
چه دخوارلس کالو دا شوه ⠀⠀ په کور کلي ئې رنړا شوهٔ[له]

---

له کوم استعارات، تشبیهات او تلمیحات چه په دے کښې راوړی شوی دی داد صدر خوشحال په قادرالکلامۍ دلالت کوی۔

ACKU

چاوے دا لکه قمر دہ    چا وے دا په حُسن نمر دہ
چه ئے مخ قمر کا و نه    د هغوئ دلیل دا و نه
یعنے نمر دے بے سنبلو    ماہ سنبل لری په ګلو
په دا رنګ د دُرخو کار دے    په سنبلو کښے ګلزار دے
پس مثال ئے له قمرہ    ښهٔ جوړیږی برا د ره
چه ئے مخ چا له دلیله    کا دو نمر له قال وقیله
هغو داوے سپوږمئ خهٔ دہ    د مثال مثال نهٔ دہ
ګهے بدر ګاہ هلال شی    ګهے سلخ ئے جمال شی
نمر مُدام په یو دستور دے    همیشه تمامی نور دے
په دا رنګ مخ د دُرخو دے    ډک په نور ډک په شغلو دے
پس آفتاب ئے له جماله    مناسب دے له دے حاله
چه ئے مخ تمامی نور وو    په شغلو تمامی پور وو
چه ئے مخ ته برا دره    کټ نهٔ شو بے ځادره
د خامے اووهٔ حجابه    دے په سر کړل صافئ ایه
تر اووهٔ حجابه لاندے    رُخسارے ئے وے ځلاندے
له مشرقه تر غروبه    له شماله تر جنوبه
نهٔ وہ هیڅ ستوګو لیدلے    دا رنګ جل ښاسته ښکلے
پلار د دے و نوبیت ته    فضیلت و علمیت ته
یو ملا ئے راطلب کړ    په خپل کور ئے جوړ مکتب کړ
په ملا ئے وُسپارله    په مکتب ئے کښینو له

ACKU

په اندک مدت ملا شوه | په معقول منقول دانا شوه
سخن سنجه سخن گو شوه | پوره د علم په نُکتو شوه
بنے بنے جُوړ نه به خو شونکے | درسره وے نیک فرهنگے
ناست ولاړ ئے په گلزار وو | تل ئے سیر به د بهار وو
باز دره چه پاس بالا ده | هغه هم جنت اسا وه
په هغه کښے بستی نامه | هم ښۀ ځل وه گل اندامه
په ښائست کښے بے نظیره | د خپل کلی د ټول میره
چه اختو به ښه هر کله | دا به سیل وته وتله
دُرخانئ به هم پویا شوه | سیلانئ به په عیدا شوه
له هغۀ به ښکلی شوه | له دے لور به دُرخانئ شوه
په یو ځائے به دواړه حورے | وَبله یو ځائے شوے حضورے
هغه ځائے به ئے هر گوره | تر جنت زیبا کړو وروره
عطارد به ئے ثنا کړه | مشتری ئے په دا دعا کړه
اے خدا اونده دا نگارے | پری روئے گُل رخسارے
لا ئے حسن زیاته وُنه | له مکسو ئے ساتنه
سعد سنورے ئے په فال کړے | ید ئے مل دید سکال کړے
هر بهار ئے له خزانه | په امان لره سُبحانه
چه یو ځائے به شوے گلرنگے | غمزه کوے شوخ شنگے

---

له په دے درے پنځوس اشعارو کښے د درخانئ د حسن صورت او حسن سیرت او فضل وکمال بیان راغلے دے۔

مشغولا به شي آغاز کړه　　يو ځبله کړه پردازه
په خبرو کي له همه　　بښتي دا ډوے له فمه
اے ډرخو ښاستنه خورے　　په بزرګۍ دهاټ سويرے
دا وعده که له ما ډ کړے　　ما به خوښه ته په زړه کړے
که دا ده زما پيشتو وي　　دا دينا ږ مفرد وي
خود تا تو هغه پو زے　　داننه ډ نه شي اے خورے
زه به غوته له ډربله　　بے تا وا نه کړم هيڅ[له] کله
نه هم ډوايه که ښه کړے　　چه بے ما ډربل خورنکړے
ډرخو هم وعده محکمه　　ور سره ډ کړه همدمه
زه به غوته بے له تانه　　د ډربل نکړم پريشانه
دا وعده چه په ما بين　　سره ډ شو حبا نبين

سره پاڅيدے رخصت شوے
کور په کور شوے فراغت شوے

ACKU

---

له　د ډربل خوړولو دا رسم لا تر ننه جاري دے. چه دو ديد و نکے ځينې
ټوے سهيلۍ ورله را غونډے شي.

# وادهٔ دبسکئ او بلل د دُرخانئ

# اوطلبیدل د آدم خان په حکم

# د پیرصالح بابُوزئ اودجابه

# ویستل د دُرخانئ په سخن

# رانئ د آدم خان بُلبل اومیرّوکی

## قوال

تو دے مینځہ یو څو کا لہ — گذشتہ شول زما لالہ
دبسئ وادهٔ تیار شئہ — جوړے خرخ جوړے هرکارشئہ
نهالئ بالښتو نہ — رنگینہ سرهٔ پالنگونہ
مردانہ جوړے دېښمینې — زنانہ جوړے مهینے
غنم وريژے انبارو نہ — زیړغوړی پہ منونہ منونہ
قند نبات شهدو شکرے — هم څربے څربے ډنگرے
غرض هرڅہ چہ لذیذ وو — چہ دیو تربل عزیز وو
پہ یو ځائے شول همہ جمع — لہ تاتی دہ دا رنگ سمع
دا همہ واړه بے شمارہ — د وادهٔ تیار شول یارہ

ACKU

وړاندې[له] راغله یو څو شله — ننداره څي علَم سل سله
وبله جمع ډېر هرکور شته — د هر لوري عالم زور شته
پیر صالح بابوزے پیر دوو — د عشاقو دستګیر وو
دےئې هم راوبالنه — په وادهٔ کښې حاضر شنه
هم ډمان هم ګډیدونکی — د لیندو هم جوړه وُنی
لیونی د سوات د سیے — ډېر طامع اندک بےطمعے
راغلل ډېر له جوانبه — هنګامه شوه عجائبه
واټی بل وادهٔ ته رانه — په پښتو ژبه کښې چانه
بهتوتیر په غرهٔ په سم کښې — نهٔ دے بل په دا عالم کښې
څو معلوم چه بل ځائے کله — وادهٔ دا رنګ تیر دے دله
چه دُرَّ څو غوند ے شی جُونه — د آدمَ غونډے مړد نه
په یو ځائے په تماشا شی — یو ځبله به شیدا شی
په بدلو به سر تو ره — جل څوک وُ د دَ وی ورو ره
آخر شی چه عالم ټول شته — وادهٔ ساز په چنګ په ډول شتهٔ
بسکښی ئې کښېنو له — پرےئې غاړه وُ څکوله
دے وے نهٔ دے داکار شونے — دا وادهٔ نهٔ دے کیدونے
څو دُرَّ څو حاضره نهٔ شی — دا به کله له ما وُ شی

---

له د ددو نو د وړاګانو دستور لاپه هم هغه جوړ دے۔ البته ځنے لوبے او شرطونه چه ددوئی حصه به وو، اوس پاتے نهٔ دی۔

چه به زه د دُربل گنډه ‏ ‏ واکړم واوړئ په ړوندړه
روانه د بښتئ مور شوه ‏ ‏ د دُرخو د پلار تر کور شوه
د پدر نه ئې له تا لـه ‏ ‏ د لور حال معلوم کړو لالـه
یعنې لور ے سوگند ونه ‏ ‏ لی په دا رنګ تاکید ونه
خو دُرخو حاضره نهٔ شی ‏ ‏ دا به کله له ما وُ شی
چه به زه وُربل پریشان کړم ‏ ‏ په ژړوندوُن به وادهٔ ځان کړم
مانه حکم کړه درخانه! ‏ ‏ چه هم دا دررنګ شی روانه
معطل ے د لور کار دے ‏ ‏ تر ورتلو د دے حصار دے
چه دا ورشی کار به کیږی ‏ ‏ او که نهٔ وی کار ورانیږی
نتواتۓ[1] یمٔ را غلے ‏ ‏ د دُرخو په طرف پلے
پلار ئے ووے برېږ راشه ‏ ‏ سرو مال ے زار لـه تاشه
ستا راتلهٔ په مونږ ه گران دی ‏ ‏ هسے نه چه سپک ارزان دی
اما واک زمونږه نهٔ دے ‏ ‏ د دُرخانئ واک د زړهٔ دے[2]
ورشه دا کړه رضامنده ‏ ‏ که په تلل وی دا خوسنده
هم دا دررنګ دِ روانیږی ‏ ‏ ساتغان به ئې څوک کیږی
د بښتئ والده یاره ‏ ‏ نوره چُستم له تلوا ره
دُرخانئ ته شوه حاضره ‏ ‏ حال ئې ووے تر آخره
دُرخانئ وے دا کار گران دے ‏ ‏ هلک نهٔ دے ډیو کلان دے

---

[1] نتواتے په دېر قسمه دے چه اوس هم په پښتون ادلس کښے عامه ده۔

[2] دا سے بوینی چه په هغه زمانه د پېخلو د مرضئ خیال به ساتلے شو۔

ترا دوپاندے چه سیلونه　　سونږ کول هیکے وُونه
اوس موسترز ورَ دردے　　ولاړ عیب نا ستے هُکرے
عیب نه زهٔ څونک پاسمه　　د هُنرونه شا کومه
ما معافه کړه که نیتهٔ کړے　　دا تکلیف به ماته نهٔ کړے
که دُرخانے له دے پا به　　هرڅو ډیر دوے احبابه
د ښتّی والدے یاره !　　زاری وکړله بسیاره
په زاری په سوگندونه　　د پیرانو په رویُونه
دُرخانئ ئے کړه روانه　　په دا دوه شرطه اے جانه
یو دا شرط چه کل هسالے　　همسایه وی که څوک سیالے
دوئ له ماروانے نهٔ کړه　　په حُرمت ئے دریغ وُنهٔ کړه
دویئم دا چه وُورےدرشم　　هسے ځائے دِ مستتو شم
چه د نرو د زنانو　　زهٔ مستوره له چشمانو
هغې دا دوا ړه فی الفور　　زمنا کړل په نیتهٔ طور
نور دُرخو طلب زیور کړه[۲]　　هم ئے سوربا سی دربر کړې
سپوږمئ ستوری ئے په شب کښے　　آراسته کړل په طرب کښے
یعنے ټیک لولو غو ټهتئ　　هم لړلړ د سرو ټیکئ
په وُربل په تورگیسو ئے　　لړلړ کړې په هرموئے

---

[۱] دے دستورته ست کول وائی۔ دُرخانئ مورته دا شرط ورانډے کړو چه دهغې تورو سهیلو ته به هم دوادهٔ ست کوی او دهغې سره به ئے بیائی۔
[۲] صدرخان دهغه وخت د مروجوکالو پیټرو ذکر دلته راوړے دے۔

ACKU

سوے غوټئ په وربل باندے ... چه دے کینبوے سوے ځلاندے
شب برات ئے چراغان کړ ... منور ئے درست جهان کړ
زیړ پیزوان ئے شعله تاب کړ ... د نور تیال ئے په آفتاب کړ
پکښے لعل په ځنه شان وو ... گویا زړه د آدم خان وو
اوېزاندے سور حمیل کړ ... د عالم زړه ئے په ځېل کړ
ښائسته وښی د زرو ... مکلل په دُر گوهرو
دے په لاس په سپین مړوند کړ ... د عشاقو لاس بند کړل
چه پاټلے ئے په پا کړے ... ښا پیرئ ئے په نخا کړے
یو دوه درے څلور څادره ... پنځه شپږ اووه معجره
څوک سالو څوک زعفرانی وو ... څوک اودی ارغوانی وو
داهمه رنګین ښا غلی ... دے په سر دو اچولی
غرض جوړه هسے شان شوه ... چه فتنه د درست جهان شوه
په جمال ئے د سړی یو ... افتخار شته په پیر یو
په دا طور چه جوړیا شوه ... د وانه له کوره دا شوه
د وادهٔ په لور خرام[1] شوه ... خوشحالی په خاص و عام شوه
د نګا رنګ جونه طنازے ... ور سره وے خوشی آوازے
په ښائست بدر جمالے ... په لباس و سالو والے
چا اغوستی نمری صاف وو ... چه د ها تر پر دے صاف وو

---

[1] درخانئ د کوزے بازدرے نه بره بازدرے ته د خپلو سهیلو په ډلا روانه وه. دا منظر قابل دید وو.

درست په خندا آئین وو — هغه ورځ گویا سور سپین وو
د فلک مطربه یاره — درسره تله خند منگا ره
نمر سپوږمۍ دف داریا وو — جلاجل ئے ثریا دُو
په آواز ئے گویا ورده! — مرری پا څول له گو ره
ننداره ئے عالمونه — دُو له درایه په زړگونه
که زنانے که مردان دُو — په خُله گوتے حق حیران دُو
چه دا حورے دی که جونه — که پرئ دی زرزری پرونه
نه پوهیږم چه دا څوک دی — کوم عالم دی پیدا څوک دی
القصه په دا خوبیو — په دا رنګ په مرغوبیو
په وادهٔ شوے دا خلے — په یو ځائے شوے بلبلے
بسکئے دُرخو تر غاړه — په شنه رنګ شوے سرُ دارهٔ
نور ئے کړه دُرخو مستوره — له همه بنځو ذکوره
چا پیره ئے ترے حجاب کړ — په ورځ کښے ئے آفتاب کړ
په دا کار ئے ډیر دلګیر شول — هګئ په دا اندیښ شول
چه له ستره د دیستو ده — دا رنګ د پریښو ده
چه هر څوک تر عبرت وکا — بله جل دا هیسے نهٔ کا
چا وے کله به دا دُشی — دا گران کار دے وُبه[1] نشی

---

[1] دا هم لکه چه د هغه وخت یو دستور ود او درخانئ بے دستوره مستوره شوے وه-

ACKU

پیر صاحب ورته روښید ارکړئ    چه روئی و کاندی دا کار کړئ
پیر به دا له دے حجابه    بیر و نه کا له ستا به
نور و نیځ به ئے لاله    بهره مند شی له جماله
هر چا ډُوے مصلحت دے    دا کار بو یه بے آفت دے
نور دوان شول زلمی بوُنه    که صدګان وُوکه زرګونه
دا بهر دُوے زمونږ پیره    اے صفا روشن ضمیره
ستا نفس قبول په خدائے دے    ستا مدد مشکل کشائے دے
ستا مدد چه دچامل شی    هر مشکل د هغهٔ حل شی
ستا ضمیر روشن صفا دے    لکه جام جهان نما دے
خو دا عرض چه زلمی بوُنه    مونږ په تا باندے لرونه
معلوم شوی به په تا وی    څهٔ حاجت چه عرض بیا وی
ولکن چه رسم دود دے    په تکرار د عرض سُود دے
مونږه عرض لرو پیره    د درماند و د دستګیره
چه له ښځو نر مستو ره    دُرخانئ شوه بے دستو ره
له مر دا نو که حجاب کا    دا له ښځو په کوم باب کا
دا نهٔ دود نهٔ روایت دے    بلکه دا ستر بدعت دے
دُرخانئ دِ نصیحت شی    چه بیزاره له بدعت شی

له دا مے معلومیږی چه په دغه زمانه دپیر فقیر نه دپرده کولو څهٔ زیات رواج نهٔ وو او ځ پیرانو به هم لکه چه دا بدعت نهٔ ګڼږلو. بلکه د خپلو مریدانو درضا خیال به ئے مقدم ګڼږلو.

ACKU

له حجابه مخ څرګند کا | وا پړه نن نښتې خورسند کا
په دا باب توجه وکړه | زمونږ پيروسستي مه کړه
که دا عرض زمونږ ورد شي | اعتقاد به زمونږ بد شي
دبل پيرپه طلبګار شو | ستا له کاره به ويزار شو
د جُهّالو مريدانو[1] | پيران دا رنګ دي يارانو
چه دوا که ناروا وي | هر يو کار چه ئې څخوا وي
ورته وائي چه دا ځکره | او که نه دي پيري مکړه
پير ئې هم مت په هغه کا | چه جُهّال ورته اسره کا
دوا ړه لوريه دُنيا غواړي | پير مريد په دُنيا ويا ړي
څوک له پير غواړي مالونه | څوک ځامن څخه ولاونه
څوک ظفر په غليما نو | څوک منصب د پادشاهانو
غواړي دا له مرشدانو | دريغه زښتو مريدانو
هيڅوک هغه طلب نه کا | چه په لار د سنّت تله کا
چه په لار د سنّت ځينه | په سنتو کاندي مينه
نه پيران شته په دا دور | نه مريد شته په دا طور
که پيري که مُريدي ده | بې سنتو مُريدي ده
که پير هر څو رياضت کا | بې سنتو ضلالت کا
چه وَ خدائي ته سمه لار ده | په سنّت کښې د روئيدار ده

---

[1] صدرخان د دا سې پيرانو او د هغوئ د جاهلانو مريدانو د دواړو غندنه کړې ده - دا روايت او استحصالي اعمال لا هغه شان جاري دي.

که په سر د دریا ددو می     یا بالا په سما ددو می
په سنتو کښې جاهل دے     الحق ضال دے هم مُضِل دے
شکر شکر چه بعید یم     له بد پیره نه مرید یم
اخوش پیر صَالح یاره!     ورته ووے له گفتاره
چه اے خاصو مریدانو     د دُرخَانے مشتاقانو
نن به زهٔ مراقبه شم     سرنگون به په سجدهٔ شم
چه معلوم شی څهٔ وماته     له دے حاله احوال ته
هغه رنګ به څواب وکړم     په نن ورځ دا څواب نکړم
وائی دا چه شپه پخه شوه     وخت د نفلو نیمه شپه شوه
پیر صالح نفل گذار شهٔ     چه له نفلونه وزګار شهٔ
د باطن په غوته سر شهٔ     په هر لور ددهٔ نظر شهٔ
په نظر ئے له عالمه     هیڅوک نهٔ شول بے آدمه
په نظر ئے آدم خان شهٔ[1]     چه ماتړ په درست جهان شهٔ
ورمعلوم شو چه لائق دے     او دے کار ته موافق دے
هم آدم دحسن خان دے     چه دے کار دته شایان دے
د دُدخو پلوٚ به لرے     هم آدم کا په خبرے
یعنے دے چه سرودساز کا     د دُرخو صفت آغاز کا

---

[1] داسے ښکاری چه د آدم خان مردانه حسن او د موسیقئ د فن خصوصًا د رباب وهلو مهارت پیر صَالح ته د اګاهونه معلوم وو ځکه ورته هغه دے باره موزون دلیدلے شو.

ACKU

په سرود ئے صفت وائی　　په رنګ رنګ دُرخانئ سمائی
په دُرخو به اثر وُشی　　د عشق نیش به ئے په زړه‌شی
عشق به عقل ځنې وُرک کا　　نام ننګ به ورته سپک کا
چه ننګ نام ځنې جُدا شی　　له حجاب به بیرون دا شی
بے د عشق له چنګ ربابه　　دا به څوک کا بے حجابه
چه دا حال بیرته تماشهٔ　　چرګو بانګ وکړ صبا شهٔ
پیرو زلمی جُونه طلب کړهٔ　　په مژده ئے باطرب کړهٔ
وے ئے پته نه دے څوک‌ندے　　اٰدم‌خان په نام بلند دے
یو دوه تنه ورد لاړ شئ　　دٰادمٓ په طلب لاړ شئ
دے را دُ بولئ چه را شی　　حواله دکار پرے دا شی
چه دے جوړ په شان رباب کا　　جل به لرے دا حجاب کا
که داکار خوارئ چه وُشی　　بے اٰدمه به وُ نهٔ شی
په دا کار که مورضا ده　　اٰدمٓ بولئ چار هم دا ده
لیکن غم غیرت یکسُوکړئ　　له اٰدمه خان یکوُ وکړئ
له اٰدمٓ په اتفاق شئ　　هر څوک لرے له نفاق شئ
واړو وُوے مونږ منلے　　ستا د خُلے دیئل ښا غلے
یو سړے ئے تو روان کړ　　دا طلب ئے اٰدم‌خان کړ
وے ئے ورشه تر اٰدمه　　اے فلانی نیکو قدمه
ورته وایه زهٔ را غلے　　یم دَ تا ته، نه بلے
پیر صالح او زلمی جُونه　　بولی تا په سرود وُنه[1]

---

[1] د نادینه وُ دورا دپاره ئے اٰدم خان نه بلنه ورکړه او درسره ئے په پس منظر هم خبر کړو

ACKU

دُرخانئ غرور پرسته — د خودئ په پیاله مسته
له نز نبخو شوه مستوره — پروا نهٔ کاله غروره
نهٔ راځه بے معطّله — دا کار سنا دے له ازله
دا به نهٔ کړے دمیرو سوره — له همه حجاب سرتوره
زر را درومه تعطیل مکړه — په راتللو هیڅ ډیل مکړه
دا سړے چه په رخصت شهٔ — په درتللو ئے سرعت شهٔ
آدم میشت په شیرخانه[له] وو — شب و روز په ترانه وو
دے پسر د حسن خان وو — میته خیل وو نوے ځوان وو
په ښائست کښے بے ثانی وو — لطافت ئے روحانی وو
درست مجلس پرِ معطّر وو — هر مفلس ئے مو رپه زر وو
هم ګلزار وو هم مجلس وو — هم زردار وو هم مفلس وو
په هت پورته په دؤ نهٔ — په تدبیر ورو ورو په رؤتهٔ
په قد سرو سرفراز وو — په چشمانو لکه باز وو
په مخ ګل نازک بدن وو — شکرلب شیرین سخن وو
خُدائے تنک وو د شکرو — پکښے ګنج د مخلرو
چه به دهٔ سخن ورے کړه — ګویائی به جوهری کړه
په چشمانو که آهو وو — شیر په زړهٔ نهنګ په زړهٔ وو
که ښائست د دهٔ ځورانو — وے لیدلے په چشمانو
د دئ به وے پسے داغلی — دبهشت ښائسته ښکلی

---

له شیرخانه دکوزے باز درے نه لاندے یو بل کلے وو۔

لکه ګل تازه خوش رُو وو    له هر چا سره خوش بُو وو
په مرانے شين زمرے وو    په غليم به ئے برے وو
جود کرم ئے عثماني وو    تيغ ئے تندر آسماني وو
په نيزه ئے برا دره    شنه رګ وليست د شين له سره
چار حروف د زړه د رنج وو    هر يو حرف پنجه د رپنج وو
چه شاهد ئے په دا حال دے    د نازو قطب ويصال دے
خپل خاطر ئے بے فروغ کړ    قطب ئے په زړه د روغ کړ
روح به خوش دده له مخ وو    په کلام ئے د مړ د سخ وو
په سخا لکه دريا ب وو    خوار غني ځنے کامياب وو
نه غني تر ئے محروم ته    نه فقير ترِ رمنډ شوم ته
نکته دان صاحب سخن وو    پوه د شعر په هر فن وو
موسيقي علم ئے ډير وو    په مړوند کښے ئے ډير پيړ وو
د سرود چه هر مقام وو    دے عالم پورے نام په نام وو
چه به دے په اول ساز شه    له عراق به په حجاز شه
بيا به کوز شه خراسان ته    بيا به وخوت وبل شان ته
بيا به دے په حسيني شه    په سبه رنګ به په چاشني شه
چه به بيا په ترقي شه    جوړ به دے عشاقي شه
عشاقي پرده به ډيره    ده خپل شان کړه نرحل تيره
خبر دار له هر مقام وو    شان ئے وخت په هنګام وو
بے هنګامه به هيڅکله    ده پرده نه غږوله
چه سرود ئے په هنګام وو    اثر ځکه پکښے تام وو

پہ ھنگام چہ سرود کیږی — خارا کا نړے پرے نرمیږی

چہ بہ دۂ سرود پہ دست کړ — شیخ مُلّا بہ ئے پرِمست کړ

چہ بہ دے پہ بم پہ زیر شۂ — پہ غوغۂ وُبہ ھم ویر شۂ

چہ بہ دۂ نرمہ چاشنی کړہ — دوغ د نغور بہ گویائی کړہ

چہ بہ دے پہ اوچت شان شۂ — پرے بہ مړے دست افشان شۂ

چہ حاضر بہ عام وخاص وو — ھمگی بہ پرِ رقاص وُد[لہ]

القصہ ھغہ استاذ دے — د زلمیٔ جونو راغے

چہ آدمؔ دتہ حاضر شۂ — پہ تمام مجلس ناظر شۂ

آدمؔ خان دَ تہ پہ خبر شۂ — درست یقین ئے د ضمیر شۂ

چہ ھم دا بناشتہ ځوان دے — چہ موسوم پہ آدمؔ خان دے

وے ئے ستا آدمؔ خان نام دے — پہ تا پیرکړے پیغام دے

دۂ وے وایہ کوم فرمان دے — مامنلے پہ چشمان دے

آدمؔ خان اسم زما دے — وایہ حکم د روا دے

ھغہ وُوے پیو پہ تا دہ — راستولے سبۂ دعا دہ

بیا ئے پس لہ دُعا داد ی — نو ماښلی سبۂ زیبا دی

یعنی نن چہ خۂ ھزار دی — یا بلبلے د گلزار دی

د دادۂ پہ بوستان جمعَ — پہ یو ځائے دی ستا پہ طمعَ

تۂ طوطی چہ دے یاران دی — ستا ھمہ وارہ طوطیان دی

ستا لار گوری چہ روان شہ — د دادۂ پہ گلستان شہ

---

لہ پہ دے یوکم دیرش شعرہ کښے د آدمؔ خان د شخصیت خاکہ بیان کړے شوے دہ

په ببلو کښې ببلبه     یوه ده ښکلې تر گُله
په ناز دُرخو نومیږی     له ښائست ئې گل شرمیږی
له بلبلو هغزا را نو     پوشیده ده ادے طوطیانو
تا سے ښنهٔ طوطیان چه راشئ     په خوږه ژبه گویا شئ
دا به دُوځی له ځجا به     را روان شه له ښتا به
دروه پاخه روانیږه     پیر بلله ئې سوریږه
په بلل دے زلمی جُونه     دی یک رنګ په سوګندونه
له هیڅانه پروا مکړه     دروه پاسه دارنګ تلهٔ کړه
چه اُستازی جواب تم کړه     په تُندئ قبول ادم کړه
وے ئې درنړو عزیزانو     خوک به ځی له ما یارانو
دا پړو دوے څخه تاخیر دے     چه بلو ئې زمونږ پیر دے
خوارلس تنه به روان شو     هکی به ښنهٔ طوطیان شو
چه ئې خوبس مصلحت داکړو     هر یو سرغ د اس په شاکړه
ښنهٔ اسونه ښنهٔ سرغونه     ښنې جامې ښنهٔ رباونه
په دا طور ښنهٔ طوطیان شول     د واده په لور روان شول
د سرود په تماشو تلل     په هوس هوس ورو ورو تلل
تماشبینه ئې دنیا شوه     په هر لوری دا دُعا شوه
چه دا تول د ښنو طوطیانو     خدائے ئې ژغوره له چشمانو
دا زمری د لویو درګو     خدائې ساته له بد وسترګو

---

له په دعه زمانکه چه د ښنې جامې رواج په زلمو کښې زیات وو-

چه ږړدو شول باز درے ته ... خلق هسک شهٔ ننداره ته
هغه ځائے کښې یو میدان دے ... چه لائق د کوټی چوګان دے
د صوفی تر خاطر صاف دے ... د سخی زړهٔ ئے اوصاف دے
دوی دوے وُدرئ شباشیږی ... چه څهٔ نخښه وُدریږ[له] ی
پرے اسونه زغلوؤ نه ... نخښه ؤلو په فالو نه
یعنے جل به هغه ورو رهٔ ... په ویلو کا سرتورهٔ
چه ئے ډیر لسه لاسه پریوځی ... په خوښئ به هغه کښیږی ځی
دائے ؤوے نورئے دله ... نښانه ؤدرهٔ ؤ لسه
وار په وارئے پرے اسونه ... زغلول په ګذارونه
نښانه به ئے ویشتله ... هر یوهٔ خطا کوله
آخر وار د آدم خان شهٔ ... ورته جوړ په تیرکمان شهٔ
اس ئے څهٔ وو لکه برق وو ... په سرو سپینو زرو غرق وو
کوه شکوه پری پیکر وو ... د نظر غونډے تیز پر وو
چه په زمکه به ئے یون شهٔ ... لا به غرق شکته قارون شهٔ
که د باد په څیر به ئے لاروی ... د باد څیر سره غبار وی
د ارنګ اس ئے پرمهیز کړ ... برق مانند ئے باندے خیز کړ
په لیندهٔ نوت چون شهٔ ... ګو قمر په قوس درون شهٔ
چه رهائے کړله شسته ... هغه تیر ددهٔ له دسته
نور له نخښې ګذران شهٔ ... په وزرو درچسپان شهٔ

---

له د نخښې یا موخے ویشتو دواج لا اوس هم موجود دے

ACKU

په دزدړو ئے نسکوره — نشانه کړه زما د زړه
آدم خان په داز هیر شه — چه خطا تمامی تیر شه
په دا غمه شی په پروته — نشانه شی سرنګوته
میرزکی وے زهیرمه شه — زمونږ خانه دلګیرمه شه
دا فال نیه په شګون راغے — ستا له بابه میمون راغے
دا معنی دی په دے کار کښ — وه ئے غواړه په افکار کښ
دا نور وردونړه عزیزان دی — یا دا نور رشکلی یاران دی
خالی تیر دی نه ئے پورے — دوئ نور تن دی نه ئے سرے
چه نور تیر شی نه پرے راشی — و در خانے ته ګویا شی
ستا په خلهٔ زمونږ خانه — له حجاب ووځی درخانه
نور میرزو په لاس رباب کړه — په رباب ئے دا جواب کړه
درخانئی د څو دو څو ورے — سبا پیوئ د تا مز دورے
ستا په نور د میر سپایانو — رسا لند یو قتا لانو
وار په وار دُ ز غلو ئے — په هدف ئے ورو ستلے
هر چه ستا نظر پرے نه دو — خطا غشے د هغه دو
په هر چا چه ستا نظر شه — د هغه ګذار پرې سر شه
هغه څوک دے آدم خان دے — چه د تا د وصال خوان دے
له میدانه نور روان شول — د دادهٔ په خوش مکان شول
پیر صالح هم نشسته وو — هغه ځائے پرې سبا لشته وو
که یمین وو که یسار وو — ورته ناست خلق بسیار وو
چه آدم ورلره راغے — در دیوار باندے سته راغے

ACKU

په قيام ئے خلق واسع شۀ — لوئے هلک متواضع شۀ

آدم لاس مصافحه کړل — د پير پالے په بوسه کړل

هغه نور دے لاسونه — هم نيول په خپل دارونه

چه فارغ شو له دے کاره — په شپۀ ځائے کښيناستل ياره

په ليدل ئے اژدهام شۀ — هر لور منور په خاص و عام شۀ

دُرخانئ وکړه پوښتنه — له دائی دا رنګ لالنه

چه دا پيښه څۀ بلا شوه — چه دا هُمره شور غوغا شوه

ذر ووړ وُ ځه په شتاب شه — خبر داره له دے باب شه

چه دائی ور وُوتله — ننداره ئے وُ کتله

دا تهولے ئے په نظر شۀ — زړۀ ئے ډير متحيّر شۀ

چه آيا دا کوم عالم دے — د دُنيا که د آدم دے

ما دا هسے تهولے ښکلے — په هيڅ ځائے نۀ دے ليدلے

دا سری دی که طوطيان دی — ښاپيری دی يا حوُران دی

په شتاب نوره ستنه شوه — دُرخانئ ته درومنه شوه

ورئے ورے زما مير منے! — آفتاب دَ ښے پاک لمنے

يو تهولے دے نن راغلے — ترکلونو دے ښا غلے

خصوص لا پکښے يو ځوان دے — چه تر ماه ترنمر تابان دے

هم واړه سبزه پوش دی — په ښاښت کښے رباهوش دی

خلق د دوئ په ننداره دے — ځکه ملک يوه ناره[1] دے

---

[1] د صه رخان د محاورے استعمال ځان ته يوه د لچسپه موضوع ده چه د ژورے مطالعے پامته داره ده۔

ACKU

له دانۍ چه دا خبره ده — دُ رخو واؤ رېدې نادرې
په خاطونې له دې بابه — دا اثر دُ شه احبابه
چه دا څوان ځې ولیدلې — چه په ځه طور دې ښکلې
اخرش چه عالم زور شو — د وادهٔ په میدان شورشه
پیوصالح له شهٔ زبانه — دارنګ دُ وې ادم خانه!
تاسې کار د وادهٔ کانړۍ — خپل سرود سازش راوانړۍ
کرما کرم دا بازار کړه — ماخپل من ګنړه اوس کارکړه
دې ئې ودا هم په شا — پیر نور وُوت له غو ځا
چه پیر هسک له میانه شه — مجلس جوړ په توانه[له] شه
مینه خیلو رباب ونه — جوړ کړ جوړ د عشق بابونه
هر یو ژغ چه درباب وو — پکښې اود په پیچ وتاب وو
چه هرچا به اورېدنه — پرې له تا ده تاویدنه
رول ژغ میړو قوال کړ — په رباب ئې دا اقوال کړ

## قطعه

درخانئ د باغ بېلې — چه رُخسار دِ ګُل نشان دی
ځ ښکاره کړه نن راغلې — ستا دیدن ته ښنه طوطیان دی

---

له دهغه وخت دنا رینه ؤ دوراه منظور- او په ددو نو کښې دجوړې د مجلس انداز، دلته ذکر شوی دی. دا مجلسونه به دهغه په کور عموماً دما سختن دما نحه نه پس کیدل اودجینۍ به کور به دمازیګر مانې کیدل.

ACKU

ود پسے آدم دا طور

دا قطعه ؤوے بالفور

# قطعه

دُرخانئ د تهول میرمنے	نورانی ئے لکه شمع
په مجلس توره تیاره ده	نه رنړا کړه مجلس جمع
دد یدن بے رحمی مکړه	مونږ راغلی په دا طمع
هغه مخ رانه ښکاره کړه	چه تر نمر دے رخشان لمع

چه دُر آخو پری پیکرے

قد غرغرے موکرے

دا خبرے استماع کړے	ستورے چارے ئے وداع کړے
سنګین زړهٔ ئے نرم نرم	په دا ډغ شهٔ په عشق ګرم
نغمے اور دریاندے یل کړ	عقل عشق ورځنے بیل کړ
د سرود په استماع شوه	د پرهیز په الوداع شوه
وے ئے اے زما خاطره	دا نغمه متأثره
دا نغمه ده که لسبه ده	دا لمبه ده که نغمه ده
څو غږیږی اور را لګی	څو چه کیږی زړهٔ ئے سوزی
دا نغمه ده که جنون دے	دا سرود دے که افسون دے
دانائی ئے له مایوره	پارسائی ئے له مایوره
اے خاطره! که اوس نهٔ کړے	له هیڅ بـه شرم نهٔ کړے
رخصت راکړه مارها کړه	خدائے را پیښه څهٔ بلا کړه

ACKU

زه په بېدېدیا واکړم    عقل شرم زړه رها کړم

دا خبرے چه له ځانه    ډېرنو وکړے نورے جانه

چه ئے دا څه ډو ویلے    نور ئے سترگے واړوړلے

یوه وینځه ئے ده توره    دے ئے ورشه ډېره ئے گوره

دا صفت چه د دې زما کا    د دیدن ئے تمنا کا

ډېره گوره پرے خبر شه    خبر دا د ړه شتاب ترشه

په ذات ځوک دی څه کسان دی    روئی مغل دی که افغان[٢] دی

هغه وینځه بے تعطیله    زر تر ورځه راغله بے ډیله

ننداره د آدم خان شوه    هم ئے څېره په یاران شوه

چه پرے څېره کنیزک شوه    دا څېره په مرد مک شوه

د میرمنے نه بے درنگه    دا غله دا په زړه چورنگه

وے ئے زر پاسه ډیل مکړه    ننداره د ده تعطیل مکړه

که له دے ننداره گمان کړے    نه محروم بیا به ارمان کړے

سړی نه دی نر ځوران دی    په لباس د ښځه طوطیان دی

ستا صفت بد لے وائی!    په سرود د رنگ رنگ ستائی

---

١ په دے افسانه کښے ذکر شوی تحول کو دارد نه د هغه وخت د معاشرے د طبقاتي ژوند د مطالعے ډېره غوره موضوع جوړیدے شي.

٢ د مغل او افغان د بدئی لکه چه د یوسفزو د دبنگو او نړو په ز پېښو کښے په یو رنگ موجود وو. څکه خو درخانئ پوښتنه د دے خبرے وکړه چه دا مجلسیان مغل دی او که پښتانه دی.

دُ ځو هم له دے گفتار ه — عشق ولاړ ه کړ ه ناچار ه
درته را غله ځ پو ښتے — دَ د ے دینۏ عشق نښتے
یۏ ځو جوُنه ورسره وے — ځوک یمین ځوک میسره دے
هغه جوُته ئے د و ړاندے — پناهی کړے په ورځ باندے
دا تر پسَ ۏُ در ید لـه — ننداره ئے نور کو لـه
چه ناظره په آدم شوه — هوش ئے لاړ په زړهٔ برهم شوٚ
زړهٔ ئے ۏُ وے اوس داغه کړے — حجاب وا چوه که ښهٔ کړے
چه آدم د تا جوپان دے — ستا دیدن غواړی نواهادے
په سر تور ے ۏُ دریږ ه — له عالمه مهٔ شرمیږ ه
چه دِ ښهٔ ننداره ۏُ کـه — په دیدن دِ خاطر ښهٔ کړه
بیا ئے عقل حیا بیا ره — مانعان شوله دے کاره
عاقبت چه عشق پیدا کا — زور قوت عقل بے پا کا
یۏ غـلام د آدم خان وو — بلۏ نام فصیح زبان وو
بیرد نه د اس تر ځنگ وو — چار تاره ولاړ په څنگ وو
ځوږ ئے ایښے په آواز وو — د خبرو جنگ نه ساز وو
شمشی خان یو دویم ځوان وو — چه تربور د آدم خان وو
همیشه ئے له آدمه — شیطنت کا وو همدمه
هغهٔ ۏُ وے چه به کله — زهٔ دا حل پریږدم عاقله
چه په ځله د آدم خان شی — سر سر تور کا نمایان شی
دائے وو ے په قیام شهٔ — په سرود ئے دا کلام شهٔ

---

له دمجلسیانو توالانو او داخونا نو شاعرانو دامقابلے تر ډیرے موده رواڼه وے دازمونږ د ثقافتی ژوند یوه دلچسپه برخه ده۔

ACKU

# قطعه د شمشی خان

ډُرخانئ د پتولی میرے  چرے نهٔ وی وارخطاکړے
پلوٹ تینګ نیسه په مخ کښے  اوکه نه خان به رسواکړے
په دا منځ کښے ناګها نه
بلوګے راغے دوا نه
چارتاره ئے په خپل شان کړه  دا قطعه ئے په زبان کړه

# قطعه د بلوکی

ډُرخانئ ز موښ میرمنے  آدم خان د سوزو میر دے
شمشی خان لکه قارګه دے  آدم خان شکلے تجیر دے

# ایضا قطعه د بلوکی

ډُرخانئ د نهم ډُ کا  شمشی خان شیطان شیم دے
د شیطان غرض بل نشته  تل په بد و د آدم دے
دا بلوګ چه لا نادان دو  دے غلام د شمشی خان وو
د ډُ بها په آدم خان کړ  آدم یاد په خپل اخوان کړ
شمشی خان ورته په یاد کړ  او لئے حق ئے پرے زباد کړ

# قطعه د شمشی خان

اے بلو نمک حرامه  دا وټل خهٔ وو چه تا وے

ACKU

فهم کړه وئیل په ځانے کړه    اولسے غلام د چا دے

# قطعه د بلوګی

بلوګی دے شمتی خانه    زه نا خوال په وئیل سنا کړم
تا نه بئے ترما پیسے دے    خرخ دِ ځک په بها کړم

تر دا مینځ آدم خان ډُوے
په رحمت شه ډیر دِ ښهٔ وے

نا سے خټهٔ دبله وشیږ ئی    بد وئیل کړئی نه شرمیږئی
مونږ په خټهٔ راغلی یُو نه    شند اړخی دی عالمونه
که دا کار له مونږ برهم شی    په خندا به درست عالم شی
خلق به وائی چه دا خټهٔ وو    چه حریف د دے کارنهٔ وو
په دا مینځ د خټهٔ د پاره    دوئی راتلل دا نا پکاره
یو حُبله اتفاق کړئی    له میان لوے دا نفاق کړئی
چه په اصل افغانان یُو    خود معلوم د نفاق کان[ل] یُو
دا خوئی هرچا وته زښت دے    ولکن زمونږ سرښت دے
که هر څو دا خوئی له ځانے    مونږ موندلے دے له خدائے[تم]
رما بیا خټهٔ خو صبور شئ    د نفاق له کاره دور شئ
چه داجل په هر شان وُوځی    له حجاب په میدان وُوځی

---

ل د پښتون د روایتی نفاق یوه دلچسپه نکته په دے موقع صدر خوشحال د بحث لاندے راوړے ده۔

ACKU

دا زمونږ د سرخرویٔ ده — په عالم کښې مولویٔ ده
که خجل له دے میدانه — پاڅو سپک شو ترهرچانه
شمسی خان د مستعد شی — په دا کار د دے په ضد شی
زهٔ تابع د دِ سردار شی — زهٔ نامکم دے د نامدار شی
په هرشان چه جل ښکاریږی — هغه کار د له موږ کیږی
شمسی ورورهٔ نو رخپل کار کړه — مارخصت په څو گفتار کړه
چه یو څو گفتاره وکړم — نور به بیا خُلهٔ پټه زهٔ کړم
نورنهٔ وایه تهٔ کلام کړه — جل سرتوره په خپل نام کړه
واوره ګوره شمسی خانه! — تهٔ خاموش شه یو څو آنه
چه آدم یو څو خبرے — لکه ښکلی مرغلرے
په ریږش په دا میدان کا — محظوظ ښځے هم مردان کا
نور به هورته تهٔ گفتار کړه — هم په بیل هم په نهار کړه
نور شمسی سرود قلار کړه — خان ئے منع له گفتار کړه
بلوکے ولاړ کنار دو — ننداره ئے د دے گفتار وو
څو ترمیان د ګفتګوئے وو — دے ناظر د وُرهٔ په سوے دو
ګور خانئ ناګهانه — دهمزولیو ترشا جانه
عین په وُرهٔ کښے وُلیدله — لکه نمر ورو ځلیده لہ

---

له دجرومجلس به په دا سے موقع بهر په دالان کښے کیدو۔ چه نارینه به ورته لاندے په میدان کښے او ښځے اوجونه به ورته دکوټے په بلئ پاد کوردنوپه روزنو کښے ولاړے وے۔

سپین مخ د ندوښی د زرو    مرصع په ښو ګوهرو
د بلو په نظر ځا نه !    په دا رنګ شوه ښکاره نه
بلو پوه شو چه هم دا ده    دا د درخو ښکلې زیبا ده
چه په دا یوه څو بد لو    په دا لږ اندک وېلو
زړه مې ډک شه په دا لوری    ننداره کا آدم ګوری
که یو څو نورې خبرې    آدم خان لکه شکرې
ترخولې توئې په میدان کا    شیرین کام ښځې مردان کا
درخانئ به له درو نه    په سر تورې کا بیرون نه

پس باید چه زیرې وکړم
آدم خان خبردار زه کړم

# قطعه د بلو

خانه زیرې ع دربا نده    عین په ورځ کښې نمر ځلیږی
ویل کړه بي بي درخو به    اوس سرتوره ور دریږی

آدم خان په دا خبره
هرګور خوښ شه ډیر دا فره

په سرود ئې دا آواز کړ    د درخو زړه ئې ګډاز کړ

---

له په دغه زمانه کښې په دغه سیمه کښې مجلسیان دا سې عام نه وو خو د موسیقۍ د فن ذکره د نښه زمیتوب او افتخار نخښه ګڼړلې کیده. هرکله چه دا فن کسبه طبع ته حواله شو نو قدر و قیمت ئې داپریو تو.

# قطعه د آدم خان

دُرخانئ اوده پړدنی — په سرکړی حجابي دی
شغلې کله په حجاب کښې — پټېدونی آفتابي دی
و دیدن ته دِ راغلې — خلق بې حسابي دی
خلق ئې د دیدن ته — د خشکئ که د آبي دی
ډېر راغلي د سوات سره — بې شماره بې حسابي دی
د واړه ستورګي دي په ډک کښې — ستا په لور اضطرابي دی

مخ ښکاره کړه چه نر ښځې
ستا خواهان په شتابي دی

د دُرخانئ اوده حجابه — معاف لری تر آبه
چه یو ځائے اوده دریاب شي — د آفتاب د مخ حجاب شي
چه په هر حجاب تظیر کړے — دا آفتاب پکښې دبیر کړے
دبي ئي چه هر حجاب دے — دا ئې فخر د نقاب دے
آفتاب وي جلوه تر کېږي — په حجاب کله پټېږي
اوس دُرخو که مخ ښکاره کا — غم به لوے یکباره کړه
د حجابه مخ څرګند کا — ښځې نر واړه خورسند کا
دُرخانئ په دابد له — یو دوه درے پړدني دِ له
مخ ته وا چول له سره — پاتو شول خلور مچیره

میرزگي ور پسے جاته
داسے ډُوے له زبانه

ACKU

# قطعه د میرو کی

د بي بي مهر با نیو    مونږ ته هرچا کړه د غږ رونړی
خانه ادس به غږ نبکاره کا    پا تو دی څلور پړ و تی

بل پړ و نے پړ تا ډ کړه
د میرو په غږ ے دا ډ کړه

بیا میرو دویل یاره    په دا طور لـه گفتاره

# بله قطعه د میرو کی

خانه زیرے ے در باند ے    نما یا ن د تمو شخلے دی
نمر به ډ و ځی له حجابه    چه ے پا تے درے پر دے دی

بیا ے بل پړ و نے یاره
دا پر تاب کړله تلواره

بیا دا ډ غ پرِ ادم خان کړه    دڅو ځ پرے نما یا ن کړه

# قطعه د ادم خان

د هر چا هسے رضا د ه    کـه بي بي لـه حجاب بو ډ ځی
په عالم با ندے رنړا کا    لـه دریځے افتاب ډ و ځی

هغه عِشق چه ے شیرینه
بے حجاب کړه نا ز نینه

هغه عِشق چه ے له شرمه    ز لـیخا د ویستـه کـړ مه

ACKU

هغه عشق کړه ډرخو مسته — بې حجابه کړه بې دسته
عشق ئې لرې کړل له سره — په يو ځل دوا ړه مجره
د مجلس ډ ته سرتوره — ډرخو ډوته اې وروره
تا به وې چه ناګهانه — نمر راکوز شه له اسمانه
نور قايم قد د ادم شه — په چشمانو ړوند عالم شه
تا به وې چه قيامت شه — هورته پيښې هسې ساعت شه
چه قايمه شوه سرتوره — خلقه شوله ډسکوره
له هيبته په چشمانو — کټ نه شوله ناظرانو
څو جدا وه له تميزه — دا دلاړه وه عزيزه
چه په هوش شوه هښياره — له دلاړ شوه نګون ساره
چه دا پرمخ پريو تله — خلقه ولاړه شوله
په هر لوري يو سوران شه — ګويا غاړه په درست جهان شه
ددې څو ويښتې دايانې — چا پيروه شوې تر ډرخانې
په پردو ئې ډپو مشله — په اوبدو ئې وا خستله
اندرون ئې په ښه رنګ کړه — خوابيده ئې په پهلنګ کړه
چه دننه اندرون شوه — خلقه ورته بيرون شوه
خلقه د وادة وا ړه — لور په لور شوله دلاړه
تنها پاتو ادم خان شه — دې هم پيرو ته روان شه
پير پرې شاباش افرين کړ — په قربت ئې همنشين کړ
خلقه تلله راتلله — ننداره ئې دده کړله
هر چا دا وې له ژبانه — صد رحمت شه ادم خانه!

ACKU

چه نا وو یسته سرتو ره　　دُرخانۍ هوړی له کوره
که باطن د پیر دُعا وه　　نیک ظاهر شوی دِ تا وه
په خوشۍ دو نور دګړ ے　　یو آدم دو په زړهٔ سترے
زړهٔ ئے غوټ کړ جراحانو　　د رښتینی عِشق یا را نو
له چشمانو ئے ګریا ئے　　شوے د زړهٔ وینے روانے
دهٔ سر ټیټے په زنګون وو　　ړک ئے درست دامن په خون وو
یعنے خرنګ به دُرخانه　　زهٔ اوس مومم یا سُجا نه
په خاطر کښے په داغم وو　　زړهٔ ئے درست بوهم درهم وو
ورځ چه پاخه واڼ بنتلۀ[١]　　بسکۍ ئے وا خستله
عالَم واړه نار په نارشۀ　　خپل خپل لورته په رفتارشۀ
په آخر دورځے جانه　　دُرخو هم شوله روانه
د خپل تهول سره بیرونۍ شوه　　دَ خپل کلی ته په یُون شوه
ددُرخو چه مخ په کورشۀ　　آدم هم پسے راسور شۀ
وړاندے تهول دسیلانو　　در پسے د شنر طوطیانو
مُتصل وبله بَهم تلۀ　　ظاهر خوښ په زړهٔ بن‌هم‌تلۀ[٢]

---

١ د سوات په سیمه د پښواړا سره دا دستور راغلی دی چه د ولی د لور حاضری کر مالی او چپتیړی پس له هغه د جینۍ کورکوی د راتهول شوی میلمانه رخصت اخلی.

٢ دیره باز دره نه کوزه باز ده او شیرخانی ته بوه لار ده چه اول کوزه باز دره او وروسته شیرخانه نومے کلے راځی ـ درخانۍ د کوزه باز درے او آدم خان د شیرخانے دو.

بلو دُوے زمونږ خانه! پہ محرومو مهربانه
مونږ پہ جنګ تقصیر ونکړ زیرے مونږ پہ اول وکړ
زما وخت چہ د دیدن شهٔ مونږ محروم زړهٔ مو غمجن شهٔ
نور دِ وُلیدهٔ دُرخانه همہ واړه وبے لہ مانہ
هغہ وخت بیرون لاړ وُم پہ ساتل داس دلاړ وُم
آدم دُوے بلو یارهٔ یو دوهٔ حوفہ ستا د یارهٔ
زهٔ بہ عرض کړم کہ دُرخانه! ستا پہ باب شی مهربانه

نور آدم پہ لاس رباب کړ
پہ دُرخو ئے داخطاب کړ

# قطعہ د آدم خان

د توولے پہ مخکښے درو ے دُرخانئ وهٔ لکہ بطہ
نورے جُونہ لکہ ستوری تہ سپوږمئ ئے غبار خطہ
د بلو د یارهٔ وکړهٔ بیرتہ پیر حجاب سقطہ
چہ دِ دُوینئ پہ عین دِ تا عینِ لہ نقطہ

د دُرخو یو دوهٔ همسائے
ورسرهٔ وے کل مثالے

د هغو تہ دُرخو دُوے ورو مخفی بلند ئے نهٔ وے
زما ورتہ پیل د هغے پہ وړاندے کړئے کوښی ترپښو لاندے
چہ ے کوښے پس رها شی بیرتہ پیر پسے زما شی
مخ سنکار ہ پہ دا سبب کړم پہ آدم باندے طرب کړم

هغو ښېل وهلہ یارہ    مخ پہ وړاندے گل رخسارہ
دے لہ ښښو کو نیے رہا کړے    څو قدمہ ئے ترشا کړے
وَر پسے شولہ گو دا نہ    پلو لرے درخشا نہ
اَتشی شولہ ئے وکړہ    یو برقی غمزہ ئے وکړہ
د آدم زړہ ئے بریان کړ    بلّو گے ئے حق حیران کړ
آدم خان وے بلّو وا یہ    ختہ دِ وُلیدہ ونما یہ
بلّو وُ وے را معلومہ    هو مرہ قدر شوہ مفهومہ
لکہ ماہ لہ وریځ وُوځی    بیا پہ آ بر ننہ وُ وځی
دغہ هو مرہ قدر خانہ    را معلومہ شوہ دُرخانہ
اَخوش پس لہ دے چارے    دو راھے راغلے پہ لارے
درخانئ پہ خپلہ لار شوہ    باز درے تہ پہ رفتار شوہ
پہ دا سبلہ آدم خان شہ    چہ یو څو پلونہ روان شہ
څو دُرخو لرے وتلہ    ددہ ښنہ درغلیدلہ
چہ دُرخو پہ کلی کور شوہ    پہ آدم بیخودی زور شوہ
لہ اس کوز پہ دیو شتاب شہ    چرپوت کوز پہ پیچ وتاب شہ
وے ئے دروځئ همراهانو    ماتہ مہ گورئ یا رانو
یو میتر و دِ ماتہ ستون شئ    نور دِ ستاسے کورتہ یون شئ
پہ هر وخت چہ زہ تندرستم    درروان بہ کورتہ چُست شم
پہ دا رنگ کہ ما روان کړئ    هم دا درنگ بہ ما پہ ځان کړئ
تا سی دروځئ ما رہا کړئ    خاطر جمع نور لہ ما کړئ
همراهان ئے نور رخصت کړہ    همگی ئے اجازت کړہ

ACKU

يو ميرٓو ور سره ستون شته — بل هر يار څنځ په يو ن شه
آدم خان وے ميرٓو يار ده — د هر غم ے غمکسار د
د دُرخو زلفے کمند شوے — دوئ زما د خاطر بند شوے
په هغه طوف مي زړه څي — چه دُرخو څي بل سرنه څي
يو قدم که په بل لور کړم — د صورت مکان به کور کړم
که زما په ژوندا ويار ے — زما عمر ژوندون غوارے
ما زر سور په دا زمان کړه — با زدرو ته ے روان کړه
هغه ځا يو کمان گردے — زما يار هم د با ور دے
د هغه کره به ور شو — نو اغت به يو پهر شو
بيا به دے په حال آگاه کړو — د خپل خان به ئے همراه کړو
گُنده وي چه دے سبب شي — تر حاصل زمونږ مطلب شي
د دُرخو نو ځا يه ور شو — په وصال ئے بهره ور شو
ميرٓو ووے زمونږ خانه — ته دِ ژوے جاودانه
په هر څه چه ستا رضا وي — په هغه دِ کار زما وي
زما سر تر تا قربان شه — پا زر سور شه روان شه
آفرين په ستو يا رانو — په رښتينو صادقانو
چه د يار د پاره ياره — سر قربان کا بے انکاره

---

ك دا نسے بريښي لکه چه صدرخان خټک په دغه دريو کلو چرے پيښه نه ده کړے گني دا بيان به ئے دا سے نه وو داورے بلکه دا به ئے ويلي وو چه ميرٓو ما دلته د خپل کمان گو يار کړه ورسوه-

ACKU

نه حیله کا نه انکار کا — سره مال فدائی یار کا
په دا طور یاران کم دی — یاران دا وخت دشکم دی
د راحت په وخت یاری کا
چه تنګسه شی وېزاری کا

# حکایت

په دا باب یو حکایت دے — چه ئې کښینم مناسبت دے
یو خواجه وو ډیر زردار وو — هرګونه مال ئې بسیار وو
یو فرزنده ئې نوے ځوان وو — دے به جمع د یاران وو
مجتمع ئې خپل یاران کړه — په ډیر زور ئې خواجګان کړه
هر یوه ته ئې احسابه! — بخشش ډیر کړ بے حسابه
دوئی هر یک د ده ترسره — ځاریده په قُله بیشتره
پلار ئې ووے اے فرزنده — واخله پند زما له پنده
زه پوهیږم چه نانی دی — دا یاران چه ستا جانی دی
ځو راحت دے دِتا مله دی — په تنګسه کښې دِ مله نه وی
مګر یونیم پکښې وینه — چه دِ یار په تنګسه شینه
د یاران کاروبه ګران دی — ګمان مکړه چه آسان دی
لکه دا رنګ له دے بابه — زما یاد دی له کتابه
دوه یاران محبّتی وو — دیرینه هم صحبتی وو
یوه شپه یو یار ناګاهه — بے وخت هسک شه له خوابګاهه
یار ورياد شه وے ئې ورشم — له دیدن ئې بهره ورشم

ACKU

چه تر ورهٔ ترهغه یار شهٔ　　هم هغه تر خبردار شهٔ
پرے ئے زغ کړ چه اے دوستہ　　څره مغزه اندک پوستہ
په راتللو تلوار مهٔ کړه　　دومره څهٔ خو تهیکاؤ وکړه
دائے دُوے نورهے توره　　لہ غلافه کړه عیوره
په بل لاس کښے ئے تیلئ　　پکښے څو سوه روپئ
هم ئے ځان سوه کُهَله　　روانه کړه نیمځه خپله
په دا طور په سامان شهٔ　　د یار مخے ته روان شهٔ
وے ئے اے یاره دلداره　　اوس راځه ترخپله یاره
چه دا یار ئے ورد روان شهٔ　　په لیدل د یار حیران شهٔ
دے ئے اے یاره عیان کړه　　دا سامان څهٔ دے بیان کړه
په دا رنګ د څهٔ د یاره　　راغلے مخے ته هوښیاره
زهٔ دے اے یاره نیک بخته　　دا چه تهٔ راغلے بے وخته
زهٔ پوهیږم له څو کاره　　خالی نهٔ ئے زما یاره
یا دِ ویره له اعداده　　یا څهٔ کرانه د دُنیا ده
یا دِ هسے زورشهوت دے　　چه د تللے فراغت دے
له غلیم که دِ هراس دے　　دا ے تیغ ورته په لاس دے
که د زرو څهٔ اشکال دے　　دا ے زر دا ے اموال دے
که دے ځله د شهوت ده　　دا ے ترکه خوښه صورت دے
زهٔ به خلاص نړیه طلاق شم　　ته ئے جفت شه زهٔ به طاق شم
هغه دُوے اے قابله　　د یارئ به کار کا مله
لکه شرط د یارئ وونه　　ما له تا نه وُلیدنه

آفرین دِ تا په دین شه  هم په دین هم په آئین شه
چه زما دا وخت آمد دے  نهٔ ے نور څهٔ مقاصد دے
تهٔ ے یادشوے را روان شوم  چه په شغل دِ ښادان شم
اے فرزنده یاری داده  دا یاری وا یه له چا ده
دا یاران تجربه نهٔ کړه  او که نه اِیساه پرے مکړه
زوئ دوے ورته پلاره  دا چه واڅے له ګفتا ره
دا هر یار زما هغه دے  چه تر سرے صدقه دے
هر یکان زما تر سوه  څار یدل کاندی پد ره
پلار ے وُوے نورابصاره  که نهٔ غواړے برخوردارِه
آزمایښ ئے درته وُکړم  ښکاره تاته هریو زهٔ کړم
زوئ ئے وُوے پس داوُکړه  تهٔ عیان راته بدنیهٔ کړه
پلا دیو مرڅخے طلب کړ  چښت ئے ذبح شباشب کړ
په چړه ئے زغندِ زغند کړ  په څادر کښے ئے درست پند کړ
پند ئے درست آلوډ خون کړ  هم ئے زوئ په خون ګلګون کړ
نور ئے پند محمول په سو کړ  هم ئے مل له څان پیس کړ
د هر یار ترکور فی الفور  پلار فرزند وروست دا طور
ورته وے به ئے اے یاره  تهٔ زما د زوئ غمخوار
زما زوئ نن بُزرګه  خطا وکړه لا تر ګرګه
فلانے کس چه لوئے امیر دے  د بادشاه عمده وزیر دے
د هغه زوئ ئے حلال کړ  ګوک صِفت ئے سُور څنګال کړ
په څادر کښے هغه مړے  داد ے مارا و رپنهٔ کړے

دا مُرده په کور پنهان کړه — د یار بد قبول په ځان کړه
دا فرزند چه مې په تا دے — ډیر مثین ساعت هم دا دے
چه یاری پکار د یار ده — دے ساعت وته پکار ده
هر یوهٔ به ورته دا وے — په شتاب به ئے بیابیا وے
په تلوار ځهٔ شتاب تر شه — زر زمونږ دکور بدر شه
مونږ دیدو یاران نهٔ یوُ — دهیچا آشنایان نهٔ یوُ
چه بدی او بدکاری کا — لـه هغو به خوک یاری کا
مونږ یاران یوُ دنیکانو — ځهٔ موکار دے له خوبیانو
یا ځه زر شه روانیږه — خوک به راشی ؤ ویریږه
مونږ به حال ځنې پټ نکړو — یکایک به ئے په خُله کړو
همه دا پرو لـه زبانه — په دا طور دوے جدا نه
مګر یا ئے دوه یاران دُو — چه غرولی له چشمان وُو
نهٔ ئے ډیر کول لافونه — نهٔ ئے ډیر کړل سوګندونه
چه اول سره دوچار شول — په دا حال ورته اقرار شول
هغه ؤ وے مقتول ماز ده — پریږده ماته باقی تا زده
حواله مقتول په ما کړه ئی — تا سی درو مئی ماته شاکړئی
له هغه چه هم بیرون شول — دو یئم یار ؤته په یون شول
پلار ئے دوے اے فرزنده — نور چشمی زما دلبنده
دا نیم یار دے درست نهٔ دے — د بل حال وکوره ځهٔ دے
چه ترکور د هغه یار شول — په تقریر ورته زوئی پلار شول
دا احوال ئے دربیان کړه — درست ئے دهٔ وته عیان کړه

ACKU

هغه دوې هیڅ غم مکړئ ‏ ‏ دا کار ما زده ماتم ځنه کړئ
تا سې خوښ ووسئ خندا کړئ ‏ ‏ دا تهمت تمام په ما کړئ
زه به ځان دِ تا دپاره ‏ ‏ د مقتول قصاص کړم یاره
زما زړ نو تا قربان شه ‏ ‏ زما سر نو تا قربان شه
چه یاری کړه له مونږ یاره ‏ ‏ تا د دے ورځے دپاره
نن زمونږ د یارئ وار دے ‏ ‏ سر و مال دے ترتا ځار دے
چه دا دوې له همته ‏ ‏ هغه یار د وفا خصلته
پلار ځوئے دواړه ځنے بیزار شول ‏ ‏ آفرین په رحمت یاد شول
دے نے دا مونږ آزمائش کړو ‏ ‏ د نیک بد مو آزمائش کړو
هغې دواړو بے را نو ‏ ‏ بے وفا وؤ نا مړ دا نو
هغې دواړو لاس په سر کړ ‏ ‏ له ما هر یو ځنے حذر کړ
مګر یو فلانے نیم یار وو ‏ ‏ له تا درست د یارئ کار وو
نکه شرط دو بے له تا نه ‏ ‏ مونږ وانه وریې ځه له چانه
له دے هومره نبو یارانو ‏ ‏ بیستګانو له صدګانو
یو نیم یار ځنے حانی دُو ‏ ‏ نور همه واړه ثانی وو
په جهان کښے یاران کم دی ‏ ‏ چه وفا لری همدم دی[۱]
یو میړو له خپل زمان وو ‏ ‏ چه یار داُدم خان وو

---

۱ په قصه کښے په تمثیلی بوړ قصه راوړل د پښتونخوا داستان ګوئی روایت پاتے شوے دے چه روایت ئے په قدیم سامی، هندی، عربي او عجمی ټولو ادبیاتو کښے موجود دے.

القصه آدم روان شهٔ     باز دَرے ته خرامان شهٔ
میرؤ کے ئے جوړ هدم دو     ورسره ولاړ محکم دو
نماز خفتن د یار تر کوره     آدم خان د راغے ورور ره
په مکان د کمان کړ شهٔ     کمان کړ ورته ناظر شهٔ
چه ئے وپیژندهٔ جانه     وے ئے راشه آدم خانه
په نېهٔ ځائے ئے نشسته کړ     نېهٔ خدمت ئے پیوسته کړ
چه فارغه له طعام شهٔ     د ملاستی د خوب هنګام شهٔ
آدم خان وے فلانی یاره     خهٔ پوهیږے له دے کاره
زهٔ راغلے په خهٔ کار یم     د خهٔ چارے طلبګار یم
د دُرخانی په طلب یم     نن ورتلو ته په دا شپه یم
د دُرخانی تر دربار ره     ته رهبر شه زمونږ یار ره
هغهٔ وَوے که پرګران دے     دا کارلوے تر امکان دے
بیا چه ستا د زړهٔ رضا ده     په دا کار سعئ زما ده
نور د وړاندے کمان کړ شهٔ     د آدم د کار رهبر شهٔ
دو پسے میرؤ آدم شوو     متصل د بله بهم شوو
تر دربار چه د دُر خوشول     د د هلیز په ننداره شول
په مثال لکه آسمان دو     سر ئے ایښے په کیوان دو
لکه همت د عاشقانو     پاس په عرش کړمی یارانو
آدم وَوے میرؤ یاره     د عشاقو مل د ګا ره
ته اوږے د ماته سے     بهرکے وُنیسه محکے
زهٔ به ستا په اوږد ویښے بدم     بیا به لاس په دیوار کیږدم

په دار نګ په تن دیواره　　زه ور داوړم میړو یا ره !
اخوش میړو تودبان شه　　په اوږدو ئې ادم خان شه
په دیوال او چت بالا شه　　بیا ددکوز ورو، ورو په غلا شه
په میړو په کما نګر کړ　　ځان او چت په اټین زدکړ
دواړه ملونه په پوځائے شول　　ددرخو په درون سرائے شول
په درون د سرائے لالته　　د لاړ خپر وو دننه
هغه خپر د غلام وو　　دډرخانې بوچې نام وو
دوئی په خپر کښے شتاب شول　　غلام د نیځه دیبش[1] خواب شول
غلام زغ کړ داوخت توک[1] ئې　　له کوم ځائے له کوم توک ئے
څه پو هیږے داکوم ځائے دے　　دا د ډیر زوره ورسوائے دے
په خیل ځان کړ خونیان بیځی　　چه داخل په دا مکان بیځی
ادم دوے میړه واپه　　زما حال ورته وُ نما به
میړه دوے دا ادم دے　　تمامی دینار درم دے
په مهرانو ئے جیب ډک دے　　سروپائے ئے شین میلک دے
دا مال ده تا ته راوړے　　هم ئے سر په لاس پریکړے
ده نیولے دے وتا ته　　اے بوچه راجپوتی ذاته[2]

---

[1] ددرواز ګئ سرپه توک ئے ؛ زه آدم خان ددرخانئ سلام له څمه

[2] د سوات یتیمه اباد کوجر تهول راجپوت دی چه دا خیلونه په خصوصیت سره مشهور دی - کتهان خیل، اکړا خیل، پچوانړ خیل ا د تکرا خیله بلیسر وغیره-

ACKU

په هر څه چه روایتي دے　　نورا خلق ستا خواهشي دے

تنواتے کـه قبـوله　　زمونږ تا ته شي معقوله

چست ولاړ شه دم درحال کړه　　خان د رخانه په وصال کړه

بوچه تهـر په آشوب شـه　　ذر ولاړ په تلاتوب شـه

چه خبـتن پرِ راخبر کړم　　دهریک بریده سر کړم

لکن دینځے تر کمره　　محکم ونیو برا دره!

وے ئے دا څه فضولي ده　　چه ئے کړي نامعقولي ده

څنے خپل دینار درم کړه　　نور ور څه کار د آدم کړه

څنے خپل مهران اموال کړه　　نور آدم د درخو وصال کړه

چه دا طور وینځے دم کړ　　غلام ړوند دینار ددم کړ

وینځے ودے آدم خانه!　　د درخو وصال جویانه

داوړه زدو بوچه ورکړه　　نور زړه جمع په دا چرکړه

آدم ډیر ورته بے عدد　　مهران ورکړه مال بیحد ه

بوچکے ئے خوښي بسیا رکړ　　نور ئے وړاندے په دا کار کړ

نور په لاس چاړه بوچه کړه　　پرے ئے ماته شق چنه کړه

د درخو خاصه مکان وو　　دبهشت دغائے نشان وو

مات هغه مکان بوچه کړ　　گو بهشت ئے دریغه کړ

وے ئے دروم ادس آدمه　　په جنت گډ شه بے غمه

په جنت چه آدم گډ شه　　له هوسه بیهوش ړه شه

له درخانے ئے ادب شه　　ورتلے نه شه مذبذب شه

ورته ناست په خاطر رنګ وو　　لاس ئے اینبے په پالنګ وو

ACKU

چه ساعت په دا رنګ تېر شهٔ　　په مېړو باندې غم ډېر شهٔ

پسې کوز په هغه روڼ شهٔ　　د آدم نه تېر په دې شهٔ

په آدم چه تېر مېړو شهٔ　　دا ګفتار ئې ورته دو شهٔ

چه دا خهٔ بلا در پېښه　　شوه وتا ته ای دل رېشه

چه دا خل په خپل محبوب شوې　　ورتلے نهٔ شے په غم ډوب شوې

دهٔ وې اې زما غمخواره　　ادب وُېستم له کاره

مېړو واخست په دوه لاسه　　په ډُ رخو ئے ولېښت د پاسه

دُرخو دېنبه شوه له خوابه　　په غصّه شوه پېچ وتابه

وې ئې دا زما څنغول دے　　پایاوے ناکس کچه ګول ډے[1]

چه دا هسې وخت راغلے　　دے ترما دے کښېنا سنلے

یو ګذار ئې د ور پسې څېنې　　شائسته منګلے سپینې

په تهتر در که پرتاؤ شهٔ　　آدم خان په وېنځو غاؤشهٔ

وارو وُوے نا ترا سه　　پایاوے په خوئ ادب سنه

دا کوم وخت دے په خوئ خفا مه　　چه د مونږ کړو بے آرامه

بیا مېړو ولاړ آدم کړ　　له دُرخوئے پاس برهم کړ

ورته ئے وویل دا طور　　اے بی بی دا ښکلے مېور

پایاوے نه دے آدم دے　　بېهوش کړے د تا غم دے

یو ساعت ئے په پالنګ کړه　　تخت نشین دا خپل ملنګ کړه

---

[1] د څنغلیازئ دستور دی چه اوس هم په ځنو قبیلو کښې رواج لری. دا دستور پخوا په یوسفزو کښې هم وو. په دې شعر ونوکښې دغه دستور ته اشاره شکاری.

خپل وژلے بیا ژوندہ کړہ — پورے خپل مهرتا بندہ کړہ
چہ ستا مهرپرے خرکند شی — ذرّہ وار بہ سربلند شی
دُرخو دُوے آدم خانہ — برابر راشہ زما جانہ
لاس مے پریوځہ تو څنګلے — چہ مے تہ پرے دُو هلے
زۀ دتا پہ راتلو شک — نۀ افزون ډُم نۀ اندک
هیڅ بنیادی بلہ تو دانہ — نورہ نشتہ آدم خانہ
نیا رۀ خونہ چہ زما دہ — ستی دِتا پہ نور رنړا دہ
پہ راتلل دِ شوم شادکامَ — پہ هرکام شوم دل آرامَ
نو دا وخت چہ مبارک وی — کوم یو گُل بہ خوشترک وی
چہ لہ وصلہ دِتا یارہ — زۀ ناگها شوم برخوردارہ
چہ چراغ دبل دلخ شۀ — ملک رنړا شۀ پہ ماسخ شۀ
اوس خوشحال کبنیہ بے غم شہ — فراغت کبنیہ خورم شہ
لہ سرو لعلو شکر بار شہ — پہ گلشن لکہ هزار شہ
آدم خان هزار زبانہ — لہ بلبل هزار داستانہ
عاریت کړۀ پورے گویا شۀ — پہ دا طور پہ ثنا شۀ
داخۀ روئی روشن روشن دے — داخۀ بوئی گلشن گلشن دے
چہ جهان پورے منوّر دے — درست عالم پورے معطر دے
نۀ دا روئی پہ شنۀ کبنت شتہ — نۀ دا بوئی پہ یو جنت شتہ
زهے روئی چہ حُر بندہ کا — زهے بوئی چہ مړ ژندہ کا
پہ نصیب مے چہ دا مخ دے — پہ دوہ کونہ زما سخ دے
لکہ خس چہ کهرُ یا وړی — عقل هسے شو نړے ستا دُړی

ACKU

دا اوده یم که بیدار یم　　چه ناظر په دادیدار یم
چه په خوب ئے نهٔ لیدنه　　هغه مخ ئے وُ لیدنه
غنچه را غلمه بیا دمن شوم　　مست دِ کړم مخمور په خُم شوم
دا ناکام د کامرانئ　　اصل تهٔ ئے دُرخانئ
ناکامی د تا فرقت دے　　کامرانی د تا وصلت دے
بیا دُرّخو وے آدم خانه　　رباب جوړ کړه نکته دانه
رباب جوړ په خپل شان تهٔ کړه　　په رباب ئے صفت وکړه
نغمه جوړه آدم خان کړه
دا قطعه ئے په زبان کړه

# قطعه د آدم خان په صفت د دُرخانئ

د دکو هر چه په عمان دی　　دا دِ تا د غابنو حق دے
چه گلونه په جهان دی　　ستا د حُسن یو ورق دے
دُرخو وُ وے دا قطعه ده
چه د وصف جامعه ده
خود پوهیږی چه دانا دے　　دا صفت لائق د چا دے
دا صله لری بسیار ره　　زهٔ پیشکش یم دِ تا یار ره

---

له د دے بیان نه خو دا واضحیږی، لکه چه درخانئ به د خپل مور پلار نه جدا په کوم بل کور کښے وه چه هم په هغے احاطه کښے د مچرنه چه ئے مور پلار میشته وو او بو آدم چه خوکید ار او یوه وینځه به ورسره وه۔

نور دُرخو په زړۀ کښے ډُوے    راسته وا ډره چه ئے څۀ وے
یعنے زَم صفت اَمیزه    د یار وکړم له مکیزه
چه یار څۀ په زړۀ کښے راوړی
پرے دنګیر شی که ډُو یاړی

## قطعه د دُرخانئ له زبانه

د مشکنړو سوداګر وے    اوس د لعلوے دلال کړے
که ته ګُل د کشمالی وے    په ګریوان دُرخانے نال کړے
آدم خان وے چه لاشے دے
د ګُلونو کشمالے دے
چه د هیڅو په شماره دے    د مشکنړو بنجاره دے
دُرخو دواړه هغه زۀ کړم    په یو شۀ ځینو ئے یاد نۀ کړم
اوس زما مطائبه ده
طائبه څۀ بلکه ګیله ده

## قطعه د آدم خان

زۀ په اصل کښے باز یم[1]    چه په تا زرکے شیدا شوم
اوس خندا په قهقهه کړے    چه زبون ستا د خندا شوم

---

[1] د باز مقام په خوشحالیانو او د پښتو ژبے په ټول اولسی ادب کښے څرګند دے.

## ایضاً اٰدم خان له ژبانه

بي بي زلفې دِ دراز دی          دواړه ستوګی دِ دباز دی
که زه ستا په زلفو ومرم          ستا په خیرې اوږه ساز دی

د قطعې په سمح دله
بي بي ورو، ورو خندیدله

یعنې خان زما سید له          په زړه ګرانه و منله
بویه داچه زړه کې نښه کړم          یو د مینې بیان وکړم

## قطعه د دُرخانۍ له ژبانه

که ته هرخو پوه وانه ئې          زه ستا شمع غم دِ تا کړم
ته لا نه ئې پیدا شوې          زه لنیه په سربریا کړم
که ته ځان په ماسوخته کړې          زه ځان څو په ژړا کړم

## ایضاً

اٰدم خانه میته خیله          د غوري د خنبي خان ئې
زړه د ډک په دُر ګوهر دی          په خبرو زر افشان ئې
زه په مثل یوصورت یم          ته زما د صورت جان ئې
چه دُرخو دا ویئل تم کړل          بیانې دا طور په فم کړل

---

له د اٰدم او درخانۍ دا مکالمې که په دې رومانی داستان کښې د دوئی دوا ړه څوی او که د دوئی نه علاوه د دې داستان د نورو کردارو نو دی ژمونږ په اولسی ادب کښې په نار ویا غونډ ونو یاد یږي.

ACKU

شپه د مینې زر شیرینږی | دغم شپه نه تمامیږی
زړه د شپې نندارې وکړم | وخت ناوخت په قیاس زړه کړم
چه دا ووته خوس دو | ګویا جوړ تیغون طاوس دو
هم په کلی کښې چرګا نو | ژغ کړ الفراق یارا نو
که د چرګو بانګ ثواب دے | په عاشق معشوق عذاب دے
چرګ دد ے خاطر په تاب کړ | دے له تاده چرګ کباب کړ

نور آدم ته اندرون شوه
قطعه ګو په دا مضمون شوه

## قطعه

خانه ته را خبر نه شے | په ژړا ے ستر ګے سرے کړے
پاسه دروصه روانیږه | چرګو ځانے په ځانے نارے کړے

## ایضاً در رخانئ له زبانه

سپین کے چرګ ے آدم خانه! | ونبله تاؤ په زور چت پټ کړ
بیا ے ستاله ډیره تاوه | جوړ ژوندے په اور کښے وریت کړ

## قطعه د آدم خان

آدم خان وے چه هر چرګ دے | هم په دا طور خراب شه
چه مشین ویزاره ویته | هغه ګل په اور کباب شه
آخر ش له هغه پسه | بیا مشغول شول ځونفسه

ACKU

د کاذب صبح گریوان شهٔ　　و بله چاک وخت د هجران شهٔ
بلبلانو په گلو نه　　نارې وُکړې نر یا دونه
فلک ستر گې له دې غمه　　په شبنم کړې پر له نمه
د دُرخانې خاطر چاک شهٔ　　آدم خان په ډیر بلغاک شهٔ
دا دستور دې چه صباشی　　گډ ې میړې په نړا شی
د دُرخانې د پدر وې　　هور نه میړې نزدیک تر وې
یو ې میړې آواز وکړهٔ　　په ټوټل ئې باز باز وکړهٔ
دُرخانې قطعه نی الفور
هغه وخت وُوې په دا طور

## قطعه د دُرخانې له زبانه

په مرګ کښې دِ خوږ شه　　اې زما د بابا میړ ې
صبا نهٔ دو تاصبا کړه د　　یارې تا وویست له غیږې
نور آدم په واویلا شهٔ
الفراق فراق گویا شهٔ
وې ئې څهٔ عجیبه شپه وه　　چه تر درست عمر خوږه وه
په آخر ئې څهٔ بلا شوه　　چه تر مرګه ترخه لا شوه
په تیارهٔ کښې ئې انوار وو　　په طلوع کښې ئې ناتار وو
هم دا شپه عمر زما وې　　مرګ مې دا سحر صبا وې
چه له هسې څخ بېلیږم　　بیا ژوندې څم حیرانیږم
په ژوندون چه شاکومه　　دُرخو پاتې شوه زهٔ څمه

حیف پہ دا عمر زما شہ — صد نفرین پہ دا وفا شہ
دوہ وحشی تورے چشمانے — پہ لالا کښے کړے دُرخانے
یعنے ستوگے نے خونبار کړے — دا دینانے پہ زار زار کړے
چہ زړۂ نۂ مرم لہ دے غمہ — سکہ نصیب کړم تر یار کرمہ
چہ دا ھسے یار بیلتون کا — بیا خوک خونګ زړوندون کا
چہ زړۂ نۂ مرمہ لاپا یم — دروغژنہ بے وفا یم
لاس نے بنخ پچیل گریبان کړ — صد پارہ گل نے نښان کړ
نوک نے بجوړ کړل رخسارونہ — خُلہ نے جوړہ کړہ ناروتہ
مصاحبے نے مانع شوے — لہ دے کارہ نے دافع شوے
آخرش پہ رُخصت خان شہ — دُرخو پاتو دے روان شہ
ھغہ دم چہ د دُ مجدا شو — داړہ غرونہ پہ ژړا شو
صُبح زیرہ زرغونہ شوہ — دفلک چاکہ سینہ شوہ
چہ آدم تر خپل مکان شہ — لہ مُردہ تر گورستان شہ
زړۂ نے پاتو پستنہ شو — تش وجود پہ آستانہ شہ
زړۂ دُ دخو ورتخنہ وړے — دے تش پروت دولکہ مړے
نۂ نے خوب نۂ نے آرام شہ — نۂ نے چا سرہ کلام شہ
دعشق اُور نے خاطر اور کړ — باطن نور ظاھر نے تور کړ
پہ زړۂ اور سرہ نالہ شہ — لب تا مغز تپ خالہ شہ
لہ غمونو نے زړۂ پور شہ — ھر یو غم پکښے زنبور شہ
تمام نیش اُوریریل شہ — درست ناسور لکہ عسل شہ
دخار پشت غونډے پہ خار کښے — زړۂ نے نیش وو پہ نیش زار کښے

هر یو رګ ئې فلیته شهٔ　　عشق اُور د نور ډیوه شهٔ
لیونتوب ئې رهنمائې شهٔ　　د زړهٔ څخې په صحرائې شهٔ
د فراق الم نخچیر شهٔ　　نښانه د غم د تیر شهٔ
بیا ورته له هرهوس شهٔ　　نو یار غم ئې هم نفس شهٔ
بې میړو چې ئې همراز وو　　نور له خپل له پردی باز وو
له هر چا به په نفرت وو　　له میړو به تل خلوت وو
دهٔ به وې میړو قوا له　　د ډُرخو د خطو خاله
راته وایه چه پرې نهٔ موم　　او که نهٔ وی زهٔ به وُمرم
میړو کې به له احواله　　د ډُرخانې له وصاله
مقالې ورته و شیلې
دهٔ به او ښکې تویولې

# پس له تلو د ادم خان حال د ډُرخانئ

چه ادم څخې روان شهٔ　　د ډُرخانې حال داستان شهٔ
لیونئ ئې شوه له غمه　　له محنته شوه همدمه
شب و روز شوه بې ارامه　　پا تو دا شوه له طعامه
نهٔ ئې خوب نهٔ ئې ارام شهٔ　　نهٔ ئې چا سره کلام شهٔ
کم خوراک د رنځو رانو　　درد و تیل د بې کسانو
په جامو شوله ریمنه　　په ویښتو شوه سرخیرنه
تهول او ربل ئې پریشان شهٔ　　په سنبلو ئې خزان شهٔ

ACKU

ابېدار څخه یو تراب شه — په ګرد یې ګل ګلاب شه
خو زړونه دون وربانده تلخ شه — نوراني سپوږمۍ ئې سلخ شه
څه ئې باغ شه د زعفرانو — پکښې جوئې دوه د چشمانو
له همزولیو نه جدا شوه — له آشنا او نا آشنا شوه
له هوچا نه بېګانه شوه — یو له غمه بېګانه شوه
د غمونو آستانه شوه — د پېغور نه نښانه شوه
په ډېر غم کښې دیوانه شوه — په وګړو افسانه شوه
چې ملا ئې ماسبق ؎ وو — دې اخستې ترې سبق وو
هغه ډېر دې غمخوار وو — پرې مئين افزون تر پلار وو
په دا حال ئې ډېر زهیر وو — همېشه په دا تدبیر وو
چې ور ووښیم پند ونه — ورته وکړم په پند ونه
که په پند مې قانع نه شي — له دې کاره مانع نه شي
نور صحیح عاشقه دا ده — عاشقي ئې په رښتیا ده
ربیاري به ئې اختیار کړم — په وصال به ئې دیدار کړم
دا ئې ووې نور روان شه — د دُرخانې تر مکان شه
درخو ناسته وه ملاله — زړه خسته په تن بدحاله
چې استاد ورته دوننتار شه — دې قد لکه چنار شه

---

؎ د ملا دا سپېڅلی کردار د معاشرتي ژوند دیو مصلح د کردار نمایندګي کوي، یعني د غسې لکه د شکسپیر په شهره آفاق ډرامو کښې د عیسائي پادریانو د پاره مخصوص کړې شوې دې.

په ادب دا په قیام شوه — د استاد په احترام شوه
په ښه ځائے ئے رامیده کړ — بیائے ورو، ورو پرسیده کړ
چه استاد تشریف بنا غلے — په څه باب دے فرمائیلے
اُستاد ووے اے درخانے — خردمندے نکته دانے
داپه څه شوے بے فرهنګه — شوے په چا پیسے مننګه
علم تا ولے توشا کړ — عقل تا ولے رها کړ
ډیر د هوش ډیر د فهنګ وو — ډیر د شرم ډیر د ننګ وو
شرم ستا هومره بسیار وو — چه د ستر د خپل پلار وو
چه آسمان به د لیده نه — مخ به تا ترے پټ وُنه
یعنے نه چه دے وګوری — آسمان سترګے لری ستوری
چه نرګس به دیده واز شه — ستا به مخ له باغ بازشه
یعنے نه چرے چشمانے — که نرګس په ما روښانے
دا په څه شوے دا ولے — دا په څه کړے مو بدلے
پلار د مور وته وګوره — ننګ پیغور وته وګوره
علم عقل رهنما کړه — کار په شرم په حیا کړه
علم عقل چه توشا کا — ځان بے شرمه بے حیا کا
په دنیا کښے به رسوا شے — فضیحت به په عقبے شے
دُدخو ووے یا اُستاده — ښه دِ ووے نیک نهاده
دُ ګوهر ستا نو ګفتاره — صدقه شم اے بزرګواره
داد علم نتیجه دے[۱] — چه په ما کښے دا شغله ده

۱ په دے موقعه چه درخانئ د خلے صدر خوشحال د عشق په حقله کومه فلسفیانه نکته سنجی کړے ده. داد هغه د شاعرانه عظمت یوښکاره دلیل دے.

ACKU

دا شغل د عشق بازی ده — نه بازی د ه شاه بازی ده
دے شغلے ته عقل خس دے — ننگ و نام ورته عبث دے
چه د چا علم کامل شی — نور ئے دا شغله حاصل شی
غم الم پکښے هوس شی — زړه ئے اور چراغ نفس شی
زړه ئے داغ، داغ ملهم شی — غم ښادی، ښادی ئے غم شی
هم جانان هم جانانه شی — هم شراب هم پیمانه شی
کاه ببل شی کله گل شی — کله گل شی کاه ببل شی
دا شغله ده په گلزار کښے — دا ناله ده په هزار کښے
په چراغ کښے دا جلوه ده — په پتنگ کښے دا شغله ده
په دا تبه ښاخ د گلو — دے لرزان بال د بلبلو
که مجاز که حقیقت دے — محبت دا ړه دولت دے
آدم زاد هله آدم[1] شی — چه حاصل ئے د عشق غم شی
چه بے عشقه آدمی شی — دده سر د قلمی شی
لیسه سوئے په تن بار دے — تن ترخلاص کړه په څه کار دے
چه بے عشقه هر آدم دے — تر چارپائے، بهائم کم دے
عشق په بخره د آدم شه — څکه هسے مکرم شه
اے ملا زه آدمی یم — نه چارپائے بهائم یم
د آدم په صفت یمه — هم په دا صفت به خمه

---

[1] دلته د آدم لفظ بار بار په دوه معنو یعنی د دوه معنی استعمال کړے شوے دے چه یو نو اتوے عام انسان مطلب دے او بل نو د درخانئ محبوب او عاشق آدم خان.

کله مینه مجازي ده — نه شهوت ده نه بازي ده
زما مینه په رښتیا ده — نه شهوت ده نه هوا ده
په دا عشق مې افتخار دی — په دار که په بل دار دی
په دا عشق زما حیات دی — په دا عشق زما ممات دی
د ادم په عشق ژوندی یم — د ادم په بند بندی یم
چه دا ووېل درخانې — سخن کو فصیح زبانې
استاد ووې عشق دې خاص دی — مبارک شه په اخلاص دې
اوس که حکم وي زه درشم — د ادم په حال خبر شم
چه ئې کار په خه دستور دی — په زړه دروغ دی که رنځور دی
ستا د وصل طلبګار دی — که ئې نه دی په څه کار دی
که ئې ووېنم صادق دی — دی هم نا خوندی عاشق دی
تر دا مینځ به زه دلال شم — خوښ به ستاسي په وصال شم
چه وصال د تاسي وشي[له] — په ارام به زما زړه شي
درخو ووې له دې کاره — د تا زه یم منت باره
چشم داشت له استادانو — دی دا رنګ د شاګردانو
هم دا د رنګ دروم شتاب کړه — پرې دا رنګ زما جواب کړه
غم د وېشتم له خوابه — ستړګې نه لرم بې آبه
ستا په لوري خاطر لاړ دی — بې زړګي صورت اوجاړ دی

---

له ددې ملا کردار د شکسپیر د مشهور ډرامې رومیو جولیټ دپادري لارنس کردار ته ډېر ورته دی.

په عالم کې څوک ته دا ژړ دې | ژولیده حال کې غماز دې
د تا عشق کړم نا قلاره | ناصبوره دل افګاره
که څوک خپل دي که پردي دي | قدیمي که جدید یا دي
همګي که بد خواهان شول | په تهمت کې یکزبان شول
نه یا درس کې نشته یاره | نه څوک زه لرم غمخواره
دستګیري د پریوتلیو | ډ کړه ته د غم نتلیو
ما ژوندې په خپل دیدن کړه | ګنړه زیرمه د کفن کړه
د وصال په امید پاتې یم | او که نه وي خود فنا یم
ستا په غم کې خوب حرام دې | په ما دا رنګه طعام دې
همیشه یم دیره ژړلی | هم پخوا تر مرګ وژلی
همیشه یم بې خوراکه | ستا په غم کې ووچه کا که
په دا حال کې رحم وکړه | په وصال کې ژوندې نه کړه
په رنځور چه رنځ غالب شي | په حاذق طبیب واجب شي
چه سستي تغافل نه کا | لاس په لاس ئې دارو وکا
دوه درې تور مشکین بورا وو | په خالونو مستي وو
د ورخو په سمن زار کښې | په ابرو په سپین رخسار کښې
نشته چاپیر به هم وو | ګویا کښي د آدم وو
دوه درې نشته پنځه خالونه | د ورخو په څنګښې دونه
په طریق د نخښې یاره | د خالونو ئې له شماره
ورخاتي ئې پنځه روپۍ | د هغه وقت مضروبې
په ملا ئې وسپارلې | تر آدم ئې وا ستولې

ACKU

دے ئې دا روپئ ترخا نه — مُلا یوسه تهٔ له مانه
چه روپئ ورکړے توپسه — ورته وایه نیک نفسه
دچندنړ وُته عجبه — په څو کُلو مرتبه
یو په میان کښې دهلال دے — بل په سیب باندے نهال دے
درېم کُل دے مهر بشکلے — په غنچه باندے وهلے
خلورم د لالـه زړهٔ دے — بل په کُل کښې تورلیمهٔ دے
که دا کُل لوی دا وُنه — سُستی مکړه په راتلنه
په رُخصت ئې نورمُلاکړ — ملا یُون لکه صباکړ
چه په اصل یُوسفزے وو — دپیسو موصف زے وو
له پینځو ئې دوه نقودے — له آدم کړلے مفقو دے
زر په هرچا باندے گران دی — یو سفزی نه په شان دی
که ئې نور هم خواهنده دی — یو سفزی د زربنده دی
خان ومان شیندی په زرو — خان ایمان شیندی په زرو
په هرڅهٔ چه زرحاصلېږی — هغه کارکه نهٔ شرمېږی
که په زُهد په رِیا شی — که په عِلم په تقوی شی
که په کار د درویشئ شی — که په طور دخیشئ شی
که په داړه که په سرقت شی — که په جنګ که په شدت شی
چه دُنیا په څهٔ درځیږه — هغه کارې عیبه کړینه

---

لے په منظومو داستانو نو اداولسی قیصو کښې به د محمے را وړل هم یو لازمی عنصر ګڼړلے کید ولکه په دے کتاب کښې دا یا څنې نورے مجے راوړی شوی دی۔

دنیا ښه ده برادره! نه تر دین ده عزیز تره[1]
نه تر شرم ښه دنیا ده نه بهتره تر حیا ده
بګټیا دی که ډمان دی که لولی که هزالان دی
که دنیا ډیره ګټینه چه پرے دین شرم بائیلینه
په دا رنګ مه شه حاصله په ښه رنګ ښه ده عاقله
چه پرے دین شرم درکیږی هغه رنګ نه حاصلیږی
په درنښت کښے په وقار کښے دنیا ښه ده په ښه چار کښے
دا مثل نه او سنے دے په پښتو کښے لرغونے دے
سر د شرم صدقه شه مال د سر فدا هم په دے
چه په شرم سرشانده شی مال دِ لا ښه ورکاوه شی
سَر که، مال دے بهم دداړه خاړ تر شرم شه کل واړه
القصه مُلا داخل شه له آدمَ مقابل شه
د سَلام، سلام ګذارشه د پیغام، پیغام ګذارشه
چه دُرځو دوځه وئیلی ښه وئیل واړه شاغلی
یک په یک په تفصیل واره دِرته ئے ګوے له ګفتاره
بیائے ورو هغه نقود ے دوه نابود ے درے موجود ے
د دُرخانے له جانبه و آدمَ ورکړے طالبه

---

[1] د صدرخان خټک دا بیان دیو سفزوسره د دغے کورنئ د خاندانی عداوت غمازی کوی. حال دا دے چه د صدرخان خپله مور یوسفزئ وه او د ملک حمزه خان باټزی خور وه۔

بیائې وُوے اے عاشقه! د دُرخو د مخ لا یُقه
دا ارموز دے فرمائیلے دُرخانئ په تا ویلے
د چنئ نرۍ دُ نه عجیبه په څو کلو مُرَ تبه
یو په څنګ کښې دهلال دے بل په سبب باندے نهال دے
دریشم ګُل دے مهرښکلے په غنچه باندے وهلے
څلوردم د لاله زړه دے پنځم ګُل، د ګُل لیمهٔ دے
که دا ګُل لَری دا دُنه سستئ مکړه په راتلنه
آدم خان دُ پوهیدئ نه څخو ورو، ورو مُسیدنه
چه په دا زیری ممتاز شهٔ یعنے وصل دیارباز شهٔ
له هوسه له خو شئ
لاړ په ملک دیپهو شئ

---

له خو یو پلو دنوموړی په کردار کښې هغه دیوسفزی اولسی دڅوندا دیوا اړخ غند نه کوے ده، نوبل پلوئے دا فسانې د نوروکو دارو نو خصوصاً دآدم خان درخانئ په شکل کښې ددے اُولسی هغه جهتی صفات ډیرپه مفصل انداز کښې په شان ومن سره ذکرکړی دی او دغه شان د تنقید او توصیف حق ئے ادا کړے دے۔

## جواب آتش تاب د آدم خان د خپل حال چه و درخانئ ته ئے په دا رنګ معلوم کړ، او ورپسے د وصال د خوشحالئ دا ثوبیته ورته په دا شان مفهوم کړل

وے چه زړه د نا امید شی — د وصال ناګاه نوید شی
دا خوشئ په کال خوشئ — صد چندان لری بیشئ
چه آدم په خپل حالت شه — په دا رنګه مقالت شه
بربر راشه نیکو رخه — فرخنده خاله فرخه
ستا نفس سکه هغه باد دے — چه یعقوب ورځنے نا ښاد دے
په یعقوب د یوسف باد شوے — اوس په ما د ژوندون داد شوے
یا ئے ته مګر عیسیٰ ئے — چه سبب ئے د احیا ئے
ستا په خله کښے نورخنده ده — د ژوندون د ما چشمه ده
له ژوندونه کناره وم — د مړده و په شمار وم
تا چه زیر ئے ناګهانه — د وصال را ورله جانه
له مړده و د بیرون کړم — په ژوندیو د درون کړم

---

له په دے مثنوی کښے داسے ډیر تلمیحات راغلی دی باید چه د دوئی پس منظر لوستونکو ته معلوم وی او د صدر خوشحال د علمی مقام نه په ښه جوړ ګان خبر کړی.

ACKU

اوس زما د غم لـه حالـه — تحنو واؤره نیکو فالـه
په دُ رَخوے سلام واکړه — بیا ے پس پرے پیغام داکړه
ورځ په ماده د غریقو — شپه په ماده د حریقو
د تا عشق زما دلسوز دے — په سوزش کښے افروز دے
زړه ے سوزی سترګے زاړی — لا د اسوزله خدایه غواړی
په داسوز کښے مرګ ژوندون دے — ژواک بے دے سوزه زبون دے
په داسوز کښے آرم دے — دا سوز نور زما د دم دے
هر آتش چه له جمیل وی — په خیل اور د خلیل وی
سمندریم او رے ژواک دے — بے له سوزه ے هلاک دے
هم داسوز که تو لحشر کړم — تر جهان به ځ انور کړم
د سرناج ے ستا اندوه دے — که سنګین د قاف ترکوه دے
چه نے ستا بیلتون په ما کا — که په غرهٔ دا ماجرا کا
غر به سوے سرتر پا وو — خاکستر به د بیدیا وو
چه کښے چرے له غمه — ځ په غرهٔ لا پرشم له همه
ستا له غم سره کوښه شم — کوښه کښېنم په ناله شم
چه ے تاؤ د ژړا پا ځی — غر او به ځی نالے ځاځی
د هر کا نړی له درونه — سرهٔ بخری په چونګوته
له څیکره د غرهٔ لوبږی — غر د برق په دود ځلیږی
که آتش را باندے بل دے — بیا دِ خیال را سره مل دے
که دِ لرے له جمال یم — خوا په خوا دِ له خیال یم
خو دِ غم په ما بسیا رشی — لا دِ خیال را سره یار شی

ACKU

لاس ئې په سر زما لرینه — له غمونو مې سا تینه
شرمنده ئې د احسان یم — منت بار ئې په هران یم
اوس چه زیرے په ما وُشه — ستا د وصل، زړه مې نبه شه
لکه سوے کښت زرغون شی — ترا ول لا نبه زرغون شی
د هجران غم مې بربا د شه — زړه مې بیا په بنیاد ئې نبار شه
بخت مې بیا له خوبه وبنن شه — زړه مې جمع له تشویش شه
کانده شپه کړنه ما طمع ! — له حاضر کړه خاطر جمع
کانده شپه به زړه حاضر شم — په دیدن به دِ فاخر شم
دا ئې وُوے نورئې یاره — یو خلعت یوشو دیناره
و ملاته عنایت کړل — بیا ئې دا په مقالت کړل
چه ادا کړے جوابونه — آخر عرض کړه دا بیتونه
د چندنې وُنه خوشبویه — هم خوشبویه هم خوشرویه
چه ئې مالیدئ ګُلونه — دو ئې بېخه وو په ښاخونه
دوه ګُلونه څنې لا ړ دی — هغه درے په ښاخ ولاړ دی
وائی دا چه ناست مُلا دو — له آدم په مشغولا دو
هغه وخت طوطیا پسند لے — منکوحه د آدم ښکلے
هورته ناسته وه حاضره — په خُله چپ په زړه ناظره
د ملا پرے ډیر نظر دو — ډیرے خوښ دے بشر دو

---

ـه په دے مثنوئی کښے د علمی او فلسفیانه نکاتونه علاوه د پښتو محاورے ډیر
په زړه پورے استعال شوے دی۔ د مجمع روداد ئے هم ډیر دلچسپ دے۔

له آدم ئے گفتگو ئے دو — پښت ناظر ددے په روئے دو
آدم خان وُپوهيد نه — چه مُلائے ډُلو ټننه
يعنے زړه ئے په طوطيا دے — ننداړخی خالی له مادے
د دُرخانے نن ښسوره — دے طوطيا ګنړی بهتره
وے ئے واؤره مُلا ګوش کړه — درست ومانه دزړه هوش کړه
دا طوطيا دماته څه دہ؟ — د دُرخانے زيرے نه دے
په مُژده به د دُرخانے — دا رنګ سل کړومونږ قربانے
مُلا ډير پرے آفرين کړ — له آدم ئے زړه تسکين کړ
يعنے مينه بے شما رہ — نرحد تيره ده بسيا رہ
د دُرخو د مخ ځنځی — نه سړی نه نيا پيږ ئ
هيڅوک نه ګنړی مئين دے — زيات ئے عشق نرکو هکن دے
نور مُلا ځنے رُخصت شه — په رفتار ئے عجالت شه
د دُرخانے ته حضور شه — په بيان د هر مذکور شه
چه ئے څه وو آوريد لی — يا په سترګو ئی ليد لی
همګی ئے په زبان کړل — يک به يک ئے په بيان کړل
د وصال زيرے ئے وکړ — د دُرخو خاطر ئے ښه کړ
دُرخو ډيره شوه شادانه — نهايت په خوخوشا نه
بيا دُرخو وے يا اُستاده — غم نرا شه نيک نها دہ
دچند نړ د لـه نها لـه — څه ئے هم وُوے له قا له
مُلا وُوے خو ابيا ته — هغه ښکلی يار وتا ته
په دا رنګ دی را ستولی — ګوره څه ئے دی وئيلی

ACKU

دچند نړوُنه خوشبو یه — هم خوشبویه هم خوشرو یه
چه ئې مالید ل ګلو نه — دوئ پنځه دوٌ په شا خونه
دوه ګلونه څنګ لاړ دی — هغه درے په شاخ ولاړ دی
دُ ږخو دُوے مهربانه — دا زیب نهٔ لری لـه تانه
چه دِ پریکړ دوه ګلونه — درے دِ ورو ړل تر ځنونه
چه دا دُویل دُ ږغا سے — د راستیٔ د صدق کانے
مُلا ډیر په غم غصّه شهٔ — لـه غمے په دا ګفته شهٔ
ورکه تهٔ ، ورک دِ نا یار شه — ورک بیان ورک موګفتار شه
وُنے یادے کړیٔ ګلونه — په هغهٔ کښے پټ راز دونه
سره وایٔ بل رسوا کړیٔ — پرے ثابته پټه غلا کړیٔ
بیا دُ ږخو وے اے مشفقه — مهـربانـه موافقه
چه ترکیب دهوانسان دے — مِنَ السَّهْوِ وَالنِّسْيَان دے
دا رنګ کیږی زهیرمهٔ شه — مال دِ خپل دے دنګیرمهٔ شه
په رُخصت ئے نور مُلا کړ — دے دا شکر د مولا کړ
حمد به ستا کړم خداونده — چه دِ زهٔ کړم بیا خورسنده
دوصال مُژ ده په ما شوه — د اُمید غنچه ے وا شوه
د فراق شام ے عدم شهٔ — د نبا دیٔ ے صبحدم شهٔ
همیشه به شکر ستا کړم — همیشه به ثنا ستا کـړم
چه نا تللے یار دِ را بخرک کـړ — مړاوے ګل دِ بیا په برګ کړ
لکه رُوح راشی وتن ته — یا ګلونـه وُچ چمن ته
ما به هسے په همدم کړے — نهٔ زندہ چه نن کـړم؟

ACKU

په دا طور په ننا شوه — په هزار ځله بیابیا شوه
چه سیمیں سبو غروب شه — د مشرق په دریاب ډوب شه
په عشاقو شپه د عید شوه — د غم ورځ ځنې بعید سوه
په ډُرکو دا شپه له دهر — وه خیر من الف شهر
سیمین زاړې زر زری کړه[1] — سنبل زاړې کوهی کړه
یعنې هر چه ئې پوشاک وو — څرپه زروو، عطرناک وو
ډُرکو هرې په زر کونه — د زلفینو په تارونه
دے پیټلي په شان شان وو — په سپین مخ ئې اویران وو
چه په مخ ئې ډُرکو هر وو — پروین ذوړند په قمر وو
غرض جوړه پری وار شوه — د آدم په انتظار شوه
د آدم لار ئې کتله — په بورجل ناسته وه دله
بورجل ځائې د دے له نوره — جوړ جنت وو دا وه حوره
د آدم په انتظار وَه — کویا دوه ستر کے چهار وَه
د آدم مئینه دا وَه — دا په دغه باندے شیدا وَه
د داړه لوریه عاشقان وو — یو ځیله مشتاقان وو
معشوقه وه نامعلومه — په هولور وه ناموسومه
بیکه دا تر آدم خانه — لا ځنې زیاته وَه بریانه

---

[1] صدر خوشحال په شعر د منظر کشئ او د کردو پیش دما حول د ذکو خداداد ملکه لری۔ په دے مثنوی کښې ځائے ځائے په ځائے د مثالی منظر نګارئ ډیرے خوندناکې نمونې موجود دی۔

آدم خان چه اول پاس شه
په ښه طور سور په آس شه

درست منزل ئې داس کام شه　　د دُرخانې په مقام شه
چه ده ؤ لیده دُرخانه　　دُرخو دے ؤ لید جانانه
آدم درست په مینه آب شه　　د دُرخو مکان سیلاب شه
چه ده سوله آب بیرون کړ　　هغ سر هسک له جیحون کړ
په کنار وبله یوځان شول　　هم کنار وبله روان شول
تو پالنګه دوشادوش شول　　په پالنګ وبله آغوش شول
چه بهم معانقه شول　　ماه و نمر په درجه شول
د سعد ینو اقتران شه　　احتراق لوے له میان شه
درست عالم په خاطر ښاد شه　　په هر لور مبارک باد شه
چه آدم په ګفتګوئے شه　　شاکر دارنګ په هر موئے شه
زه به شکر درود کړم　　چه ئې بیا تو خپل مقصود کړم
زه به شکر سناد داد کړم　　چه د زه په خپل مُراد کړم
هزار شکر ذوالجلال له　　چه دِ زه کړم تر وصاله
هزار شکر چه په کام شوم　　په وصال د دل آرام شوم
دُرخو دارنګ شوه شاکره　　له خداونده متشکره
هزار شکر یا ستاره　　چه دِ یوځائے کړم له یاره
هزار شکر چه چشمانے　　زما شوے په یار روښانے
هزار شکر یا منانه　　چه دِ زه کړم بیا ښادانه
هزار شکر یا وهابه　　چه دِ زه کړم بیا کامیابه

ACKU

هزار شکر یا شکور ره ... چه دِ زهٔ کړم بیا سرور ره
په دا طور ډیر شکرونه ... دُرخو ډُوے په زړګو نه
نورے ډُوے آدم خانه! ... زما سترګے زما جا نه
چه د سترګو بینائی ده ... ستا دیدن ئے روښنائی ده
چه ارواح زما د تن دے ... نور څهٔ نهٔ دے ستا دیدن دے
زهٔ په دڈو سترګو ړندهٔ وُم ... باطن مړهٔ ظاهر ژوندئ وُم
چه ے ستا په دیدن واکړے ... رب زما سترګے بینا کړے
چه نهٔ راغلے زما خانه ... رُوح ے بیا راغے تر ځا نه
ستا وصال زما حیات دے ... ستا بیلتون زما ممات دے
اوس یا ما په تیغ فنا کړه ... یا چه ځے روانه ما کړه
آدم خان و ے تر دا خوبه ... بله چار نشته مرغوبه
پاسه وخت دے نیمه شپه ده ... په دا وخت د تلو چارسپه ده
دوئی په فکر لا د تلو وو ... په تدبیر کښے د وتو وُو
د دُرخو دولس[۱] اخوان وو ... په جُثه قوت میدان وُو
د آدم په راتلو شک وُو ... ورنه نا ست له غصے ډک وُو
ترے چاپیر شول ئے کیر کړو ... پره بند ئے لکه شیر کړو
پرے ئے زغ کړمیته خیله ... ګردن مهٔ غړوٌ له خیله

---

[۱] په خپله حیا د ننګ کولو روایت د پښتو په ټولو مقبولو داستانونو کښے موجود دے، بلا ربه زوئی، ورور په خور، او خور په ورور همیشه داسے ننګ کړے دے.

که نهٔ شیر وے په کمند شوے — د قضا په زنځیر بند شوے
که دِ جنګ وَته اختیار دے — پس را وُ ځه وخت د کار دے
دهٔ پورے ژغ کړ چه محکم شئ — خبردار ثابت قدم شئ
حمله ګوری د ستیرا نو — اے په زور قوت فیلانو
دانګے وُ وے نوره ډال شهٔ — پورے ولاړ په استعجال شهٔ
همګی نورے ګریزان شول — په انګنړ کښے پریشان شول
بیا نژدے وبله بهم شول — جنګ نه جوړ بیا د آدم شول
دُرخانئ وهٔ دانا د له — په خپل یار وُ پو هیدله
چه دا شیر د لویو درګو — خودے ما دینی په ستر ګو
کله وی چه له میدانه — دے روان شی په آسانه
مګر دا چه ژغ پرے وکړم — د دهٔ عذر پیدا زهٔ کړم
ګندے هاله ځان کنار کا — په ضرور اختیار فرار کا
پرے ئے ژغ کړ آدم خانه — تلف مهٔ شه رائیګانه
ستا د نورے نشان څو ګند[له] دے — د مردئ نام دِ بلند دے
چه د غلهٔ مړانه تیښت دهٔ — ستا مړانه اوس دکښت دهٔ
هغه ځائے چه تیښت لازم دے — چه مړانه کا نادم دے

---

له صدرخان دا څو ګند ول غواړی چه په عاشق کښے د میړانے او مقابلے جوهر بے شانه زیات وی. د هغه غم او خوشی دواړه د عشق نه مستحار وی. هغه د هوس او نفسی پرستئ نه بیګانه شی او حال ئے داسے شی لکه په دے ځائے کښے ذکر راغلے دے.

ACKU

یو بے ځایه تلف ځان کا بلې رے سخه غلیمان کا
چه دا ډوبیل ډرځانے دُودرا ندیشے گُل نشانے
آدم ځان څوره عریانه ډال په ځغ ډوت له میانه
کور ته راغے اندرون شه غمجن پریوت سرنگون شه
درځانئ شوه بیا غمجنه خسته پریوته د ننه
د عشق دا معاملات دی هوس کم اندوه ئے زیات دی
په مینو خوشی زوژ شی همیشه ئے خاطر خوژ شی
که کله چرے خوشحال شی بیا شتاب په غم پائمال شی
که کله غم اوچت شی بیا په غم پریو ځی لت پت شی
د آدم سینه کباب شوه درځانئ په ډیر عذاب شوه
د آدم ناله مدام شوه په ډرخو دنړا وه شام شوه
په آدم د اندوه غوشه په ډرخو مقرر سفر شه
په آدم د غم ناتار شه دډرخو خاطر په نارشه
خوږ ژوندون په آدم تریخ شه د ډرخو عمر په سیخ شه
په ساتل ئے مورو پلار شول پرے خپل وررونړه څوکیدار شول
نه د دوئ ورځنے پریښول له نه ډرخو تر وره د تله
نه ئے دے وته پرینبول څوک نه دے خو ځان نه بلل څوک
هسے شان په کوربندی شوه تا به وے د کور بندی شوه
یوه مور یوه کنیزه ور نژدے دے وته عزیزه
نور د چاکله ورتلل دو که پوړی دوکه ئے خپل وو
که دا خود خوښه په داوه چه کوښه ناسته تنها وه

ACKU

اما بیا چه غم بسیار شی — غم زده یوځائے قرار شی
هیڅوک نه وی چه وئیل کا — یا دے غم په ځه یدل کا
هو زمان د غم مرکوونه — پرے نیړیږی په زړګونه
غم نه وژنی بے اجله — نه یو ځله په څوڅو ځله
په دردخو چه دا احوال شه — له عقرب د ماه وبال شه
دا وبیا درخوله ځانه — په فریاد وے له هجرانه
زه ویزاره له ژوندونه — ستا غمونو کړم بیلتونه
چه څوک بے یاره پاتیږی — بیا نو یاره نه شومیږی
هغه کس به هغه کس وی — چه د مینے بوالهوس وی
مرګه چیرے نے ته تلوار کړه — ما څخ رونړے نوخپل یارکړه
له دے تیده ے رها کړه — خلاصه ما له دے بلا کړه
که سستی زما په حال کړے — ځان به ډک په ډیر وبال کړے
دا سختی چه پما نن ده — په قیامت ستا په ګردن ده
دریغه زه لا نا یا لغه — له ژوندونه وے فارغه
چه لیدلے ماله نانه — دا سیلا نه وے هجرانه
چه ژوندون د شیرازئی وو — هغه عمر د بازئی وو !
همیشه تازه خوړمه — ګرځیدم په زړه بے غمه
که وصال که مثین نوب دے — که هجران د غم آشوب دے
ددیونام ے نه وو سمع — نه ژړا ده نه ے دمع
بے خندا بے خوشحالیو — بے هوسه بے بازیو
نور له هیڅه خبر نه ووم — همیشه بے غمه زه ووم

چه په کالو د سپيده شوم    په غمونو کښې سپيده شوم
د هغې خوشئ خمار[1] دے    دا ډېر غم چه را دو خمار دے
سينه اور ذړه مې اوبه شه    درست را نوئې ترليمه شه
بيا چه غم مې د اشنا دے    په ما خوږ تر عمره لا دے
چه د يار د پاره يمه    که تر دا بې تر کا شمه
په هر غم به ئې نازيږم    په الم به ئې خوښيږم
ګاه به دے له غمه زاړکړ    ګاه به دے پرے افتخار کړ
چه د عشق د غم ذکور دی    د هغه به دا دستور دی
چه مذکور د عشق د غم کا    ګاه صفت کله ئې ذم کا
چه ئې عشق لا اولنے وی    هغه دا رنګ ليونے وی
کله دے له غمه ژاړی    کله غم له خدايه غواړی
چه په عشق کښې درست پايه شی    د عشق غم ئې سرمايه شی
چه ئې غم د عشق ډېر يږی    هو مره دے په غم خوښيږی
د عشق غم صدر خوشحاله    لوئے دولت دے بې مثاله
دا دولت د بلچا نه د[2] دے    چه خاکسار دے د هغه دے

---

[1] د عشق واردات او تدريجی ارتقاء او د هغې کيفيات چه غم اندوه او خوشی او سرود دواړه ملګري وی، هم د غمه د صادقانو عاشقانو روز ګار او مشغله وی۔

[2] د عشق تقاضے د ذوق د نور د تقاضو بېخي مختلف وی۔ ځکه خو ورته د جنون نوم ورکړے شوے دے۔

پکښې په خاورو کښې مردم پرې دي    نه په یل ځائې دګنج خُم پرې دی
که دِ دادولت په کار دے    وجود خاک کړه دخاکسارۍ
لیونے دروغ عالَم شه    د تهمت وبار نه خم شه
دوغ خاطر په رنځ رنځور کړه    د یار خیال د سترګو نور کړه
زړهٔ خورم دیار په غم کړه    نور زړه خندا په درست عالم کړه
زړهٔ اوجاړ کړه شکسته شه    آزاده له وابسته شه
شکسته د زړهٔ مکان کړه    پکښې ځائې دعشق سلطان کړه
نور عالَم ودانی غواړی    عشق د زړهٔ ویرانی غواړی
چه په یاد یې ویران شی    هغه زړهٔ دعشق مکان شی
چه د عشق خاطر آباد کا    تا په دوه کونه آزاد کا
راوَل نیته دردمند فقیر[1] وو    همیشه د ځان په ویر وو
په تیری د زړهٔ میشته وه    اکثر ځائے ئے اوجاړه وه
یوه ورځ ے عرض په لب کړ    نصیحت ے ترے طلب کړ
دهٔ وے سر چه ډهرېند دے    د دانا مجذوب پسند دے
که ئے واخلے سنج دِتا دے    که ئے ناخلے بیا زما دے
دخویدار چه خیز ناپسند وی    بیا په ریښتی د خپل خاوند وی
هغه دادے اے بابکه    لا د عشق په کار هلکه
خالی مهٔ او سه له مینے    آب و خور کړه د زړهٔ دینے

---

[1] راوَل فقیر اګر چه هغه سرے وو چه دچا په نوم "راول پنډی" چه درد ستو راولپنډی نومے ښار پرے آباد شو.

ACKU

ذړهٔ د یار په مینه خوږ کړه     بل هوس په خاطر ز وړ کړه
که یې څیز نهٔ وی چه نهٔ شي     پرے مښتن دردمند په ذړهٔ شے
یار له کانړی لوټے سا ز کړه     پرے مېئن[1] شه ځان ګداز کړه
روغ نبهٔ نهٔ ئے ځان دردمند کړه     په هغه درد کښے اننډ کړه
که په دا خوږ و اګاه شے     له هرڅهٔ به ناو ساه شے
خو دا خوږ د تا زیاتیږ ی     لا به ستا خاطر خوږ یږ ی
چه له دیو خوږو خالی دے     اهلِ دلو  ته  ایلی دے
چه بے مینے هر سړے دے     په معنیٰ  د خرخوړے دے
هغه کس کله آدم  دے     چه خالی د عشق له غم دے
آخر شی دُرخَانه څهٔ شوه     په مثال د دیج  وانبهٔ شوه
ګاه به دا په اور لمبه شوه     ګاه به دا په خیال زندهٔ شوه
د یار خیال یکښے ژوندون وو     د عشق د نخ پکښے طاعون وو
نهٔ ئے مرګ نهٔ ئے صحت وو     ذړهٔ خسته خوار ئے صورت وو
مدام ناسته وه په تاؤ کښے     د چشمانو په خون ناؤ کښے
لکه، عیش له غم ګریز کا     یا سرور له غم پرهیز کا
هسے ګریز له عیش کړ     په سرور باندې ئے طیش کړ
بنفشه ئے خواب آلود کړل     سپین سمن ئے تور کبود کړ
له نرګسو کو هر بار شوه     ذ عفرانی په لاله زار شوه

---

[1] دا یے شکاری چه راول فقیر د صدر خوشحال په زمانه ژوندے وو اؤ به
تیری کښے ئے استوږ نه وه. او دا مذکوره نصیحت ئے ورته هلته کړے وو.

لہ خپل ځان نہ پیدا اور شُہ | صنوبر پہ اور سکور شُہ
چہ مور ولیدہ محزونہ | پہ دا رنگ خستہ زبونہ
لہ ازبس شفقت دلہ | لکہ مور وہ تا وید لہ
درتہ کښینا ستہ پہ قہر | پہ زړہ مہر پہ خلہ زہر
وے نہ لوړے دا پہ څہ شوے | رندہ وے پہ ليمہ شوے
د زړہ سترگے د رندے شوے | د صورت د لاکندے شوے
نہ پہ خپل پردی نظر کړے | نہ لہ پلار رو نړو حذر کړے
پہ دا دہ کښے شوے سرتورہ | ننگ د نہ کړ لہ پیغورہ
بیا پہ دا ھمہ دیا څہ | میتہ خپل دے بے حواسہ
لہ خپل ځانہ پہ پا ننگ کړ | نہ د شرم نہ د ننگ کړ
بیا د دبارہ د پہ خلہ | دا د دوست ترخاص محلہ
نہ لہ پلارہ ناپرواہ کړہ | نہ لہ ماد څہ حیا کړہ
نہ لہ ورونړو ستا هراس وو | نہ لہ کلی ستا وسواس وو
دا کوم شرم کوم د ننگ دے[1] | دا کوم عقل کوم نوهنگ دے
دا کوم دین کوم شریعت دے | دا کوم ستر کوم عصمت دے
دا کوم کار دے کوم نام دے | چہ تیار پہ تا بدنام دے
نور مو مہ شرموہ بس کړہ | لہ زړہ لرے دا وسوس کړہ
مونږ بد نام صورت د خوار کړ | دا د دے ځان پہ دار کړ

---

[1] درخونہ د مور نصیحت او هغہ پسی منظر بیا نول څہ چہ د هغے دا حال زار کړے وو۔

نهٔ کې د ښهٔ خوراک شته      نهٔ کې د ښهٔ پوشاک شته
نهٔ کې د ډېر دولت شته      نهٔ کې د هر نعمت شته
ځان دِ وُدليست له طعامه      ښيبوه تا کړ له حرامه
نهٔ دِ خوب نهٔ دِ خوراک شته      نهٔ دِ مينه په پوشاک شته
نهٔ څهٔ شغل اشتغال کړے      نهٔ له مونږ ه قيل وقال کړے
نور د نځ دِ شهٔ بے رنجه      رنګ دِ زير په زړهٔ شکنجه
را شه مهٔ کړه نصيحت شه      په خپل عقل په عفت شه
له دے کاره توبه کا ره      په اخلاص شه استواره
هر چه وشول هغه تير شول      هر چه تيرُ شول هغه هين شول
خوشحالی په خپل دستور کړه      له ځان لرے دا ضرور کړه
چه ستا کار په خپل دستور شی      په مور پلار به دِ سرور شی
نهٔ زمونږ دپاره لوُرے      اے په ځان خسته رنځورے
له ځان لرے دا ضرور کړه      په مور پلار د باندے سرور کړه
دُرخو[1] وے زما مورے      د ظاهر کارے غمخورے
ستا ويل واړه رښتيا دی      دُ دکو هر دی بے بها دی
شفقت په ما چه ستا دے      هغه کله د نور چا دے
کاشکے زهٔ ليونئ ورانه      په وجود نهٔ وے له نانه
که تا زهٔ نهٔ وے زوولے      نهٔ به نهٔ وے بخسيدلے

---

[1] ددرخو چلے مور نه جواب اود عشق رموز و اسرار بيا نول - او د هغې پکښې د دُ دپاره دهر قسم توبانئ نه څخ نهٔ اړول -

که پیدا شوم لا هسکه — کاشکے دد به وے په مزکه
چه نهٔ نهٔ له ما اُناد دے — نهٔ بدنام په ما بنهٔ پلار وے
اوس که بنهٔ کړے زهر راکړه — شرم پټ کړه ما رها کړه
ما به خلاصه کړے له غمه — تهٔ به هم شے محترمه
ادکه نه زما ژوندون دے — دا د مینے بد طاعون دے
نهٔ دا دنج له رنځور ځینه — نهٔ مریض و رځنځ مو بینه
دا مرض هسے پیدا دے — چه ئے غم اَلم دوا دے
چه د دروغ عالم دستور دے — دے مریض ته نامنظور دے
دروغ له غمه احتیاط کا — دے په غم الم نشاط کا
چه د دروغو نصیحت دے — هغه دهٔ ته فضیحت دے
دروغ بندی په رنګ په ننګ دے — دے اُزاد له ننګ له رنګ دے
له پیغوره د دروغ عار دے — دهغهٔ پرے افتخار دے
دروغ په دهٔ پورے خندا کا — دے د دروغ په حال ژړا کا
دروغ و دهٔ ته واڼی سپک شه — دے د دروغ ته واڼی ورک شه
دروغ خبرے د ناسوت کا — دے ویل د ملکوت کا
خود زمکے آسمان وت دے — د دے هومره تفاوت دے
خپلے مورے اوس که بنهٔ کړے — نصیحت به راته نهٔ کړے
ستا له عقل سره کار دے — لیونتوب زما شعار دے
تهٔ عاقله خرد نا کـه — زهٔ مجذوبه یم بے باکه
دِ تا خط په بنهٔ طعام دے — زما خط په ویر اِلام دے
تا ته ننګ و نام درنښت دے — ننګ و نام وما ته زښت دے

ACKU

اوس له ماد دوغو چارے — هرگز مهٔ غواړه هوښیارے
دما بخره اوس جنون دے — د تا عقل رهنمون دے
دعشق عقل خدمتگار دے — لیونتوب ئے پرده دار دے
ته خپل کار د دروغ عالم کړه — ما ته خوشے دیار غم کړه
تهٔ یه هم ئے خبر داره — زما مورے له دے کاره
هره چار چه مقدر ده — د چا بخره منقرّر ده
هم هغه به ور رسیږی — که هر څو سرے ترغړیږی
د چا عیش و د چا غم دے — په دا کار جف القلم دے
د بورا مینه په گل ده — په بخسود جُعُل ده
په گلزار بورا خوښیږی — په گندگئ جُعُل نازیږی
چه گلزار وته پیدا دے — په گلزار هغه شیدا ده
چه بد بوئ وته مخلوق دے — د هغهٔ بدبوئ معشوق دے
چه سرشت ئے د څهٔ کار دے — د هغهٔ هغه روزگار دے
چه وَ څهٔ ته ئے پیدا کا — هغه حب ورته عطا کا
ستا سو مینه په دینار ده — زما مینه په خپل یار ده
ستا سے مینه په درم ده — زما مینه په آدمؔ[له] ده
څو دا سودے په ما پورے — دا دُره واڈره زما مورے

---

له صدرخان دیرخایه "آدم" لغت دو معنیٰ استعمال کړے دے چه یو پلو خو ددے داستان د مرکزی کردار آدم خان معنیٰ ورکوی. ورے بل پلو د انسانیت ترجمانی کوی.

ACKU

د آدم محبت کله | کله لوے کړم له د له
هم په دا حُب دِ اَحیا دُم | هم په دا حُب دِ فنا دُم
زما عشق نهٔ د شهوت دے | دا د ښېښتې محبت دے
لکه مینه د پتنګ ده | په چراغ دا هغه رنګ ده
لکه مینه د بلبلو | په جمال د ښځې د ګلو
په آدم دا رنګ عاشقه | مورے! ما ګڼړه صادقه
چه دُرخانے دا خبرے | لکه ښکلي مرغلرے
مورته توئے له دهان کړے | تفصيل دا ړه په بيان کړے
د مور زړهٔ پرے مهربان شهٔ | په دا حال ئے زړهٔ بريان شهٔ
وے ئے دُ پوهيدم لوُرے | اے زما د سترګو نورے
ستا ښتېنې محبت دے | نهٔ هوا نهٔ د شهوت دے
تاً مل په داباب دُ کړم | نور به تا ته جواب زهٔ کړم
څو ئے مور په دا فکوت وه | له خپل زړهٔ په مصلحت وه
په دُرخانے ساعت سخت شهٔ | هرګو زنګ وربا ندے وخت شهٔ
خود د عشق په ملک معلوم دے | چه د صبر نام معدوم دے
په عاشق څو ډير ضرور شی | همرکه لا ډير نا صبور[له] شی
عشق په مثل سره لمبه دے | په معنیٰ صبر يُذنبه دے
په يُذنبه چه آتش سر شی | که سپين غروی خاکستر شی
چه عاجزه شوه دُرخانه | په ډير غم کښے شوه پريشانه

---

له قرار دکف آزادگان نه گیرد مال ؛ نه صبر در دلِ عاشق نه آب در غربال

ACKU

غم نو زلفو پیچ و تاب کړه　　　پریشانئ په اضطراب کړه

په خاطر کړه غم ادجاړه　　　له هوچا ئے اسره لاړه

بے اسرے چه له هوچا شوه　　　وخپل خدا ئے ته په ژړا شوه

درسته شپه ئے واویلا کړه　　　شپه ئے دونړه په ژړا کړه

هر چه وخت د صبحدم شهٔ　　　گریوان تر د گل په نم شهٔ

صبح خپل گریبان چاک کړ

داسپید امهرا فلاک کړ

دا سمان ستروگو بارش کړ　　　نور له عرشه تراوش کړ

دُرخوپوه شوه چه هنگام دے　　　په دا وخت امید تمام دے

خواست قبلیږی لاس بلند کړم　　　خواست طلب له خداوند کړم

نورے ووے اے بے نیازه　　　د درماند عالم کارسازه

په بزرگیٔ د مرسلانو　　　ستا په خاصو بندگانو

په بزرگیٔ د صالحانو　　　په بزرگیٔ د تا نیا نو

په سوزش د سوختگانو　　　په فراق د درد مندانو

په توفیق د نیک مردانو　　　په تسبیح د بے نیازانو

په ژړا د یتیما نو　　　په رتهل د یسیرانو

په خشک نان د فقیرانو　　　په ژنده د گدایانو

په فاقه د فقیرانو　　　په تنگیٔ د اسیرانو

په الم د مهجورانو　　　په خزان د بلبلانو

د خورد سالو په خوردیٔ　　　د نامراد په نامرادیٔ

د دردماند په درماندگیٔ　　　د غم ناک په غمناکیٔ

په پائمال پائمال قيد و نو — په ژړا ناله د غوږ و نو
په بيکسو بېچارانو — په درد مند د رنځورانو
په عرفان د عارفانو — په تهمت د عاشقانو
په هغو ښاسته مېنې — چه پاکي کا په رښتني
چه قبوله ئې دعا کړه — ميسر ئې مدعا کړه
دا غمجن زړه ئې خوشحال کړه — ما له يار سره وصال کړه
ناګهان په دا زارۍ کښې — يو ړه خوب په بيدارۍ کښې
خوب ئې ولېدهٔ غم مکړه — اې غمجنه ماتم مکړه
زر به يار سره وصال شې — بيرونه به له نکال شې
په دا خېږی شوه بيداره — پرې خوش وخته شوه بسياره
چه دا هسکه په وضو شوه — مور ئې دې ته رو برو شوه
وې ئې اې لورې سرور کړه — غم الم له خاطر دور کړه
آدم خان به را طلب کړم — در سره به دې په شب کړم
خاطر جمع په دا باب کړه — له زړهٔ لرې اضطراب کړه
دُرخانۍ پري پیکر ه — ګل اندامه قد عرعره
په دا کار ئې پوهيد له — چه آسانه شوه مشکله
زما خواست په اجابت شهٔ — د خدائې مهر عنايت شهٔ

---

۱ مناجات د روح د تسکين او د آرزوګانو سرته رسيد و لويه ذريعه ده. په دې جوړ بنده خپل خالق ته زاريږي او د هغه د امداد او رحم طلبګار شي او د هغهٔ د رحم او عنايت يا منته دار شي.

بلل دا آدم خان چه درخانئ په مصلحت د مورشباشب طلب کړ ورسره روانه شوه آدم خان په طریق د ننواتے د میربا می حاجی خیل کره وروسته یو څو مدت ئے سره په نښهٔ حال په نښهٔ وصال په اشتغال

## سره تیرکړه

آدم خان چه کور داخل شهٔ ... په ډیر غم کښے لا یعقل شهٔ
عقل لاړ ځنے مجنون شهٔ ... په صورت خسته زبون شهٔ
په سینه کښے ئے اور بل وو ... زړهٔ صورت ئے په اور جل وو
نهٔ دو گرم چه آشفته وو ... تل په اور ئے سینه ډو
دا در حال شوریده حال وی ... قراری دا ور محال وی
که به ناست که به ولاړ وو ... قرارے ور ځنے لاړ وو
کور په دهٔ د عذاب کور شهٔ ... د صحرا سیل پرے اور شهٔ
نهٔ ئے کور آرام یو دم دو ... نهٔ تیکاؤ په غرهٔ په سم وو
د زړهٔ تاؤ په پیچ وتاب کړ ... ابدار مخ ئے غم بے آب کړ
بے خوابئ پریشان حال کړ
ترزیږ گل ئے زیړ جمال کړ

همیشه په بې خوراک وو　　　　که ئې وو نمړئ د کاک[1] وو

چه خوراک ئې نمړئ کاک شهٔ　　　　په صورت لکه وچ کاک شهٔ

غرض خوار شهٔ بې غایته　　　　زار نزار بې نهایته

قطبې د دهٔ ملنګ[2] وو　　　　هغه هم د عشق پتنګ وو

له هغهٔ سره ملنګ شهٔ　　　　ایرې فرش خاک ئې پالنګ شهٔ

په دونهٔ ذلّت نشین شهٔ　　　　د بې قید وپه آئین شهٔ

لکه څې عزت له خوا رهٔ　　　　هسې لاړ عزت له یاره

دُرخانئ ئې له دې حاله　　　　تمامې خبر وه لا له

په خپل غم نهٔ وه دلګیره　　　　وه د یار په غم زهیره

چه مور واک ورکه د تللو　　　　د دُرخو ته د وتللو

یعنې ذ د آدمَ طلب کړه　　　　تلل له دهٔ سره ئې شب کړه

دُرخانئ یوه دیبا رهٔ　　　　شوهٔ کامله پخته کاره

روانه کړه وې ئې ورشه　　　　تر آدمَه شتاب تر شه

ـــــــــــــــــــــــ

[1] په انکار کېنې غونډۍ کانړې تود کړې شي. او دغه واغړې او یوه پیره تړې جوړه کړې شي. نو هغه کړم کانړې د پیړې په مېنځ کېنې کېږدي. غونډۍ شان ئې دا کئ په شان پکښې بند کړي او بیا دا غونډۍ مونډل او دېٔ په انکار کېږدي. د غه شان چه کوم خېنې تیار شي. هغه کاک بولي. ډېر خوندوړ وي.

[2] قطبې ملنګ چرته وو، څوک وو، کوم ځائې میشته وو. مزارئې کوم ځائې دې. دا هیڅ معلوم نهٔ دهٔ.

ACKU

داشست ورکړه زما بخښنه | ورته وایه کرم بخښنه
کوم شرح د هجران کړم | کوم کوم حال د غم بیان کړم
کوم زبان یه دا تقریر کا | کوم بنان یه دا تحریر کا
ستا له غمه هم تما مه | ښه خبر یم نیکو نا مه
ډیر یاران په دا جهان شته | نه چه تا غونډے یاران شته
ستا وصال ے له منا نه | په دُعا وغوښته اے جانه
خپل خاوند کوم په ما کړ | ستا وصال ئے وما را کړ
اوس را دررو مه وخت د کار دے | په تلوار وخت د تلوار دے
سل خبرے سرے بودے | راځه وخت د کښت د لوډے
په هر طور فو یاد رسه | سستی مکړه نن راز رسه
چه ادم وته ربّا ره | په ښه وخت ورا غله یاره
دا پیغام ئے ورته تم کړ | پورے ئے وا باب دا دم کړ
سور اِدَم په خپل شب ورشه | د جنت په لور ئے خیز شه
د دُرخانے په مقام شه | په دیدن ئے کام درکام شه
دُرخانئ ورته د ورا یه | را دوا نه شوه له ځا یه
لکه حق د هر تعظیم وو | دے په ځائے کړکه تکریم وو
په دیدن چه وبله نباد شول | نورسپک دُشت سوارهٔ په باد شول
یعنے دوا ره په اس باندے | جو ړ سوارهٔ شول دروستو وړاندے

---

له په پښتو اولسی ادب کښے د دیبار د سردار دیاره او کوډی کتاب «تپه او ژوند» ص ۲۵۶.

ACKU

بادپا ئې اس ئې په رفتار کړه　　میروباء[1] ئې په اختیار کړه

میرو بابې د قام سردار وو　　حاجي خېل وو ډېر زردار وو

سل سواره ئې عزیزان وو　　همه واړه ښهٔ ځوانان وو

واړه دهٔ سره یک رنګ وو　　که په صُلح که په جنګ وو

هغه شپه ده مبارکه　　د خوشئ د ښادئ ډکه

شپه په شپه آدم، درخانه　　د میروبام ترکوره جانه

ننواتې ور و ستله　　کړه ئې دهٔ کره داخله

چه میروبام ئې له احواله　　خبر دار شه زما لاله

ډېر عزت حُرمت ئې ورکړه　　په ښهٔ ځائې ئې مقرر کړه

مهماني ئې خو ایّامه　　ښهٔ رنګ وشوه له میروبامه

په ښهٔ ځائې ئې دده ځائې کړه　　ډېر بلند انګړ ئې سرائې کړه

په څو کئ پیره ئې وردو ڼره　　مقرر کړهٔ غوره چونړه

وې ئې پاس د آدم خان کړئ　　په امان ئې له دز دان کړئ

آواز لاړ شهٔ ترجها نه　　چه آدم بوته درخانه

په یوسف مندڼړ دا شور شهٔ　　دا خبر په هو هر کور شهٔ

ملکا نو ئې یو ځیله　　سړی وکړ ځول دله

په داباب جرګې کید لې　　محرکې وکړ ځیدلې

چه آدم درخو یو ځائې شول　　ډېر په حمد ثنا دخدائې شول

---

[1] د میروبامې دکلي کوردېته ئې نه دهٔ ورکړې ځنې وائي چه دابیرکوټ نومې کلې وو چه په سوات کښې دې. څوک وائي چه دملکنډ دکنړ دیوه بانډه وه.

چه دزکار له حمد ثنا شول ‏ مشتغل په مشغولا شول
دواړه خوښ په تش دیدن شو ‏ له شهوته پاک دامن شو
دخوړ وشربت چشان شول ‏ ته په خُلد، په دده چشمان شول
یوه ورځ ئې له هر څیزه ‏ قیل وقال کاوه عزیزه
آدم خان جاری دسان کړ ‏ خورنګ عِلم ئې بیان کړ
دُرخو وُوے آدم خانه! ‏ د هر علم ډک عمانه
دتا عِلم نهٔ کسبی دے ‏ دا تعلیم لکه غیبی دے
اوس له علمه له کوداره ‏ څهٔ بیان کړه له اشعاره
دوه بیتې په خفیف بحر ‏ چه یاد پاتوشی په دهر
آدمؔ وُوے پس دُرخانې! ‏ دانشمندے سخندانې
چه دشپلے کلمه ده ‏ چا مسلم که مسلمه[1] ده
چار دعِلم فریضه ده ‏ چه طلب کا په همه ده
تر عمل عِلم اول دے ‏ لا رپیدا که بیا پرِ زغل دے
د علوم کوتے په دل کړه
بیا غمے پکښې عمل کړه

## دوه بیتې

چه طلب د عِلم نهٔ کا ‏ په خپل ځان به پسات وُکه
چه ځا وند به سوال له دهٔ کا ‏ هغه ځائے به جواب څهٔ کا

---

[1] عِلم په هر مسلمان فرض دے او عِلم چه حاصل کړے شی نو په هغے عمل کول هم لازم دی۔

## دوه بیتي

چه په عِلم کړ وکوړ وي　　　په قیامت به ئې مخ تور وي
په دنیا به د خره ورور وي　　　پرې بدنام به پلار و مور وي

## دوه بیتي

چه بې علمه څوک شیخي کا　　　په قیامت به ئې میخي کا
هر ګُلی به ئې جزوي کا　　　ګلستان به ئې ازغي کا

## دوه بیتي

هغه عِلم دِ نا یار دے　　　چه عمل څخه اظهار دے
بې عمله څه په کار دے　　　یار ئې مه ګڼړه تورمار دے

## دوه بیتي

که حدیث دے که آیت دے　　　که د فقهې روایت دے
ترې مقصود صلاحیت دے　　　نه خبرے حکایت دے

## دوه بیتي

چه عمل ئې په رِیا وي　　　شال بافي به ئې بوریا وي
هغه وخت چه امنا وي　　　په عالم کښې به رسوا وي

ACKU

## دوبیتی

د عالم منام طاعت دے    د جاهل طاعت غفلت دے
د عالم ذلت عزت دے    د جاهل عزت ذلت دے

## دوبیتی

د ا نور علم که هنر دے    یو تش جسم مختصر دے
چه وحق وَته رهبر دے    هغه علم معتبر دے

## دوبیتی

حقیقت دا دے له خُدایه    موجود هیځ نشته بے خدایه[1]
یو واحد دے خودنما یه    جلوه کر په دواړه سرایه
دُ رخو وو بیشل ا دمته    بنې خبرے ستاله قمه
موږ ته وُشوے مستفید شو    له تا خوښی هرکور مزید شو
هوس یوّ سوال زما په دل دے    چه ئے حل ما ته مشکل دے
اُمید دے دا مشکلا ته    له تا حل شی نیک صفاته

اُدمّ وُوے پس عیان کړه
سوال نهٔ خهٔ لرے بیا ن کړه

---

[1] د علم او عمل دا تشریح په پښتو ادب کښے خاص مقام لری.

مناظره د درخانئ د ادم خان سره چه درخانے ترے امتحاناً سوال وکړ یعنے چه فضیلت د ادم زاد په سائر حیوانات په څه سبب دے. مدعاله د سواله د درخانے اګرچه ضمناً اصل کا روو، اما ظاهراً ئے د ادم فضیلت د علمیت دو یعنے چه د ادم فضیلت او علمیت له بیلے د سواله په بل څه معلوم نکړم جواب صواب مستدل له ادم خان وا فرین باد د درخانے په ادم خان چه هسے یار له خصم نا بیا مونده

درخو دوے ادم خانه ، سوال زه دا لرم له تانه
چه چارپائے طیور که انس دے ، همکی دا په یو جنس دے
کل حیوان دا په یو جنس دے ، فضیلت څرنګ د انس دے
چه انسان په دوئ زیاتی کا ، دا په ذات که صفاتی کا
چه انسان په دوئ تیرے کا ، دا په کوم جهت ئے دے کا

له د ادم خان او درخانئ مناظره. چه درخانئ ترے دا سوال وکړو چه په نورو حیواناتو د ادم زاد فضیلت په څه سبب دے. په دے سوال کښے د هغې مقصد دا وو چه د ادم خان علمی فضیلت معلوم کړی ځکه چه هغه پوهه وه چه دا به د دے سواله په بل جوړښت معلومیدے او د ادم خان مستعد جواب ورکول او درخانئ پرے د الله تعالیٰ شکر کول.

داپه کوم نے تفضیلت دے — په داباب نے کوم حجت دے
ادم دُوے مجتنو نه — په داباب ډیر دی زدکونه
یؤ حجت نطق فصیح دے — چه پټ حال په دهٔ توضیح دے
که بیان د شریعت دے — که اظهار د معرفت دے
یا احوال د خواطر دی — دا همه په دهٔ ظاهر دی
دا قوت چه دانسان دے — چه گویا فصیح زبان دے
هر حیوان چه طبیعی دے — دا نور فرع دے اصلی دے
چرے فرع چرے اصل — هوښیار پیژنی دا فصل
دُرخو وُوے نیکو نامه — که د ژبے له کلامه
دا مقصود لری دیوُ نے — چه پرے پوهٔ کړم ادریدونے
یعنے دا چه معانی دی — په باطن ے نهانی دی
مستمع یه پرے پوهیږی — له وئیلو ے فهمیږی
همگی حیوان دا غور — خپل گفتار لری دا طور
له قرانه له اخبار ره — د دوئ نطق عیان دے یاره [1]
ادم دُوے اے هوښیارے — دانشمند دے نیکو کارے
د حیوان که قیل وقال دے — د دوئ قال زبانِ حال دے
د حال ژبه د حیوان دهٔ — د قال ژبه د انسان دهٔ
دا صریح هغه مخفی دهٔ — هغه ورو دے، دا جلی دهٔ

---

[1] دانکے تولے تشریح طلب دی -- باید چه دکوم ثقه عالم څخه ددے زده کړه وکړے شی هوکله چه دا اوږد بحث دے نو څکه دلته د تشریح کولو نه اجتناب وکړے شو.

ACKU

دُرخو ډُوے اے اٰدمه! دا څنګه واٸے نیک شیمه
د دوئ ژبه هم قالی ده نه د دوئ ژبه حالی ده
ولیکن د دوئ خبر ے دی چه ستاله فهم لرے
واٸے دا چه د دوئ ژبه د احوال ده منقلبه
مګر نه دی اورید لی تا، چه حق دی فرمایلی
د دوئ ژبه له قراٰنه په دا رنګ ده نمایانه
چه اٰحَطتُ بِمَا لَم تُحِط دا کلام اعظم
دا کلام د حق بزرګ دے حکایت له ګنی چرګ ډے[1]
یعنے دا هد هد بیان کړ چه پرستش تړے سلیمان کړ
عبارت دے دا له قاله نه دا منتق دے له حاله
په دغه تقریرچه نه کړے هم که فهم نظیر وکړے
داتفصیل د نورحیوان کړے په انسان چه دا بیان کړے
وله نه واٸے چه قال دے د حیوان ژبان د حال دے
په دا وجه چه ترجیع شی د حیوان په موږ صریح شی
وله دا چه له کلامه تا خود وُمنل صوغامه
چه فاٸده تمامه د رسته مستمع ته ورکا چسته
مقصود دادے له کلامه چه فاٸده ورکا تمامه
دا مقصود د حال ژبانه خود پیدا دے اٰدم خانه!
پس د حال ژبه تر قاله غوره څو نره ده بے جداله

---

۱ ملا چرګک هم ورته واٸی او په عربی کښے ئے هدهد بولی.

ولے دا رنګ شرمائیلی — پاک حضرت دی ډیر ښه غلی
چه د قال ژبه ټوک بند کا — په نجات به زړه خورسند کا
چه ساکت د قال زبان کا — سلامت به دا خپل ځان کا
حدیث مَنْ صَمَتَ ګوره — تو آخر د سترګو توره

الحدیث: مَنْ صَمَتَ نَجَا وَمَنْ سَکَتَ سَلَمَ

هم په دا باب فرموده ده — که ئے واؤرے شګوفه ده

البلاء موکل بالمنطق

بل دا حال له ښه زبانه — دا ترجیح دے نمایانه[1]
د حال ژبه نا محسوب ده — د قال ژبه تل مکتوب ده
کَبُرَ مَقْتًا آیت دے — له دے بابه کنایت دے

کَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ہ

دریم دا چه تل نظر کړه — دا چار د وګوره باور کړه
لکه نه ده د دوئ ژبه — په انسان باندے واجبه
چه خبرے یوځ ځیله — د حیوان په ژبان دله
په دا رنګ د حیوان کار دے — چه ئے قال په خپل ګفتار دے
د انسان په ژبه نه کا — قال و قیل چه دوئ بد ښه کا
چه د هر فریق مزاج دے — قال ئے هم په خپل رواج دے
چه ئے طبع خاصیت دے — هغه رنګ ئے مقالت دے

---

۱ په پښتو کښے متلونه دی چه "پته خله هم بلا ده هم قلاره" یا دا چه "شیخ فرید ه پته خله د پهتو تا ده"

ACKU

مګر نهٔ د ښخ عاقلهٔ[1] ! اے په هر هنر قابله

چه دزنګ حبشی لسان دے یوتش صوت په هندوستان دے

په حبش دهندی ژبه یوتش صوت دے له قالبه

هغه تش آواز دےدوئ ته داتش صوت دےوهغوئ ته

په دارنګ چه فرایق دی په خپل ژبان هرڅوک ناطق دے

حیوان خپل مقالا تونه درسته وی په خپل صوتونه

اصطلاح خپله انسان کا چه خبرے دسود زیان کا

هرڅوک خپله خپله ژبه په خپل شان کا مناسبه

فکر وکړه له دے بابه چه حق څهٔ وائی اے شابه

دا آیت چه دے په نثر درسته ولولم په قصر

لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ کُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ه

څهٔ معنیٰ لری نظر کا څیر پورے ستر ګے دباورکړه

بیا وَاِنْ مِّنْ شَیْءٍ څیرکړه چه څهٔ وائی جوړ ضمیرکړه

وَ اِنْ مِّنْ شَیْءٍ اِلَّا یُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ ؕ

چه عارف نظاره بین شی خود ئے درست په دایقین شی

چه اِنسان که حیوانات دی لانبات که جمادات دی

---

[1] دژبو په حقله دتوضیح دلسابیا تو دماهرینو او دیوے ژبے دذریعه ګرځولو په دیراهمیت لری خصوصًا دادوه بیته چه ـه

هرڅوک خپله خپله ژبه په خپل شان کا مناسبه

اصطلاح خپله انسان کا چه خبرے دسود زیان کا

ACKU

که ساکن دی که تحریک دی     کل په دا معنیٰ شریک دی

بې له دې چه څه رواج دې     د هرچا په خپل مزاج دې

هرڅوک خپله اصطلاح کا     چه د خپل مقصود ایضاح کا

نور ژبانې تومېنځ هیڅ نشته     خپل گفتار د هر یوه شته

چه حیوان وېیل کویسته     یو ځبله پو هویېنه

حاجت نهٔ لری انسان ته     نهٔ انسان لری حیوان ته

هریوه ته جست وجوئی شته     له هغه ګفتګوئی شته

قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ یا ره     ګوره پوه به شې له کاره

آدم دُوې اې فصیحې     هم ملیح هم صبیحې!

فضیلت چه د بشر دې     له دې حکمه واضح تر دې

وَلَقَدْ كَرَّمْنَا وېنې     بیا وېیل کړې نازېنې

فضیلت چه د آدم دې     خود په دا آیت کښې تم دې

د آدم له فضیلته     پوهه شه له دې آیته

دهٔ وې دا ځائې دوه تشبیه دی     چه زما په زړهٔ پرتې دی

یوه دا له دې آیته     د آدم له ذُرِّیَّته

مقصود دواړه خاص وعام دی     که خواص په دا اکرام دی

آدم وې خو دا عالم دې     چه یا د کل لښی آدم دې

خاص وعام ځنې مقصود دی[له]     نهٔ یواځې خاص معدود دی

دُرخو ووې پوهېدلې     دا ځائې نهٔ ئې رسیدلې

---

له په نورو حیوانانو د انسان د فضیلت وضاحت.

ACKU

که د دا ړ د دا حالت وی　　چه کُل یا د په کرامت وی
بیا به دا د دوئ له بابه　　خاوند څهٔ نه وے احبابه
چه اُوْلٰئِكَ کلام دے　　پیوسته ئے کالانعام دے
تر بَلْ هُمْ ترا ضل　　درست آیت پیوسته لوله

اُوْلٰئِكَ كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ ط

دا صورت به څرنګ نمایه　　جوړ د دوئ په حق کښے دایه
هغه بله شبهه دا ده　　چه له دے بابه له ماده
چه ئے یاد په کرامت کړل　　لوئے ئے دوئ په دا خلعت کړل
بیا ئے دا ورپسے یاره　　متصل ذُ وے هوښیاره
چه اول ئے فَضَّلْنَا دے　　په آخر ئے تَفْضِیْلا دے
د دوئ فضل ئے یاد کړے　　په اکثرو دے زیاد کړے
بعضے خلق د خالق دے　　په هغهٔ کله فائق دے
له اکثرو بعضے وینه　　چه تفضیل پورے نهٔ لرینه
د دوئ فضل مفرد دے　　چه ئے فضل په اکثر دے
اما ګوره کوم عالم دے　　چه تفضیل پرے د آدم دے
شاید هغه خلق بل دے　　چه مفضول دے، د ے فاضل دے
آدم ذُ وے که صورت دے　　ښائسته یا ښهٔ قامت دے
پرے موصوف بنی آدم دے　　په ښائست عجب رقم دے
دا صفت ئے خود عظیم دے　　چه یاد د اَحْسَنِ تقویم دے
ذُ دخو ذُ وے چه اشیا دی　　خدائے ئے یاد کړی کل زیبادی
اَحْسَنَ کُلَّ شَیْئٍ　　ګوره وا ذُ ره دی محسن

ACKU

دا نایان لـه قد قامته — له ظاهر چار پهٔ صورته
ویئیل نهٔ کا چه هوښیار دی — په باطن ئے والابصار دی
که ظاهر صورت بکار وے — د دے چارے اعتبار وے
دا به نهٔ وو فرمائیلی — پاک حضرتؐ په دا رنګ شکلی
دا حدیث ئے په تقریر کړه — د دے چارے ئے نظیر کړه

اِنَّ اللّٰهَ لَا یَنْظُرُ اِلٰی صُوَرِکُمْ

په سترښت که فاخرت وے — یا چه فخر په قیامت وے
خدائے په باب د ناکسانو — د یا د ه منافقانو
ګوره څهٔ فرمائی یاره — داسه واوره له دے داره

وَاِذَا رَاَیْتَهُمْ تُعْجِبُكَ اَجْسَامُهُمْ

ګرچه دوئ خاربهٔ بلند دو — په ظاهر انسان مانندوُو
امّا بیا چه بے معنےٰ دو — بے خبر د بے اندیښنےؤو
خدائےتعؐ د دوئ مثال ایراد — ګوره یاد کړه له جماد
له کَاَنَّهُمْ سره کړه — خُشُبٌ مُسَنَّدَه کړه
د دوئ طرحه له ایته — ګورے باز شه له صورته
بل په عُرف د بنو بُلغا دوُو — په نیټړ دو د نبو فصحاوو
دا خبره ظاهر تر ده — هسے نه چه مستطرده
د و ضیع چه ستائیښ کا — د خوبئ چه نمائښ کا

---

ﻟﻪ د بلیغ جمع - بُلغا -

ACKU

له شریفه تشبیهه ور کا — په تشبیه ئے بلند تو کا
پس سړی چه و بله ستائی — په اوصاف ئے ښۀ خۀ نمائی
که تشبیه که تمثیلات کا — د سړی په حیوانات کا
بلکه کوز چه تر حیوان دی — بوټی وُنے د بوستان دی
له هغو ئے تشبیهات کا — چه د خپلو دوئ صفات کا
چه صفت د فصحا کا — یا بلبل یائے طوطا کا
چه صفت د مړنی کا — مشابه ئے له زمری کا
که د ښکلیو ستر کے ستائی — آهو چشم ورته وائی
چه صفت ئے د خرام کا — په تشبیه ئے زرکه نام کا
د یار مخ په تشبیه گل کا — تورے زلفے ئے سنبل کا
چه صفت ئے د رخسار کا — په تشبیه ئے لاله زار کا
چه له قده ئے گفتار کا — یائے سرو یا چنار کا
چه ظاهر تر انسان ښۀ دے — هم په دا مشبّه بِهٔ دے
په صفت مشبّه کِۀ دی — نر دۀ بِۀ مشبّه بِهٔ وی
که وقوف وځائے مکان دے — که تشبیه د گل عرفان دے
که عسل که ښۀ ریښمین دی — که پشمونه تور او سپین دی
که ښائست دے که آواز دے — چالاکی ده که پرواز دے
که قوت که شجاعت دے — که وقوف د معیشت دے
چه ظاهر د تور حیوان دی — هغه کله د انسان دی

---

له تشبیهات چه د انسان د خوبیا تو او صفتونو په حقله راوړلے کیږی.

چه څڅه لوئ دي د سړیو — هغه ئے خوري د چیچو
د ځینې ګنډګي د لباس کا — پرې لوټي ملوک الناس کا
پشم کوز د حیوانات کا — نور ئے شال مخمل بنات کا
لوئے لباس ئے د زینت کا — پرې لوټي مفاخرت کا
د وقوف کار ئے عیان دے — که د وخت که د مکان دے
شپه تیاره وي وریځ توره — چرګ وخت وپیژني ګوره
وخت د کوچ په سمه غروته — څرنګ پیژني مرغونه
ما من کوټ د توتکیو — ګر د مکان د بورا ګیڅو
د خسک د ځینې حاله — د جو لا تمبو ګے لاله
دا ړه ګوره په څه طور — خپل مکان جوړ کا په غور
که د هر یوه تفصیل کړم — مذکور بویه چه طویل کړم
خود پو هیږے آدم خانه — وائم څو له هر یګانه
هر وقوف چه د افکار کړم — د حیوان ترڅخ نکار کړم
ترک د جسم ګفتګو کړه — که وئیل کړے له محتو کړه
آدم ډوے دانا دے — د ډیر علم مشکلے
ما دے تا به له اوله — په جواب کښے کړم د رغله
امّا شاباش ستا په دین شه — ستا په علم آفرین شه

---

له حیواناتو او حشراتو له چه الله تعالیٰ کوم امتیازات ورکړي یا ئې په جماداتو ادبناتو کښے کومے خوبیانے اچولی دی. هغه د هر صاحب علم د تحقیق د پاره د سوچ یا مته دارے دی.

اوس بیدارہ پہ جواب شہ — پہ جواب د سوال د رباب شہ

واډرہ اے ښیکلے ببیلے — د معنو د باغات ګلے

فضیلت چہ د انسان دے — پہ ډیر علم پہ حیوان دے

دا صفت ئے خود خوګند دے — چہ د ټیلے خداوند دے

ھغہ دا دے دارنګ دینہ — چہ ھَلْ یَسْتَوِی الَّذِیْنَ

ور پسے بیا یَعْلَمُوْن — تو آخر لَا یَعْلَمُوْن

هَلْ یَسْتَوِی الَّذِیْنَ یَعْلَمُوْنَ وَالَّذِیْنَ لَا یَعْلَمُوْنَ

ډرخو ډوے چہ خبرہ — تا د عِلم کړہ ظاھرہ

پس تعریف د عِلم وکړہ — مجملاً ئے بیان نۂ کړہ

آدم ډوے عِلم کوم دے — چہ تحقیق پہ دہ معلوم دے

اَلْعِلْمُ مَا یَتَحَقَّقُ بِہِ المعلوم

عِلم ھغہ نہ وایۂ شی — چہ معلوم پرے بیلا وہ شی

عِلم ھغہ نہ وایۂ شی — چہ تمیز پہ دۂ کا وہ شی

ډرخو ډوے کہ ھم دادے — ھغہ عِلم چہ والا دے

پس حیوان لہ دے علوم — ھیڅ یګان نۂ دے محروم

دا تمیز د ھریوۂ شتہ — چہ بیلتون ئے د بد ښۂ شتہ

آب لہ ګِلہ خار لہ ګُلہ — بیَلوی لہ تا مَګلہ

آدم ډوے نیکو کار دے — پہ ډیر عِلم خبر دارے

---

لہ د علم د تشریح او توصیف پہ حقلہ د صدر خان خټک نظریہ - دا خبرہ دا ھم ظاھرہ وی چہ محض مادیت نظریات د انسان د فضیلت باعث کیدے نۂ شی.

د علوم فروع اصول شته | له فروع دد دوئ حصول شته
بیا هم لږ له فروعاته | لږه برخه نه چه زیاته
څنې برخه د حیوان ده | نور کُل واړه د انسان ده
هغه علم معیشت دے | چه حیوان ته عنایت دے
که د غه ئې برخه نه وے | د حیوان روزګار له ځه وے
چه انسان ته مرحمت دے | هغه عِلم شریعت دے
شریعت تمامی دین دے | کوز له رب العالمین دے
دُرځو دُوے شرائع | د دوئ هم شته دے شرائع
له دے علمه بے نصیبه | حیوان هم نه دے حبیبه
هر ګروه ته معیّنَ | یوه لاره شته مبیّنَ
لکه دا رنګ له قرآنه | مُبیّن دی آدم خانه
کُلّ اُمَّةٍ تُدْعٰی | بیا اِلیٰ کِتَابِهَا
لکه مونږ وته بیان شته | د خاوند حکم رسان شته
کار ئې وحی لا الهام دے | چه ئې مونږ وته کلام دے
هسے دوئ ته الګاه کړدنی | د حق شته په دوئ مخ روزنری
لو په دا کار چه منصوب دے | په مچیو کښے یعسوب[له] دے
چه په وحی د حق کار کا | تمام په حکم د ده چار کا
او که شرع مونځ صلوٰة وی | د حق ذکر تسبیحات وی
خدائے د هر ګروه له بابه | دا معلوم کړه له کتابه

---

[له] یعسوب. د شاتو د مچو ملکه.

كُلٌّ قَدْ عَلِمَ زده كړه      درست نه لري شبهه كړه

كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلٰوتَهٗ وَ تَسْبِيْحَهٗ

دا معلوم شول له آيته      نهٔ دي دوئ بې شريعته

پس انسان حيوان يكسان دے      بلكه لا بهتر حيوان دے

ولے دا چه شريعت دے      امر نهي درست طاعت دے

انسان لږ په دهٔ عامل دي      نور اكثر عاصيان جاهل دي

لكه حق له دے احوال له      دا رنګ وائي زما لا له

وَمَا يَتَّبِعُ كوره      تر آخره اے غمخوره

وَمَا يَتَّبِعُ اَكْثَرُهُمْ اِلَّا ظَنًّا

دوئ له علمه بيګانه دي      له ګمانه يګانه دي

چه دخپل ګمان تابع دي      دوئ له علمه بے طالع دي

چه په تبع دګمان دي      علم نهٔ لري نادان دي

دويم دا چه بزرګانو      اُصولي محققانو

دا دليلي مکرر دي      نبهٔ ويلي دي معتبر دي

علم بے عمله خهٔ دے      دګاډ نخوند په شنهٔ سايهٔ دے

ډير و خامو ناهلانو      دُ نيا جُو يو[1] عالمانو

مجرد د حروف تولونه      بے عمله کلا مونه

دعلوم په نام موسرم کړل      وسيله ئے دخپل نوم کړل

---

[1] دعلم او عمل د تړون تشريح او وضاحت۔ او د شعور او عقل تر منيځه د تفاوت بيان؛ ډبدعتيان او تاويل جويه عالمان چه د علم سپکا دے کوي۔

ACKU

پرے د خپلـنامے شهرت کا ‌ ‌ ‌ پرے حصول د جاه عزت کا
دا علوم شی لویه گټه ‌ ‌ ‌ پرے کوی د دُنیا گټه
آدم دوے فی الواقع دی ‌ ‌ ‌ لکه وائی دا شائع دی
ولکن خبره دا ده ‌ ‌ ‌ ښنه ئے و نخوښه زیاده
دحیوان علمیّت فهم ‌ ‌ ‌ نتیجه دے کلُ دوهم
زمونږ علم که شعور دے ‌ ‌ ‌ تمامی د عقل نور دے
چرته وهم چرته نور دے ‌ ‌ ‌ مسُاوات ئے ویله دور دے
دُرتخو دُوے آدم خانه ‌ ‌ ‌ دا ؤره و نخوښه لا ځانه
چه عرفان د مؤثر دے ‌ ‌ ‌ له اثره ئے ظاهر دے
چه معلومه نتیجه شی ‌ ‌ ‌ نورے ظاهر مقدمه شی
د انسان علوم بالکلَ ‌ ‌ ‌ که درست نور وی زما کُلَ
کُل عالمان به نیکوکار وو ‌ ‌ ‌ له بدعته به ویزار دُو
په تاویل به رخصت کله ‌ ‌ ‌ دوئ په شرع کښے کړل دله
دوئ به کله په سنت کښے ‌ ‌ ‌ تبدیل کړ په هیڅ حالت کښے
له ریا به دوئ یکسر دُو ‌ ‌ ‌ له حسده به په خشو دُو
چه دا رنگه چارتورے کیږی ‌ ‌ ‌ دا له نوره و لا ریږی
پس د عقل نور هیڅ نه دے ‌ ‌ ‌ که هم دا اثر د ده دے
دا رنگ علم په څه کار دے ‌ ‌ ‌ چه ئے دا طور آثار دے
آدم دُوے چه علماء دی ‌ ‌ ‌ نه په دا رنگ واړه خطا دی
دا علماء چه څه شماره دی ‌ ‌ ‌ دا له علمه بے بهره دی
هغه هغه عالمان دی ‌ ‌ ‌ چه وارث د مرسلان دی

ACKU

چه په دا حدیث قائل دی     هم په دا حدیث عامل دی

نحن معاشر الانبیاء لا نورث درهماً و
لادیناراً الا نورث علماً وحکمةً۰

چه په دا حدیث عامل دی     دوی دکون مشاعل دی
درست جهان په دوی ودان دے     درست جهان په دوی روښان دے
که له دے بابه ډُرخانے     درته دائم سخندانے
هم په دا به چه خُله کړے     زیاتی بحث به تور نکړے
ولکن چه مدعا ده     پاتو کیږی هغه داده
شرافت[1] چه د انسان دے     هغه دا دے په داشان دے
چه بطون که ئے ضمیر دے     د صافی صافئے پذیر دے
زړه ئے مومی تصفیه     نفس مومی تزکیه
چه په دا صفت موصوف شی     په اخلاق دخق معروف شی
دا اوصاف هم د انسان دے     نه دا کار د بل حیوان دے
ډیر خوږ وے اے آدمه     زما زړه زما همدمه
د حیوان اخلاق بد لیږی     د اخلاق تهذیب ئے کیږی
د حیوان هم دا صفت دے     نه تنها د ناس حالت دے
نظر نه کړے په وحشیو     چه خوئ واخلی له اهلیو
تربیت چه هر وحشی شی     په اندک روزگار اهلی شی
آدم ډوے هو ډُرخانے     صاف ضمیرے خاص ایقانے

---

[1] د انسان د شرافت او فضیلت راز په څه کښے دے؟

د حیوان اخلاق بد لیږی — په تعلیم اموخته کیږی
و نیکن چه کمالات دی — تر دا حد د حیوانات دی
چه په وصف د انسان شی — کا ملتر هغه حیوان شی
د انسان کمال هغه دے — څو اعلیٰ بلند پایه دے
په اخلاق د الٰهی شی — په وصال د کماهی شی
د آدم هغه لوئے خیز دے — چه د خدائے په خوئی عزیز دے
چه د خدائے په خوئی آدم شی — په وصال د خدائے هم شی
دُ دَخو وُوے دا خلعت دے — بے بها بے نهایت دے
دا د کوم وجود لائق دے — کوم وجود ئے موافق دے
ورنه جوړ ذهنی وجود دے — که ئے جوړ عَینی وجود دے
آدمؑ دُوے دا جوړیږی — په هغهٔ چه بیا دُزیږی
چه دو بار ئے ولادت دے — جوړ په هغه دا خلعت دے
مَنْ لَمْ یُوْلَدْ مَرَّتَیْن — گوره نهٔ ئے څورا لعَین
که ذهنی دے که عینی دے — هر یکان هورته فانی دے
دُ دَخو دُوے اے مخفوله — له مخفوله نا منقوله
نه حجت د دلیل لرینه — څهٔ به هم را وښیینه
آدمؑ دُوے اے دلبرے — سخن سنجے لب شکرے
دا نهٔ هغهٔ مسئله ده — چه په عقل حوا له ده
دا د عقل له اطواره — دیره لرے ده بسیاره

---

[1] بزیر کنگرهٔ کبریاش مردانند — فرشته صید پیمبر شکار و یزدان گیر

ACKU

دا ځائے عقل بے دلیل دے　　　په صفت د جبرائیلؑ دے

د منقول دلیل چه غواړے　　　دا حدیث لوله چه ویاړے

لا یزال العبد یتقرب الیّ بالنوافل حتّٰی احبّه

فاذا احببته کنت لهٗ سمعًا و بصرًا و یدًا و لسانًا

بی یسمع و بی یبصر و بی ینطق

ډُ ډکو وُ وے پس آدمه　　　د ډیر علم ډک قلزمه

دا خلعت چه د انسان دے　　　دے بزرګ د درست جهان دے

هیڅوک نشته له جهانه　　　چه به سم شی له انسانه

تا چه دا علم بیان کړ　　　زما ذره ذره درست نشان کړ

د تحسین د رحمت بار دے　　　زه شاګرد ته استاذ ئے

بلکه زه یم پوستاره　　　ته خاوند ئے زما یاره

آفرین ستا په لسان شه　　　صد رحمت ستا په بیان شه

د آدم بزرګی وما ته　　　تا معلومه کړه نیکنداته

اوس چه نوم د آدم اخلم　　　بے صفته به ئے نه اخلم

ستا د علم نه څوشانه　　　زه حیرانه یم حیرانه

---

له دغه مشان درخانئ بی بی د آدم خان فصیح بیان د علم و ذکاد امتحان واخیسته په اصل کښے د دے نه مدعا د آدم بزرګی په نورو مخلوقاتو ثابتول وو. په دے بحث کښے صدرخان خټک د خپل علمی بصیرت او پوهے پوره پوره مظاهره کړے ده. باید چه مونږ دادبیاتو طالبعلمان هم په دے نکتو ځان پوهه کړو او په علم کښے کامل شو.

که بې خدايه دروغ سجود وې — جبين نا ته خاک آلود وې

هزار شکر چه زه ستايم — ته زما ئې څو دِ ستايم

چه فارغه له ثنا شوه — له آدمه خوا په خوا شوه

شپه ئې تيره خوا په خوا کړه — بيا صبا ئې مشغولا کړه

په دا طور څو اَيّامه — مشتغل ووې آلا مه

بيا فلک بازی له هم

په گردش راؤړه له غمه

ACKU

# رشوت اخستل د میرباً می حاجی خیل له قبیلې د خاصی خیلو چه خسرانه د دُرخانئ وه په ورکول د درخانئ او بیول د درخانئ چه خاصی خیلو بوته

---

چه دُرخو ادم ترکوره — د میربام وراغلل وروره
ملکان د کلی کلی — په یوځائے شول سواره پلی
سره خوشه ئے هم دا کړه — هم په دا داړو دُعا کړه
دُرخانئ دخاصی نږور ده — د میربام حاجی په کورده
وبله دوئی زده که جنګیږی — که ئے صُلح وبله کیږی
خاصی خیل دِ له میربآمه — خپله چار کاندی تمامه
چه خاصے له قام مایوس شهٔ — په خپل فکر د ناموس شهٔ
بل ئے هیڅ مصلحت نهٔ شهٔ — مګر دا فکر ئے وُ شهٔ
که په سل که په هزار شی — په رشوت به دِ دا کار شی
بے رشوته به تما مه — کله چار شی له میربآمه
نور ئے څو شلے معدود دے — د میربام وته نقو دے
د هو ښیار په لاس ارسال کړے — تر میربام هغه درحال کړے

یوسفزی په هغه دور | دکوچی عالم په طور
په هوځائے به میشته وو | ګاه په سیند ګاه په میره وو
ګاه به لاړو د غوره خواته | ګاه به بیا راغله دریاته
چه ئې شنه د مال لید له | دوئې میشته هورته کوله
په مصری یانړه میرباّم وو | په بلکې د خاصی قام وو
میته خیل په زاړه پېښ وو | د آدم په حال دلګیر[۲] وو
تحقیق کار ئې له مکانه | ما وانهٔ ورېدهٔ له چانه
په خپل ځان ددوئ ځاونه | درته وایم چه دا وُونه
ولے دا چه ئې قبرونه | لیدل شی په دا ځایونه
نور الله پرے شنهٔ اکاه دے | چه کوم ځائے ئې قرار ګاه دے
هغه کس هغه نقو دے | د میرباّم د زړهٔ مقصود دے
و میرباّم ته کونیه ورکړے | میرباّم ځائے د زړهٔ په سر کړے
هغه وُوے دا روپئ | دی بها د دُرخانئ
دُرخانئ په ستنه ورکړه | هاله خپل دا انبار ز دکړه
اوکه ننګ کړے ز بیا راکړه | د میرخئ تابیه پیدا کړه

---

۱ دیوسفزو د غیرمستقل استوګنے د ورځو بیان چه لا په دغه زمانه کښے د سوات او سمه علاقو ته د غورړے مرغئ یعنی د کابل د مضافاتو نه په کډه راغلی وو۔

۲ د تفصیل دپاره دګورئ تواریخ حافظ رحمت خانی او تذکرة الابرار والاشرار د حضرت اخون درویزه او تاریخ مرصع د افضل خان خټک۔

ACKU

میر بآمی دے چہ جھان دے — ھم پہ دا زرو ودان دے
پہ دا زرو سر بازۀ شی — ھم زاڈ زاد پہ زرشانڈۀ شی
معشوقہ چہ دھرچا دہ — پہ دُنیا کښے دا دُنیا دہ
نام و ننگ تښی ستائښی دے — زر در نښت دے زیبائښی دے
چہ ننگ وړاندے زرتہ شا کا — لیونی دی چہ نخوک دا کا
زۀ نہ خام نہ دیوانہ یم — نہ لہ عقلہ بے ګانہ یم
چہ زر پر یږدم میرخئی کړمہ — پہ تښی ننگ ورو نرہ شندمہ
صبا رائښتئی دُرخانہ — پہ یو ځائے غوا ړی لہ مانہ
دُ خو دُرکہ ھم آدم شہ — زما کور خالی لہ غم شہ
یوڅ دوہ درے سوا رہ دِراشی — پہ غرمہ دِ دوئی ترما شی
دُرخانئی بہ زۀ بے درنګہ — ورکړم ھئی تو یہ لہ ننگہ
زر بلا دی زر بلا[1] — شیخ ګمراہ کا وران مُلا
پدر قتل پہ پسر کا — پسر قتل پہ پدر کا
ورور د ورور پہ تیغ حلال کا — عزیزان وبلہ پائمال کا
شرم ننگ لہ سرہ کم کا — دین لا ھم باځے پہ مردم کا
د زر دشت پہ اول ګورہ — نوم د زرو دے ځان زغورہ
کہ د زرو پہ پرست شوے — زردشتی آتش پرست شوے

---

[1] د زر پرستئی پہ غند نہ چہ پښتانہ مثل کوی چہ زوئے لہ زرۀ دنیالہ پرینہ تو زوئی لا دنیا شیرینہ۔ او یادا چہ د دنیا مینہ دِ پیدا کولہ نو د مور لا دړے دِ څۀ لہ پیدا کو۔

د دوزخ د قلبه ژنے ده — لـه اخر د ناره رے د ه
نام د زر ترے مرکب دے — ځکه زر د ادر سبب دے
چه د زر و جود اتش دے — هر زردار ځکه سرکش دے
له دے بابه که تقریر کړم — کتابونه به تحریر کړم
چه د زر افت ګزند دے — خود دانا وته څرګند دے
یو عجیب باب حیرت دے — نه پوهیږم څه حکمت دے
په دا حال د زر پوهیږ د — څو پوهیږ د لاپرے غولیږ د
څو ترے زارکړ و لاڅ غواړ و — څو ترے ژاړ و لاپرے دیاړ و
بند وبست نے اسمانی دے — لوئے حکمت ئے یزدانی دے
ځائے د ادم و هل د چادے — بند و بست چه د مولادے
که عجم دی که عرب دی — په اکثرو زر احَبّ دی
امّا لا په افغانا نو — په دے ورځ یو ننګ چښتانو
تر احَب لا احَب دی — نهایت ئے په طلب دی
که ننګ ډیرله پښتنو دے — امّا ورک ئے تر یسو دے
لایوسف دی که منډنړ دی — که ئے څوان که ئے کبړ دی
نهایت پرے عزیز تر دی — زرخوید بند ه د زر دی
که ور خیبر صه هند کے ذر کا — خان امیر په دوستی زر[1] کا
چه اغاز بنیاد د ننګ کا — بیائے زر ور څخه رنګ کا

---

[1] په دے عیب داخلق نن هم لا هغسے ککړ دی لکه چه څوا د و لا حقه خو داده چه زرپرستی څوانه ادس په خوچنده سیوا شوے ده. خصوصًا په سوات کښے چه یوسفناسه پکښے وسی۔

ACKU

باور و کانړئ یارانو      ددے نظم سامعانو!
چه داخل په دا مقام شوم      چه په هجود میر بآم شوم
زارے کړل بے ننګانو      د پیسو د بند ګانو
کاهلی را غله کاهل شوم      ځکه خوب یوړم غافل شوم
داځو بیته په منام کښے      شول جاری زما په کام کښے

دا چه اے صدرخوشحاله!
دُنیا نۀ ده بے جنجاله

ځو آئیا مه لیالی شته      هم بے ننګ هم ننګیالی شته
میر بآمی د تا په دوّر      ځۀ لږ نۀ دی وکړه غور
ځو دا دور دا دُنیا ده      هم دا طور پرے غوغا ده
ننګیالی له ننګ نام وُړی      بے ننګان له زرو کام وړی
دا هغو نه وائی خام دی      هغه وائی دا بد نام دی
هغه خپله چار مرغوبه      ګڼړی دا خپله محبوبه
چه له خوبه نه بیدار شوم      نور د هر بیت په تکرار شوم
یو دوه بیته مِنامی دی      دا یو ځوئے لازمی دی
نورے واړه بے اهماله      په تحریر کړل له احواله
میر بآمی چه جواب ورکړ      نور استاذی مخ په لیرکړ
خاصی خیلو ته حاضر شۀ      مژده کوئے متکاثر شۀ
بیائے وُوے عزیزانو      ځو سوارۀ له سوارانو
په صبا وختی تیار شئ      لا د وختۀ په رفتار شئ
د مصری باندے نه غلی      ورشئ ددو بیړ ونړ کلی

ACKU

وددیږ ئې یو روان کړئ      میوباَے خبر په خان کړئ
دے به درکاندے دُرخانه      نور را دروم ئې تو مکانه
خاصّې خپلو شکر وُکړو      په دا خبرې ئې زړهٔ نیټه کړ
درسته شپه خوشحال بیدار وُو      وصبا نه سترګے چار وُو
چه شپه دُچاوُده له غمه      سینه سوے نمرله همَ
طلوع وکړ وخت صبا شهٔ      درست عالَم یوه غوغا شهٔ
سوارهٔ هسک شول مخ براه شول      چست حاضر په وعدهٔ گاه شول
میوباَے ئې خبردار کړ      میوباَئی په دا رنګ کارکړ
دم ئې وباله له کوره      وے ترغ وکړه په زوره
چه هر څوک پهٔ بدرګه ځی      په میره دِ مال سره ځی
په دا شان مطرب ندا کړه      دا ښدا سمع هرچا کړه
ښکیالی ځلمی تیار شول      دمیرے ته په رفتار شول
اٰدمَ هم نیلے سپاهی کړ      خان ئې هم جوړ کماهی کړ
بدرګے سره روان شهٔ      دمیرے ته خرامان شهٔ
بدرګه په دهٔ شادان وه      هم په دهٔ خوشی چندان وه
اما کار په غیب ځهٔ نور وو      په فلک کښے هم دا شور وو
چه مسکین اٰدم خورم دے      خبر هیڅ نهٔ دے ناکوم دے

---

ل په هغه زمانه په دے ادلس سے اوسوات ته د موسم په تابین کده کوله ۔ زرے به ئې په سمه کښے تیره وو او اوړی له به سوات اوُښکیو ته نکل ۔ څکه خو وائی چه اودے په سمه اوُکده ئې په سوات۔

ACKU

اوس به هسې[1] په فرقت شي          چه په مرګ به ئې وصلت شي
يعنې نن چه له يار بيل شي          بيا په مرګ که ئې يار مل شي
په دُنيا کښې به بيا کله          په وصال شي يوځاى خپله
د دُنيا ديدن ئې نيو شه          شيرين عمر ئې ګنډير شه
دې خندان دې خبر نه دې          چه څه غم ميلمه ددهٔ دې
په دا غم به له جهانه          ګريان ځي تر ګورستانه
دريغه دريغه اې فلکه!          له ستمه جوره ډکه
دِ تا کار واړه ستم دې          ترحم دِ په چا کم دې
دِ تا سترګې زر خيره شه          د قيامت په ګرد تيره شه
چه مئين يو درنګ بهم شي          په يو ځائې وبله خورم شي
دِ تا سترګې بيا پرې سرې شي          ستا د غم چړې تيرې شي
په زبان ئې سينه چاک کړې          له ډير غمه ئې هلاک کړې
هسې طور باز ئې کړې          چه بازى په بازى سر ئې
د شادئ بازى برپا کړې          پکښې غم الم پيدا کړې
چه بيضې مهره عيان کړې          ځنې نوره نمان کړې
نه چه نوره کړې خرګندَه          بيا ترې سپينه کړې بلنده
له هريک مهر آغاز دې          صل بازئ کړې پودازې
په خوشئ څخوا آدم کړې          بيا ئې ډير مدت په غم کړې

---

[1] آدم خان له دد وکې ودکولو په غرض بدرګه روانه کړې شوې وه څکه ئې هغه هم درسره ملګرې کړو.

هسے ذرہ بہ د چا نہ وی — چہ داغلے بہ تا نہ وی
هر یو گل د تا لہ جورہ — خالی نہ وینم لہ څورہ
د لالہ سینہ بریان کړے — گل دا اور پہ سر گریان کړے
دوشادوش سرو چنار کړے — بیا لہ ځانہ بل پورے نار کړے
د نرگس چہ وا چشمان کړے — هغہ دم ئے پہ یرقان کړے
لا غنچے شوندے ارتے — پہ خندا نہ وی پرانستے
چہ ئے تہ لہ خاورو رکہ — هغہ ځلہ کړے اے فلکہ![له]
د تا جور نہ اندک دے — چہ بیان شی لک درلک دے
خود هوښیارو تہ عیان دے — څو ئے شمارم لا بیان دے
خوار بلبل پس لہ مدت — د ا غنی یو لہ محنت
چہ پرے تیر هزاران غم شی — ناگهان پہ گل خورم شی
رسیدہ ئے ترمشامہ — د گل بوئے نہ وی تمامہ
چہ خزان ئے بیا میلہ کړے — خوار بلبل پہ غمہ نالہ کړے
الغرض چہ عالم ؤوت — هم لہ کورہ آدم ؤوت
میوہ ئی بے ننگ درختانہ — و سورو ورکړہ گریانہ
نہ ئے زور وو نہ ئے وس وو — نہ پہ ځان ئے دسترس وو
چہ پہ تیغ ئے ځان هلاک کړے — پہ خپل لاس ئے مکان خاک کړے
کہ ئے خاورے ایرے پرے — پہ سر لوستے نرحد نیوے
سود ئے نہ وو ستمگرو — هغو څو سورو جابرو

---

[له] د فلک د گرځیدو او ناکړو د بیان -

په عزم ئې روانه کړه　　په شتاب ئې تر خانه کړه
د خاصې په کور سرور شهٔ　　په در خانې ملک تنور شهٔ
بیا دې وته ئې ورکړه　　بیا دې په خپل مقر کړه
گویا حوره و مالک ته　　سپره ده شره وهالک ته
ماه په کور کښې دگژدم شوه　　حور العین په جهنم شوه
چه درخانه وه هوښیاره　　دانا دله پخته کاره
ورمعلوم شول چه عاشق دی　　هغه گل دغم لائق دی
دعشاقو بخت سیاه دے　　ازلي ئې غم همراه دے
داخل غم نهٔ هغه غم دے　　نهٔ الم هغه الم دے
چه ژوندئ به تر رها شم　　تر وصال به دیار بیا شم
چه دیدن زما دیار دے　　بیا دکور په کور دوبار دے
چه په زړهٔ ئې داحال تیر کړ　　نور ئې ځان دمړو په څیر کړ
تار په تار ئې تورگیسو کړل　　غوڅ ئې گل د زلفو موکړل
درست لباس ئې جوگی رنگ کړ　　تر منگ ئې ځان ملنگ کړ
بنې کوځئ ئې غوړوے　　تار په تار ابرے پرے مینبلے
هم ئې سرے خلق اغوستې　　هم ئې خاورے په سر لوستې
چه ئې ځان جوگی آئین کړ　　نور ئې ځان گوشه نشین کړ
په مثال دغریبانو　　د بیکسو یتیمانو

یک تنها به تل ملاله
گوښه ناسته وه بدحاله

خبر بدل د آدم خان په ورکول د درخانئ له ژبانه
دیوے بوډئ او بد دعائی کول د آدم خان په باب
میرباسی - اوهم له هغه چه خبر شه جاروتل و
خپل کورته چه کور میشته په هغه وخت په زاړه پېر
وچه مشهور په زړمینه دے - اوهم هغه وخت
چه آدم خان داخل په خپل کور شه په رنځ دنس خوږی له
ډیره غمه پریوت څلویښت ورځے د درخانئ له
طرفه دستے د ګلونو ورته راتلے پرے پاتیدہ آخر
تے له جهانه فانی کوچ وکړ.

---

له میرے چه [illegible] خور شهٔ | د آدم هم مخ په کور شهٔ
چه وکلی ته تویں شهٔ | درست عالم ئے تماشبین شهٔ
نخامخ ئے یوه زا لــه | لـه ادله شوه بدفا لـه
ورته ئے اووے چه اے ځوانه | ښانسته ضیغم نشـا نه

---

له دا ولسے صدئ ښېرئ د نثر د انداز د پښتو نثر د ارتقاء په مطالعه کښے قابل غور دے.

که دِ طور دا سمن دے | زما زړهٔ درخنے بَد دے
آدمَ دُوے توم تقصیر دے | چه دِ زړهٔ لهما دنګیر دے
نهٔ له جنګه ګریزان یم | نهٔ خجل ترخپل مهان یم
نهٔ له خاله ماتے وړمه | نهٔ بَد چاته رسومه
بُوډئ دُوے اے ګلونګه! | زړهٔ په دا یم له تا تنګه
چه دُ رَخو میربآمی درکړه | تهٔ اوس درومه مخ په لیَکړهٔ
بیړونه له کلیه ستوٰن شهٔ | وَخپل کلی ته په یُون شهٔ
چه دے کلی ته بیانهٔ کړے | زړهٔ تنګیږم دا سنهٔ نکړے
آدمَ خان له دے خبرے | له غم ذیز وحشت اثر ے
دُرخ ګوکل په ځانے حیران شهٔ | هوش ئے لاړ لکه بے ځان شهٔ
پس له درنګه چه په حال شهٔ | په آهنګ ئے دا مقال شهٔ
میربآمیَ زدر دِ کم شه | ستا په کور د غم ماتم شه
ستا په آل په فرزندانو | رنځ تعین شه دکهړیانو
چه شیره د خوږ خاطر ده | په درګاه کښے ماترده
واٹی دا چه له میربآمه | پشت په پشت ترنن ایامه
په اولاد کښے ئے غم دینه | دیر د کهړ په رنځ مرینه
آدمَ خان له هغه پورته | مخ په پیړ روان شهٔ کورته
چه کور ورا غے داخل شهٔ | په ماتم ئے قبائل شهٔ
بلکه درست عالم په غم شهٔ | په یوسف، منډنړ ماتم شهٔ

---

۱ د آدم خان اود بوډئ منځ مکالمه۔

ACKU

په میږ بام باندې یو طعن　　　　چا وې یدکه لا لعن
آدم خان چه په غم کښیوت　　　　د نس خوږی په رنځ پریوت
هسې خوار ضعیف په تن شه　　　　چه ویښته ئې بار ترمنی شه
ویښته څه چه نفسو نه　　　　پرې درانه شو لکه غرونه
ابر ښاغلی نه کاؤنه　　　　سمه غرونه لرزیدنه
رژیدن ؤو د ګلو نو　　　　هم خشکی وه د جویو نو
چه نفس به ئې ښکاونه　　　　هسې شان به لرزیدنه
لکه ښاد ګل لرزش کا　　　　په جوئی بار چه جوئی جنبش کا
شاید وقت اردی بهشت وو[1]　　　　وریبد و ته نژدې کښت وو
په دا ملک خزان د ګلو　　　　د سیده ژړل ببلو
د ګلو نو رژیدن ؤو　　　　د ببلو وریت لړمون وو
هغه وخت چه دې رنځور شه　　　　د نس خوږی پرې ضرور شه
دُرخانئ ته دې حاله　　　　خبر بیامونه له چا لاله
د دې هم په نفس تیک شوه　　　　په چشمان ئې تاریکه شوه
هم ئې د ویښ له چشمان تلې　　　　هم له نسه ئې هغان تلې
ژړېدنی چشمه د خون شوه　　　　دیښ و ویښ درست لړمون شوه
کله دا خبر په خان ؤ ه　　　　خو په غم د آدم خان وه
په باړئ ګلو نه ښکلی　　　　پیاوی وو ډیر کرلی
دُرخانئ هغه ګلو نه　　　　شوکول په فریادونه

---

[1] اردی بهشت : اپریل - خواؤ شاء

ترې ئې جوړه سنړدسته کړه　　په کاکلو ئې بسته کړه
د آدم ته ئې روانه　　د سړی په لاس کړه جانه
د خپل درد له سوزه تابه　　هم ئې ورکړه څو جوابه
جواب دا چه وخت بهار دے　　په هر لوری یو ګلزار دے
د چمن نو عروسانې　　د ګلشن لاله رُو خانې
تفرج په انبساط دی　　په جلوه په ډیر نشاط دی
مخ د ځمکې درست رنګین دے　　ښائسته روئی زمین دے
زما مخ چه نوبهار دے　　رشک په حسن د ګلزار دے
هر یو ګل ئې پژمرده شهٔ　　درست په خاؤرو آلوده شهٔ
مخ د خاؤرو لاله رنګ شهٔ　　زما مخ په خاؤرو زنګ شهٔ
هر یو خیز دا وخت په برګ دے　　یو زما خوارے غم مرګ دے
د فلک ریاض که شین دے　　باد ئې وا ړه آتشین دے
چه هر ګل ئې په خندا شی　　تخم ریږی ګل ژړا شی
ګو یوان تر زړهٔ ئې ورتیږی　　په آبشار کښې ادربلیږی
درست صورت ئې ډک له دمه　　هسې شان شهٔ ستا له غمه
چه ئې سیورے په اغزی شی　　برابر ترے خونریزی شی
یعنې خار چه ئې په سیوری　　ټرخ شی وینې څڅې وُوری
غرض دا چه څو له غمه　　وایم لا شم نر تا ګرمه
چه بې تا نر وُسه پا یم　　بې خلا فه بې وفا یم

---

له دا درخانئ پیغام آدم خان ته چه د صدر خان د کلام ښا هکار دے۔

دا دستہ زما د پارہ    بُویہ وہ چہ پائے یارہ
دستہ گُل چہ ترا دمہ    رسیدۂ شول تر ھمدمہ
پہ آدمؔ ساعت مشکل وو    سرہ اُوښت نیم بسمل وو
ورتہ ناست جانی یاران وو    ھمہ واړہ تر چپنان وُو
د گُل بوئ چہ ترمشام شۂ    د آدمؔ څخو آرام شۂ
چہ ئے ساہ وہ را دتلے    د یار یادد وہ نیولے
د گُلونو بوئ پہ بیارتہ    پسترنہ بوتۂ خپل وار تہ
یعنے وار چہ د رحلت شی    خود بہ بیل ساھو صورت شی
وار نیژدے وویو څو دمہ    پہ بُوئ ژُ پا بیہ آدمہ
آخر ښۂ چہ جوړ آدمؔ شۂ    څخو بیا پہ ساہ پہ دم شۂ
ھغہ کئی ورتہ خبرے    د شکرو سرے بنبرے
ھمکی واړہ نیش زنے    پہ خوږ د شکر شکنے
د آدمؔ نہ پہ زبان کړے    یک پہ یک ئے پہ بیان کړے
آدمؔ لعل و یاقوت بیل کړل    دُرگو ھر ئے تر دانل کړل
یعنے بیرتہ ئے لبان کړل    لزئے دارنگ ترے عیان کړل
وے[۱] ئے دا زما جواب کړہ    پہ دُرخو ے دا خطاب کړہ
ورتہ وایہ چہ څۂ وایم    ھم دا ھونبرہ بہ وُنمایم
چہ مو یو ځبلہ دید ن وو    ھم لہ شوقہ ے مردن وو
ادس چہ یو ځبلہ بیلتون شۂ    خود حرام پہ ماژوند ون شۂ

---

[۱] د آدم خان جواب د دُرخانئ پہ نامہ۔

ACKU

چه په عشق کښې مراتب دی — هم دا هو ښېره د محبت دی
د درد و غم هومره پیدا کا — چه په درد کښې ځان فنا کا
ځان په غم کښې هسې خوار کا — چه ځان نیست په هست دیار کا
دا احوال چه نن زما دے — خود خواب زما هم دا دے
په ډېر رضا نه مے سلام کړه — دا احوال مے پرے پیغام کړه
دا رنده وے چه خواب دے — خود دا حال دے چه خراب دے
تر دا زیات به ستا له بابه — ورته څه وایم خرابه
دا ئې ډوے نور روان شه — چشت په لارے شتابان شه
چه ډېر رضا نه ته دوخار شه — د پیغام، پیغام گذار شه
هغه حال د هغه سوے — چه تر خلے د زړه لوے
د هر اکه سره څنګو نه — را لوید ل له اندرو نه
یک په یک ورته معلوم کړ — د ډېر خو هوښ ئې معدوم کړ
تار په تار لاړه بیهوشه — زړه ئې ترتی و چاوده له جوشه
له صبا حه تر بیگا هه — دا پرته وه نیمه سا هه
د زړه وینې ئې روانے — تر خلے تلے لیکن بریانے
چه اجل ئې تو یاریں وو — په دنیا ئې لانفس وو
بیا په هوش شوه خواره زاره — په ژوندون تر مړیو خواره
خلو ینبت ورځے ترا دمه — دے گل ا ستول پیهمه
د گلونو په بوټی د له — د ده ساه به چلید له
چه ئې وار د خپل رحلت شه — جو ړ د ده د کوچ نوبت شه
هغه ورځ هسے څه ؤشول — چه د گل دا ډېره ؤ نشول

په اُدمّ باندے غوغا شوه    وخت پرے تنگ شۀ پرے ژړا شوه

اُدمّ غږ کړو میړّو یا ده!    دا نژدے شه غمگساره

میړّ دگی وے زما خانه    زۀ نیژدے یم زما جانه

راته وایه زۀ غلام یم    منتظر ستا د کلام یم

کوم جواب دِ په خاطر دے    وا یه ستا غلام حاضر دے

اُدمّ ؤوے اے جَلیسَ    اے همدمه اے اُنیسه

صبا درومه شتاب تو شه    تو دُدّ خو په خپله ورشه

پرے اول زما دعا کړه    بیا پرے دا پیغام ادا کړه[1]

چه مونږ لاړو که ښتیا کړے    نۀ به هم وراته دنیا کړے

له دُنیا شه مسافره    زر و ماته شه حاضره

هغه ځائے چه تل وصال دے    ذرړا درومه نۀ اِمهال دے

که دِ مینه په رښتیا وی    دا پیغام به مرگ دِ تا وی

مخ به ماته زر حضور کړے    تور لحد به په ما نور کړے

که په مینه نقصانی وے    مونږ باقی یُو نۀ فانی وے

نۀ به دا فانی هوس کړه    مونږ نه غم په هر نفس کړه

---

[1] دادم خان وروستے پیغام چه د شاعرانه کمال یوه دلپذیره نمونه ده۔ چه صدر خوشحال د مرثیے په انداز کښے داورے ده- او د پښتو ادب د مرثیه نگارئ په فن کښے خاص مقام لری۔ په دے کښے زمونږ د نظام شمسی په ټولو سیارو ددے واقعے داثر ذکر ډیر په دلچسپ انداز کښے شوے دے۔

ACKU

دا ئې ډوې نورې ساه ... په آسمان لاړه له آه
په آسمان له هغه دود دے ... چه تور او سه لاکبود دے
فَالُوا إِنَّا په زړګو ته ... په فراق تر رَا جِعُونَ
په دا خائې ولوله یاره ... د آدم مهجور د پاره
تر دُنیا چه تیر آدم شهٔ ... په همه جهان ماتم شهٔ
جهان هسے په غم پور شهٔ ... تا به وے یوم النشور شهٔ
تزلزل په سمٰوات شهٔ ... شق ئې ګړ په طبقات شهٔ
هر ګردش چه د آسمان وو ... هغه ودګ د ویر په شان وو
لکه ګرځی وینا وائی ... نوحه ګرے مړی ستائی
فلک هسے رنګ ګردش کړ ... د آدم ئې ستائش کړ
زحل درست له غمه تور شهٔ ... هندی طور ځیږ په اور شهٔ
مشتری لاړ له مکانه ... تیو پورے تنغ لاړ له کمانه
غرق په وینو کښے مریخ شهٔ ... د دُنیا دور پرے توبیخ شهٔ
وَ رجعت نه جوړ آفتاب شهٔ ... په هیبت په اضطراب شهٔ
زهرا عود په آتش کښینښه ... چنګ ئې مات طرب ئې پریښه
د ویر دور ئې برپا کړ ... برسات ئې په ژړا کړ
چه په ویر کښې ئې ویناوے ... دا وینائې ډیره لا وے
له دُنیا چه تیر آدم شهٔ ... زما عیش بدل په غم شهٔ
چه مایه د عیش طرب وو ... هم آدم قلاش مشرب وو
چه تسکور د عیش جام شهٔ ... چنګ رباب په ما حرام شهٔ
عطارد قلم آسا شهٔ ... توره وینے په ژړا شهٔ

خپل قلم ئے مات فقط کړو بیا ئے سر د سره قط کړو
یعنې پس له دے چه څهٔ کښم نور به هیڅ په قلم نهٔ کښم
مرتبه به د آدمؑ کښم هر چه ذرهٔ په خپل قلم کښم
د ماه غم چه په ډیری شهٔ تمام مخ ئے تیر سری شهٔ
چه هر کوره شوه غمګینه مدام شوه هاله نشینه
شپے ګیسو وریل پریشان کړو صبح څیرے ګریبان کړو
بے آبی شوه په باغ پیښه خار د ګل کړه سینه ریښه
د غمام بُستان له غمه وا ړه وُچ لاړل له نمه
چه اطفال د نونهال وُو وُچ ککړ ولاړ ملال وُو
هم د رزو د خترا نے وُچے وُنے وے ناتوانے
هر یو ریښی چه د شجر وو وُچ تر مزی د مسطر وو
د ګلابو ګل په اور شهٔ بنفشه په خاک نسکور شهٔ
د صد برګ سینه له همٔ صد پارهٔ لاړه له غمه
د باغونو ناوے ځونه وا ړه خاوړے شوے خاکونه
یعنې مرګ چه د آدمؑ شهٔ د جهان عُمر په غم شهٔ
چه د ده مکان په خاک دے که مونږ خاوړے شو څه باک دے
په فریاد هزار داستان شهٔ بلبل لا په ډیر افغان شهٔ
شوریده بید مجنون شهٔ سر د سرو په زنګون شهٔ
هم مصرع د سرو سمٔ شوه بے بحره له دے غمه
سوسن درست لباس کبود کړو لاله و ینے درست وجود کړو
سُور کفن لاړ له جهانه په زړهٔ داغ له دے ارمانه

میخانه شوله معزوله — د شرابو له محموله
شته د دزو د خترانو — تزویج شوم په میګوا را نو
د شیشے ورکه خندا شوه — شمع ړُ لے په ژړا شوه
پرده ورانه درباب شوه — نغمه پاتے له ځواب شوه
د سرود نوازش لاړ شته — د نغمے عالم وُجاړ شته
د مجلس یاران خوارهٔ شول — په غمونو کښے سکارهٔ شول
خوشی لاړه له جهانه — غم را کوز شته له آسمانه
له دے یا په که بسیار کښم — هنوز لږ دے که هزار کښم
غرض دا خوشی برباد شوه — د نیا خو نه غم آباد شوه
دُنیا عالم په غم شته — د عقبٰی عالَم خورم شته

نام ئے پا تو په جهان شته
رُوح ئے لاړ په خپل مکان شته

ACKU

# مرګ د دُرخانے شیرین نشانے چه په تجرد دیاردنلو دخبریدو دابلا معطل روانه شوله دجهانه

اوس له مرګه د دُرخانۍ — د هغې خستې نا توانۍ
دارنګ نقل اوریدهٔ شی — له هر چا نه چه کاوهٔ شی
چه میړو ېس له تجهیزه — دا آدم د مرګ عزیزه
د دُرخو په لور روان شهٔ — په شپه ورائے پښان شهٔ
په هغه ځائے چه ګلونه — پیاوړی کړلی وُو نه
دُرخانۍ د یار د پاره — هغه ګل پریکول یاره
په هغه ځائے میړه غلے — پنهان کښېناست غم نتلے
چه شپه وُ ېچا وده سحر شهٔ — د ګلونو چاک جګی شهٔ
بوئی هغه ورځ د ګلونو — همګی وو د غمونو
درست ګلشن مړاوے ملال وو — هر یو ګل ئے مُرده حال وو
چه د دَرخو په باغ درون شوه — پوهه د ګلو په مضمون شوه
چه تن بوئی د ګلو نور دے — په هر ګل کښے پیدا اور دے
د باغ طور دیګرګون دے — هر ګل وینم چه زبون دے
وائی داد حال په زبه — وخت د کوچ راغے قالبه
مهرے لاړل له جهانه — دا ملک ځه کا اوس دُرخانه

---

ئه دل را به دل رهے ست درین گنبد سپهر۔

ACKU

که دا پوهه په دا کارشوه　　بیا خو ننه نر گلزار شوه
یو څوګل چه له نها له　　پرے کړهٔ دے په زړهٔ ملا له
میړوګی پرے ناګها نه　　لکه تندر له اٴ سمانه
دا ګنذار دغشی وکړ　　پرے ئےچورد دُرخو زړهٔ کړ
بی بی ګُل که له ګُلزاره　　دا خبر نهٔ ده له یاره
یار ئے ځائے کړ دګورخونه　　دا به څهٔ که اوس ګُونه
پرے دیځلے یار سلام دے　　بیا ئے دا کړے پیغام دے
مونږه لاړو که رښتیا کړے　　تهٔ به هم ورانه دُنیا کړے
په صباح بیګاه به راشے　　د کور رشمح به زما ئے
له بیلتونه به رها شو　　همیشه به خوا په خوا شو
چه میړو پوره پیغام کړ　　دُرخانئ سمح تمام کړ
دے پرے زغ کړ میاړو ورورهٔ!　　اوس زما ننداره ګوره!
چه په یار پسے یار تلهٔ کا　　دارنګ دروی تعطیل نهٔ کا
چه په یار پسے دا تلهٔ کړم　　پښے به زهٔ دزړهٔ لیمهٔ کا
دا ئے دو یټل په غاړه　　اه ئے وکړ ساه ئے لاړه
تن ئے ګل وو په باغ خورشهٔ　　ازاده قد ئے نسکور شهٔ
که بلبلے که هزار دُو　　پرے رحمت وئیل باربار دُو
یعنے صد رحمت دُرخانے　　دعُشّاق عالم نښانے
عشق دِ دروست ترکماله　　شوے دعشق په تیغ حلاله
مُبارک دِ تل وصال شهٔ　　په دیدار دِ زړهٔ خوشحال شهٔ
عشق هم داده لکه ستا دے　　مُبارک ښکلے زیبا دے

ACKU

چې د یار په مهر مینه — یار په یار پسې ؤمرینه
دا د عشق کمالیت دے — که مجاز که حقیقت دے
چه دا عشق د چا روزی شی — په کونین کې فیروزی شی
چه هر ځائې ذکر کاوه شی — آفرین پرے ډیر وایه شی
په دا رنګ لکه دُرخانه — ډیر مینې مړه دی اے جانانه
عجائب ښه حکایت دے
عجب ګواه په دا حالت دے

# الحکایت

واورې دا یوه ښار وه — تر سپوږمۍ ښائسته لا وه
چه تمام د وے زمین وو — د مخ سیال ئې نامبین وو
چې نه را غله په مکه شوه — بې ئې وکړ شګفته شوه
هغه ځائې چه دیره دا وه — د بوډۍ خونه تنها وه
چه بوډۍ سره آشنا شوه — بوډۍ ډیره ترِ رضا شوه
چه محل د قربانۍ شه — خلق په ذبح ځان ځانئ شه
دے هم اوښ د خدائې د پاره — قربانی کړ نیکو کاره
لکه خوئې د مهوشانو دے — طنازی لعبت ئې کان دے

---

له دا حکایت د تتمې په دود د کتاب سره شامل کړے شوے دے. د صدرخان مقصد یکښې دا ښکاری چه دا سې واقعات په دنیا کښې نور هم ډیر تیر شوی دی.

چه ئې اوښ په تیغ وانحر کړ — دے ئې لاس په وینو تر کړ
د دیوال په مخ ئې جا نه — دے سپنجه کیښوه عیانه
د لاس نقش ئې په دیوار شه — عجب ښکلے نقش نګار شه
دے دے اے بوډۍ یادګار ده — دا سپنجه چه په دیوار ده
دے پنجې ته چه وګورے — ګوندے مونږ په یاد کړے مورے
چه دا لاړه پس له کاله — چې نه خلق راغ لا له
یو شپه ځوان وو خوش لقا دو — هر ګور ښکلے با وفا وو
د بوډۍ کره میلمه شه — ځائې ئې خوښی شه پوے دیړه شه
هغه ځوان یوه ورځ ناست وو — نګران په چپ و راست وو
په دیوال چه ئې نظر شه — هغه نقش ئې په بصر شه
نقش څه د عشق پنجه ده — سره لمبه دا اور غنچه وه
په خاطر ئې د ځوان بل کړ — د عشق اور رنګ بدل کړ
سرے څونې پنجې له ځوانه — خاطر وکیښی ځان له ځانه
ځوان له ځائے نه پوښتنه — په دا رنګ وکړه لا لنه
اے بوډۍ دا حنا رنګه — دا پنجه اتشین چنګه
دا د کوم یوه نګار ده — چه نګارستا په دیوار ده
بوډۍ حال داړه بیان کړ — ځوان ئې لا په اور بریان کړ
نور ئې دوه توره چشمانې — په نقش بند کړے بیکهمانې
در ته هسې وا انتظار شه — ګویا دے نقش د دیوار شه
کال سر ناست ورته مبهوت وو — جګر خون ئې د ځان توت وو

ACKU

سوے پنجے ئې خا طو خه کړے    درست ئې تو ئې تن لیمه کړے
په پنجه به نګوان وو    د سرو دینو په باران وو
چه پرے تیو تمامی کال شه    ډیر ضعیف شه خسته حال شه
ذرې ئې وچاوډ ناګهانه    درست را پریوت له دها نه
نقش ئې کوت ذرې ئې بریاشه    په دا حال ئې روح پران شه
رُوح ئې لاړ په بل جهان شه    تن ئې خاک وته روان شه
بوډۍ سنه رنګ په کفن کړ    له شهداؤ ئې دفن کړ
پس له څو کالو بیا یا ره    هغه سنه سکلې نګاره
بیا وچ وته خرام شوه    را غله بیا هور ے مقام شوه
په سنه رنګ په پو سنتنه    بوډۍ د ے کړله سادمنه
له پو سنتنے چه خالی شوه    اندرون په خوشحالی شوه
دخپل لاس په نقش خیر شوه    چه ئې وکوت په تقریر شوه
په دا طور اے مادرے    مهربانې نیک سیرے
د لاس نقش چه زما دے    هسے سُور تازه نما دے
ته به واے نن د هلے    ما دا نقش د ے سبا غلے
بُوډۍ ډُوے اے مهروئې    ګل اندام اے سُنبل موئې
ستا د لاس نقش چه سُوردے    تازه بریښی بې قصور دے
دا په دا چه ئې د ژ ے    اوس یو خوان دے تازه نسکلے
چه ئې کړے تازه خُون دے    د لاس رنګ ډ تازه ګون دے
دے وے اے بُوډۍ مشفقې    زما مورے موا ففې

ACKU

دا څه واڼه څه ذورل کړے          ما خبر کړه څه وئیل کړے
څه منکو رچه ماجرا ده          ما خبر کړه څه سودا ده
بُوډۍ وُوے احوال دا وو          چه یو ځوان نیکے بونا وو
په دا ځائے کښې مستقر شه          په دا نقش کښې نظر شه
هسے طور پرے شیدا وو          چه مجنون تو مجنون لا وو
همُره ډیر وبا ندے مئین شه          چه پرے ئې مړ د کفن شه
تو اخره دا حال لاله          بُوډۍ وُوے له مقاله
چه خبره پرے مهوش شوه          په یو ځل د عشق پیشکش شوه
هوش ئې لاړ رنگ ئې تغیر شه          زړه ئې شق د عشق په تیر شه
وے ئې اے مورے کجادے          هغه مړے چه زما دے
راته وښیه کوم لور دے          چرته نیغ دے کوم ئې کور دے
بوډۍ دا کړله روانه          په شتاب تر قبرستانه
ورئې وښایه چه دا دے          چه مقتول په لاس ډنا دے
په دا کور کښې غنوده دے          ستا له لاسه اسوده دے
چه بوډۍ کړله تمامه          دا خبره ترا نجامه
دا ئې شوه په کور رنکوره          روح لاړ له تنه وروره
پسے لاړه پاک دا منه          ځان ئې وُباږه له تنه
هغه ځائے د یار د خنکه          بوډۍ کیښو ده گُمرنگه
ډیر یاران دی نالیدلی          د عشق تیغ دبله وژلی
که ادم دُرځو په مینه          مینے مړه کړه ځکن دینه

تعجب مه کړه هُښیار ره — عشق دا هسې کاندې یاره
عشق عاشق معشوقه جانانه — ویله یو کا بې گمانه
چه عاشق وجود فنا کا — له معشوقې ځان پیدا کا
یوسف زه یم زلیخا وې — لیلیٰ زه یم مجنون داوې
لکه دارنګ له دې بابه — نقل کیږی له احیا یه
یعنې پس له یو څو کاله — زلیخا د یار له خیاله
هسې طور یکتا نه شوه — که جانان وو جانانه شوه
هسې شان په عشق کښې دا شوه — چه یوسف یوسفه گویا شوه
چه به دې اوبه غوښتلې — د یوسفه په نامې غښتلې
یعنې زړ کا نرځی شتاب کړی — ما یوسفه په آب سیراب کړی
چه طعام به یې طلب کړ — هم یوسفه به یې په لب کړ
یعنې راوړئ که طعام وی — ما یوسفه نه پوخ که خام وی
چه مجنون په عشق کښې ډوب شه — په لیلیٰ ئې دا مکتوب شه
دا مکتوب په ما له ما دې — له لیلیٰ هم په لیلیٰ دې
له حبیبی اِلیٰ حبیبی دې — له نفسی اِلیٰ نفسی دې
درست مکتوب دارنګ تمام وو — که آغاز که ئې انجام وو
له دمی الیٰ دمی دې — که لحمی الیٰ لحمی دې
چه دوه جانه یو وجود شی — بُود نابُود ئې یو نمُود شی
هم ئې یو عدم فنا وی — هم ئې یو وجود بقا وی
عشق خالی له من له ما دې — د عاشق د کار فنا دې

ACKU

عشق په مثل یو شجر دے      غم ئے برگ فنا ثمر دے
لیرونتوب ئے شکوفه دے      د تهمت په نوُ تازه دے
د نیستئ د برق خندا دے      شعله زن عقل ربا دے
و هوښیارو ته معلوم دے      چه عشق اور دے وجود موم دے
چه په موم اتش بل شی      د موم کوه په ثر ر اتل شی

دا ځائے تم د عشق کلام شهٔ
قصهٔ تم شوه والسلام شهٔ

ACKU

# نصائحؒ و فرزندارجمندته

اے زما نورا لبصره !
اے د زړهٔ د باغ ثمره !

د ده عمرونه دِ حاصل شه
یو د پلار د ویٹم دِ خپر شه

که شعار د پلار ونیٹل کړے
د پلار عمر به درست خپل کړے

که د پلار په ویل کار کړے
ځان به ښه کړے خوښ به پلار کړے

او که نه د ځان خطر ئے
د پلار رنځ خونِ جگر ئے

دا خبر د نصیحت دے
درست کیمیائے سعادت دے

په دا خبر که عمل وکړے
کل دولت به حاصل ته کړے

همیشه خداپرست شه.
خودی پریږده خودشکست شه

د حضرتؐ په شرع کار کړه
که خطا شے استغفار کړه

هر چه فرض دی هغه فرض دی
چه ئے زده کړه په تا قرض دی

د دا جبو شناخت واجب دی
چه ئے زده کړے مطالب دی

د سنت علم سنت دے
د مندوب مندوبیت دے

په دا ویٹل فرزنده!
درست یقین شه په څرګنده

ساتند وئ چه د هرچا دے
په دا پوهه شه چه مولا دے

په لقمه که نظر وکړے
په دا کار به باور وکړے

لقمه ژوئے نا ګهانے
نورے دا نه وُوځی له میانه

---

له دا قسم نصائح ډیرو پلرو نو خپلو فرزندانو ته کړی دی لکه په جاوید نامه کښے د اقبال خطاب په نثر او شعر کښے، چه جاوید ته خطاب دے.

ACKU

له اسیاڼه ؤ ساتله — له تنورڅه ؤ یستله
بیا ئې ستاله غابښ په تور — دا بیرون وکړه په غور
دا چا ؤ ساتله د یه — دا ئې خدائې کله بیځایه
څوک ساتي له بلیّاته — یا د ځان له وژله آفاته
له بلاؤ و دِ ساتینه — رزق روزي درد سوینه
دا همه چارې د دهٔ دي — بې له دهٔ دبل چا نهٔ دي
مګر نهٔ وینې نیک خویه — د مادر په رحم زویه
په پنځه میاشتې دِ ځئ کا — پا یه دل دِ څرنګ دې کا
نهٔ دِ څوک په حضمانه وي — نهٔ دِ کسب بها نه وي
تا شپږ میاشتې پایه وینه — په څهٔ طور دِ ساتینه
چه بیرون دِ له مادر کا — دوه چشمې دشودو در کا
په ساتنه د مورپلار کا — مورو پلار دِ خدمتګار کا
بیا قوت توانائی در کا — د روزګار دانائی در کا
په روزګار رهسې شاغل شې — چه له خپل رازق غافل شې
د سبب هسې کاسب شې — چه غافل له مسبب شې
یو حکیم وو ډیر زردار وو — هر ګونه مال ئې بسیار وو
کل اموال ئې صدقات کړه — په فقراؤ ئې خیرات کړه
ورته زوئې ؤ وې پدره — تا اُمید دِ کړم له زره
تا چه کُل څُونه تالاکړه — زما بخوه دِ په چا کړه
دهٔ وې تهٔ چه ئې ساتلې — په رحِمُ ئې پایه ؤلې
بیا ئې لوئې د موره پې کړې — ادس ئې جوړ په هرخوبي کړې

ACKU

دِ تا بخره ے کل واړه　　په هغهٔ کړه څښتن غواړه
په هر حال تکیه په دهٔ کړه　　هیڅ اسره وچاته مکړه
اے پسره دا داستان دے　　زما طور هم داشان دے
له رازق خپل رزق غواړے　　په اموال زما مهٔ ویاړے
نهٔ به مال دڈنیا کیږی دم　　نهٔ به څهٔ تاسے ته پریږی دم
چه د دا سے څوک خالق دے　　هم هغه ستاسے رازق دے
توکّل په دهٔ پیدا کړه　　نورے قطع له هرچا کړه
همه کار په توکّل کړه　　اسباب لوے له ذرهٔ کُل کړه
که اموال که دِ ذهاب دی　　دا همه واړه اسباب دی
که تکیه دِ په اسباب شی　　همه کار به دِ خراب شی
لا آدم په ماء وَ طین وو　　آل ئے کل عدم نشین وو
چه قسمت د هرچا کښلے　　لا هاله دے خدائے ته وېشلے
دچا زیات دچا ئے کم کړ　　نهٔ په دا کښے خدائے ستم کړ
همه کارئے په حکمت دے　　هر چه دے کا عدالت دے
مختلف ئے طبائع کړ　　هغه طورئے طالع کړ
چه حکما دچا علاج کا　　کارئے طبع په مزاج کا
چه مزاج ئے څهٔ نما کا　　هغه طورئے دوا کا
دحق فعل همه داد دے　　شاد هغه شه چه پرے ښاد دے
نهٔ به کم دچا کښېږ کا　　نهٔ به زیات دچا قصیر کا
په هرڅهٔ چه لاړ قلم دے　　که په بیشی دے که په کم دے
هم هغه به ور رسیږی　　نهٔ به زیات نهٔ به کمیږی

ACKU

په هر خوان چه مګس طور     ګرځي کړي د حرص دور
په شعار نو کلی شه     په دا خوئی د خدائے ولی شه
قناعت صبر اختیار کا     په ابرو کښے خپل روزګار کړه
چه غنا د چا خصال شی     تهی دست د غنی سیال شی
خوک چه طمع له چا پرے کا     وایه څه پرواه به تبرے کا
تهی دست چه بے پرواه شی     نورئے څه پرواه له چا شی
چه پرواه لرے له میان شی     نور بادشاه ګدا یکسان شی
قناعت دے چه دا کار کا     تر غنی توا شکر خوار کا
زما زوبه که قانع شوے     د لوټیو جوامع شوے
قناعت هغه همائے دے     چه ئے ظل فضل د خدائے دے
چه په چائے وُشی سیورے     خدائے مل نبیٔ ئے لوردے
چه خاوند د کام روا کا     څه نعمت نا ته عطا کا
د خاوند په حمد ثنا شه     په کامل شکر ګویا شه
کامل شکر دا دے زوبه     نه دا چا د ګنړه لویه
هر نعمت ګنړه له خدایه     ډیر الحمد لله وایه
په طاعت عبادت مت کا     له زړه لرے غیره وت کړه
ځه بد وایه مه بد ګوره     ژبه ستړګے له بدئ غوره
هر اندام له بد وسنون کړه     اراسته ئے په میمون کړه
بیا په دا همه وُ وایه     زه عاجز یم زما خدایه
نکه ثنا د شکر کار دے     زه ترے نه رسم بسیار دے
چه دا طور شکر ستا شی     مرتبه به دِ والا شی

ACKU

صد چندان به دِ اموال شي　　برکت به دِ په ال شي
صبر ډیر کوه یسره　　چه کامیاب شے له ظفره
هر سړے چه صبرناک وی　　څه پروا ئے له افلاک وی
خدائے صبور دے چه صبور دے　　هم هغه ونه منظور دے
چه د خدائے ونه منظور شي　　په دوه کونه به مسرور شي
د قضا و ته تسلیم شه　　نور له کل بلاے بیم شه
چه د خدائے په کړه رضا دے　　له هغه راضي خدائے تعالیٰ دے
رضي الله عنهم زده کړه　　و رضو عنه دیده کړه
که ته پوه په دا ویل شے　　په رضا به د خدائے تعالیٰ خپل شے
د حیا خصلت شعار کړه　　په حیا په شرم کار کړه
دا حدیث د پیغمبر دے　　حیا شاخ د ایمان شجر دے
چه حیا دچا خصلت وی　　دا یمان به ئے قوت وی
چه حیا ئے په نقصان وی　　بے قوته به ئے ایمان وی
که حیا ورځي له میانه　　بند ویست لاړ له جهانه
نه عفت نه به غیرت وی　　نه حرمت نه به ستپت وی
ډیر خویو نه حمیده دی　　له حیا نه زائیده دی
له حیا چه ولادت دے　　نیکو نام نیکو خصلت دے
بل عفیف عصمت شعار شه　　له زنا نه توبه ګار شه
چه زاني ناپاک دامن شي　　هر کور سپک په مرد و زن شي
درست عالم دده بدخواه شي　　تر خدائے تعالیٰ خلق روسیاه شي
رزق ئے کم عمر ئے کم شي　　خبطه په درست عالم شي

ACKU

پہ ھر دین کښې زِنا بَدْ دے — زِنا کار پہ ھر ځائے رَدْ دے
دادب پایہ دہ لو یہ — ادَبْ زدہ کړہ زما زویہ!
چہ دخدائے نہ محروم دے — بے ادب ازلی شوم دے
ھر سړے چہ بے ادب دے — پرے نازل د خدائے غضب دے
پہ غضب چہ گرفتار شی — پہ دوہ کونہ ھغہ خوار شی
د ھر مرد چہ درستی دہ — پہ راستئ کښې پہ راستی دہ
ھر سړے چہ راست گفتار دے — د پرے قدر ډیر اعتبار دے
چہ تر چا شرمسار نہ شے — شرمندہ بے وقار نہ شے
د راستئ لارہ خرگندہ — چہ خجل نہ شے فرزندہ
چہ تہ ایښے راست قدم دے — لہ کجئ الغا بے غم دے
ھر یو حرف چہ کج طراز دے — ھغہ کلہ سرافراز دے
سروِ حکم ازادہ دہ — چہ راستی لری سادہ دہ
خار لہ گل کجی قرین کړی — نیشکر راستی شیرین کړی
لہ کجئ چہ خالی تیر دے — کم خطا موت د نخچیر دے
پہ راستئ کښې ھر مراد دے — پہ کجئ کښې شر فساد دے
چہ د ښتیا والی سرخروئے دے — زرد روئے د دروغ گوئے دے
دروغژن سړے روغژن دے — کہ ئے وینے مختورن دے
کہ اخر د مختورن دے — پہ اخر د دروغژن دے
کہ تجنیس کہ تر دیف وی — ھر مکان د زن تصحیف وی
ھر سړے چہ دروغژن شی — مردے مہ شمارہ تورزن شی
دروغ خود ھغہ خصال دے — چہ ئے نوم حیضِ رجال دے

ACKU

په راستئ کښے راستباز شه — په هر حال له دروغ، باز شه
مګر دا رنګ چه دروغ وی — د راستئ پکښے فروغ وی
درست دروغ هغه دروغ دی — نور دروغ هم ناروغ دی
اے پسره! سخاوت دے — چه د کل عیوب زالت دے
د عیب خیرے که زبون دے — سخاوت د عیب صابون دے
د سخا صابون پسره — کفر یؤ سی له کافره
لکه دا رنګ حکایت دے — له دے بابه روایت دے
وائی دا چه خالدؓ تللے — په غزا لاړو وښا غلے
چه نصرت ئے له سبحان وو — تل غالب په کافران وو
ډیر ئے قتل کافران کړل — هم ئے بند توے فواوان کړل
بند ئے راوست وحضرتؐ ته — وصاحب د شریعت ته
حضرتؐ ووے دین عرضه کړه — ورته زیاده کلمه کړه
که انکار له ایمان وکا — شهادت په زبان نۀ کا
سر جُدا د هریکان کړه — و دوزخ ته ئے روان کړه
چه خالدؓ پرے تیغ روان کړ — سر ئے غوڅ د هریکان کړ
په دا بند کښے یو کریم وو — چه متین په خوار سقیم وو
د سخا په کار معروف وو — ډیر په دا صفت موصوف وو
چه په ده د قتل وار شۀ — قاتل ده ؤ ته تیار شۀ
جبرائیلؑ له کرد ګاره — شتاب راغے تو روښیدؐ اره
دے ئے راے په خدائے قبوله — په عالم د خدائے تعالیٰ رسولؐ له!
خدائے تعالیٰ ویلی دی داکس دے — چه هر ګو د کریم نفس دے

اتفاقونه ئې کريم دی ورنه خاورې زر و سيم دی
که په کفر بېګانه دې په سخا کښې يګانه دې
که مکان ئې دې که خوان دې خالي کله له مهمان دې
له کشتنه ئې معاف کړه په بخشش ئې خاطر صاف کړه
نور حضرت له مرګه خلاص کړه په بخشش ئې اختصاص کړه
د لاسه ئې هسې رنګ کړه چه ئې لوړې له زړه زنګ کړه
چه کافر وته عيان شه دا کارزر له مسلمان شه
چه د ربُ مهر پرې وُشي مسلمان په زړه په خُله شي
سخاوت دوا ئې فرزنده نورچشمي د زړه پيونده
چه ئې دې په خدائے تعالیٰ مقبول کړ مسلمان ئې په رسولؐ کړ
سخاوت صابون د نور شه د شرک خيرې ځنې دور شه
که مسلم وي چه سخي شي دې به کله دوزخي شي
اُميد دې چه پرې رحمت شي بښه مکان ئې د جنت شي
سخي يار حبيب الله دې که ئې هر څو ډېر ګناه دې
بخيل يار عدوّ الله دې که زاهد د خدائے تعالیٰ د راه دې
چه د هر هُنر زوال دې هم د بُخل بد خصال دې
چه خواري ور ځنې زېږي زبوني ترې پيدا کېږي
هغه طمع ده فرزنده طمعَ مه کوه دلبنده
طمع قَاطِعُ الْعِزَّتْ ده طمعَ څه اُمُّ الْخِفَّتْ ده
اُمَرا که شهريار دې چه طامع شه خوار دې خوار دې
چه مزدې طامع اسره شي د ګېډې د و مسخره شي

ACKU

دا عجب ښکلے مضمون دے　　له فارسئ نه را بېرون دے
چه شیران روبه مزاج کا　　دا کار څوک کا احتیاج کا[له]
چه بے طمع بے حاجت دے　　هم هغه صاحب دولت دے
چغل خور سړے غل خور دے　　په دوه کونه ئے مخ تور دے
جنګ دده تر مینځ آتش دے　　سخن چین ئے هیزم کش دے
په ګرمئ د جنګ نازیږی　　دوزخ د ده وته تاویږی

اے پسره! کبر څه دے
خاص د خدائے[تم] دے دبل نه دے

په مخلوق کبر روا دے　　نه دبل چا د مولا دے
چه شیطان متکبر شه　　په لعنت کښے منتشر شه
تکبر د لعنت خیل شه　　په ګردن دده حمیل شه
هر حادث چه کبرجن شه　　طوق ئے لعن په ګردن شه
له شیطانه تر شداده　　تر نمرود ظالم بیداده
تر فرعونه تر هامانه　　چا چه کبر د کړو حیا نه
هر یو یاد ګمراه لعین شه　　په عذاب کښے خالدین شه
چه هر څوک کبر غرور کا　　ځان به دے په دادسنور کا
چه هر سو له کبره ډک شی　　تش له عقله بلاشک شی
په مستئ کښے خر، فرس شی　　په غرور په ناکس کس شی
چه خالی ماؤ مَنی ئے　　چه په ماؤ په مَنی ئے

---

له آنکه شیران راکند روبه مزاج　　احتیاج است احتیاج است احتیاج

سبۀ، ماؤمنل چه جم نه ‏ — یا قباد صاحب حشم نه
د جم خاورے اوس کجا دی — د قباد په کوم بیدیا دی
خاک نه، خاک به شے، پسره — کبر لرے کړه له سره
کمینی په ځان اختیار کړه — تواضع د ځان شعار کړه
چه د پلار نیکهٔ په لار شی — آدم زاد آدم شعار شی
که سر پورته کړے پسره — د غفلت له خواب وخوره
د جهان ننداره وکړے — خود به ځان ترے کوښه نه کړے
جهان کوڅکِ بے وفا دے — یوسف خور، یوسف ربا دے
خوبے هسے خوری د شیدانو — لړ مون وینے د خوبانو
له مکرونو ئے گریز کړه — له احسانه ئے پرهیز کړه
هر احسان چه د دوار دے — لکه ابر د بهار دے
بے ثباته بے بنیا دے — نهٔ لائق د اعتماد دے
کله درویش خبنتن د تاج کا — کله سلطان د نوک محتاج کا
نبهٔ گلونه راپیدا کا — بیا ئے خاورے د بیدیا کا
په نبا دئ کښے ئے ماتم کا — خوشحالی سرور ئے غم کا
هیڅ یؤ ذرهٔ به له جهانه — کله روغ بیا موځے جانه
چه جهان له غمه پور دے — د عاقلو ترے نفور دے
چه جهان د غاد غل دے — سیب نما عطا حنظل دے
کودکان زنان پرے غولیږی — عاقلان نبهٔ پرے پوهیږی
چه جهان ئے ترے په زور دوړی — هغه کله دو ځی تو گوروړی
تر مرگ وړاندے د وخته — داړه و بازی یک لخته

له دنیا نه روزګار سوړشی — مجرد دمرګ ته جوړ شی
هسې په علم په عمل کا — د هغه جهان تکل کا
اے فرزنده چه دولت دے — سرمایه د شقاوت دے
علمیت دے فضیلت دے — فضیلت د علمیت دے
که جنت غواړے له خدایه — یا عزت غواړے له خدایه
هسې په علم په دانش کړه — له زړه لوے بل خواهش کړه
بهره مند به په هرکام شے — په دوه کونه به نیکنام شے
د جنت وعده پسره — له علماء ده مقرره
تر جنّاتِ عَدنٍ یاره — تر مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهَارُ ده
لو له د روضه پسے څه — عین تر خَشِیَ رَبَّه
دا وعده کاندے څرګنده — له خائفے وکړه فرزنده
بل آیت دَلِمَنْ خَافَ — تر اخره بے خلافَ
ګوره ګوره جنتونه — له خائفو وعده شوته
خائف څوک دے له خاونده — هم علما دی اے دلبنده
لکه خود خاوند نمائی — په قرآن کښے دا رنګ وائی
اِنَّمَا یَخْشَی اللّٰهُ درست کړه — تر اخره ئے په لوست کړه
نور به دو پښے چه کوم دے — خائف څوک دے دچا نوم دے
له آیتَ چه معلوم کړے — د عالم په خائف نوم کړے
پس معلوم شول چه مکان دے — د جنت د عالمان دے
د دنیاو نه له قرآنه — له حدیثه زما جانه
چه په فضل د علما دی — څه لږ نه دی پیدا دی

کہ تمام بیان ئے غواړے کُتُب کوره وُ به دیا ړے
چہ د عِلم ښۀ پایہ دہ پہ دُنیا عِلا نیه دہ
کہ عالِم سړے جولاؔ وی مصاحب د لوئے بادشاه وی
کہ کمذات وی چہ مُلا شی هَمْ زانو د اُمرا شی
بلکہ فخر اُمَرا کا د مجلس ئے تمنّا کا
علمئیت کہ د نداف وی پہ وُ گړی بہ اوصاف وی
کہ اَصیل پہ عِلم پور شی تمام نورؔ عِلا نور شی
د هسه خو بیو کان شی پہ بزرگیٔ د و چندان شی
جاهلی سړے ذلیل کا تر چار پائے لاضلیل کا
جاهلی سړے پہ نار کا چہ پہ بخره ئے کوکنار کا
یعنے هسے ئے کاهل کا چہ لہ نیو نہ ئے عاطل کا
نن کار اَچوی فرداتہ د فردا کار و بیگاه تہ
هم پہ دا کینے عمرتیر کا دے عمل سره تیربیر کا
جگی جگی نور اَتیمار ره کہ د نا بو یہ لہ پلار ره
مت پہ عِلم پہ حکمت کړه ترک د جهل خوئ خصلت کا
علم کړه د خدائے د پاره چہ سودمند شے لہ دواړه داره
چہ د دے دور عالِم دے شوق د عِلم ترے عدم دے
کہ ئے کم دی کہ ئے لوئے دی د دُنیا پہ جُست جوئی دی
عِلم کم شۀ خوار دانش شۀ جهل ډیر فساد فاحش شۀ
پہ دینا درم مردم شول د هُنر طالبان کم شول
پہ غروب د عِلم نمر شۀ د خبرو مات گوهر شۀ

د خیږو دوکان سوړ شهٔ — د ډر همو بازار جوړ شهٔ
تود شهٔ مهر د مهرانو — زرد دوتی د ملوکانو
له دے مهر هویدا ده — د هر چا مهرو تباه ده
د علوم مشتری تنگ شهٔ — تیر بے قوس قلم تنگ شهٔ
د هر چا گردش د زر شهٔ — د هنر پاره دفتر شهٔ
بیا که نخوړے زما پوره — اے زما د ستوگو نوره
نهٔ طلب د علمیّت کړه — په هنر آدمیّت کړه
میراث خپل د انبیا کړه — فرعونی میراث رها کړه
پند ع دا دے که ئے نخوړے — دا به پند کړے که پوهیږے
که عمل ورباندے نهٔ کړے
دین دنیا به خراب نهٔ کړے

---

# خاتمه دکتاب

هزار شکر الٰهی! — دا کتاب چه کما هی
تا له ما بنده تمام کړ — په سبهٔ رنگ د سرانجام کړ
کم و زیاته یوچله شوه — چه تمامه دا قصه شوه
دا کتاب د عشق کتاب دے
ډک د دُرگو هر دریاب دے
د سلوک د پند خبرے — لری ښکلے مرغلرے

ACKU

چه سپین غوږ لائق دپند دے　　دا ګو هرے د لپسند دے

نه د هر یوه تور غوږ ی　　دا ګو هر په غوږ جوړیږی

چه د عام نوے انتفاع د ه　　د خالی تصنع سماع د ه

نورے هیڅ بهره ترے نشته　　که کاروته پکښے نښه شته

که ئے خاص مطالعه کا　　درسته نښه ملاحظه کا

خود به پوه شی چه نښه څیز دے　　دا کتاب هر ګور عزیز دے

سرتا پا ښکلے ګلزار دے　　دے ببل دے، دے هزار دے

بلبلان به ئے ګلو ته　　بو یه وی په فریادو ته

هر یو ګل به ئے نافه شی　　در د خوشی به ئے جامع شی

هر چه زاغ دے یا زغن دے　　څه ئے کار په دے ګلشن دے

دا ګلزار د بلبلان ته　　شګفته دے، نه زاغان ته

زاغ حاسد زغن جاهل دے　　بلبل څوک دردمند عاقل دے

سل ییغا بلبل ولادو　　حم د عمر نن زمادو

دا کتاب د عاشقانو

چه ما نظم کړ یارانو

---

PROPERTY OF ACKU 12949

تمت

ARIC
B
3.522
KHA
12949

ACKU